په هغې میاشتیا کښې چې جناغلی سردار محمد داود صدراعظم د شوروی اتحاد صدراعظم
جلالتمآب خروسچف په ویاړکړي وه خپله بیا نیه کوی

دالمپیك‌ریاست :

رئیس په‌لومړی‌رتبه ع،ص،محمدفاروق‌سراج

اداری‌مدیرپه	(٥)رتبه	یوتن
ډنشریاتومامورپه	(٦)«	« «
« « «	(١٠)«	« «
فنی مدیریت‌په	(٤) «	« «
دسپورت‌متخصص	(٧) «	« «
دډګرونو منتظم	(٧)«	« «
« «	(٨)«	« «
« «	(١٠)«	« «

دعامه‌خدمتو څانګه:

په (٨)رتبه	یوتن
په(١٠) «	دوه تنه

دمحاسبی څا نکه :

په(٦)رتبه	یوتن

دحوالو څانګه:

په (٩)رتبه	یوتن
په (١٠) «	« «

دکنترول څا نکه:

په (٩)رتبه	یوتن
په (١٠) «	« «

ددفترداری‌څانګه :

په (٨)رتبه	یوتن
په (١٠) «	« «

ACKU

په صدارت عظمی کښی

الف ترفعیات :

ښاغلی عبدالغفار دپلټنی اداری ریاست دلومړی گروپ رئیس (٣) رتبه مامور په (٢) رتبه ترقیع کړی اودمامورینو دمحاکماتو ریاست دابتدائی محکمی درئیس په حیث دښاغلی محمدعمر دوهمه رتبه متقاعدمامور په عوض مقررشوی دی.

ښاغلی عبدالاحد دمحاسباتو ددیوان دریاست غړی (٦) رتبه مامور په (٥) رتبه

ښاغلی عبدالله دکابل هوټل (٦) رتبه مامور په (٥) رتبه ترفیع کړی او دذولت دپلټنی هیئت دغړي په حیث په تعاونی ډیپو کښی موظف شو.

ب ـ هغه مامورین چه رښتین مدالونه یی اخستی دی:

ښاغلی محمد فاروق سراج دالمپیك رئیس

« محمدرفیق دارشیف لوی مدیر

« عبدالله داداری پلټنی دریاست مرستیال

« عبدالله دوزیرانو دعالی تولنی ددارالانشاء دمدیریت وکیل

ج ـ په تشکیلاتو کښی تعدیل اوتجدید:

اول دصدارت عظمی په بست کښی د ٣٨ کال دتلی په ١٠ نیټه اداری لوی مدیریت په تشکیل کښی نوی زیات شو اولاندی دایری په وټرل شوی :

١ ـ داداری لوی مدیرت د لیك څانګه

٢ ـ دصدارت عظمی دمامورینو مدیریت

٣ ـ « « « دمحاسبی مدیریت

٤ ـ « « دارشیف مدیریت

٥ ـ « « لویه موټرخانه

٦ ـ « « دچهلستون اودارالامان ددولتی میلمستونونه

ـ دکابل هوټل دمدیریت مراقبت.

دوهم ـ دمحاسباتو ددیوان د ریاست دتشکیل تعدیل :

دغه ریاست په عمومی شکل په دوو برخی ویشل شوی چه یو یو نیم یی دسیارپلټنی په نامه اوبل یی د تصفیی دلویو مدیریتو په نامه بلل شوی دی.

دمحاسباتو ددیوان وظایف :

دمحاسباتو ددیوان ریاست دوظایفو دلایحی له مخی دوی جنبی اړی د ۳۳ کال څخه د۳۸ کال دوزی ترپایه پوری دحسابونو ، لګښتونو ، وارداتو او جنسی سنجش او تصفیه او بلهیی دحسابونو ، وارداتو ، دجنسی د لګښتو او دولتی تصدیو د وروستنی پلټنی وظیفه ده چه د۳۸-۳۹ مالی کال لهسر څخه پخپل محل کښی دمحاسباتو ددیوان دریاست دپلټونکو له خوا شروع شوی ده .

د۳۸ کال پهورستیو شپږو میاشتو کښی ددغه ریاست اجرا آت په لاندی ډول دی

۱- دلګښتونو داسنادو ویزه چهشمیرنی سووزرو قطعوته رسیږی .

۲- دمقاولاتو ویزه چهدهغو دسندونو شمپرنیپهسوو پانودی .

۳- دتولوولایتونو اووزارتونودشپږمیاشتنیلګښتونو دتحقیقاتوویزه چهزرو قطعوتهرسیږی.

٤- دپیشکی اوقطعی نغدی حوالو ویزه چهدهغه دسندونو شمپر زرو قطعوته رسیږی .

٥- دمرکز اوولایتونو دتولو دایرو د۱۳۳٤ کال دلګښتونو دحساباتو پلټنه .

٦- دوزارتونو دایروته مکتوبی اواستعلامی لارښوونی .

۷- دمحاسبی پهنوی سیستم باندی د مامورینو د پوهیدلو دپاره دنوی سیستم د یوه کورس پرانستل .

۸- دوزارتونو اوولایاتو دایروته (۳۸۲۰) قطعی لیکونه صادر شوی دی .

۹- د۳٤ کال دیوی برخی سره د (۳۳) کال د هیواد دواردتو دحسابونوپلټنه چه د سندونو شمیرنی لکو پانوته رسیږی .

۱۰- د(۳٤) کال دیوی برخی سره د(۳۳) کال دهیواد جنسی حسابونو پلټنه چه د سندونو شمیرنی لکو پانوته رسیږی .

د۳۹ کال ددوری پهلومړی سرکښی چهدمحاسباتو ددیوانتوی تشکیل راورسید دغهریاست دوظیفو دلایحی لهمخی دوې څانګې پیدا کړی چه یوه ئی دسیاری پلټنی آمریت او بله ئی دحساباتو دتصفیی اوسنجش لوی مدیریت دی .

د ۳۹ کال دوری له میاشتی څخه دتصفیی دلوی مدیریت اجراآت په لاندی ډول دی:

۱ - د تحقق او محسوبی سندونو ویزه (۱۲۸) قطعې چه(۵۵۸۲) قطعی اسنادلری او د (۲۴۵۶۶۴۶۸ر۱۷) افغانیو څخه عبارت دی، ددولت په ګټه موضوعی پیسی (۳۰۵۶۸۴ر۷۹) افغانی کیږی.

۲ - دقطغن اومزارشریف د ولایتونو د (۳۵) کال دلګښتونو د حسابونو پلټنه چه (۹۸۳۰) پانی سندونه کیږی.

۳- دپکتیا، کندهار اوهرات دولایتونو د(۳۵) کال دوارداتو د حسابونو پلټنه چه(۲۹۸۳۰) پانی سندونه کیږی.

۴-د ګرشك داعلی حکومت، دحبیبی لیسی ،دمالیی دوزارت دفوائد عامی میخانیکی ، دښځو دروغتون ،دمزار شریف دفوائدعامی ،دپوهنی دوزارت دنخشو او کتابو دخانګی د (۳۴) کال دجنسی حسابونو پلټنه چه ۱۸۹۴۲ پانی سندونه کیږی،دغه رنګه پخپله دغه ریاست کښی د حساب اوسندونو ترتیب اونظم ونسق اواداری اجراآت.

دالمپیك ریاست

۱-دوری له لومړی نیټې څخه تر(۲۰)پوری دښځینوې تعلیماتنامه چه دالمپیك دریاست له خوا جوړه شوی ده ،دقطغن اومزارشریف په ولایتونو ،دشبرغان اومیمنی په اعلی حکومتونو کښې دفنی مدیر په ذریعه عملی شوه.

له دی کبله چه یوشمیر پهلوانان اوښځو تنه نورداتلتیك دپاره دایتالیې په بین المللی المپیاکښی ګډون وکړی دالمپیك ریاست په بین المللی سیستم سره د کابل دتولو پهلوانانو ترمنځ دلوبو مسابقه جوړه کړه چه له هغو څخه اته تنه لاندی پهلوانان دلومړی وزن څخه تر اتم وزن پوری تاکل شوی اوایتالیې ته دتګ چانس ورکړه شو.

۱ - خلیفه نظام په اتم وزن کښی
۲- ښاغلی محی الدین په اوم وزن کښی
۳- « محمد آصف په شپږم وزن کښی
۴- « سلطان محمد په پنځم وزن کښی
۵- « امیر جان په څلرم وزن کښی
۶- « محمد ابراهیم په دریم وزن کښی

۷- شاغلی غلام حضرت په دوهم وزن کښی
۸- « فیض محمد په لومړی وزن کښی
پنځه تنه لاندی لوبغاړی دائتلیک دپاره وټاکل شوه :
۱- شاغلي عبدالهادی د ځغاستی د پاره
۲- « علی احمد « «
۳- « عبدالغفار « «
٤- « سید حبیب « «
٥- « محمد حکیم دنیزی اچولو دپاره
سږ کال دګران هیواد د خپلوا کۍ په جشن کښې دباندنیو هیوادودفټبال ،ها کی او تیس تیمونه رابلل شوی دی،له شوروی اتحاد څخه دفټبال اواسپارنک تیم
له ولسی چین څخه دباسکټبال تیم
له هندڅخه دها کی یوتیم اودفټبال تیم ددروتنو تیس بازانو سره .

داداری پلټنی ریاست:

د ۳۸ کال دوږی څخه بیاتراوسه پووی دغه ریاست اجراآت په لاندی ډول دی:
الف (۳۷) فقرې دمراتبو دتیرولونه وروسته دعملی کېدو دپاره مربوطو څایونه لیږل شوی دی .
ب (۳۸) فقرې دتولنی غړو او تحقیق ته سپارل شوی دی
ج- دغولاندنی څایونه دپلټنې هیئتونه لیږل شوی دی :
۱- د هوتلونو ریاست ته
۲ - د کر هنی بانک ته
۳- دسپین غر ترانسپورت ته
٤- نقلیا تو ته
٥- ننګر هار ته
٦- دپستک خان دمخکو داضافه جریبو د معلومولو دپاره
۷- د قطغن ولایت ته
۸ - د کند هار ولایت ته
۹ دویپو دپلټنی دپانود تحقیق د پاره.

اعلیحضرت معظم همایونی دبزکشی دتیمونو په‌مشرانو شاهانه نوازش فرمائی

په تهران کښې دښاغلی صدر اعظم دسفرله منظر و څخه:

اعلیحضرت دایران شاهنشاه دښاغلي سردار محمدداؤد صدر اعظم سره

د کابل دولایت دمکلفیت دچارو د پلټنې په غرض .

دعمومی محاکماتو ریاست :

الف - ۳۵ فقری د۳۸ کال دوږی له میاشتی څخه د۳۸ کال ترپایه پوری دتمیز غوښتلو دپاره را رسید لی دی.

ب - ۸ فقری د۳۹ کال وری دمیاشتی څخه د۳۹ کال دغبر گولی ترمیاشتی پوری دتمیزغوښتلو دپاره رارسیدلی دی.

ج - (۱۸) فقری د۳۹ کال دوری له ۱۲ نیټی څخه فیصله شوی دتطبیق اوعملی کیدو دپاره مربوطو ځایو ته لیږل شوی دی .

د - (٦) فقری داصولی نیمگړتیاؤ دسمون دپاره ردشوی دی .

او د ۳۹ کال دچنگاښ له اول څخه د۱۳۳۹ کال دزمری ترپایه پوری (۱۵) فقری فیصله شوی دی .

دمرافعی محکمه :

(۳۲) فیصلی د ۳۸ کال دوږی له میاشتی څخه د۳۹ کال دغبر گولی ترمیاشتی پوری دمرافعه محکمی له خوا صادری شوی دی.

دصدارت عظمی دقوانینو دتدوین او تدقیق ریاست:

ددغه مدیریت دوظیفو لایحه :

۱ - دصدارت عظمی دمربوطو چارو دهر ډول حقوقی مسائلو تدقیق او دهغو په باب دنظریاتو څرگندول.

۲ - دحقوقی پرنسیبونو او دحکومت دسیاست له مخی دقوانینو، نظامنامو او تعلیماتنامو دپروژو تدقیق چه دصدارت عظمی یا وزارتونو مستقلو ریاستونو او دنورو حکومتی دایرو له خوا ترتیب کیږی

تبصره: که دغه پروژی جزئی سمون وغواړي دغه څانگه ئی اجرا کوي او که داسی نه وی دنظریاتو دڅرگندولو دپاره مربوطو دایرو ته استول کیږی.

۳- ترخپله وسه پوری دبائدنیو دولتو دقانونی او اداری موضوعاتو تدقیق داستفادی دپاره .

٤- دهغو وظیفو سرته رسیدل چه دصدر اعظم له خوا دغی څانگی ته سپارل کیږی.

دغه مدیریت لکه چه دهغه دوظایفو له لایحی څخه څرگندیږی دهیواد داجرائیه جارو په ساحه کښی په هغو تدوین شوی قدانینو او تصویبونو کښی غور او دقت کوی چه دملی شورا څخه تیر شوی او یا په هغه کښی چه تعدیلات او ضمیمی پکښی منځ ته راځي .

دحقوقي پرينسيبونو او په دننه هيواد کښې دحکومت دسياست له حيثه دغه مديريت غوراودقت کوي بلکه ترخپله وسه پوري کوښښ کوي چه دعلمي منابعو اودنړۍ دمترقي هيوادودقانوني خپرونو څخه هم خبرشي اودهيواددننه د مقرراتو، اصولنامو، لوايحو او نظامنامو دانکشاف او ښه کيدو په غرض دمحيط دشرايطو اواقتضاآتو سره سم خپل مقايسوي تطبيقات و کوي اودباندنيو هيوادوله نويو تدبيرو څخه استفاده وکړي، له دي کبله دقوانينو مديريت تر اوسه دنړۍ دډيرو پر مختللو هيوادو څخه يوشمير علمي اوحقوقي کتابونه رانيولي دي چه دقوانينو دتدوين او تفسير دپاره مهم ماخذونه ګڼل کيږي اوغواړي چه وروسته له دې نه هم دخپل کتابځي دانکشاف وپراختيا له پاره د خارجي هيوادودډيرومجلو اوحقوقي او قانوني خپرونوسره مفاهمه و کړي اودهغوله تاکتيکي ګټو روتدبيرو څخه ګټه واخلي.

دغه مديريت دهيواد دلايقو اوپوهوترجمه کونکو په مرسته دځينو ګټوروعلمي کتابونوترجمي ته هڅه کړي چه دغه ډول کتابونه دهيوادوالو دحقوقي ذهنيت په روښانو لو اوداذهانو په تنوير کښې لوي خدمت کوي، تراوسه پوري دقوانينومديريت دوالاحضرت صدراعظم دارشاداتو او صوابديدله مخي دخپل کتابځي دتقويې له پاره دمصر، سوريې، عراق، ايران، ترکيې، انګلستان، فرانسي ايټاليې اوسويس څخه يوشمير حقوقي اوقانوني کتابونه رانيولي اودهمدغه هيوادود کتابځيو مفصل لستونه ئي غونډ کړي اوهيله ده چه له دغو ګرانو ذخيرو څخه ددغه مديريت ددائمي اوافتخاري غړو او حقوقي مشاورينو په مرسته دهيواددادارى اوقانوني سيستم دانکشاف اوسمون دپاره دپخوانه زياته استفاده وکړي.

يوبل مهم هدف چه دغه مديريت ئي له څه مودي راهيسي دحصول په لاره کښې زيار باسي ديوي جريدي يامجلي خپرول دي چه هغوله دټولو مامورينو دولتي اوغيردولتي کار کوونکو په منځ کښې دقانوني تصويبونو اواداري چارو دپرينسيبو دخپرولو وظيفه په غاړه لري.

تر کومه ځايه چه موږ خبر يو دنړۍ دډيرمترقي هيوادونه دهغو نظامنامو اودستورنامو خپرولو د پاره چه نوي غواړي خپلي قانوني مرحلي تيري کړي مخصوصي جريدي خپروي دهمدغه کبله دغه مديريت هم غواړي چه پخپل دغه هيله کښې بريالي شي.

هغه پروژې، لايحې او تعليماتنامې چه داداري ضروري مقضياتو له مخي دوزارتونو اودولتي ادارو له خو ترتيب کيږي اودغه مديريت ته ئي دغوراودقت دپاره راليږي دقوانينو مديريت وروسته له هغه نه چه دخپلو دايمي غړو په واسطه ددولتي دټولو جاريه اصولنامو اوقنينو دموافقت يامخالفت په لحاظ مطابق له دغو پروژو سره خپل مقايسوي تطبيقات سرته ورسول دځينو جنجالي مادودحل

دپاره دوزارتونو اودولتی دایرو نمایندگان رانواړی چه دهغو په باره کښې لازم تصویبونه کیږی
په دغو لاندی پروژو کښې دقوانینو مدیریت په ۳۸ کال کښې تدقیقات کړی دی :
دمالیی دوزارت مربوط دقاچاق برۍ دبندولو پروژه.

۲ ـ دمالیاتو برعایداتو دقانون پروژه چه دمالیی وزارت ترتیب کړی اودتدقیق دپاره ئې دغه مدیت ته رالیږلې ده.

۳ـ دتجارتي محاکماتو داصول دقانون پروژه .

٤ـ د کرهڼی دټولنو دقانون پروژه چه دغه مدیریت ته د کرهڼی وزارت دتدقیق دپاره رالیږلی ده .

٥ ـ د کرهڼی دټولنی دداخلی وظیفو داصول پروژه چه دغه مدیریت ته « « « « « « « .

٦ ـ د کرهڼی په ټولنو کښې دانتخاباتو تعلیماتنامه « « « « « « « .

۷ ـ دمالو او دموټر دسپرلۍ ددلال دپاره تعلیماتنامه .

هغه پروژی چه په دغه مدیریت کښې دوالاحضرت صدراعظم دامریی له مخی ترتیب او تدوین شوی اوتراوسه پوری ئی قانونی مرحلی نه دی تیری کړی په لاندی ډول دی :

۱ ـ دعامه تکالیفو دقانون پروژه چه دښاغلی صدراعظم په امراولارښوونه دزیات تدقیق دپاره داخلی وزارت ته لیږل شوی ده .

۲ ـ دځایو داجاره کولو دقانون پروژه چه دهغی دمسودی دترتیب اوفصل بندۍ نه وروسته دوالاحضرت صدراعظم په لارښوونه دداخلی وزارت دښاروالی اوعدلیی دوزارت نمایندگانو دتدقیق دغړو په حیث ددغی پروژی موادپخپلو پرله پسی غونډو کښې ترغوراوڅیړنی لاندی نیولی دی.

۳ ـ دقاضیانو دلباسو دتعلیماتنامی پروژه چه دعدلیی دوزارت دنظریی داخیستلو دپاره هغه وزارت ته لیږل شوی ده .

٤ ـ داضافه کارۍ پروژه.

اوپه دی وختو کښې چه دنیکه مرغه اجتماعی تحولات په هیواد کښې مینځ ته راغلی دی دا ایجابوی چه نه یواځی په صناعتی چارو کښې دمیرمنو ډله مرسته وکړی بلکه په نورو شقو قو کښې هم شاملی شی لکه چه همدا اوس په دولتی دایر، وموسسو اودفترو کښې هم دهغو شمیرورځ په ورځ زیاتیږی نو په دواړو خواو کی دمیرمنو دډلی دتشویق لپاره ځینی قواعداومقررات باید مینځ ته راشی ، دهمدی کبله دغه مدیریت دحکومت دښو نظریاتو له مخی دښځو داستخدام پروژه ترتیب اوتدوین کړی دصدارت عظمی دلوړ مقام دهدایت اخیستلو نه وروسته دزیات تدقیق دپاره دپوهنی وزارت ته لیږل شو یده .

٥ ـ دښځو داستخدام پروژه .

٦ ـ دتیزونو دقضاوت اوسنجش لائحه (دپوهنتون دریاست مربوط)

۷ ـ دجنائي تحقیقاتو تعلیماتنامه .

ډیپلان وزارت

تشکیل:

وزیر . . . . . .

معین په لمړۍ رتبه

ع ، ص ښاغلی عبدالحی عزیز

د قلم مخصوص مدیریت :

په	څلرمه	رتبه	یو تن
په	(٦)	«	« «

د تتبعاتو او احصائیې ریاست :

رئیس په دوهمه رتبه ع،ص ښاغلی عبدالله یفلتی

مرستیال	په	(٣)	رتبه یو تن

د بشری قواؤ مدیریت:

په	(٤)	رتبه	یو تن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	« «

د کتابخی مدیریت:

په	(٥)	رتبه	یو تن
په	(٦)	«	« «

د رپوټونو مدیریت:

په	(٤)	رتبه	یو تن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	« «

د تتبعاتو او تحلیلاتو مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یو تن
په	(٥)	«	دوه تنه
په	(٦)	«	یو تن

ACKU

د احصائیې مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یو تن
په	(٥)	«	(٢) تنه
په	(٦)	«	(٢) «
په	(٧)	«	(٢) «

دپلان ریاست

رئیس په دوهمه رتبه‌ع ، ص بناغلی عبدالستار شالیزی د کفیل په حیث مرستیال په (٣) رتبه یو تن

د اقتصادی توحید او انسجام مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یوتن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	دوه تنه

د اجتماعی خدمتونو مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یوتن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	« «

د مالیې او بانکداری مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یو تن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	« «

د کانو او صنایعو مدیریت:

په	(٤)	رتبه	یوتن
په	(٥)	«	« «
په	(٦)	«	« «

د تجارت مدیریت :

په	(٤)	رتبه	یوتن
په	(٥)	«	« «
	(٦)	«	« «

ACKU

دپلان دوزارت دتبعاتو او احصائیی

دریاست اجراآت

دپلان دوزارت دتبعاتو او احصائیې ریاست دهیواد دټولو احصائیوی چارو دغونډولو او ترتیب، دنتایجو دراایستلو، اوداقتصادي حالاتو دتحلیل په غرض پرانیستل شوی دی چه دهغوځانګو دورسپارل شویو وظیفو له مخې دیوکلن اجراآتو رپوټ په لاندې ډول وړاندې کیږی :

(۱) دبشري قواو ځانګه :

ددغی ځانګی اساسی وظیفه داده چه د ماهرو کارکوونکو، عادی کارکوونکو او تعلیمیافته کسانو احصائیه اودبین المللی دندود تصنیف له مخې دهغو ددندې اووظیفی تفصیلات راغونډوی، دغی ځانګی د ۱۳۳۸ کال دوری په میاشت کښی په ازمویښتی ډول دبشری قواود کمیسیون په غوښتنه دفنی پرسونل، تعلیمیافته کارکوونکو اوعادی کارکوونکو په باب دمعلوماتو په راغونډولو کښی اقدام وکړ، وروسته له هغه نه یی دزیاتی تجربی له کبله دبشری قواودیوتن متخصص په مرسته اودبشری قواو په لارښوونه دمتحدالشکلو فورمو اوجدولونو په ترتیبولو پیل وکړی اوخپل فعالیت ته یی دوو مقصدونو دپرمختګ له پاره اختصاص ورکړ:

الف - د اختصاصی تعلیمیافته ګانو په باب د معلوماتو غونډول. مقصد داختصاصی تعلیمیافته ګانو څخه ټول هغه کسان دی چه د کابل اودباندنیو هیوادو له پوهنتونو نوڅخه راوتلی یا یی دسکالرشیپ، فیلوشپ او نورو سایلو له لاری په دباندنیو هیوادو کښی تحصیل کړی وی، ددغو کسانو دبشپړلست دتیارولو دپاره موږ په کابل او ولایتونو کښی ټولو دولتی اوخصوصی دایرو ته تیاری فورمی لیږلی چه دخانه پوریونه وروسته بیرته دمربوطو دایرو له خوا موږ ته راوسپارلی شوې له دغه حیثه پنځه سوه فورمی خانه پوری شوی دهر تعلیمیافته شهرت اومیزات په ملی راجستر کښی ثبت شول.

ب - داستخدام دبازار په باب دمعلوماتو حاصلول :

د کار دعامل له حیثه ئی دهیواد داقتصادی موقف دتاکلو دپاره دغه کارته هڅه کړې او له دې کبله چه دغه ځانګه نوې پرانیستل شوې ده اوس یی په تجربوې ډول فعالیت د کابل په ولایت پورې محدوددې دولتی اوخصوصی اوه سوه و پنځوس داستخدام واحدو ته داوس، شپږو میاشتو پخوا شپږو میاشتو آینده د کارکوونکو دشمیر دندوداو تصنیف په باب متحدالشکله فورمی ولیږل شوې چه تر اوسه په سلو کښی اویا فورمی دخانه پوری نه وروسته بیرته دغه ځانګی ته رالیږل شوی چه ژر به دنورو فورمو درارسیدلو نه

نه وروسته دنار ینو اوښځو دفني اوعادي کار کوونکو په باب دهغو ددندو له حیثه یو رپوټ تیار شي.

(۲) نوری څانګی:

په عمومي ډول ددغو څانګو وظیفی دمالی ، بانکی ، کرهنی ، صنعتی ، روغتیا ، مخابراتی ، تجارتی اوعرفانی بیلو بیلو احصائیو غونډول اودنفوس شماری مربوطی مسئلی دی ، چه څرنګه والی ، د غونډ ولو ترتیب اوفعالیت ئی په لاندی ډول لیکل کیږی : په عمومی ډول دهیواد دمالی چارو اوپه خصوصی ډول ددولت دمالی حالت په باره کښې دعایداتو ، لګښتونو ،خارجی اوداخلی پورونو اودغه رنګه دولتی اوخصوصی پانګو له لارې معلومات راغونډ شوی دی لکه چه د (۳۸ - ۳۹) او(۳۹ - ٤۰)مالی کلونو دپاره په تخمینی ډول اود(۳٦ - ۳۷)،(۳۷ - ۳۸)او(۳۸ - ۳۹) مالی کلونو دپاره په حقیقی ډول دمالیی دوزارت دمیاشتنی رپوټونو له مخی ددولت د وارداتو په باب معلومات غونډاوترتیب شوی دی.

بایدوویل شی چه د۳۸ - ۳۹ مالی کال په لومړیو پنځو میاشتو کښی واردات په حقیقی ډول او په نورو اوو میاشتو کښی تخمینی دې ددولت دلګښتونو مربوط ارقام هم ترهغه ځایه پوری چه د مربوطو دایرو رپوټونه ددغی څانګی لاس ته راځی دبشپړیدو په حال کښی دی هیله ده چه دمربوطو دایرو په مرسته دنورو پاتو کلونو لګښتونه ژر تهیه او بشپړ شی.

ددولت،دولتی اوخصوصی موسسو،خارجی اوداخلی پورونو معلومات چه تیر کال د۳۷ کال د کب دمیاشتی ترپایه خپور شوی وو،سبز کال داهم دهغو تفصیلاتو سره چه د۳۸ کادپرمختګ په کتنه کښی خپور شوی د۳۸ کال د کب میاشتی ترپایه غونډاوترتیب شوی دی .

دبانکدای په برخه کښی دبیلو بیلو بانکونو دشیتو بیلانس دهغی نمونی له مخی چه دپلان په وزارت کښی تیارشوی اوپه هغه کښی په ۳۷ کال کښی د بانکونو دفعالیت حالت څرګند دی دهر بانک دګټی اوتاوان دحسابونو سره یو ځای تهیه او په مفصل ډول به دپلان دوزارت د۳۹ کال په نشریه کښی خپورشی، په دغه باره کښی فرعی جدولونه هم تیار شوی دی چه دهغو له مخی په۳۷ کال کښی دهیواد پولی حالت تحلیل شوی اومربوطو مقاماتو ته سپارل کیږی.

په مرکز اوو لایتونو کښی داستهلاک شویو موادودخرده فروشی اوعمده فروشی رقم اوپه کابل کښی دخارجی اسعارو نرخ په ۳۸ کال کښی تهیه اوراغونډ شو.باید وویل شی چه دغه کار دافغانستان بانک،ملی بانک او پښتنی تجارتی بانک له خوا کیږی دبانکونو په مرسته دچمن،پاراچنار

پېښور، امرتسر، ډیلی، بمبیی او هامبورگ په بازارونو کښی هم دافغانی صادراتی مالونو دعمده فروشۍ نرخونه د۳۸ کال دپاره تهیه شوی دی.

دمخابراتو په شق کښی دپست، تلگراف اوراډیو په برخه کښی (تخنیکی او نشراتی) د۳۸ کال دپاره احصائیه غونډه شوی مربوطو دایروته دپلان دوزارت ورلیږل شوی فورمی د۳۸ کال دشپږو لومړیو میاشتو له پاره بیرته رالیږل شوی او نوری هم درارسیدلو په حال کښی دی. دهغو معلوماتو له مخی چه لاس ته راغلی دی تقریباً سل عدده فرعی جدولونه تیار شوی دی او د۳۹ کال دپرمختگ په کتنه کښی به خپاره شی.

دخارجی تجارت داحصائیی په برخه کښی چه دتجارت وزارت یی هر کال په مرتب ډول دعمومو داستفادې دپاره خپروی دپلان وزارت په ځینو برخو کښی په مستقیم ډول هڅه کړې لکه چه دپټرولو دموټر دروغنیاتو او پرزو دتورید په باب ارقام ددولتی انحصاراتو له خوا د۳۷ کال دپاره راغونډ، دکود په سیستم ترتیب او دهغه اسعاری نرخ په افغانیو سنجول شوی او په مخصوصو جدولونو کښی داخل شو.

دمسافرانو دشمیر او دهغو مالونو داندازې په باب معلومات او مطلوبه احصائیه لاس ته راغله چه په ۳۸ کال کښی دهواله لاری هیواد ته راغلی او تللی دی، صنعتی احصائیه چه په ۳۸ کال کښی تیاره شوی په لاندی ډول ده:

الف- دروغتیا دمؤسسو شمیر.

ب- دساری ناروغانو دتداوی شویو کسانو شمیر.

ج- په افغانستان کښی دروغتیا دتسهیلاتو دراغونډولو اندازه او دهیواد دروغتیا نورفعالیتونه.

دنفوس شماری په برخه کښی چه دټولو هیوادو دمهمو اجتماعی او اقتصادی پرابلمو څخه ده داحصائیی ریاست داحصائیوی چارو دمرکزی اداری له حیثه په آینده کښی د هیواد دعمومی نفوس شماری دپروگرام او پلان دجوړولو په غرض دملگرو ملتو د متخصصینو، دپلان دوزارت دداخلی او خارجی متخصصینو دداخلی او کرهنی دوزارتونو دمامورینو په مرسته په ازمویښتی او دنمونی په ډول په ۳۸ کال کښی کابل ته نژدې په (ده خدای داد) کښی دنفوس شماری او د کرهنی داحصائیی په اخستلو پیل وکړ.

په هغو پروژو کښی چه دنورو هیوادو او دولتی بیلو اداروا و مؤسسو په مرسته سرته رسیږی داحصائیی څانگی دهغو افغانیو دخبرتیا په باب چه ددولت یا دولتی مؤسسو له خوا هری پروژی دسرته رسیدلو په لاره کښی خرڅیږی اقدام کړی او غواړی چه دغه احصائیه را غونډه کړی.

سربیره پردې داحصائیی څانگه په دی مکلفه ده چه بین المللی مؤسسوا و دنورو هیوادو اقتصادی

معظم تولوا ك دد ری ریـگه نوار په پری کولو سره د گـلبهار دنساجی فابریکه پرانیزی

زمو ږ ګران پاچا دجنګلک دفا بر یکې دیوه ماشین په باب دیو تن فنې مامورځخه تو ضیحات غواړی

او احصائیوی مؤسسو ته د احصائیی بیل بیل معلومات تهیه او تیار کړی او د ضرورت په وخت کښی دهغو سوالونو ته جواب روایی .

(۳)- د تتبعاتو او تحلیلاتو څانګه :

د دغی څانګی وظیفه د بشری قواو او احصائیی د څانګو د وظیفو سره مستقیمه اړه لری، وروسته له هغه نه چه احصائیی غونډی او مربوط جدولونه تیار شی هغه د تحلیلاتو څانګی تـه سپارل کیږی په دغه څانګه کښی نوموړی معلومات خپله وروستی مرحله تیروی په هره برخه کښی د غور او تدقیق له کبله دغه څانګه لازمی نتیجی دلنډو احصائیوی جدولونو او ګرافونو په ډول د لازمو تشریحاتو سره ترتیب او وړاندی کوی

د پلان د ریاست اجراآت

د دغه ریاست اساسی مسئولیت دادی چه په انکشافی پلانو کښی د طرح او بیا کتنی وظیفه په غاړه لری، د دې مقصد له پاره د پلان د پرمختګ مهم مفردات او د اقتصادی خط مشی سیاست د پروګرامو په تهیه او ترتیب کښی وزارت پیشنهاد او وړاندی کوی دغه ریاست د پلان بیل بیل شقوق توحید او منظم ګرزوی ځکه چه یوه مهمه وظیفه یی په هیواد کښی د راتلونکو پلانو طرح کول دی نو له دی لامله د دغه مقصد د پاره یی د دوهم پنځ کلن پلان په تیارولو کښی ابتدائی اقدامات کړی او له هم اوس څخه یی تتبعاتو او د احصائیی غونډ ولو ته ملاتړلی په تیره د کرهنی ، ابیاری او بریښنا دقو او په بیلو بیلو شقو قو کښی یی په یولړ مقدماتی سروې لاس پوری کړی ، دغه رنګه د مالیی او مربوطو وراز تونو په مرسته یی د مالی حالت په نظر کښی نیولو سره د پلا ن پیش بینی شوی هدفو نه ، مهمی پروژې او هغه پروژې چه ترا جرا لاندی دې تثبیت کړې او د پلا ن د پنځم کال د پا ره یی د هر وزارت بودجه او انکشافی پروګرام ټا کلی دی ، د هغو مشکلا تو او خنډ ونو په لیری کولو کښی یی تر ممکنی اندازې کوښښ کړی چه د فینانسمان او هم غیر پولی مسئلو له حیثه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د انکشافی پروژو په اجرا کولو کښی تر اوسه منځ ته راغلی دې دغه ریاست دغه لاندې او مدیر یتونه لری :

کـرهنه او ابیاری ، ما لی او بانکداري ، تجا رت ، حمل ونقل او مواصلات ، معا دن او روغتیا ، فرهنګی او اجتما عی ، تو حید او انسجام .

د کر هنی او ابیاری مدیرت د کرهنی او فوائد عامی د وزار تونو او د هنامد دسیمی په مرسته په عمومی ډول په هیواد کښی د کرهنی د حالاتو ، د او بود منابعو پیدا کولو ، د بریښنا د قو او د انکشاف لار ی چاری تر کتنی او مطالعی لاندی نیولی دی . دغه مدیریت په ۳۸ کال کښی په دغه باب ګټور معلومات حاصل کړی او پر هغه اوس څیړ نه او غور کیږ ی .

دمالی اوبانکداری مدیریت: دغه مدیریت په عمومی ډول دانکشافی پروژو ، مالی حالت اوددغو پروژودفینانسمان عملی کول ترمطالعی لاندی نیولی دتیرو کلودلګښتونواودپلان دوروستی کال دحالت اوددغو پروژودلګښت دتا کلو دلاس ته راوستلو په باب یی متحدالشکل جدولو نه تیار کړی دی . دغه څانګه له هم اوس څخه دمالیی دوز ارت سره ددوهم پنبز ګلن انکشافی پلان دبود جی په تیار ولو کښی په خبرولګیا ده .

ددمخکنیو تتبعاتو په لړ کښی دبانکونو په باب د زیاتو مطالعا تو نه وروسته دبا نکو نو پر قا نو ن او دحسا بونو ، امانتونو اودامانت ایښودلو دحقوقود محاسبی په شمیر کښی پرزیاتوب با ند یې دد غه مدیر یت له خوادبیا کتنی په باره کښی جامع پیشنهادونه شوی دی. دغه رنګه داسعار ودتباد لی په برخه کښی په خصوصی ډول اودهیواد دمالی حالت په باب په عمومی ډول ددغی څانګی له خوا دهیواد داقتصادي انکشاف له پاره دنو یومنا بعو په پیدا کولو کښی دما لیی د وزا رت په مرسته ز یا تی مطالعی شو ی دی .

دتجارت مدیریت : دغه څا نګه دافغا نستان دداخلی اوخا رجی سودا ګر یو د چا رو سره سرو کارلری ،اودسودا ګری چه برخه کښی دپلان دهدفونو دپرمختګ په لاره کښی مو ظفه ده ، له دې کبله دتجارت دوزارت ، دتجارت داطاقودریاست ، تجارتی محکمو اودډولو نو تجارتی شر کتو نوسره په خبر واترولګیاده اودهغوداجرا اتورپوټ لاس ته ر اولی ، لکه چه په ۱۳۳۸ کال کښی یی دافغانستان دداخلی اوخارجی سودا ګری دانکشاف په باب نسبتاً یو کافی ر پوټ میندلی دي . دغه رنګه دسودا ګری په چارو کښی دبین المللی تړونو او دتجا رتی قو ا نینو ، شر کتونو دچارو اوپه هیو اد کښی دخارجی پانګی دپکارا چولو په باب یی ډیری مطا لعی او کتنی کړي دي .

دتوریزمی خدمتونو انکشاف چه دحکومت له نظریواو مهمو مسئلو څخه دی دهغه دانکشافی عواملولو مړی مرحلی ترمطالعی لاندی دی چه په دغه باب دخارجی کمپنیو له خوادځینو پیشنهادو سره دپلان وزارت ته وړاندی شوی دی په دغه ډول یی دتیروشویو اجرا اتو په لړ کښی د عمو می تجارت دموافقه لیك په مرامونو ، تعرفو داخلی اوخارجی سودا ګری ، اونورو تجا ر تی چارو کښی دهیواد دتجارتی حالت دښه کیدو په غرض دتدقیق اومطالعی له پاره یو پروګرام په لاس کښی دي .

دحمل ونقل اومواصلا تو مدیریت : دغه مدیریت دهیواد په ټولو مخابراتی اومو اصلاتی چارو کښی ددولت دانکشافی اجرا آتو اولګښتو نو په باب په ۳۸ کال کښی بشپړ معلومات غونډ

کړی دی دفواید عامی اومخابر اتودوزارتونو، دملکی هو انوردی اوعمو می ترا نسپورټ دریاستونو سره ددغی څانګی تماس زیات دی ، ددغه مدیریت درپوټ لهمخی دهیواد د مخابراتو اومواصلاتو پهساحو کښی دقدروړ پرمختګو نه شوی دی .

د کانو او صنایعو مدیریت : د غه څانګه د صنعتی مو سسو سره د صنعتی د ستګاؤ دانکشاف اوپرانستلو پهساحه کښی هرډول مرستی کوی، او زیار با سی چه په دغه باب د پانګی پکار اچول چمتو کړی او د مر بوط وزارت سره تل پـه تما س کښی ده چـه د هیواد دمعدنی منابعو څخه استفاده شوې او دغه منابع ژرپکارو لویږی .

فرهنګی او اجتماعی مد یر یت : د غه څانګه چه دروغتیا ، پوهنی ، د کلیو اوښاروالی د انکشاف په چارو کښی د کتنی اومطا لعی وظیفه په غاړه لرې دپلا ن پـه څلرم کال کښی یی دلاند نیومؤسسو په باب دغه اجرا آ ت کړې دې :

(۱) - معارف: داجتماعی خد متونومد یریت دپلا ن دوزارت دبشرې قواود څا نګی په مرسته کوښښ کوې چـه دهیواد دعمومی اړتیاله حیثه دروزنی د ډول اودفنی کسانو اوتعلیمیافته ګانو لومړنی ضرورتونه وسنجوې اود پوهنی دراتلونکو پلا نو په تیا رولو کښی د اسی لارې ولټوې چه له یوې خوازموږ لومړنۍ او مهمی اړتیاوې ترسره اوله بلی خواد روز نی دډ ول اود هغی دغوښتنی په منځ کښی موا زنه ټینګه شی .

(۲) - روغتیا : د اجتماعی خـد متونو څانګه د روغتیا د وزارت فعالیتو نه په دقت سره ګوری ، دانکشافی تجربواو مجاد لوی لاروڅخه په استفاده کولوسره دهغو په راتلونکی پلا نو کښی مؤثری لاری چاری مطا لعه کوی .

(۳) - د کلیوانکشاف : په افغانستان کښی د کلیتودانکشاف له پرانستلو څخه شپږ کال لانه کیږ ی اودغه څانګه دتجربی په حال کښی ده سره بیره پر د غه ئی هم د کـلیود انکشاف اولارښوونی ګټوری او مؤثری لاری ترژوری کتنی لاندی نیولی اودتیرشویو تجربوله مخی یی کوښښ کړی دی چه د کلیوپه پروژو کښی د فعالیت دډول اولارو چارو تغیرمعرفی کړی .

دمحیطدلاس ته راغلوتجربوله مخی د کلی هرډول انکشاف اوپرمختګ ته چمتودې چه د غه خبره موږ ته دهیواد د را تلو نکی لویوا نکشا فا تو زیری را کوی . لکه چه په نورستان کښی دهلکانو او نجونو ګډ لومړی ښو ونځی پرانیستل شو ، داجتماعی خد متونومد یریت داجتماعی لویومر کزوپه لیروځایو کښی دانکشافی مؤثروفعالیتو امکان تر کتنی لا ندې نیولی دی .

(٤) - ښاروالی: داجتماعی خدمتونو څانګی دپلان په څلورم کا ل کښی د ښاروالی په مرسته

دروغتیا ، تعمیراتو ، داوبورسولود نوې سیستم ، دسیلا وو د کنټرو ل ا ونو رو له حیثه د کابل دښارلومړنۍ اړتیاوی تر کتنی لاند ی نیولی اود مربوطو متخصصینو په مرسته یی ښاروالی ته ګټور نظریا ت وړ اند ې کړ ی د ی .

دغه رنګه داجتماعی خد متونومد یریت دښاروالی په اوسنی حالت او مشکلاتو غور کړی . دښاروالی دټولونیمګړوپروژود هغود مشکلا تو دلیر کید و په باب یی له یوې خوا او د نویو پروژوداړتیااومشکلاتوپه شروع کیدو کښی یی له بلی خواپورهـ معلومات حاصل کړ ی دی.

دانسجام اوتوحید مدیـریـت : دغه څانګه چه په عمو می ډو ل د ا نکشا فی هد فو نـود پرمختګ دتوحید اوانسجام مراقبت په غاړه لری ، ددغه وزارت دشپږو مد یریتونو سره تل په خبرواترولګیاده اوغونډ شوی رپوټونه ترژورې کتنی لاند ی نیسی ، اوپه د ې هم مؤ ظفه ده چه دپلان په مربوطومسئلو کښی دهرډول خارجی اوداخلی منابعود پوښتنودپاره دمعلوماتو دیوه مر کزپه حیث چمتووې ، ددغی څانګی مهمه وظیفه دهیواددااقتصاد ې حالت تحلیل د ی ، دغی څانګی دهمد ې مقصد دپاره دهیواد داقتصاد ې پرمختګ په سیرباند ی دپخوانیو کلو نوپه څیر خپلو کتنوته دوام ور کړی د ی .

دپلان دوزارت دخارجی مرستی دارتباط لوی مد یرت

ددغه وزارت د خارجی مرستی دارتبا ط لوې مد یریت چه دخارجی مرستو کوو نکو ادارو اویامؤسسوسره دافغانستان د شاهی حکومت دارتباط مر کزی اداره ده اودتخنیکی اواقتصادی مرستودانسجام اوارتباط دحصول په باب اجرا آت کوی چه دنوموړومنابعو څخه دهیواد بیلوبیلو دایروته رسیږی،خارجی مرستی ا کثره په دغوډولو کیږی اودلاند نیواجرااتو متضمینی د :

(۱) متخصصین : دارتباط لوی مد یریت دافغانستان دادارو د ضر و ر ت وړ د متخصصینو په باب دمرستی کوونکواداروته خبرور کوی کوم وخت چه مرستی کوونکی اداره دغه متخصصین معرفی کوی ،دهغوسوانح ګوری اوداستخدام په باب یی دمربوطو څانګوموافقه لاس ته راولی او مرستی کوونکی اداره خبروی .

هر کله چه متخصصین افغانستان ته راورسیږی ، دغه څانګه یی مربوطودایروته معرفی کوی اود اړتیاوپه باب یی دمربوطوموافقت لیکونوله مخی تیاری کیږی .

(۲)فیلوشپ : دخارجی هیوادونو فیلوشپ اوسکالرشپ چه بیلوبیلو افغانی دایرو ته ور کول کیږی د کاندیدو دمعرفی کولو،اجازی اخستلو،استولو اونورو قانونی مرحلو په باب یی دغه څانګه اجرا ات کو ی .

(٣) - الات اوادوات: دطرح شويو پروژود ضرورت وړالات‌اوادوات که دمرستی کوونکو مؤسسو له خواتهیه شی دهغومربوطوپروژو ته یی سپارې . هغه مرستی چه په ٣٨ کال کښی د خارجی مؤسسو له خوا افغانستان ته رسیدلی په لاندې ډول دي :

(١) دملګرو ملتو تخنیکی مرستی :

په ٣٨ کال کښی‌دملګرو ملتو دتخنیکی مرستی‌اندازه چه دافغانی مؤسسوسره‌ئی کړی‌دی (٦٦٤٧٧٨)ډالروته رسیږ ی چه د هغو څخه (٢١٤٠٠) ډالره د هیواد د طرح شوې پروژود ضرورت وړسامانوپه رانیو لواو نور یی د (٦٤) تنو متخصصینو په ا ستخد ام او (١١) فیلو شپ خرڅ شوی دي . دغه مرستی دملګرو ملتو دعا دي اوانکشافی‌پروګرام لا ندې شوی برسیره پردې دیونیسیف مؤسسی دملا ریا،حمایې‌لکه دارد ناروغیوپه محوه کولواود میندواووړو کوپه تقویه کولو کښی زیاتی مرستی کړی چه په دغه پرور ګرام کښی شاملی نه دی .

څه وخت‌دمخه دملګروملتودنوې جوړشوې صندوق (سپیشل فنډ) له خوا د ١٩٦٠ ع کال دنفوسواو کرهنی داحصائیی اخستلواو بله یی داوبواو مخکو دمنابعو د سروې دپاره دمرستی کولو دوې غوښتنی شوې وې چه په نتیجه کښی ، دغه صندوق چمتوشوچه (١٢٥٧٤٠٠) ډالره د اوبواومخکودمنابعود سروې دپروژې دپاره مرسته و کړې ، په د غه با ب زموږ حکومت هم دیرو یشت ملیونه اواتلس زره‌افغانیې منظور کړې چه د ٣٨ کال د کب د میاشتی په دوهمه نیټه ددواړو خواو څخه د غه موافقه لا سلیك شوه ، له دغی پروژې څخه مقصد دادی چه دقندوز ، کو کچی، کابل ، هیریرود ، فراه‌رود اونورو سیندو نو داویو په‌با ب دقنی معلوماتو دغوندولو او کرهنی‌دلار ښوونې یو مر کز پرانیستل شی چه ددغوپروژو په سرته ر سید و سره دسیندو څخه پوره ا ستفاده و شی .

دتیر کال‌داجرا آتو په رپوټ کښی دملګروملتو دمؤسسی له خواد (او پکس) دبین المللی اداري خدمتونود سرویس پرانیستلویادو نه شوې او ز موږ حکومت له دغه سرویس څخه مرسته غو ښتی ده ، ځکه چه د هغه متخصص مسئو لیت لکه چه نبا یی څرګند نه وُ کوم چه دنو موږی سرویس له خوا افغانستان ته را استول کیدې ، او په عین حال کښی ز موږ غوښتنه دحکومت په نزددمتخصص په مسئولیت‌پوری‌بیخی مشروطه وه ، وروسته له هغه نه چه دملګرو ملتودمؤسسی‌له‌خواموضوع څرګنده اومنظور شوه ، لوړو مقاماتو فیصله و کړه چه اوس د ی دري تنه متخصصین دد غه سرویس څخه راوغوښتل شی ، دوه تنه به‌د کانو اوصنایعو په وزارت او یوتن یی د مخابراتوپه وزارت کښی‌داجرائیه مامورینوپه حیث وظیفه اجرا کړی ، دغه موافقه

د ۳۸ کال دلیندی په (۲) نیټه دپلان دوزارت اوپه کابل کښی دملګرو ملتو دتخنیکي مرستي دهیئت درئیس ترمنځ لاسلیك شوه :

دملګرو ملتودتخنیکی مرستوادارواو دملګرو ملتو اختصاصی مؤسسو لکه د مخا بر اتسو بین المللی اتحادیه، دنړی دمترولوژي مؤسسه ،د کار او کار کو و تکو بین ا لمللی مؤسسه ، دنړی د کرهنی خورا کی مؤسسه ، یونسکو ، دملکی هوانوردی بین المللی مؤسسه ، دنړی دروغتیا مؤسسه ، داتوم دانرژی بین المللی مؤسسه ا و یونسیف ته حق العضویت ور کړشو ، خود(سپیشل فنډ)نو ی جوړشوی صندوق ته زموږ په حق الاشتراك کښی نوردرې زره ډالره زیاتوب وشو اود حق الاشتراك تو له اندازه(۹)زرو ډالروته رسیدي .

دغه رنګه (۳٤٥٦۰۰۰) افغانی دمحلی متخصصینودلګښت او (۲۸۲٦۱۰۰) افغانی په کابل کښی دملګروملتودهیئت داداري لګښت دپاره ور کړ شوی دی،ددغه هیئت اداري لګښت ته لاندې اسعارهم ور کړ شوی دی :

(۱) - (۷۵۰۰) پاکستانی کالداری

(۲) - (۲۳۰۰) سترلنګ پوند

(۳) - (٦۲٦۰)امریکائی ډالره

دلیري څنیځ اواسیادپاره اقتصادی کمیسیون چه مرکزی په بنکاك کښی دی تل د غړو یو هیوادودپاره کنفرانسونه اوسیمینارو نه جوړوی اوپه مخصوصو شقوقو کښی داشخاصو دروزنی دپاره ، دهند او جاپان په څیرد غړو هیوادود یوه هیواد په تر بیوې مرکز کښی فیلډ شپ تهیه کوی ، افغانستان چه د دغه کمیسیون غړی دی تیر کال بی ډاقتصادي کمیسیو ن په د غو کنفرانسو نو کښی ګډون و کړ:

په کراچی کښی دبین المللی لو یو لار و کنفرانس

په بنکا ك کښی اقتصادي او دپرو ګرام جوړولو کنفرانس

په ټوکیو کښی دبریښناد انرژی کنفرانس

په بنکاك کښی دسوداګري کنفرانس

۲-دامریکی دبین المللی مرستی اداره:

الف-دغی اداري دتخنیکی مرستو اندازه په ۳۸ کال کښی دري ملیونه دري سوه زرو ډالروته ورسیده اودهیواد په جوړشویو پروژوباندی دغه پیسی خرڅی شوي .

ب-دامریکی دبین المللی مرستی داداري دمخصوص فنډ مرسته په ۳۸ کال کښی (۱٦۱۳۱۰۰۰) ډالروته ورسیده،دغو پروژوته دغه پیسی منظوری او تخصیص ور کړشو :

جلالتماب نهرو د اعلیحضرت معظم همایو نی په حضو ر کښی



پداسی حال کښی چه دهند صدر اعظم جلالتما ب نهرو داعلیحضرت معظم همایونی په حضور باریاب شویدی : پدغه عکس کښی و الاحضرت مارشال شاولی خان غازی ، و الاحضرت مرحوم مارشال شاه محمود خان غازی او بناغلی صدراعظم هم لیدل کیږی

(۱)ـ دسړ کونود اصلاح او مراقبت پروژې ته (۴۰۰۰۰۰) ډالره
(۲) دهوائی حمل و نقل دانکشاف پروژې ته (۱۱۴۸۱۰۰۰) »
(۳) دارغنداود بریښنا پروژې ته (۱۸۰۱۳۰۰) »
(۴) له هواڅخه دنخشی اخستلو پروژې ته (۱۱۵۰۰۰۰) »
(۵) دتکنیکل سپورټ داداري او محلی متخصصینو لګښت ته (۱۰۰۰۰۰) »
(۶) دهلمند دمنابعو انکشاف ته (۱۱۹۸۷۰۰) »

ج ـ تیر کال دامریکی دوچومځکو داصلاح او احیا داداري دووتنوما مورینو دهلمند سیمه و کتله هغو ددغی اداري دمرستی مسئله دهلمند په سیمه کښی داتازونی دبین المللی مرستی داداری له لاری مطالعه کړې یو رپوټ یی واشنګټن ته ولیږه، نو دامریکی دوچومځکو داصلاح او احیا اداره په دې مؤظفه شوې ده چه د هلمند په سیمه کښی مرسته و کړی ، ښایی چه ددوی مرسته به دسلا او فنی کتنی په ډول وی.

د کلیوالو د ژوندانه دانکشاف په برخه کښی یو تن امریکائی متخصص چه په شرق اردن کښی یی ددهکدې دمشاور په حیث وظیفه اجرا کوله، د کلیوالو دژوندانه په چارو کښی د کتنی او مشورې ور کولو دپاره کابل ته راغی، نو موړی دخپلو کتنو یو رپوټ تیار کړی او مربوطو مقاماتو ته یی وسپاری.

دغه رنګه دامریکی یو څلور کسیز هیئت د کندهار دصنعتی پارك دپروژې په باب د کتنی دپاره افغانستان ته راغی، هغو ځینی سفارشونه و کړه او یو رپوټ یی مربوطی څانګی ته وړاندی کړچه دسفار شونو رپوټ یی مربوط مقام و مانه.

او هم تیر کال دامریکی دبین المللی مرستی اداري دبیمې یو تن متخصص افغانستان ته راولیږه ، چه دبیمې دیوه شرکت دپرانستلو په باب نظریه ور کړی، دغه متخصص په امریکه کښی دبین المللی بیمې دیونامتو کمپنی څخه ؤ او دخپلو کتنو رپوټ یی دتجارت وزارت ته وړاندی کړ .

(۳)ـ په ۳۸ کال کښی بیلو افغانی اداروته دایشیا فونډیشن مرستی:

دایشیا فونډیشن مؤسسی دپوهنی دوزارت ، د کانو او صنایعو دوزارت، دمطبوعاتو د ریاست او د کلیو د انکشاف دریاست سره مرسته کړې او ددغی مؤسسی دمرستو اندازه تیر کال (۱۱۱۶۴۰) ډالر و او (۸۷۴۹۲۵/۵۰) افغانیو ته ورسیده .

(۴)ـ دالمان دفیډرالی جمهوریت تخنیکی مرستی :

تیر کال دالمانیانو مرسته دافغانستان سره د کرهنی ،اقتصاد، تخنیکی ښوونځیو د تکامل، دجیالوجی

سرویس اوداوبو داقتصادی مراقبت داداري په ساحه کښی له څلورو ملیو نومار کو څخه زیاته وه علاوه پردي چه افغانی ځوانانو ته یی یوشمیر فیلوشپ ور کړ ، ددغی مرستی په لړ کښی یي یوهیئت دجیالوجی څیړنو اوبل هیئت یی دهایډرو لوژي دپاره د کانو او صنایعو په وزارت کښی مؤظف او هم یی یو څلور کسیز هیئت داقتصادي مشاورینو په حیث دپلان په وزارت کښی وظیفه اجرا کوی اوبل هیئت یی دپوهنی په تخنیکی ښوونځی کښی په ښوونه لګیادی.

(٥)ـ دفرانسی تخنیکی مرستی:

دهغی تخنیکی موافقی له مخی چه دافغانستان دشاهی حکومت اوفرانسی ترمنځ په ١٩٥٨ع کښی دتخنیکی اواقتصادی مرستی په باب وشوه ، تیر کال دفرانسی حکومت سر بیره پر فیلو شپو چه افغانانو ته یی ور کړه یوشمیر متخصصین یی هم افغانستان ته راولیږل، ددغی مرستی په لړ کښی یو پنځ کسیز هیئت داتومیک انرژی دموادودځیړنو په لاره کښی په فعالیت بوخت شوی اویو شمیر نور متخصصین به د کرهنی داحصائیی دماشینی آلاتو،دواجوړولو، هواپیژندلو او مهندسی په شقو قو کښی ژر افغانستان ته راورسیږی .

(٦) د جاپان د حکومت تخنیکی مرستی :

دجاپان سره دتخنیکی موافقی په باب فعالیت روان دی،خو تراوسه کومه رسمی موافقه نه ده شوې ، که څه هم څوفیلو شپه زموږ دحکومت په اختیار کښی ایښوول شوی چه له هغو څخه داو بورسولو، چینی جوړولو اوورځپمودفن په شقوقو کښی ګټه اخستل شوې ده ،دغه رنګه دوه تنه متخصصین د افغانستان د صنایعودسروې د پاره کابل ته راغلی او دخپلولیدنو کتنورپوټ یی د افغانستان دصنائعو په باب تیاراو مربوطو مقاماتو ته وړاندی کړی دی.

اداري مدیریت :

ددغووظیفو په اجرا کولو کښی مسؤلیت لری :

(١) دادار ی بودجی تیارول اواجرا

(٢) دټولواسنادو اواداري حسابی پا نومراقبت اوساتنه .

(٣) دمامورینو،اجیرانواومستخدمینودسوانح دپانو اوسوابقومراقبت اوساتنه

(٤) دسامانو اواجناسوتدارك ، توزیع اوذخیره

(٥) داداري دټولوپا نګودسندو نوتنظیم اومراقبت

(٦) د هغو پا نو مراقبت او ساتنه چه داداري د د ایرو له خوادساتنی له پاره وغی ځا نګی ته سپارل کیږی .

(۷) داداري خدمتونو لکه اجرائیه ، اوراق، امربري، ترانسپورت اومخابراتی سیستم دسر ته رسولو مراقبت .

(۸) دعمارت ، دفتر، مرکزي ځانګو، سامان او لوازمودپاکوالی مراقبت

(۹) ددغه وزارت ددایرود ضرورت وړدطبع اوخپرونی دخدمتونودسرته رسولومراقبت .

دغه مدیریت دبودجی، داجرا او تطبیق په برخه کښی مستقیماً لاندي مکلفیتونه لري :

(۱) په مالی کال کښی دننه داداري دهرواحد دعاید اتواولګښتونودتخمیناتولاس ته راوستل .

(۲) داداري دآمراومربوطوځانګودآمرینوپه اتفاق داداري دهرواحددپیشنهاد شویوعایداتو ارلګښتونو د تخمیناتو غور اوتدقیق ، چه د پیشنهاد شوي لګښتونو اوعایداتو بودجه د اداري دبودجوي مرام اوپروګرام له مخی تیاره شی.

(۳) داداري دټولو ځانګو دبودجوي تخمیناتوترتیب اوتوحید اوپه تاکلی وخت کښی دمالیی دوزارت دبودجی عمومی مدیریت ته دهغو وړاندي کول .

(٤) دمالیی وزارت دبودجی عمومی مدیریت ته داداري دبودجی توضیح اوتشریح اودضرورت وړلوایح موجبه وړاندي کول .

(٥) دبودجی دمنظوری ته وروسته داداري دټولوځانګو ددري میاشتنیوتخصیصاتو دحوالی ډپیشنهاد تیارول .

(٦) داداري دواحدونوپه منځ کښی دمنظورشوي تخصیصاتو ویشل .

(۷) دلګښتونودمخکښی کنترول،چه داداري دبودجوي پروګرام سره پوره موافقت ولری .

(۸) دمالی کال دهري ځلورمی تخصیصي سره دبودجوي تصنیف له مخی دنقل شویو پیسود درخواستیوتیا رول اواجرا ، دغه رنګه دفوق العاده پیسود درخواستیوتیا رول او اجرا .

(۹) دبودجوي انتقالاتو دصحیح او مرتبوسندونو او داداري د ټولو واحدونود تخصیصاتو مراقبت او ساتنه .

دعدلیې وزارت

تشکیل :

وزیر ع ، ج ، س ، ع ښاغلی سید عبدالله

معین ع ، ص ښاغلی محمدعبدالکریم حقانی

د قلم مخصوص مدیریت

دقوانینو دتدوین لوی مدیریت

د بلتنې لوی مدیریت

اداری لوی «

دمطبوعاتو «

د محاسبې «

دپاسپورتو «

دالفلاح دمجلې لوی مدیریت

دتمیزعالی ریاست :

ع ، ص مولوی عبدالبصیر د کفیل په حیث

ع ، ج سید عبدالله

دوه تنه غړی

دتحریراتو مدیریت

دجمعیت العلماء ریاست

رئیس کمیسیون

دغه ریاست (۱۶) تنه غړی لری .

د ۱۳۳۸ کال دسنبلې د اول څخه د ۱۳۳۹ کال دسنبلی تر لومړی نیټې پورې د (۳۰۰۰) قطعو عریضو په باره کښې اجراآت شوی او اصولې مراتب ئې تیر کړی دی . دغه رنګه (۲۱۵۱۳) قطعی رسمی لیکونه بیاو بیلو څانګو او مراجعو ته صادر شوی دی . هغه موضوعات چه علمی توالی ته ارائه شوی د (۹۲) فقرو په باره کښې تصویب شوی دی .

دلوائح او مقرراتو په تدوین کښې چه مجاکمو ته دوی په مربوطو شرعی او اداری موادو کښې لکه چه ښائې همغسې لار ښوونه وکړی شی دعدلیې وزارت اقدامات کړی ، د مطالبو دتوضیح او دوضع شوي مقرراتو په عملي کیدو کښې هم چه پخپل اصلی محور و څرخی په ۱۳۳۸

ګال ګنبې دعدلیې محاکمو اوهغو دایرو دجوابو په‌تهیه ګنبې دفقهی د کتابواودهیواد د وضع شوی اصول له‌مخې لازم اقدامات شوی اومشکلاتئی لیری شوی دی چه‌په‌مربوطوچارو ګنبې ئی مشکلات‌حس ګړی او دعدلیی دوزارت څخه‌ئی استهدا ګړی او خپل مشکلا تئی پیشنهاد ګړی ؤ دغه رنګه داصولنامو اوتعلیماتنامو په‌باره ګنبې لاندی‌اجرا آت شوی دی :

الف:حقوقی محاکماتو داجرا آتو اصولنامه:

دغه اصولنامه چه (۲٦٤) مادی ده او دحقوقی محاکماتو دچارو دجریان دعواملو او وسایلو په برابرولو ګنبې‌مشبته‌اوشرګنده‌اغیره اری‌دوزارت‌له‌خوالیکل شوی اولوړومقاماتوته پیشنهاد شوه‌دقانونی‌مراحلوترتیرو لو اودشاهانه‌ذات‌دحضورترصحی‌وروسته‌ئی عدلی محاکمو اومربوطو دایروته زیات‌شمیر لایزل‌شوی چه‌تراجرالاندی نیول شوی دی .

(ب) ضمیمی :

(۱) په حقوقی او جزائی دعو ګنبې دابتدائی، مرافعې او تمیزددعوواوریدلو دوخت دتاکلو د اصولنامې د۳۸ کال د اسدذ (۱۷) نیټې‌ضمیمه په هغوفقرو ګنبې لارښونه کوی چه د تیمز عالی ریاست ته راجع ګیږی .

(۲) په جزائی‌اوحقوقی‌دعوو ګنبې دابتدایی، مرافعې اوتمیز ددعوواوریدلودوخت‌د تاکلو داصولنامې په (٤) ماده‌باندی دتبصری په‌حیث‌ددروفقرو زیاتو الی .

(۳) دهغه مدعي علیه په دعوه ګنبې چه دمسافر په‌ډول په حقوقی مسایلو ګنبې نا ببره‌یوې عدلی‌محکمې ته‌حاضریږی‌او یادهغه‌مدعي‌علیه‌دعوې‌په‌باره ګنبې‌چه دمدعي‌په‌استو ګنځی ګنبې یو ګال‌حاضروی که‌څه‌هم هلته ئی‌داستو ګنی‌اصلی‌ځای‌نه‌وی‌داداری‌اصولنامی‌د(۱۱) مادې په‌تبصره باندی ددووفقروزیاتو الې .

(٤)په‌دوو میاشتو ګنبې ګنبی‌دننه دهغووثیقو په‌باب چه‌اشتباه‌پکنبی وی دعدلیې محاکمو د اداری اصولنامی د۱۷/ ٥ /۳۸ نیټې‌ضمیمه .

(٥) په‌څلورومیاشتو ګنبې ددننه دمدعی‌دشاهدانودحاضرولو په‌باب دعدلیی اداری اصولنامې د۲۰/ ۷/۳۸ نیټې‌دعدلیی محاکمو داداری‌اصولنامی د(۱٤٤) مادی ضمیمه .

(ج)- هغه موادچه‌وزیرانو دعالی تولنی ترتصویب اودشاهانه ذات د حضور تر صحی وروسته محاکموته ابلاغ اولیږل شوی‌دی.

(د)- هغه‌موضوعات‌چه‌دعدلیی وزارت دعلمی قولنی دتصویب نه وروسته دصدارت عظمی دلوړ مقام په‌منظوریې رسیدلې اومحاکمو ته‌په‌متحد المال‌ډول خبرور ګړ شوی دی.

(۱) هغه بندیان چه یوی محکمی په جزا محکوم کړی او د تمیز عالی ریاست ته ئی قضیه وړاندی شوی وی پدغه وخت کښی ئی تا کلی بند بشپړ کیږی .

(۲) دهغو حکومتی محکو په باب چه د یوی اداري له تصرف څخه دبلی اداری په اختیار کې ایښوول کیږی دصدارت عظمی داحکامو له مخی دې اجراآت وشی او دقبالی ضرورت نشته دغه رنګه دالفلاح مجلی چه عدلیی دوزارت له خوا خپریږی په یوه کال کښی دضرورت وړاومهمی خپرونی کړی او پدغه باره کښی ئی زیات بری په برخه شوی دی ځکه چه دمخه دالفلاح د مجلې پاڼی لږوی او زیات مضمونونه ئی نشو خپرولای نو دعدلیی وزارت دهغی پاڼی زیاتی کړی دغه رنګه نو موړی وزارت غواړی چه دالفلاح دمیاشتنۍ مجلی په خپرولو سربیره ځینی علمی کتابونه هم خپاره کړې .

هغه فقری چه د تمیز عالی ریاست تر څیړنی لاندی نیولی دی :

«الف» جزائی :

(٤٦٦) فقری ردی شوی دی

(٤٥٥) فقری کمی شوی دی

په (٨٦٠) فقرو کښی زیاتوالی شوی دی

«ب» حقوقی :

(١٣٥) فقری تائید شوی دی .

(١٦٥) فقری ردی شوی دی

ترفیع او مقرری :

ښاغلی عبدالبصیر د تمیز دعالی ریاست کفیل په ۱۳۳۸ کال کښی د دوهمی رتبی څخه لومړی رتبی ترفیع کړی ده

(۲۱) تنه قاضیان نوی مقرر شوی دی

(۲۵) تنه قاضیان تبدیل شوی دی

(۱۰) تنو قاضیانو تقاعد کړی دی

(۳٤) تنه مفتیان نوی مقرر شوی دی

(۲٤) تنه مفتیان تبدیل شوی او (٦) تنوئی تقاعد کړی دی

ښاغلی سردار محمدداود صدراعظم دسالنګ دکار دقواؤ پرځو انانو نوازش فرمایی

دخارجه چارو وزیر د صدارت عظمی دوهم معاون ښاغلی سردار محمد نعیم دولسی چین د جمهوریت
د صدراعظم ښاغلی چوئنلای سره (په ولسی چین کښی)

دخارجه چارو وزارت

تشکیل:

دخارجه چارو وزیر ، ع ، ج ل ، ع والاحضرت سردار محمد نعیم

الف ــ مشاورتی کابینه : لـه رتبی وتلی دلوی سفیر په حیث ع ، ج ، ښاغلی عبدالحمید عزیز په لو مړی رتبه دمختار وزیر په حیث دوه تنه ..

ب ــ سیا سی معین یو تن . . . . . .

ج ــ اداری معین ع ، ج غلام محمد سلیمان

دشفر اوقلم مخصوص مدیریت چه دخارجه چارو په وزیر پوری اړه لری

مدیر په دریمه رتبه یو تن

دقلم مخصوص منشی په (٤) رتبه « «

غړی یـه (٨) « « «

غړی یـه (٦) « « «

غړی یـه (٩) « (٣) تنه

سیا سی لـو ی مدیر یت :

سیاسی لـو ی مدیر په (٢) رتبه یو تن

دمنځنی ختیځ او افریقا څانګه :

مدیر په (٣) رتبه یو تن

غړی په (٧) رتبه « «

غړی په (٩) رتبه « «

د ارو پا او امریکـا څا نګه :

مدیر په (٣) رتبه یو تن

ACKU

غړی په (۷) رتبه یو تن

غړی په (۹) « « «

د اسیا ختیځه څانګه :

مدیر په (۳) رتبه « «

غړی په (۷) « « «

غړی (۹) « « «

د اقتصاد څانګه :

مدیر په (۳) رتبه « «

غړی په (۶) « « «

غړی په (۸) « (۲) «

دملګرو ملتو د مدیریت چاری :

مدیر په (۳) رتبه یو تن

غړی په (۵) « « «

غړی په (۶) « (۴) تنه

غړی په (۷) « یو تن

دمطالعاتو څانګه :

دڅانګې آمرین په لومړۍ رتبه (۴) تنه

متتبع په دو همه رتبه (۸) «

په پنځه رتبه سکرتر (۴) «

د کتابخی څانګه :

د کتابخی آمر په (۷) رتبه یو تن

مرستیال په (۸) « «

مطبوعاتی مرستیال په (۸) « «

ACKU

دتشر یفـا تو ر یاست :

ر ئیس پـه (۲) رتبه یو تن

غړی په (۵) رتبه دوه تنه

غړی په (۹) « « «

ادا ری لو ی مد یـر یت :

ادا ری لو ی مدیر په (۲) یو تن

دقو نسلـګریـ او تا بعیت مد یریت :

مد یر په (٤) رتبه یو تن

غړی په (۸) « « «

غړی په (۹) « « «

دو یـزی مدیر یت :

مدیر په (٤) رتبه یو تن

غړی په (۸) « دوه تنه

غړی په (۹) « « «

دمامو رینـو مد یریت :

مدیر په (٤) رتبه یو تن

مرستیال په (٦) « « «

غړی په (۹) « دوه تنه

دارشیف لوی مدیر یت :

لوی مدیر په (۲) رتبه یو تن

داجر ایـي ځانـګه :

مرستیال په (۵) رتبه یو تن

غړی په (۷) « « «

غړی په (۸) « دوه تنه

غړی په (۹) « اته تنه

ACKU

٢ ـ دتبییض څا نـگه :

مرستیال‌په (٥) رتبه یو تن

غړی په (٧) « « «

غړی په (٨) « « «

غړی په (٩) « اته تنه

٣ ـ دحفظیې څانـگه :

مر ستیال په (٥) رتبه یو تن

غړی په (٧) « «

« په (٨) « درې تنه

« په (٩) « (٩) «

په خارجی‌هیواد و کښی افغانی نمایندگی :

١ ـ په وا شنـگتن کښی افغانی لوی سفیر ع ، ج « ښاغلی محمدهاشم میوند وال

لمړی سکرټر په ٥ (٣) رتبه یو تن

دوهم « په (٦) « « «

آ تشه په (٩) « دوه تنه

٢ ـ په مسکو کښی . افغا نی لوی سفیر ع ، ج س« ، ع ، عبدالحکیم شاه‌عالمی

لمړی سکرټر په (٣) رتبه یو تن

دو هم « په (٦) « « «

دژبې پېژندلو آتشه ، په (٩) « « «

٣ ـ په لندن کښی افغانی لوی سفیر ع ، ج ، ښاغلی محمد کبیر لو ډین

لمړی سکر ټر په (٤) رتبه یو تن

دو م سکرټر په (٧) رتبه یوتن

٤ ـ په تهر ان کښی ـ افغانی لوی سفیر ښا غلی محمد عثـمان امیر

لمړی سکرټر په (٣) رتبه یوتن

دوهم « په (٧) « « «

ACKU

اعلیحضرت معظم همایونی دستور [illegible] اعظم جلالتماب خرو سچف سره
در [illegible] حال کبنی

معظم تولواکې دخپل محترم میلمه جلالتمآب خروسچف سره دبګرام په هوائی ډګر کښې دتشریفاتی قطعې رسم تعظیم منی

٥ - په قاهره کښی افغانی لوی سفیر ښاغلی استاد صلاح الدین سلجوقی
لمړی سکرتر په (٤) رتبه یوتن
دوهم « په (٧) « « «
٦ - په جاپان کښی لوی سفیر ښاغلی دکتور عبدالمجید
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یوتن
٧ - په حجاز کښی لوی سفیر یوتن
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یوتن
دوهم « په (٧) « « «
دریم « په (٨) « « «
٨ - په ډیلی کښی لوی سفیر ښاغلی محمد عمر
لمړی سکرتر په (٤) رتبه یوتن
دوهم « په (٦) « «
دریم « په (٨) رتبه دری تنه
٩ - په پاریس کښی افغانی لوی سفیر ع ، ج ، س ع ښاغلی غلام یحی طرزی
لمړی سکرتر په (٤) رتبه یوتن
دوهم « په (٧) « « «
آتشه په (٩) « « «
١٠ - په انقره کښی افغانی لوی سفیر ع ، ج س ، ا ښاغلی اسدالله سراج
لمړی سکرتر په (٤) رتبه یوتن
١١ - په کراچی کښی . افغانی . لوی سفیر ښاغلی دکتور عبدالظاهر
لمړی سکرتر په (٣) رتبه یوتن
دوهم « په (٦) « دوه تنه
دریم « په (٨) « « «
١٢ - په پیکنګ کښی افغانی لوی سفیر ښاغلی عبدالصمد ،
لمړی سکرتر په (٣) رتبه یوتن ،
١٣ - په یوګوسلاوی کښی دافغانستان لوی سفیر ښاغلی محمد عارف
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یوتن

١٤ - په بغداد کښې دافغانستان لوی سفیر جنرال محمد قاسم
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یو تن
دوهم « په (٧) « « «
١٥ - په پراګ کښې دافغانستان وزارت مختاری .
وزیر مختار دلوی سفیرپه رتبه ښاغلی سید قاسم رښتیا
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یو تن
١٦ - په اندو نیزیا کښې دافغانستان مختار وزیر په لومړۍ رتبه .
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یو تن
١٧ - په روم کښې دافغانستان مختار وزیر لومړۍ رتبه ښاغلی محمد شعیب مسکینیار
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یو تن
١٨ - په بن کښې دافغانستان لوی سفیر ښاغلی دوکتور غلام فاروق
لمړی سکرتر په (٥) رتبه یو تن
دوهم « په (٨) « « «
١٩ - په یونو کښې دافغانستان نمایندګی .
نماینده دلوی سفیر په رتبه ښاغلی عبدالرحمن پژواک
مرستیال په (٢) رتبه ښاغلی عبدالحکیم طبیبی د کفیل په حیث
لمړی سکرتر په (٣) « یو تن
٢٠ - په مشهد کښې دافغانی جنرال قونسلګری په (٣) رتبه یو تن
لمړی سکرتر په (٦) « « «
دوم « په (٨) « « «
٢١ - په بمبی کښې دافغانی جنرال قونسل په (٣) « « «
لمړی سکرتر په (٨) رتبه یوتن
٢٢ - په پیښور کښې دافغانستان قونسل په (٤) رتبه یو تن
لمړی سکرتر په (٧) « یوتن
دوهم « په (٨) « دوه تنه
٢٣ - په کویته دافغانستان قونسل په (٤) رتبه یو تن
سکرتر په (٨) رتبه یو ین
ترجمان په (٨) « « «

دخارجه وزارت چاری

په ۱۳۳۸ کال کښې دمتحا به دولتو مشران چه ز موږ د حکومت په بلنه افغانستان ته راغلی او یا ئې زموږ دحکومت بلنه منلې ده:

۱ـ په هند کښې دلیدنی په وخت کښې دښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم په بلنه دهند صدر اعظم جلالتماب جواهر لال نهرو د حسن نیت دیوه مسافرت په ترڅ کښې د ۱۳۳۸ کال دوږی په (۲۲)نیټه کابل ته راغی اود (۵) ورځو تپرو لونه وروسته بیرته خپل هیواد ته ولاړ.

۲ـ دامریکې دمتحده ایالتو جمهور رئیس جلالتماب دوایت دی آیزن هاور د معظم همایونې اعلیحضرت په بلنه دحسن نیت او دوستانه مسافرت لپاره د ۱۳۳۸ کال د لیندۍ په (۱۷)نیټه کابل ته راغی او دیوې ورځې تپرو لونه وروسته هند ته روان شو.

۳ـ دیو گوسلاویې خارجه وزیر جلالتماب کوچاپوویچ په هغه هیواد کښې دمسافرت په ترڅ کښې دخارجه چارو دوزیر دصدارت عظمی دد وهم مرستیال ښاغلی سردار محمد نعیم په بلنه دحسن نیت د مسافرت لپاره د ۱۳۳۹ کال دوری په ۳۱نیټه کابل ته راغی د(۳) ورځو تپرو لونه وروسته خپل هیواد ته وخوځید.

٤ـ دمعظم همایونی اعلیحضرت په بلنه دشوروی اتحاد صدراعظم جلالتماب نکسن خروسچف د حسن نیت او دوستانه مسافرت لپاره د ۱۳۳۸ کال دکب په ۱۲نیټه کابل ته راغی او د(۳) ورځو تپرو لونه وروسته خپل هیواد ته لاړ.

په خارج کښې دافغانی نمایندګانو تاکل اومقرری:

۱ـ دخارجه چارو دوزارت دتشریفاتو رئیس ښاغلی جلال الدین طرزی په بمبئی کښې دافغانی جنرال قونسل په حیث مقررشو.

۲- په پراګ کښې دافغانی مختار وزیر جلالتماب جنرال محمد عارف اګر یما ن چه په بلګراډ کښې دافغانی لوی سفیر په حیث دیو ګو سلاو یې له حکو مت څخه غو ښتل شو ی ؤ د کب په (۲۷) نېټه را ورسید .

۳-دلوی‌سفیر په‌رتبه‌دمطبوعاتودپخوانی مستقل رئیس جلالتماب سید قاسم رښتیا اګریمان چه په پراګ کښې دافغانی مختار وزیر او فوق العاده نما یند ه په حیث د چکو سلو ا کیې له حکومت‌څخه غوښتل‌شوی‌ؤ د۱۳۳۹ کال دوری‌په (۳)نېټه راورسیدنو موږی‌دوری‌په(۱۹) نېټه دخپل ماموریت خواته‌حر کت و کړاو د وری‌په ۳۱نېټه ئی خپله اعتماد نا مه د چکو سلوا کیې جمهور رئیس جلا لتماب انتو نین تونی ته‌وړاند ی کړ ه.

٤- په‌روم کښې د افغانی مختاروزیر جلا لتما ب‌جنرال محمد قا سم اګریما ن چه‌د افغا نی لوی سفیر په حیت د عراق له حکومت څخه غو ښتل شوی ؤ د ۱۳۳۹ کال دوری په(٦) نېټه راور سید .

٥- په‌بغداد کښې‌دافغانی لوی سفیر جلا لتماب محمد شعیب‌مسکینیاراګریما ن چه په رو م کښې دافغانی‌مختار وزیرپه حیث د ایتالیی له حکومت څخه غوښتل‌شوی‌ؤد۱۳۳۹ کال د وری په (٦)نېټه‌راورسید.

٦- په واشنګټن کښې دهمایونی اعلیحضرت دلوی سفیرجلالتماب محمد ها شم میو ندوال اګر یما ن چه په عین حال کښې په ار جنټاین کښې دافغانی مختار وزیر په حیث دار جنټاین له حکومت څخه غوښتل شوی ؤ د ۱۳۳۸ کال د مر غومی په (۲٦) نېټه راورسید ا و خپله اعتماد نامه ئی د ۳۹ کا ل د غبر ګو لی په (۱۱) نېټه د هغه هیوا د جمهو ر ر ئیس جلا لتما ب ار تورو فراند یز ی‌ته و ړاند ی کړه .

۷- په قا هره کښې دافغانی لوی سفیرجلا لتماب صلاح الدین سلجو قی‌اګریما ن چه‌په عین حال کښې په لبنان کښې د افغا نی مختار و ز یر په حیث دهغه حکو مت څخه غوښتل شوی ؤ د ۳۸ کا ل د کب په (٤) نېټه را ورسید .

دتشریفاتو ریاست

داگر یمان منل او دخارجی نمایندگا نو مقرری :

۱- دچگو سلواکیی نوی مختار وزیر جلا لتماب میر سلا و کاولتس‌دهوئی‌په (۵) نپته کابل ته راغی اودغو ئی په (۱۳) نپته ئی خپله اعتماد نامه‌په معمو لی‌تشر یفاتو سره‌دهمایو نی اعلیحضر ت حضورته وړاند ی کړه .

۲- د کابل پەدر بار کښی دسیلون لومړی مختار وز یر محمد معروف دغبر گولی په(۳) نپته کابل ر اغی دغبر گولی‌په‌پنځمه‌ئی خپله اعتماد نامه پەمعمولی تشریفاتو سره دمعظم تولواك حضور ته وړاندی کړه .

۳- د کا بل په در بار کښی دپا کستان دنوی‌لوی سفیر جلالتماب عبدالرحمن خان اگریمان دغبر گولی په (۱۳)نپته دمعظم همایونی اعلیحضر ت له حضور څخه صادرشو ا و د ز مر ی په دو همه‌ئی‌خپله اعتمادنامه په معمو لی تشر یفا توسره دملو کانه ذا ت حضور ته وړاند ی کړه.

٤-د کابل‌پەدربار کښی‌دالمان دنوی سفیرجلالتماب دو کتورهانس‌شمیدت‌هوریکس اگریمان دزمری پەدریمه دهمایونی اعلیحضرت لەحضورەصادرشوی اودغه‌نوموړی دوزی‌په۲۷نپته کابل‌ته راغی‌اودتلی‌په(٤)نپته‌ئی‌خپله‌اعتمادنامه‌پەمعمولی‌تشریفاتوسره‌دملو کانه‌ذات‌حضورته‌وړاندی کړه.

٥-دیو گوسلاویې نوی‌مختاروزیر جلالتماب‌دیسان کویدردزمری په(١٦)نپته کابل ته‌زاغی او دزمری‌په (٢٤) نپته خپله‌اعتماد نامه پەمعمولی تشریفاتو سره دهمایونی اعلیحضر ت‌حضور ته وړاندی کړه.

٦-د کابل‌پەدربار کښی دفرانسې‌دنوی‌لوی سفیرښاغلی ارنوددان دورن‌دومایسی‌اگریمان‌دلړم پەاتمه‌د معظم همایونی‌اعلیحضرت‌لەحضورځخه صادر شو .

۷-د کابل‌پەدربار کښی دارجنټاین دنوی‌مختاروزیر جلالتماب‌لرینا اگریمان‌دمعظم تولواک لەحضورځخه‌صادرشوی‌دی.

۸-د کابل‌پەدربار کښی‌دیو گوسلاویې نوی‌لوی‌سفیر جلالتماب‌پیترایو کویچ اگریمان د کب پەاسمه‌دهمایونی‌اعلیحضرت لەحضورځخه صادرشوی،دغه نوموړی د۱۳۳۹ کال‌دوری‌په(۱۱)نپته کابل ته راغی او دوری په شلمه ئی خپله اعتماد نامه په معمو لی تشریفاتوسره دملو کانه ذات حضورته وړاندی کړه.

۹ - د ایران دشاهنشاهی دولت دلوی سفیر جلالتماب عبدالامیر رشیدی حایری اګریمان چه دایران دولت غوښتی ؤ دهمایونی اعلیحضرت له حضور څخه صادرشوی، نوموړی کابل ته راغی اود کب په (۲۶) نېټه ئی خپله اعتمادنامه په معمولی تشریفاتو سره دملوکانه ذات حضور ته وړاندی کړه.

۱۰- د کابل په دربار کښی دتر کیې دنوی لوی سفیر جلالتماب ملاء ت پنلر اګریمان چه دتر کیې له خواغوښتل شوی ؤ دهمایونی اعلیحضرت له حضور څخه صادرشو ، دغه لوی سفیر د ۱۳۳۹ کال دوری په (۱۴) نېټه کابل ته راغی اودوری په ۲۷ نېټه ئی خپله اعتمادنامه دمعظم ټولواک حضور ته وړاندی کړه.

۱۱- د کابل په دربار کښی دتایلنډ نوی مختاروزیر جلالتماب سر کیش نیمان همیندا اګریمان چه دتایلنډ له خواغوښتل شوی ؤ د ۳۹ کال دوری په (۱۷) نېټه دملوکانه ذات له حضور څخه صادرشوی دی.

۱۲- د کابل په دربار کښی دهند دنوی لوی سفیر جلالتماب جګان ناټ دامیجا اګریمان چه هند غوښتی ؤ د ۳۹ کال دغوئی په (۱۹) نېټه دمعظم ټولواک له حضور څخه صادرشوی دی.

۱۳- د کابل په دربار کښی دشوروی اتحاد دنوی لوی سفیر جلالتماب اس،اف،انتونوف اګریمان چه د شوروی اتحاد حکومت غوښتی ؤ د ۱۳۳۹ کال دغبرګولی په (۷) نېټه دمعظم ټولواک له حضور څخه صادرشوی دی.

تبدیلی، مقرری او ترقیات :

۱- په یو،ان کښی پخوانی افغانی دایمی نماینده ع ،ج عبدالحمید عزیز د ۱۳۳۸ کال په غوئی کښی دمختاروزیر په سمت دخارجه وزارت دمشاور په حیث مقررشوی دی .

۲- د ننګرهار دولایت پخوانی خارجه مدیر ښاغلی عبدالغنی د ۳۸ کال په تله کښی دارشیف دلوی مدیریت داجرائیې څانګی دمرستیال په حیث مقررشو .

۳ - داداری لوی مدیریت پخوانی کفیل ع، ص نثار احمد شیرزی د ۳۸ کال په لیندۍ کښی دارشیف دلوی مدیریت د کفیل په حیث مقرر شو .

۴ - په بمبئی کښی پخوانی افغانی جنرال قونسل ع ،ص عبدالروف ناصرضیائی دلومړی رتبې په حفظ د ۳۸ په لیندۍ کښی داداری لوی مدیر په حیث مقرر شو .

۵- دمخنی ختیځ او افریقا دځانګی پخوانی مدیر ع ، عبدالقیوم عطائی د ۳۸ کال په مرغومی کښی دشفراوقلم مخصوص دلوی مدیر په حیث مقررشو .

۶- دشفراوقلم مخصوص دلوی مدیریت پخوانی کفیل ښاغلی غلام محمد نیک زاد د ۳۸ کال په مرغومی کښی په مسکو کښی د افغانی لوی سفارت دلومړی سکرتر د کفیل په حیث مقرر شو.

په ولسي چې کښې دخارجه چا رود وزير د صدا رت عظمی د دوهم معاون دسفرله منظرو څخه

په‌ولسي‌چين کښې دخارجه چارو وزير دصدارت عظمى دوهم معاون ښاغلى سردار محمدنعيم دجلالتماب ما وتسى تونګ سره دروغبړ په‌حال کښې

٧-دتشریفاتو دریاست پخوانی‌تشریفاتی مرستیال‌ع ،محمد شریف‌اژ یر د٣٨ کال‌په‌مرغومی کښی په تهران کښی دافغانی لوی سفارت دلومړی سکرټرپه حیث مقرر شو.

٨- دقونسلګری‌دځانګی‌پخوانی کفیل ښاغلي فیض احمد زکریا د ٣٨ کال په سلواغه کښی د اقتصا دی مدیریت د کفیل په حیث مقرر شو .

٩- دملګرو ملتو دځانګی پخوانی غړی ښاغلی سلطان حمید زکریا د٣٨ کال په سلواغه کښی دمنځنی ختیځ اوافریقې دځانګی د کفیل په‌حیث مقرر شو .

١٠- په انقره کښی دافغانی لوی سفارت پخوانی لومړی سکرټر ښاغلی محمد ابراهیم‌د ٣٩ کال په غبرګولی کښی دقونسلګری‌ دځانګی دمدیر په‌حیث مقرر شو .

١١ - په قاهره کښی دافغانی‌لوی سفارت پخوانی لومړی سکرټر ښا غلی سد واصیل پخپله رتبه‌د٣٩ کال په غبرګولی کښی دتشریفاتو دریاست دتشریفاتی مرستیال په حیث مقرر شو.

١٢ - ع ، ج عبدالحمیدعزیز لومړی‌ رتبه مامور درتبې نه وتلی د خارخه وزارت د مشاور دلوی سفیر په حیث مقررشو .

١٣ - په نیویارک کښی افغانی افتخاری قونسل ع ، ص عبد الرزاق ضیائی د (٣) رتبې څخه (٢) رتبې ته ترفیع و کړه .

١٤ - په تهران کښی د افغانی لوی سفارت لومړی سکرټرع ، محمد شریف اژ یرپه (٣) رتبه ترفیع و کړه .

١٥- په قاهره کښی د افغانی لوی سفارت لومړی سکرټرښاغلی سد واصیل په (٤) رتبه ترفیع و کړه .

په ٣٨ کال کښی دغو کسانونښانونه اخستی دی :

١ - ع ،ج ، ل ،ع والاحضرت دخارجه چاروزیر			رښتین مطلا نښان
٢-ع،ج‌غلام‌محمد سلیمان	دخارجه چارو دوزارت اداری معین		لومړی‌ درجه‌دستور«
٣-ع ،ج عبد الحمیدعزیز	« « «	مشاور	« « « «
٤-ع، ص‌نوراحمداعتمادی	« « «	لوی سیاسی‌مدیر	دوهمه درجه‌دستور«
٥-ع،ص‌محمدیونس‌سروری	« « «	دارشیف لوی‌مدیر	څلومه درجه‌دستور «
٦- ع ، ص نثاراحمدشیرزی	« « «	اداری لوی مدیر	رښتین نکلی «
٧-ع ، محمد نعیم یونسی	« « «	دمنځنی ختیځ مدیر	« «
٨-ع ،ج، س ،ع عبدالحکیم‌شاه عالمی په‌مسکو کښی افغانی لوی‌سفیر			رښتین مطلا «

۹- ع ، ج محمد کبیر لودین په لندن کښې افغانی لوی سفیر لومړی درجه دستور نښان
۱۰ - ع ، ج س ، ع غلام یحی طرزي په پاریس کښې افغانی لوی سفیر ر ښتین مطلا «
۱۱ - ع ، ج ، س ، ا ، اسدالله سراج په ترکیه کښې افغانی لوی سفیر « « «
۱۲ - ع ، ج ، س ، ع ، صلاح الدین سلجوقی په مصر کښې افغانی لوی سفیر « « «
۱۳ - ع ، ج ، دو کتور عبد المجید په جاپان کښې « « د سردار عالی
۱۴ - ع ، ج ، س ا محمد عمر په ډیلي کښې « « ر ښتین مطلا «
۱۵ - ع ، ج دو کتور غلام فاروق په بن کښې « « ر ښتین مطلا «
۱۶ - ع ، ص سید تاج الدین په مشهد کښې ا فغاني جنرا ل قونسل « ر ښتین مطلا «
۱۷ - ع ، ص غلا م حسن صا في په پیښو ر کښې ا فغا ني قونسل دوهمه درجه دستور «
سیا غلي عبد ا لحکیم طبیبي په یو، ا ن کښې دمستشا ر کفیل ر ښتین نکلي «

ACKU

د داخلی وزارت

تشکیل:

داخله وزیر ع ،ج ، س ، ع سید عبدالله (د کفیل په حیث)

دوزارت معین په لومړی رتبه.....

دوزارت مد عی العموم		یوتن
دقلم مخصوص مدیر په	(٤) رتبه	«
« « دلومړی څانګی آمر په	(٨) «	رتبه
کاتب په	(١٠) «	«
ددوهمی څانګی آمر په	(٦) «	«
مامور په	(٨) رتبه	دوه تنه
کاتب په	(١٠) «	« «
د کنترول مدیر په	(٥) رتبه	یو تن
مامور په	(٦) «	« «
مامور په	(٨) «	« «
اداري لوی مدیر په	(٣) «	« «
داداري لوی مدیریت مرستیال په	(٤) «	« «
د مامورینو مدیر په	(٤) «	« «
د استخدام څانګی آمر په	(٥) «	« «
مامور په	(٨) «	« «
سر کاتب په	(٩) «	« «
کاتب په	(١٠) «	« «
د موظفو څانګی آمر په	(٦) «	« «
مامور په	(٨) «	دوه تنه
سر کاتب په	(٩) «	یوتن
کاتب په	(١٠) «	« «
د محاسبې مدیر په	(٤) «	« «

ACKU

دحواله جاتودخانگی آمر په	(۵) رتبه	یو تن
مامور په	(٦) «	« «
مامور په	(۸) «	« «
کاتب په	(۱۰) «	« «
دمحاسبې دفترداری دخانگی آمر په	(٦) «	« «
مامور په	(۸) رتبه	دوتنه
کاتب «	(۱۰) «	یوتن
دمحاسبې دخزانې دخانگی آمر په	(٦) «	« «
مامور په	(۸) «	« «
دارشیف مدیر په	(٤) «	« «
مامور په	(۷) «	« «
سر کاتب په	(۸) «	دوه تنه
کاتب په	(۱۰) «	(۸) تنه
کاتب په	(۱۱) «	یوتن
دعامه خدمتو نومدیر په	(٤) «	« «
دتهیې دخانگی آمر په	(٦) «	« «
سر کاتب په	(۸) «	« «
کاتب په	(۱۰) «	« «
دخدمتو نودترانسپورت دخانگی آمر په	(۸) رتبه	« «
کاتب په	(۱۰) «	« «
دحفظیې اومراقبت دخانگی آمر په	(٦) «	« «
سر کاتب په	(۸) «	« «
کاتب په	(۱۰) «	دوه تنه
داحصایې قوی مدیر په	(۳) «	یوتن
سر کاتب په	(۹) «	« «
داحصائې دثبت اوسجل مدیر په	(٤) «	« «
مامور په	(۷) «	« «

ACKU

سر کاتب په	(۹)رتبه	دوه‌تنه
کاتب په	(۱۰) «	(۷)تنه

داحصائي دلوی‌مدیریت داحصائیی‌دخانګی مدیر په (٤)رتبه یوتن

مامور په	(٥)رتبه	یو تن
« «	(۷) «	« «
سر کاتب په	(۸) «	دوه‌تنه
کاتب په	(۱۰) «	دری‌تنه
دناقلینومدیرپه	(٤) «	یوتن
دناقلینو دخانګی آمرپه	(٦)	« «
سر کاتب په	(۸)- «	« «
کاتب په	(۱۰) «	دوه‌تنه

دناقلنیو دمدیریت دمهاجر ینودخانګی آمرپه (۸)رتبه یوتن

دپلټنی لوی مدیرپه	(۳)رتبه	یوتن
داداری خانګی آمرپه	(٦) «	« «
کاتب‌په	(۱۰)«	« «
د لومړی گروپ آمرپه	(٤) «	« «
مدیرپه	(٥) «	« «
مامور په	(٦) «	« «

دپلټنی دلوی مدیریت ددوهم گروپ آمرپه (٤)رتبه یوتن

مدیرپه	(٥)رتبه	یوتن
مامورپه	(٦) «	« «
ددریم گروپ آمر په	(٤) «	« «
ما مور په	(٥) «	« «
ما مور په	(٦) «	« «

ACKU

د محاکماتو لوی مدیر په (۳) رتبه یوتن
مامور په (٦) « « «
« « (۸) « « «
« « (۱۰) « « «
د محلی اداروماموره په (٦) « « «
مامور « (۸) « « «
« « (۱۰) « « «
د محاسبی د مدیریت د بودجې د څانګې آمر په (٦) رتبه یوتن
مامور په (۸) رتبه یوتن
د محاسبی د پانو د څانګې آمر په (٦) « « «
مامور په (۱۰) « « «

ACKU

د داخلي د وزارت چاري

دا چه حا کمان د حکومت نمایندگان دی او تر خپل لاس لاندی علا قو کښی با ید پوره اقتداراو نفوذ ولری نو که ئې علمی سویه لوړه وی د اوسنی عصرله ایجاباتو سره سم به ترنورو سبه خدمت و کو لای شی ددغه اساس له مخی داخله وزارت پخپله دغه آرزو کښی موفق شوچه سبز کال په بی ساری پول د حقوقو د پوهنځی دعاموخدمتو د ځانګی(٤٠) تنه فارغ التحصیلا ن. په بیلو بیلو ځا نګو کښی شامل کړی دغه رنګه داخله وزارت نسبت ترنورو کلو په ملکیه تشکیلاتو کښی زیات تعدیلات کړی اوهم ئی په نورو ځانګو کښی بری په برخه شوی چه دهغو لنډیز په لاندی پول لیکل کیږی :

د احصائې لوی مدیریت :

دداخلی دوزارت هیئتونو د پروان داعلی حکومت دنفوسو شمیر د ۱۳۳۸ کال دوری په میاشت کښی خلاص کړاو د بدخشان اعلی حکومت ته دنفوسو دشمیرد پاره لاړ دغه مدیریت دمزارشریف د ولایت او شبرغان د اعلی حکو مت دنفوسو د شمیرد عمر، تأهل ، تجر د ، شغل ، د ندی ، د زده کړی ددرجې، سواد،معیو بې او نورو له حیثه تصنیف او ترتیب کړی او دنورو و لایتو پانې ئی هم پلاس کښی د ی دوزارت هیئتونو د یونو دمتخصصینو په ګډون د نفوس او کر هنې له حیثه په تجربوی پول (دده خدای داد) په کلی کښی نفوس شماری کړې چه له هغه څخه په زړه پوری نتیجه واخیستل شوه .

د ناقلینو چاری :

تیر کال دداخلی وزارت (۲۵۸۰) تنو کور والاناقلینو او (۲۵۲) تنو کوروالا مهاجرینو ته دقندهار ، قطغن ، مزار شریف او شبرغان په و لایتو او د هلمند په وادی کښی د استوګنی او مځکی ور کولو امر ور کړی دی .

محا کماتی مسئلی:

هغه پانې چه دمحا کماتو ریاست ته د فیصلی د پاره لیږل شوی دی :

«الف» د مرافعی محکمی ته :

۱ ــ د محکوموماموریتو دمرافعه غوښتلو له کبله (۷) فقری .

۲ــ د وزارت د مرافعه غوښتلو له کبله (۱٦) فقري .

ب ـ د تمیز محکمې ته :

١ ـ د محکومو مامورینو د تمیز غوښتنی له کبله (١١) فقرې .

٢ـ د وزارت د تمیز غوښتنی له کبله (٤) فقرې .

«ج» د ولایتو ، اعلی حکومتو او د صدارت عظمی د محاکماتو د ریاست صادری شوی فیصلی چه د کتنی نه وروسته موبوطو مراجعو ته د هغو دعملی کیدو امر ورکړی شوی دی:

١ - (١٤) فقرې د مرافعی محکمی فیصله .

٢ - (٦) فقرې د تمیز د محکمی فیصله .

٣ - (٤٧) فقرې د ولایتو او اعلی حکومتو فیصلې .

«د»-د(١٢) فقرو پانې خپلومربوطوځایونه د نیمګړې تیاودسمون د پاره بیرته ولیږلی شوې .

د پلټنی د لوی مدیریت اجرا آت :

تیر کال دداخلی دوزارت د پلټونکو له خوا پنځه ځایونه او موضوعات ترکتنی ا و پلټنی لاندی راغلی دی .

تقدیر او تحسین :

پدغه کال کښی دداخلی د وزارت (٣١) تنو مامورینومدال اونښان ا خستی (١٠) تنوته(٢) او (٣) درجه تقدیر لیکونه او (٩) تنو ته ئی د تحسین لیکو نه ورکړه شوی دی .

ترفیعات:

پدغه کال کښی (٣٥) تنو مامورینو په لاندی ډول یوه رتبه ترفیع کړیده :

(٢) تنوله	(٣) رتبی څخه	(٢)	رتبی ته
(٢) تنوله	(٤) رتبی څخه	(٣)	رتبی ته
(٣) تنوله	(٥) رتبی څخه	(٤)	رتبی ته
(٥) تنوله	(٧) رتبی څخه	(٦)	رتبی ته
(٩) تنو د	(٨) رتبی څخه	(٧)	رتبی ته
(١٩) تنوله	(٩) رتبی څخه	(٨)	رتبی ته

مقرر ی ، تبدیلی او تقاعد :

پدغه کال کښی له (١١) رتبی څخه تر(٣)رتبی پوری دداخلې دوزارت(١٩٩)تنه مامورین مقرر اوتغیر وتبدیل شوی او (٢٢) تنوته تقاعد ورکړشوی دی .

تر یوی رتبی لوړ د معاش تفاوت :

د (٩)رتبی څخه تر (٦) پوری (٩) تنومامورینوته یوه رتبه لوړ دمعاش تفاوت ورکړ شویدی.

دهرات د سبز کک کوتل

دسالنگ په دره کښې دسرنگ الوزو لوچاو دنی

د حقوقو دپوهنځی دعامو خدمتو د څانګی (۳۹) تنه فارغ التحصیلا ن په حکومتونو، د پلټنی په آمریتونو، په یلو بیلو مدیریتونو او په اداری ماموریتونو نوی مقرر شوی دی .

په تشکیل کښی تعدیلات:

دمحیطی اواداری ایجاباتو اودهیواد دانکشافی پروژو له مخی، همدا رنګه د کار د آسانتیاو دخلکو دهوسا ئی، درقبی دپراخوالی ، دخلکو دپرښت اودچارو دزیاتوب له کبله دلاندنیو ځایونو په تشکیل کښی تعد یلات شوی چه دقانونی مرحلی دتپرو لونه وروسته عملی اوتراجرا لاندی نیول شوی دی.

۱ـ دغور لوی حکومت دلعل وسرجنګل ددریمی درجې حکومت سره یوځای په اعلی حکومت سره تعدیل اودهرات دولایت له بست څخه جلا شو .

۲ـ دارز ګان لوی حکومت ددایکندیو ددریمی درجې حکومت ، دشهرستان د څلرمی درجې حکومت ، دباغران دځلرمی درجی حکومت ددهراؤدو همی درجې حکومت اوددهراؤدتراثرلاندی د کجران دنوی لومړی درجې علاقداری په یوځای کیدو سره دارز ګان په اعلی حکو مت سره تعدیل شو .

۳ـ دبامیانو دوهمه درجه حکومت اودشبر دوهمه درجه علاقداری دپروان داعلی حکومت له بست څخه جلا شوی دسیغان او کهمرددریمی درجی حکومت دسیغان روئی دو آب دعلاقه داریو، دیکاو لنګ دځلرمی درجې حکومت اودپنجاب دنوی تشکیل شوی دوهمه درجه حکومت په یوځای کیدو سره دبامیانو په اعلی حکومت سره تعدیل شو.

٤ـ دمیدان دوهمه درجه حکومت دخپلو مربوطو علاقداریو سره دلوګرد دلوی حکو مت څخه جلا، دبهسود دلومړی درجې حکومت اودهغه دعلاقداری، دوردګو دډو همی درجې حکو مت اودهغه ترلاس لاندی مربوطو علا قداریو په یوځای کیدو سره دمیدان په لوی حکومت تعدیل او د کابل په ولایت پوری وتړل شو .

٥ـ دارچی ددښتی نوی جوړشوی دوهمه درجه حکومت چه دخواجه غار علاقداری دهغه تر اثر لاندی ده دقطغن دولایت دتالقانو په لوی حکومت پوری وتړل شو .

٦ـ دچهار بولك ځلرمه درجه حکومت چه دچمتال لومړی درجه علاقداری ئی تراثر لاندی ده دمزارشریف دولایت دبلخ په لوی حکومت پوری مربوط نوی تشکیل شو.

۷ـ دمالستان لومړی درجه علاقداری دجاغوری له حکومت څخه جلا په ځلرمه درجه حکومت سره تعدیل اودغزنی په اعلی حکومت پوری راساً وتړله شوه .

۸ـ دننګرهار د کنړودلوی حکومت دنارۍ او دانکام دوهمه درجه علاقداری ـ چه په موقتی ډول جوړی شوی وي په دائمی ډول تشکیلی اومنظوری شوي.

۹ـ دنکه علاقداری دځدرانو دمحلی حکومت څخه جلااو دار گون په لوی حکومت پوری و تړله شوه.

نوټ :

د کشك ونخود څلر مه درجه حکومت پخپل تاریخی نوم د (میوند حکومت) سره وبدل شو دغه رنګه د کشندي دریمه درجه حکومت دشولګری په دوهمه درجه علاقداری او دشولګري دوهمه درجه علاقداری دشولګري په دریمه درجه حکومت سره تعدیل شول.

دشمیر او حسابی چارودنیمګړتیاؤ دسمون اوداداری کاروډپرمختګ لپاره (اداری لوی مدیریت) نوی تکلیف شوی دی چه دما مورینو ،محاسبی، اوراقو اوعمومی خدمتو مدیر یتونه ئی تر اثر لاندی دی.

ACKU

د مخابراتو وزارت

تشکیل :

د مخابراتو وزیر	ع،ج محمد مرید
معین	ع،ص غلام صفدر (سکندری)
د قلم مخصوص مدیریت	
د نشریاتو «	
د پوستی ریاست :	
رئیس	ع،ص ښاغلی غلام فاروق
د پستې لـو ی مد یریت	
د پارسلاتو «	
د صادری «	
د واردې «	
د موزیم «	
د تحصیلی «	
د تیلفون او تیلـگراف ریاست :	
رئیس	
د مخابرې لوی مدیریت	
د مرکزی تیلـگرافخانې مدیریت	
سیار انجینیر یو تن	
د ټسټ او معاینې مدیریت	
د تعلیم او تربیې «	
د ور کشاب «	
د یکه توت د تیلـگرافخانې «	
د مهتاب قلعه د تیلـگرافخانې «	
د تیلـگراف د ښوونځی «	
د تیلـگراف د تحصیلی «	

ع ، ج محمد مرید

ACKU

دلین‌تمدید	مدیریت
دپلان‌اوپروژې	«
دمرکزداتومات	«
د تیلفون‌دمحصولی	«
اداری‌لوی	«
دادارې‌لوی	« مرستیال
د محاسبې	«
دلوازمو	«
ددفترداری	«
د کنترول	«
دخزانې	«
دعامه‌خدمتونو	«
دتهیی‌اوتحویلخانی	«
دخریداری	«
د مامو رینو	«
د محاکماتو	«
د تصفیې	«
د پانو	«
دپانود تبییض	«
دترانسپورتو	«
دخارجی ارتباط لوی‌مدیریت	
دارتباطلوی مدیریت	

ACKU



د مخابراتو وزارت چارې

۳۸ - ۳۹ مالی کال د پنځکلن انکشافی پلان د مخلوم کال دی د مخابراتو وزارت چه د پلان په مخلورو کلو کښی دهیوادد انکشافی پلان له مخی کومه وظیفی در اودې هغه ئی تر اجرا لاندی نیولی دی . دهغو تفصیلاتو څخه چه تاسی په ئې وو ایاست د اخبار دیني چه د غه وزارت د انکشافی پلان په چوکاټ کښی ترخپله وسه پوری خپلی وظیفی اجرا کړی دی دهغو پروژو څخه چه په لاس کښی ئی وې د کابل او کندهار ، فراه او کابل تورخم او کابل او مزار شریف ترمنځ د چینل سیستم اود کندهار داتو مات د دستګاه د پروژې نه پرته چه هغه هم تر کارلاندی راوړی (۳۰) پوسته خانې په د پلان په پنځم کال پرانستل شی ، پاته نوری پروژې چه په نظر کښی نیولی شوی او استفاده ځنی کیږی .

بایدوویل شی د پلان له مخی د مخابراتو وزارت مکلف وو چه د پلان په پنځو کلو کښی (۱۱۵) پوسته خانې پرانیزی له دغو پوسته خانو څخه نوری (۸۵) پرانستلی او نوری (۳۰) به د پلان په پنځم کال کښی پرانیزی . د پوستی اداری د پلان په پنځو کلو کښی د (۲۸) ودانیو پیش بینی شوې وه چه د هغو څخه په مرکز او ولایتونو کښی (۱٤) پوسته خانو ودانۍ جوړی شوی او دنورو مخلورو پوسته خانو ودانۍ کار جاری دی . د پاتې نورې ودانۍ ترپایه به شپږ شیږه پردې چه پلان ئی تجویز نه وو کړی د مخابراتو وزارت څخه چه په سرلی خواجه غزنی ، خان آباد غوربند او میمنه کښی مخکی رانیولی او دغو څخه یوه ئی تخصیصاتو څخه د نخشی سره سم ژر تر ژره د غود و د شروع شی او همدغسو کار ئی شروع دی پرته له دې څخه دغه وزارت د پلان په مخلورو کلو نو په موده کښی د مخابراتو مدیریت او سیدلو د کندهار ، مزار شریف په ولایتو اودشبرغان په حکومت کښی ئی پنځه څوړی ودی .

پدغوښلورو کلونو کښی په مرکزاوولایتو کښی دخلکو داستفادی دپاره (۹) ښاری پوسته خانی پرانستل شوی دی، دغه کلی پروګرام سر سم دمخابراتو پوستی سر ویسونو دپوستی دوړلو راوړلو کارته دوام ورکړی اوپه یوه کال کښی ئی د (٦٥٠٠٠٠) کیلو ګرام اخبارو، جریدو، مراسلو پارسلو، اوترانزیتی پوستی زیاتی خارج اوداخل ته وړی اوراوړی دی.

دپلان په څلورو کلو کښی دمخابراتو دوزارت دپوستی فعالیتو نو حجم په سلو کښی (۳۰) زیات شوی چه دهغه سره دپوستی عایداتو هم زیاتوب کړی دی، داحصائی له مخی څرګنده ښی چه دغه وزارت په پوستی عایواتو کښی دخارجی اسعارو او افغانی پیسو له حیثه په څلور و کلو نو کښی په سلو کښی پنځوس زیاتوالی شوی دی.

دپلان په څلورو کلونو کښی د (٥٠) پولونو نه زیات نوی پوستی تکټونه خپاره شوی، دغه او دباندینو هیوادو کښی پکار اویدلی دی. دتیلګراف په برخه کښی هم دمخابراتو وزارت دهغی پروژی له مخی چه پیش بینی ئی شوی وه په څلورو کلونو کښی په بیلو بیلو قووسره دنویو ترانسمیترو (۱۹) دستګاوی راوړی اوپه کار اچولی دی، دنویو ریسیورونو شمیر چه راوړل شوی اوپکار اویدلی دی دهغو دستګاونه یو په دریمه زیات دی چه دمخه تردی په هیواد کښی وو.



دتیلی فوتو نوې دستګاه دمخابرې په حال کښی

دتیلی فوتو دستگاه چه په ۱۳۳۸ کال کښی لومړی ځل هیوادته راوړل شوی او پکار ولویده دغی دستگاه خپله از مایښتی مرحله په بری تیره کړې اوس دسودا گری د عکسو نو دنښلولو دپاره چمتوده دتیرو څلورو کلونو په نسبت زموږ دتیلگرافی دستگاهو د کار اندازه زیاته شوې او دغه موفقیت دتیلگرافی محصول دهغی اندازې څخه ښه څر کندیږی چه دپلان په څلورو کلونو

دتلگراف دتیلی پرنتر نوی ماشینو نه د کار په حال کښی

کښی په سلو کښی (۳۸) او په ۱۳۳۸ کال ښی یواځی په سلو کښی (۱۲) زیاتوب شوی دی داهم بایدوویل شی چه زموږ اوسنی دستگاه په سلو کښی (۳۰) د کار کولو دنور زیاتوالی قدرت هم لری .

په ۳۸ - ۳۹ مالی کال کښی دغه وزارت دتیلی پرنتر (۳۰) پائی ماشینو نه راوړی او په کارئی اچولی دی ددغه کارد پاره یې یو نوې کورس پرانستی یو شمیر زده کونکی ئی پکښی روزلی دی د دغه کار په کولو سره به زموږ ددستگاه مخابروی قدرت یو په درې زیات شی .

دمرکز او ولایتو په منځ کښی د چینل سیستم پکار اچولو سره به زموږ دتلگرافی چارو قدرت بیخی زیات شی او په هرولایت کښی چه دغه دستگاه پکار ولو یږی ، که څه هم مخابرې ډیری وشی بیا به هم دراتلونکولسو کلو نو دپاره په مخابره کښی ځنډ را نشی .

پدغو کال کښې په شین ډنډ، ډبشیرغان ، قزل قلعه ،غوراتو او تالقانو کښې پنځه فرعي تلګراف خانې پرانستې او پکار لویدلی دي پدې ډول ویلای شو چه ډپنځکلن انکشافي پلان تر پایه به د دغه فعالیت لمن پراخه او په بل پنځکلن پلان کښې به ډومره پر مختګ وشي چه پدغه پړخه کښې دهیواد ټولې اړتیاوې بشپړې کړي.

ډپنځکلن پلان پدغو څلورو کلو نو کښې دبی سیم تیلفون (۲۰) دستګاوې راوړل شوي او پکار لویدلی دی که څه هم دغه دستګاوې دهیواد په دننه او دباندې کښې دمخابرې لپاره بس نه دي خود چینل سیستم پکار اچولو سره به تر ډیرې اندازې چاره وشي او دوهم پنځکلن پلان به دغه مشکل حل کړي.



د کابل د تلګراف د چنیل سیستم نوی دستګاه د مخابرې په حال کښې

د بی سیم تیلفون په برخه کښې هم زموږ اجراات یو څه دهیواد اړتیاوې لرې کړې په څلورو ورستیو کلو نو کښې (۹) دستګاوې یو په بل پسې پکار اچول شوي چه خلکو ته یې آسانتیاوې برابرې کړې دي. پدغه کال کښې د کابل، امریکا، اروپا، پاکستان او د لزوم په وخت کښې د ایران او هند سره زموږ د بیسیم تیلفون مخابرې جاري وې دغه رنګه د کابل

او کندهار ، کابل اومزار ، کابل اومینه، کابل او هرات ، کابل او بلخمری اوهم دولایاتو ترمینځ د بی سیم تیلفون مخابری جریان درلود، سبز کال په قزل قلعه کښی دبی سیم تیلفون یوه نوی دستگاه هم په کار اوبدلی ده . دبی سیم تیلفون مخابره په اوسنی کال کښی نسبت تیر کال ته یو په دوه زیاته شوی ده او په ۳۸ - ۳۹ مالی کال کښی دبی سیم تیلفون محصول په سلو کښی (۳۰) زیات شوی دی



د کابل دشیر شاه مینی داتومات تیلفون ددستگاه نوی و د ا نه

دسیم اړونکی تیلفون اوتیلگراف په برخه کښی هم اقدامات شوی چه یو له هغود څخه کابل او کندهار ترمینځ د چینل سیستم دلیږن غځول دی تیر کال د کابل او کندهار ترمینځ (۲٦٥) کیلو متره لین غځول شوی ؤ سبز کال د مخابراتو وزارت د کابل اوسپین بولدك، کندهاراو گرشک، کابل اوپروان (٦۰۰) کیلومترلین نوی غځولی چه تول غځول شوی لیږن (۸٦٥) کیلومتروته رسیږی .

دپنځکلن پلان له مخی دغه وزارت موظف ؤ چه پلان ددوری ترپایه پوری (۱۳۰۰) کیلومتره لین وغځوی ، خود مخابراتو کارد گروپو نوفعالیت داثابته کړه چه هغه کولی شی چه دپلان ترپایه پوری (۱۵۰۰) کیلو متره نوی لین و غځوی .



د کابل دچینل سیستم دنوی دستگاه ټیلفونی برخه

دا هم بایدوو یل شی چه د مخابراتو وزارت پدغه څلورو کلونو کښی و کولی شو چه (۸۰۰۰) دتیلفون داوسپنی ستنی د براکټو ، انسلیټړی او نورو ضروریاتو سره هیوادته راوړی له دغو ستنو څخه د کابل او مزار شریف ، کابل او تورخم ترمینځ دچینل سیستم په لینو کښی کار اخیستل شوی او ځنی اخستل کیږی .

د کابل ، کندهار دچینل سیستم دستگاوی تر کار اودرولو لاندی شوی چه دهغو له جملې څخه د کابل ، کندهار کابل ، غزنی او قلات دچینل دستگاوی درول شوی ، د کندهار او سپین بولدك ددستگاه د نصبولو کار جاری دی چه هغه پای ته ورسیږی د کابل او سپین بولدك ترمینځ به د چینل سیستم د ستگاه په کار پیل و کړی .

د کندهار او گرشك ، گرشك او فراه ، فراه او هرات تر مینځ هم پدی ورځو کښی د چینل سیستم ددستگاو تړون دز یمنس سره لاسلیك شوی دی ، . دد غو دستگاو درارسید لو نه وروسته به له یوی خوا دپروگرام سره سم دهغو په نصبولو کښی پیل وشی اودبلی خوا به په راتلونکی ژمی کښی د گرشك او فراه ترمینځ دنوی لین کارشروع شی . سبز کال د کندهار د ښار داتومات دستگاه د کانکریټی ودانۍ کار سخت جریان د رلود ، پدغه ودانۍ باندی ترا و سه یوملیون افغانۍ خرڅی شوی اودلومړی پوړ کاریې پای ته رسید لی اوس یې د دوهم پوړ کار جاری دی .

د کند هارداتومات دستگاه دښاری شبکی دسامانوسره پد ې وختو کښی کند هارته رسیدلی ده.
دچکسلوا کیې دوه تنه انجنیران هم کند ها ر ته رسیدلی او دیوې ډلی پښتنی میخانکانو سره یې
دښاری شبکی کاردپرو گرام له مخی شروع کړی دی. وروسته له هغه نه چه ودانۍ ددستگاه
درولووړو گرزی دستگاه به ودروله شی.دغه رنگه د کابل دشیرشاه مینی د خلکو د مشکلا تو
دلیری کولودپاره به یونوی دوه سوه لینه سویچ بوړډهلته ودرول شی . دد غه سویچبوړډودانۍ
جوړه شوی اواوس دهغه ددرولو کارجاری د ی .

دغه وزارت دتیلفون داوسپنی (٥٠) ټنه سیم په بیلوبیلوقواؤسره دا تومات (٤٠) دانی سویچ
بوړډونه، اولو کل بیټرۍ (٢٠٠٠) بیټرۍ (١٨٠٠) دانی تیلفونونه بیل بیل ډول (٧٠٠٠٠) سلیټرونه
ددستگاه دلین دیوی اندازی ضروری سامانوسره په دوه ملیونه افغانۍ رانیولی اووارد کړل .

پد غه کال کښی (٣٠٠) کیلومتره نوی لین په ولایتونو کښی غځول شوی په مر کزاوولایتونو
کښی سبز کال د پخوانه په سلو کښی لس د تیلفونونو شمیر ز یات شوی دی . په سیم لروئکی
تیلفون کښی زموږ د کاراندازه دپخوانه بیخی زیاته شوی اونسبت تیر کال ته د تیلفون محصول
په سلو کښی لس زیا توب کړی دی .

دراډیوپه برخه کښی هم دغه وزارت اجرا آت کړی اودټا کلی پلان له مخی ئی په لنډه څپه پنځوس
کیلوواټه دوی دستگاوی دایر لوتو، ډیزلی دستگاو او نوروتفرعاتوسره نصب کړی اوپکار اچولی
دی، ددغو دستگاودپکار اچولونه وروسته د کابل راډ یو دمنځنۍ څپې دخپرونی په پرو گرام کښی
چه شپه او روځ ئی (٦) ساعته کار کاوه په سلو کښی پنځوس ز یا توب شوی ا و د لنډی څپې
ددستگاوونه برسیره په شپه اوورځ کښی (١٠ نیم) ساعته کار کوی چه دټولود ستگاو کار په شپه
اوورځ کښی (٩ نیم) ساعته کیږی پد غومیاشتو کښی زموږ مشکلات داؤچه داروپا، منځنی ختیځ
اولیری ختیځ دپاره مساعد فریکانس پیدا کړو له هغوتجربوڅخه چه وشوی د جاپان او اندونیزیا
لپا ر ه مساعد فریکانس پلاس را غی ، خو دا چه ز موږ زع سل په سل کښی ار و پا ته صاف
ورسول شی تراو سه داروپا لپاره یومساعد فریکانس پلاس نه دی راغلی ، مگراوس دانگلیسی
اوفرانسوی پرو گرام فریکانس اودغه رنگه دمنځنی ختیځ دپاره فریکانس بریا لتوب ته نژدی دی.

دیکه توت دخپرونی دودانۍ کارچه دری کاله دمخه شروع شوی ؤتقریباپای ته رسیدلی خواوس
ئی د ستډ یودو دانۍ کارجاری دی اویو کال نوروخت غواړی چه استفاده ځنی وشی .

سبز کال دغه وزارت (١٥) دانی امپلی پایرونه (١٢) دانې جنر بټرونه ، دوې دانې ټایپ ریکارډر

او(۲۰) دانې لو پ سپیکـر و نه نوی راوړی دی چه د هغـو څخـه ئی یـو شمیر پـه منـا سبـو ځایو کښی پکارا چولی اونور به هم په لازموځا یو کښی پکار واچول شی ، بر سیره پر دې ئی زاړه لوډ سپیکرونه هم ترمیم کړی دی .

زموږد لنډی څپې دستگاه چه ترمیم ئی غوښت د ترمیم لاندی نیول شوې او په سلو کښی شپیته کارئې پاې ته رسیدلی دی ، دغه رنگه د مر کزی ستیشن ترمیم کارهم خلاص شوی دی ، د لنډی څپې دخپر ونی په ودانۍ کښی یوه وړه ستیشن یو ترتیب اوپکارا چول شوې ده ، چه د تیپ ریکارډر او گرا ما فون مکـرو فون لری ، دخپر ونی د مزوسره څراغونه چه الوتکی ته د خطر نخښه څرگندوی نصب اوپه کار لویدلی دی .

سږ کال د مخابراتو د وزارت نمایندگانو د تیلی کمونیکیشن په بین المللی کنفرانس اود ژینو د راډیو په اداری غونډه کښی گډون وکړ ، پدغو غونډو کښی بین المللی کنوا نیسون ، تیلی کمونیکیشن، د راډیو اداری مقرراتو اوفریکانسود تاکلو په مر بوطو مسئلو کښی خبری اتری اولا زمی فیصلی وشوې .

موږ پدغه کال کښی د تخنیکی میچ یوڅه سامانونه او آلات دیو نیټت نیشن له لارې اخستی ، اویوڅه تخنیکی سامانونه دز یمنس کمپنې د مخابراتو وزارت ته وبخښل .

د هندا و افغانستان ترمنځ د تیلفون د مستقمی مخابرې په باب موافقت نامه هم لیکل شو یده .

د دغه وزارت تعمیر اتی چارو هم د پلا ن له مخې شپږ مختگ کړی په کند هار کښی دوې لوئی ودانۍ یوه د مخابراتو دادارې او بله د اتو مات تیلفون او چینل سیستم لپاره جوړه شوې چه د دغو ودانیو لگښت پنځه ملیونه افغانۍ دی ، په سلو کښی یې اتیا کار پای ته رسیدلی او پاته کارئی جریان لری دغه رنگه د غزنی د اعلی حکومت د چینل سیستم د ودانۍ کار خلاص شوی او استفاده ځنی کیږی .

په میمنه ، کاپیسا ، خوست ، ننگر هار ، هرات ، بغلا ن ، قندوز ، تالقا ن او پلخمر ی کښی د مخابراتو د ودانۍ پاته کارجاری وُچه د هغو لپاره د دوملیونو افغانیو نه زیات تخصیص لیږل شوی دی.

د فنی پرسونل د روزلو په باب هم اقدامات شوی دی ، د مخابراتو د زده کونکو له جملې څخه چه د باغلی محمد قاسم فاضلی اروپا ته لیږل شوی وُ د پوستی حقوقو په شق کښی د پا کتر ی د ډیپلوم د اخستلو نه وروسته بیرته هیواد ته راغلی او په کارئی شروع کړ ی ده ، نوردرې تنه چه د چینل سستیم په شق کښی دستاژ په غرض المان ته لیږل شوی وو هغوی هم بریالـی بیرتـه ر اغلـل او د چینل سیستم په شق کښی موظف شول ، نوردوه تنه چه د انجینیر ی تحصیلاتو د پا ره لیږل شوی وُ

بیـرته بریا لی راغلی دی ، دوه تنه زده کوونکی سبز کال دزده کړی لپاره فرانسی ته را ستول شوه او یوتن انجینیر پراگ ته دستاژ پهغرض ولیبزل شـو د چینل سیستم دزده کړ ی لپاره په مر کز کښې دلسوتنو میخانیکانو په گډون یو کورس پرانستل شوی چه مربوط تـعلیمات ئـی زده کړې اوپه کارو کښی عملاداخل شوه ، دوو لس تنهٔ(هلو کان اوڼجونی) زده کوونکی چه دټایلی پرنټر پهشق کښی تر روز نی لاندی نیول شوی ووخپل تعلیمات ئی پای ته رسولی اوپه کار کښی شامل شوه ، دپوست او تیلگراف دښوونځی تعلیماتو پد غه دوهم کا ل کښی هم جریان درلود ،(٤٠) تنه بریالی زده کوونـکی لوړو تولگیو ته ولاړل یـوشمیر زده کوونکی چه دانسپکټرې دلیند کورس دپاره تا کل شوی ووخپلو تعلیماتو ته یې دوام ور کړی اوعملی شق او تمرین ئی په بریالی توب سره وٴ .

ترفیعات :

دغوما مورینو په ۱۳۳۸ کال کښی یوه رتبه ترفیع کړ ی ده :

ع ، حبیب الله د ننگرهار دمخابراتو مدیرد (٤) رتبې څخه په (٣) رتبه .
ص ، گلعلم دقلم مخصوص مدیر د(٥) رتبی څخه په (٤) رتبه
ص ، محمد ابراهیم دمامور ینو مدیر د(٥) « « په(٤) رتبه .
ص ، سیدعظیم الدین دترانسپورت مدیر د(٥) رتبی څخه په (٤) رتبه
ص، حیدر علی دپوست دپلنټی مدیر د (٥) « « په (٤) «
ص ، حا جی نوراحمد دچینل سیستم د گروپ مد یر د(٥) « « « (٤) «

مدالونه :

ص ، غلام رسول د چینل سیستم د گر وپ مدیر په ۳۸ کال کښی رښتین نکلی مد ال اخستی دی اوهم ئی د(٥) رتبې څخه (٤) رتبې ته ترفیع کړې ده .
ص ، نا دراحمد دتهیې اوتحویلخا نو مدیر په ۳۸ کال کښی رښتین نکلی مدال اخستی دی .

درو غتیا وزارت

تشکیل :

وزیر .....

معین ع ص شبا غلی دو کتور عبدالرحیم

د قلم مخصوص مدیریت

مشاوریت

د انجیر ی مد یریت

دروغتیادچارورئیس ع،صدو کتور عبدالغنی افضل

دنشریاتو مدیریت

دانجنیری مهندس

بین المللی مد یریت

دساری ناروغیو کنترول »

داحصائیې دشخانگی آمریت

دروغتونو نو مدیریت

دا کسریز اولابراتوار ونومدیریت

دروغتیادقوانینومدیریت

دمر کزی روغتیالوی مدیریت

دمر کزی روغتیا مدیریت

دمخدره دوا گانودشخانگی آمریت

د عامی روغتیا د مؤسسې رئیس ع،صدو کتور محمد عمر

دروغتیا د تبلیغا تو مدیریت

د ښوونی اوروزنی مدیریت

اداری لوی مدیر یت

د » » » مرستیال

د مامور ینو مدیر یت

د ا ستخدام »

د سوانحو »

ACKU

د تعیناتو ماموریت
د تضیف «
د عامه خدمتونو مدیریت
د ترانسپورت «
د تهیې دخانګی ماموریت
د حفظیې اومراقبت مدیریت
دارشیف مدیریت
دارشیف داجرایې مدیریت
دتحریراتو مدیریت
د حفظیې ماموریت
د نغدی محاسبې مدیریت
د کنترول مدیریت
دسندونو دترتیب دخانګی مدیریت
ددفتر داری دخانګی مدیریت
دتحصیلاتو اوتصفیې مدیریت
دجنسی محاسبې مدیریت
دفنی محاسبې مدیریت
دپلان مدیریت
دتوبرکلوز دموسسې آمریت
دمحبس درو غتون آمریت
دابن سینا درو غتون «
داکسریز دموسسې «
دغاښو جوړولو دریاست کفیل ع ، ص محمد آصف « فقیری »
دواکسینو دتهیې آمریت
دښځو سنا توریم آمریت

ACKU

دروغتیاوزارت چاری

دتبلیغا تو مدیریت :

دغه مدیریت دملاریا ، حمای لکه داراو کوی په باب پوسټرونه اوپامفلټونه خپاره کړی او دغه رنګه د کوی په باره کې ئی دډاکتر امیرمحمد محب زاده په تتبوع اولیکنه یوه رساله خپره او و یشلې ده ددغه مد یریت گر ځنده سینما په لو گرد ، ننګر هار اود بی بی مهرو په کلی ، ښاری نندارې اود روغتیا دوزارت په کور سونو کښې دروغتیا فلمونه ښوولی دی ، همدا ډول درا ډیو اود هیواد دجرید وسره د روغتیاپه تبلیغاتو کښې ددغه مدیریت مرسته دوام لری .

دنشر یاتو مدیریت:

دغه‌مدیریت دروغتیا دنشریاتودزیاتولوله کبله‌دروغتیازیری‌میاشتنی‌مجله‌په‌اوونی(هفته‌واره) جریده اړ ولې دوړو کوپـه جشن ، دروغتیاپه ورځ ، دسری میاشتی‌په هفته اونورو داسی ورځو کښې‌ئی فوق العاده مجلې‌اوپامفلټونه‌خپاره کړی‌دی ، برسیره پر دې دروغتیا ز یری د جر یدې څخه چه‌په وقایوی طب کښې اودروغتیا دمجلی‌نه‌ئی چه‌په معالجو ی‌طب کښې خپرونی لری ، یومنظم کتابځی‌پرانیستی‌اولازم کتابونه‌ئی‌دمراجعه کوونکودویلواو استفادی دپاره‌پکښې‌ایښی‌دی.

دا کسریز اولا براتو ارو مدیریت:

دغه مد یر یت د میمنی ، غزنی اوپرو ان‌په اعلی حکو متو او دمزار شریف و لا یت کښې دا کسر یز مؤسسو په‌پرانستلو موفق‌شویدی .

دغا ښو جوړ ولو ریاست :

۱ ـ د دغه ریاست له‌خواد غاښو جوړو لویوه بشپړه اوعصری دستګاه سره له لوازمو تهیه اوپکار لویه لی‌ده .

۲ ـ دمیمنی په اعلی حکومت کښې ئی‌دغاښو جوړ ولو یوه مؤ سسه پرانیتی ده .

۳- دغزنی د اعلی حکومت دپاره ئی دغانبو جوړو لویو مؤسسه تهیه کړی اوژر به وپرانستله شي.

۴- دنورو لایتو د پاره ئی دغانبو دمؤسسې سامان ولو ازم تهیه کړی اود هغو په نصبولو کښی هم اقدام کړی.

۵- دغانبو د طب ښوونځی شخه یو شمیر فارغ التحصیلان وتلی او دهغه زده کوونکی زیات شوی دی.

بین المللی مدیریت:

دغه مدیریت دروغتیا دوزارت له هغو هیئتونو سره چه دبوستو هیوادود روغتیا په تو لنو او کنفرانسو نو کښی ئې ګډون کړی اوهم ئی د روغتیاله هغو هیتونو مشارینو او متخصصینو سره په مربو طو چارو کښی مرسته کړی چه له یاددنیو هیو اډو شخه افغانستان تهرا غلی دی.

همدارنګه ئې دبوستو هیوادو ته دفیلوشپ په پول دروغتیامطالعاتو

د کابل په زیبنتون کښی قابلې د نارو غانو پرستاری په دی پول کوی

د بشپړ کیدو پاره دفنی پرسونل په لیږلو کښې لازمی مرستی کړی اولاندی کسان دباندنیو هیوادو ته استول شوی دی :

الف - ښاغلی ډاکتر سید مرتضی سعیدی دایډیمو لوژی په شق کښې دزده کړی په غرض د تړی دروغتیادموسسی دفیلوشپ په پروګرام دیوه کال لپاره امریکی ته ولیږل شو.

ب - ښاغلی ډاکتر محمد اعظم دملاریالوژی په شق کښې دزده کړی لپاره د (آی، س، ای) دسکالرشپ په پروګرام بیروت ته لیږی شوی دی.

ج - ښاغلی ډاکتر عبدالغیاث صافی دعلی آباد موظف ډاکتر دتړی دروغتیادموسسی د فیلوشپ په پروګرام ددوو کلو دپاره لندن ته واستول شو.

د - ډاکتر هوشمند دملاریا اوغلام سخی دانتمالوژی په شق کښې د فیلوشپ په ډول دخلورو میاشتو دپاره مانیلا ته ولیږل شو.

هـ - ښاغلی عبدالغفار احمدی دروغتیا دوزارت سنیترین دسنیترین په شق کښې دزده کړی په غرض دتړی دروغتیادموسسی دفیلوشپ په پروګرام دیوه کال د پاره بیروت ته ولیږل شو چه هغه به دزده کړی لهورو سته دسنیترین دوړو کو په روزنه موظف شی.

و - ډاکتر محمدسرور توفیق او ډاکتر محمدعلی دابن سینا دا کسریز ډاکتران دا کسریز په شق کښې او ډاکتر حیدر علی شفاددهکدی له خوا دوړو کی او موردحمائی په شق کښې ا و ډاکتر محمدا کرم په نسائی او ولادی شق کښې دفیلوشپ په ډول دیوه کال دپاره المان ته ولیږل شول.

د - ډاکتر محمد عظیم مجد دی اوډاکتر محمد علی زمان د با کتر.و لو ژی په شق کښې دروغتیا دموسسی دفیلوشپ په پروګرام ددو کلو دپاره پاریس ته ولیږل شول.

ح - ډاکتر محمدعیسی اوډاکتر محمد کریم حسنی دملاریا دمجادلی ډاکتران د شپږو هفتو لپاره دتړی دروغتیا دموسسی دفیلوشپ په پروګرام ډهلی ته ولیږل شول.

دوا کسینود تهیی آمریت: د غه مدیریت بر سپره پرخپلو مربوطو چارودر یفر یشرد کورس او ددو میاشتو دپاره دیو بل کورس په پرانستلو بر یالی شو چه زده کوونکی ئی فارغ التحصیل شول.

د مامورینو مدیریت

۲ - د لاندی ډاکترانو سره بیانوی قرارداد و شو

ډاکتر ترنکس د غربی المان اوسیدونکی د کابل د زیږنتون نسائی اوولادی ډاکتر.

ډاکتر شتیپ د غربی آلمان اوسیدونکی د غاښو جوړولو د مؤسسې ډاکتر.

میرمن شتیپ د غاښو جوړولو د مؤسسی ډاکتره

دنړۍ دروغتیا په ورځ دهغو مخصوصو نشراتو دویشلو په حال کښې چه دروغتیا وزارت تهیه کړی وه



دنړۍ درو غتیاپه ورځ د (اپریل) ۷ نیټه:

دپارک په سینما کښې دملاریا دمجادلې یو تن مؤظف غړی ملاریائی سیمه او دهغې کنټرولز مو زدهیوادپه نخشه کښې څرګندوی

موسیو بودی دفرانسی اوسیدونکی دغانبو جوړولودمؤسسی پروفیسر.

۲ – دغه ډاکتران نوی استخدام شول :

د کندهار دولایت دروغتیا ذلوی مدیریت داکسرینو د مؤسسی لپاره کش منسکاد پو لیند او سیدونکی دروغتیادانجنیری دمدیریت دمهندسی دچار ولپاره استخدام کړه شو.

۳ – دقابله گی، کمپودری اوسینترین دښوونځیو فارغ التحصیلان یلو یلو ځایونه واستول شول.

٤ – دقطغن، مزارشریف اوننگرهار دولایتواودغزنی، بدخشان او میمنی داعلی حکومتو روغتونونوته یوشمیر فنی پرسونل ولیږل شوه.

هغه کسان چه په ۳۸ کال کی ئې یومرتبه ترفیع کړیده :

ع،ص ډاکترمحمد عمر (۳)رتبه مامور دعامی روغتیا رئیس

ع،ص حبیب الله ذاری رئیس د(٤)رتبی څخه(۳)رتبی ته

ع، عبدالغفارداذاری ریاست مرستیال د(٤)رتبی څخه (۳)رتبی ته

ص،عبدالصمد د کاردقطعاتو ډاکترد(٥)رتبی څخه (٤) رتبی ته

ض سید ایشان دمامورینومدیرد(٥)څخه (٤)رتبی ته

زیږ نټون : –

دغه لاندی چاری اجراکړی دی:

دناروغانو دجامودپری مینځلو دماشین او خونی زیاتوب

دپرستاری په څانګه کښی دهغو وړو کو دخونوتنظیم اوجلا والی چه دمخه اوهغه چه په طبیعی پول زیږیږی دهغووړو کو لپاره سره له فنی لوازمو یوه خونه تنظیم شوه چه د بی مورو وړو کو روزنه کوی اوهلته دلازمو اصولو اوشرایطو سره د وړو کو خوراکی وسایل برابر وی.

یوه خونه دهغو ناروغانو دمواظبت لپاره وقاکله شوه چه دجراحی عملیاتولاندی رائی د غه ناروغانی پرلومړیو (۲٤)ساعتو کښی پدغه خونه کښی دموظفینو ترمراقبت لاندی وی.

دښځو دسناتوریم روغتون :

دیوه منظم لابراتور په پرانستلو دعصری تشنابو نو او دوبی خانو په وداتو لو برابالی شوی دی.

دملا ریادمجادلی ریاست :

دغه اجراآت ئی کړی دی :

ACKU

دطب دپوهنځي څلور تنه فارغ التحصیلان ئي دملاریا په شق کښي دزده کړي دپاره دباندنیو هیوادوته لیږلي چه دزده کړي ددوري دپای ته رسیدونه وروسته بیرته بریالي راغلي دي.

د ملاریاد مستحضري کورس ئي دریاست په مرکز کښي جوړ کړي دي:

په ۱۳۳۸ کال کښي دهیواد دیرهغه ځایونه دملاریاله حیثه سروي شوه چه تګ وراتګ وریاندي سخت ؤ چه دهغه له کبله د هیواد ملاریائي نقشه بشپړه شوه

دري تنه دا کتران دملاریادزده کړي دپاره د۱۳۳۸ کال په ژمي کښي دباندنیو هیوادو ته لیږل شوي چه بریالي بیرته راغلي اوولایتوته ولیږل شول.

(۱۵٦)تنه زده کونکي دریاست دمرکز په بیلو بیلو کورسونو کښي نوي په نظري اوعملي تعلیم کښي روزل شوي چه دسږ کال دمجادلي په عملیاتو کښي ګډون کوي.

دهیواد په ټولو ولایتو کښي دملاریا دمحوه کولو دپلان دعملي کولو په غرض ددواشیندلو (۱٤) یو نټه مقرراوټاکل شوي دي چه هر یونټ ئي دملاریادیوتن متخصص دووتنو پلټونکو دانتمولوژي د یوتن مرستیال څلور تنه مستحضرانو شپاړس تنوابتدائي مستحضرانو ددواشیندلو د بشپړسامان اولوازمو اویوتن کارکوونکي سره فعالیت کوي.

ددوا شیندلودپای ته رسید ونه وروسته چه دوي میاشتي دوام کوي د ملاریادمحوه کولو پروګرام به په ټول هیواد کښي شروع شي.

دساري ناروغیو د کنترول مدیریت:

دواکسین دتهیي په موسسه اودننګرهار او کندهار دولایتو په مدیریتو کښي ئي یویو کورس پرانیستلي دي دننګرهاردروغتیادمدیریت کورس دلیندۍ په ۱۵ نیټه پای ته ورسید د کوي پر ضد مجادله هم په هغه ولایت کښي شروع شوه دغي مجادلي دهوا دمساعدت له کبله د ۱۳۳۹ کال دوري دمیاشتي تر پایه پوري دوام وکړ دغه رپوت وائي چه (۱۷۲۰۷٦) تنو ښځو، نارینو او وړو کو ته ستني ووهل شوي.

د کندهار دروغتیا دمدیریت دستني وهلو کورس د مرغومي په میاشت کښي پای ته ورسید سمدستي دهغه ځای دروغتیا مدیریت د ساري ناروغیو د کنترولو دمدیریت دپروګرام له مخي په مجادله پیل وکړ د کوي پرضد مجادلي د۱۳۳۹ کال دغوئي د میاشتي تر ۱۵ نیټي پوري دوام وکړاو ۹۱۰۲۵ تنو ښځو، نارینو اووړو کوته ستني ووهل شوي ددغي مجادلي نتیجه په زړه پوري وه.

دغه رنګه دسږ کال دحفظ ماتقدم ستنی وهلو اوعمومي مجادلي په غرض ۷۰۵۰۰۰ تنو وړ و کو دپاره د کوی واکسین لیږلی شوی دی .

دغه رنګه دحفظ ماتقدم لپاره (۲۰۳۰۰) تنوته دوباضدستنی او ۲۱۸۰۰ تنوته د لو ی تبی ضد ستنی او دلیو نی سپی دناروغۍ ددرمل دپاره ۸۳ تنوته ستنی لیږل شوی دی .

دغزنی داعلی حکومت اودروغتیا دمدیریت دخبرله مخې هلته چه یوپول ناروغی راغلی وه یو پا کتر اویو تن پرستار اوکمپونډر د لاز مو د و ا او سا مانو سره د نا ر و غانو ددرمل د پا ر ه ولیږل شول .

د کلنې پروګرام لهمخې دحصای لکه دار دناروغۍ پرضد دمجادلې لپاره د(وی،وی ،تی)د پودر شیندلو پرمختګ اوزیاتوب په غرض ۱۷۷۶۰ کیلو لس فیصده پو ډر تهیه شوی چه له هغو څخه ولایتونه ۱۰۱۱۶۰ کیلوپوډراودمر کزی روغتیالوی مدیریت ته ۷۶۸۰۰ کیلوپوډر ور کړه شوه ځکه چه دغې څپړنو او پلټنو څخه څرګنده شوه چه شپږی ددغه پوډر په مقابل کښې مقا ومت کوی وروسته لهدې به یوه بله مجربه دواد بې،اچ،سي په نامه هم استعمال شي.

داحصایې مدیریت :

احصائیه چه په هرشق کښې وی هم دپلا نو په عملی کولو کښې زیات اهمیت لری دروغتیا دوزارت داحصائیې مدیریت هم دهیواددروغتیا داحصائی په ترتیبو او کښې اقدا م کړی چه دغه دی لا ند ی لیکل کیږی :

په تیر کال کښی د افغانستان د روغتیا د وزارت فنی پرسونل

ډاکتر	۱۱۷	تنه
د ډاکتر مرستیال	۴۷	تنه
د غاښود داکتر مرستیال	۱۳	»
دواجوړ ونکی	۳۶	»
کمپونډر	۷۹	»
مستحضر	۴۴	»
فنی همشیره	۱۰۲	»
پرستاره	۳	»
تکنیشن	۲۶	»
دلابراتوار مرستیال	۱۹	»
پانسمان چی	۴۵	»
آبله کوب	۳۴	»
سنیترین	۴۲	»
قابله	۶	»
دغاښو د پروتیز دډاکترمرستیال	۷۵	»

ACKU

به ۳۸ کال کنی به افغانستان یکی دروغتیا دوزارت معالجوی طب موسیقی

ولایت	دروغتون شمیر	دمیترو شمیر	مستقل پولیکلینیکونه	سیاریونت
کابل	۵	۲۱۹	—	—
هرات	۷	۱۳۵	—	۱۰
قندهار	۵	۱۱۰	—	۱۰
مزارشریف	٦	۷۰	۲	۱۰
قطغن	٦	۸۵	—	۱۰
غزنی	۲	۳۵	—	—
پروان	۲	۳۵	—	—
بدخشان	۱	۲۵	—	—
فراه	۲	۲	—	—
ننگرهار	٦	۹۰	—	۱۰
پکتیا	٤	۷۰	—	۱۰
میمنه	۲	۳۵	—	—
شبرغان	۱	۱۵	۱	—
گرشك	۰	۱۵	۲	—
توله	٤۹	۹٦٤	۵	٦۰

په ۳۸ کال کښې په افغانستان کښې دروغتیا دوزارت دوقایوي طب مؤسسې

ولایت	دمیندواوړو کودحمایې مرکزونه	دملاریا دمجادلې مرکزونه	دتوبر کلوز مجادله
کابل	۵	۱	۱
هرات	۱	۱	—
قندهار	۱	۱	—
مزارشریف	۱	۱	—
قطغن	۱	۱	—
غزنی	۱	—	—
پروان	—	۱	—
بد خشان	۱	—	—
فراه	—	—	—
ننگرهار	۱	۱	—
پکتیا	۱	۱	—
میمنه	—	—	—
شبرغان	—	—	—
گرشك	—	۱	—
ټوله	۱۳	۹	۱

ACKU

په ۳۸ کال کښی د افغانستان په ولایتونو کښی د ییلو ییلو ناروغیو د تداوی شوی کسانو شمېر

ولایات	کوی ناروغه-مړه	حمای راجعه ناروغه-مړه	حمای لکه دار ناروغه-مړه	شری ناروغه-مړه	تورهغاړه ناروغه-مړه	دیزانتری باسیر ناروغه-مړه	دیزانتری امیبی ناروغه-مړه	تیفوئید ناروغه-مړه	دفتری انفلوانزا ناروغه-مړه
کابل	۳۷ •	• •	۲ •	۳۷ •	۱۲	۱۱ •	۱۱ •	۶۱ •	۷۱ • ۸۹ •
غزنی	۱۴ •	• •	• •	۱۲ •	۶	۱۹۶ •	• •	۱ •	۲ • ۳۰ •
قندهار	۱۲ •	• •	• •	۴۲۲ •	۱۲۸	۳۳۴ •	۳۴ •	۶۵ •	۲۵ • ۸۳ •
فراه	۲۶ •	• •	• •	۶۹ •	۲۳	۱۳۹ •	۱۹۲ •	۳۱ •	• • ۴۱ •
هرات	۲۰۳ •	• •	• •	۱۰۳ ۳	۵۷	۵۷۹ •	• •	۲۲۲ •	۳/۴۶ • ۳۲۲ •
میمنه	۱۱ •	• •	۳۵ •	۱ •	•	۱ •	• •	۱ •	۱ • • •
مزارشریف	۴۱ •	• •	• •	۱۷۷ •	۲۳	۸۰۸ •	۱ •	۹ •	• • ۱۴۴ •
قطغن	۵۵ •	• •	• •	۱۰۶ •	۵۲	۱۷۵ •	۸۵ •	۳ •	• • ۴۳۶ •
بدخشان	• •	• •	• •	• •	•	• •	• •	• •	• • • •
پروان	۸ •	• •	۳ •	۳ •	۸	۹ •	• •	۶۰ •	• • ۳۹ •
ننگرهار	۳۰ •	• •	۱ •	۱۱ •	۵۲	۶۱۳ •	۱۲ •	۲۰ •	۲۱ • • •
پکتیا	۳ •	• •	• •	• •	۳	۹۹ •	۸ •	• •	• • • •
شبرغان	• •	• •	• •	۱۰ •	•	۲۴ •	• •	• •	• • • •
توله	۴۴۰ •	• •	۴۱ •	۳۹۵۱	۳۶۴	۳۰۰۶ •	۳۴۳ •	۴۸۳ •	۶ ۱۲۰ ۱۸۸۴ •

ACKU

په ۳۸ کال کښې په افغانستان کښې د روغتیا دوزارت د روغتیا وسایط

ولایات	دا کسر پوشمېر	دلابراتوارونو شمېر	د غلښو مؤسسې	در ملتونونه
کابل	۳	۲	۱	۵
هرات	۱	۱	۱	۷
قندهار	۱	۱	۱	۵
مزار شریف	۱	۱	۱	٦
قطغن	—	۱	۱	٦
غزنی	—	۱	—	۲
پروان	—	۱	—	۲
بدخشان	—	—	—	۱
فراه	—	—	۱	۲
ننګرهار	۱	۱	۱	٦
پکتیا	—	۱	۱	٤
میمنه	۱	۱	—	۲
شبرغان	—	—	—	۱
گرشك	—	۱	۱	۱
توله	۸	۱۲	۹	٤۹

ACKU

په ۳۸ کال کښی دافغانستان دبیلوبیلو ولایتونو په کلینیك اوپولیکلینیك کښی دتداوی شویو کسانو شمیر

ولایات	مراجعه کوونکی	بستری نارو غان	تداوی شوی	خالکوب شوی
کابل	۳۰۶۶۹	۸۶۰	۳۱۵۲۹	۲۰۹۵۱۲
قندهار	۴۹۰۱۵	۵۱۶	۴۹۵۳۱	۹۰۶۶۵
مزارشریف	۲۷۲۱۰	۱۷۴	۲۲۳۸۴	۳۸۸۷۴
هرات	۲۸۲۰۰	۳۲۴	۲۸۵۲۴	۵۶۰۰۴
غزنی	۲۱۶۵۵	۳۱۷	۲۱۹۷۲	۲۰۹۰۲
پروان	۳۲۸۹۲	۳۴۷	۴۳۲۳۹	۲۴۴۱۴
بدخشان	۱۲۷۸۴	۱۵۱	۸۱۲۹۳۵	۱۷
فراه	۱۹۲۷۶	۲۵۲	۱۹۵۲۸	۲۰۷۱۵
قطغن	۳۶۴۱۲	۳۴۲	۳۶۷۵۴	۱۴۹۶۲
ننگرهار	۲۷۹۴۲	۸۸۰	۲۸۸۲۲	۱۷۲۰۳۶
پکتیا	۲۳۶۴۴	۶۲۹	۲۴۳۳۹	۳۱۸۰۳
میمنه	۱۵۶۱۳	۲۴۷	۱۵۸۶۰	۱۸۹۲۹
شبرغان	۴۵۸۹	۹۶	۴۶۸۵	۱۴۲۷۵
توله	۳۲۹۹۰۱	۵۲۰۱	۳۳۵۱۰۲	

ACKU

دتجارت وزارت

تشکیل :

دتجارت وزیر ع ، ج ، س، ع غلام محمد شیرزاد

معین ع،ص ، محمدسرور «عمر»

دقلم مخصوص مدیر په (٤) رتبه یو تن

اداری لوی مدیریت:

لوی مدیر په (٣) رتبه یو تن

د « « مرستیال په (٤) « « «

دمارینو مدیر په (٤) « « «

دمحاسبي آمر په (٤) « « «

دارشیف مدیر په (٤) « « «

دتجارتی پراختیا ریاست:

رئیس په دوهمه رتبه (کفیل)

ع ، ص محمدرسول «یونسی» ع ، ج غلام محمدشیرزاد

دخارجي تجارت لوی مدیر په (٣) رتبه یو تن

دنندار تون مدیر په (٤) « « «

دتراانسپورټ مدیر په (٤) « « «

دقرار دادونو او خارجی ارتباط مدیر په (٤) « « «

دجواز نامې اوپانګی پکار اچولو مدیر په (٤) « « «

دصادراتو اووارداتو مدیر په (٤) « « «

« « « مرستیال په (٥) « « «

ددا خلی تجارت لوی مدیریت :

لوی مدیر په (٣) رتبه یو تن

دبانکو او تصدیو مدیر « «

دسورت او ستندرد مدیر په (٤) رتبه « «

دمؤسسو او اطاقو مدیر په (٤) « «

ACKU

دیگرا میوبه بن کښی دکلیو دانکشاف دقابلو مرستیالانوته دبر یلیکونو ویشلو له مراسمو څخه

دکلیو دانکشاف دریاست دقابلو مرستیالانی چه بری لیکونه ئی اخستی دی

دتوبرکلوز دمجادلې له مؤسسې څخه دملی شورا دمحترمو وکیلانو دکتنی په وخت کښی
ځینی وکیلان ددغی مؤسسې دا داری او فنی غړو سره



دملالۍ په لیسه کښی دملګر وملتو دتلین له مراسمو څخه

داحصائې اومطا لعو دتدقیق لوی‌مدیریت :
لوی مدیر په (۳) رتبه یوتن
مدیر په (٤) « « «
غړی په (٥) « دوه تنه
دپلټنی لوی مدیریت :
دپلټنی لوی مدیر په (۳)رتبه یو تن
غړی په (٤) رتبه (٤) تنه
« « (٥) « (٤) «
دنرخونود کنترول ریاست :
رئیس په‌دو همه رتبه ع ، ص حبیب الله
دبازارونو دمراقبت مدیر په(٤) رتبه یوتن
دنرخ ایښود لومدیر په (٤) « « «
دارتباطاو حکمیت مدیر په (٤) « « «
دابتدائی تجارتی محکمې ریاست :
رئیس په(۲) رتبه ع ، ص محمد امین
غړی په(۳) « یو تن
« « (٤) « « «
« « (٥) « دوه تنه‌انتخابی
دافلاس مدیر په(٤) رتبه یو تن
دمرافعې‌دتجارتی محکمې ریاست :
رئیس‌په (۲) رتبه ع ، ص محمد حسن
غړی په (۳) « دوه تنه
« « (٤) « « «
دحق الثبت مدیر په (٤) رتبه یوتن
دتمیزدتجارتی محکمې ریاست:
رئیس په لو مړی رتبه . . . . . .
غړی په(۳)رتبه (٤) تنه
دولا یتونو دتجارتی محکمو‌ریاستونه:
دهرات دتجارتی محکمې رئیس‌په (۳) رتبه یوتن
غړی‌په (٤) رتبه یوتن

ACKU

غړی په (٥) رتبه یوتن
دقندهار دتجارتی محکمې رئیس په (۳) رتبه یوتن
غړ ی په (٤) رتبه یوتن
« « (٥) « « «
دمزار شریف دتجا رتی محکمې رئیس په (۳) رتبه یوتن
غړی په (٤) رتبه یو تن
« « (٥) « « « انتخا بی
دمیمنی داعلی حکومت دتجارتی محکمې رئیس په (۳) رتبه یوتن
غړی په (٥) رتبه یوتن
« « (٦) « « « انتخابی
دننگر هار دتجا رتی محکمې رئیس په (۳) رتبه یوتن
غړی په (٥) ر تبه یوتن
« « (٦) « « « انتخابی
دقطغن دتجارتی محکمې رئیس په (۳) ر تبه یو تن
غړی په (٥) رتبه یو تن
« « (٦) « « « انتخابی
دغزنی د تجا رتی محکمې رئیس په (٤) رتبه یوتن
غړی په (٥) رتبه یوتن
« « (٦) « « «
دپښور پښتنی و کیل التجار په (٤) رتبه یوتن
دپاره چنارو کیل التجا ر په (٤) « « «
دچمن و کیل التجار په (٤) رتبه یوتن
دامرتسر نمایند گی
په کرا چی کښی تجارتی آتشه په (٤) رتبه یو تن
په ډیلی کښی تجارتی آ تشه
په مسکو کښی « «
په امر یکه « « «
په اروپا کښی « «

د تجارت د وزارت چاری

د تجارت وزارت چه اساساً او طبقه لري چه د هیواد د داخلي تجارت د پراختیا، د صادراتي موادو د زیاتیدو، د عرضي د بازارونو د تنظیم د منظمي احصائیي د ترتیب، د صادراتي او وارداتي مال التجاري، د شیانو او مالونو د نرخ د ګرافونو د ترتیب او نورو په لاره کښي په هیواد کښي د ننه زیاتیدو، د غه رنګه د افغانستان د خارجي تجارت د روابطو د پراختیا او تنګیدو، د هیواد د صادراتي مال التجاري د عرضي د نویو او مساعدو مارکیټو د میندلو د پاره د نړۍ د ټولو پر مختللو هیوادو په تیره د ګاونډیو هیوادو سره په تماس کښي دي او په دې لارو کښي موثر اقدامات کوي په ۳۸ او ۳۹ کلونو کښي یې په دغه باره کښي زیاته پاملرنه کړي او بري یې په برخه شوي دي چه د دغه وزارت اجراآت په لاندي ډول لیکل کیږي:

الف ـ د باندني تجارت:

د تجارت وزارت د هیواد د باندني تجارت په برخه کښي د نړۍ د هیوادو سره د تجارتي روابطو د پراختیا، په ټولو هیوادو کښي د افغاني مال التجاري د نویو بازارونو د میندلو او د بین المللي نندارتونو څخه د استفادې په عرض د هیواد د تجارتي او اقتصادي حالت د ښه کیدو او د غه ډول د تجارت له بین المللي آسانتیاو او مقرراتو څخه د استفادې د پاره داسي عواملو نه هڅه کړې ده چه هغه د تجارت نوي موافقت لیکونه، د پخوانیو موافقت لیکونو نوي کیده او او ږدیدل په نندارتونو کښي ګډون او باندنیو هیوادو له د هیئتونو او نمایندګانو لیږل، په تجارتي او اقتصادي

بین المللی کنفرانسونو کښی شمولیت ، افغانستان ته دنو روهیوادو دنمایندګانو بلنه اوداړول نوردی چه دبیلو بیلو عنوانونو لاندی لیکل کیږی .

نوی موافقت لیکو نه :

۱ - دیوګوسلاویی دجمهوریت د فیډرالی حکومت اوافغانستان د سوداګری دروابطو دټینګیدو دپاره د۱۹۵۹ع کال دډسمبر په ۳۰ نیټه دافغانستان اویوګوسلاویی د حکومتو ترمنځ دیوګوسلاویی درالیږلی هیئت اوزموږ دتجارت دوزارت دلوړو مامورینو په واسطه په کابل کښی دتجارتی ، علمی او تخنیکی مرستی نوی موافقت لیك لاسلیك شو چه دهغه له مخی یوخولومړی ځل ددغو دوو هیوادو تر منځ تجارتی روابط ټینګ شول اوبل داچه ددواړو هیوادو په منځ کښی علمی او تخنیکی مرستی منځ ته راغلې .

دغه رنګه د عربی متحد جمهوریت دحکومت سره دافغانستان د تجارتی روابطو دټینګیدو دپاره د ۱۳۳۹ کال دوری په (۲۰) نیټه دافغانستان دلوړو مامورینو او ددغه جمهوریت درالیږل شوی هیئت په واسطه یوه نوی تجارتی موافقت نامه لاسلیك شوه.

دمتد اوله موافقت لیکونو نوی کیده او یا اوږدیدل :

۱ - دهغو اجناسو اوقیمتو دتبادلی دپنځمی دوری پروتوکول چه دافغانستان دشاهی حکومت اوچکوسلواکیی د جمهوریت ترمنځ هر کال په معمولی ډول په کابل او پراګ کښی لاسلیك کیږی په ۱۳۳۸ کال کښی دچکوسلواکیی تجارتی هیئت دمقدماتی خبرواترو دپاره کابل ته راغی ، دلازمو خبرواترو اوددواړو خواو دموافقی نه وروسته په کابل کښی نوموړی پروتوکول تیار اوداجناسو اوقیمتونو دتبادلی موافقت لیك په پراګ کښی د۱۹۶۰ع میلادی کال دفروری په (۹) نیټه دافغانی ورلیږل شوی هیئت اودچکوسلواکیی دواکمنو نمایندګانو ترمنځ د اجناسو دتبادلی د (۱۹۵۹-۱۹۶۰) کال د څلرمی دوری پروتوکول چه هر کال په معمولی ډول په کابل اووارسا کښی لاسلیك کیږی په ۳۸ کال کښی ددواړو خواووا کمنو هیئتو دغه پروتوکول ترکتنی او مذاکری لاندی ونیوه وروسته له هغه چه دواړو خواو منظور کړ د اجناسو د تبادلی داندازی اصلی پروتوکول ، دافغانستان او پولینډ دحکومتو ترمنځ د۱۹۶۰ع کال دفروری په ۲۸ نیټه دافغانی لیږل شوی هیئت اودپولینډ دواکمنو نمایندګانو له خوا په وارسا کښی لاسلیك شو .

۲ - دغه رنګه دافغانستان د شاهی حکومت اود شوروی اتحاد د سوسیالستی حکومت ترمنځ دتجارتی نهم کال داجناسو دتبادلی داندازی پروتوکول دبیا کتنی وړ ؤ نو په ۳۸ کال کښی

ددواړوهیوادو ډوا کمنوهیئتوله خواپه دغه پروتو کول بیا کتنه اوخبری اتری وشوې ، دد وا ړو هیئتوله خوادپروتو کول ددرافت دتیارید واوموافقی نه وروسته اصلی پروتو کول د ۱۹۶۰ کال دفروری په (٤)نیټه په کابل کښی دافغانستان له خوادتجارت‌دوزیرښاغلی شیرزاداودشوروی‌اتحاد له خوا د هغه د ولت د خـار جـی تجا رت د و ز ا رت د معین ښا غلی کو ز مین پـه و ا سطه (چه ددې مقصد دپاره کابل ته راغلی ؤ) لاسلیك شو .

په کنفرانسونو کښی ګډ ون ، دهیئتونو لیږل اوتبادله :

الفـ‌په کنفرانسونو کښی ګډ ون :

دتجارت وزارت په ۳۸ کال کښی دهیواد دتجارتی اواقتصادی چارو دزیات انکشاف له پا ره په بین‌المللی کنفرانسو نو کښی داستفادی پەغرض زیار ایستلی دی پەهغه څو کنفرانسونو کښی چه‌پەدغه کال کښی وشول اوافغانستان ته‌پکښی د ګډون‌بلنه ور کړه‌شوی‌وه یوپه بنکاك کښی دلیری ختیځ او آسیا دمنطقوی تجا رت دپر مختګ کـنفرا نس ؤچـه هـغـه د ۱۹۶۰ کـــا ل دجنوری پەمیاشت کښی وشو اوپه هغه کښی دلیری ختیځ او آسیادمنطقوی تجارت د پراختیا او پرمختګ پەباب ګټور اومهم تصمیمونه ونیول شول.

(۲) ـ دغەرنګه پە۳۸ کال کښی افغانستان دبین‌المللی خورا کی‌مواد و او کرهنی د مؤسسی په غوښتنه دمارکټینګ په کنفرانس کښی ګډون‌و کړ چه‌د(۱۹۶۰ کال‌دجنوری په (۱۱) نیټه په قاهره کښی وشو .

(۳) ـ هم د آسیائی اوافریقائی پەدوهم اقتصادی کنفرانس کښی چەپه قاهر ه کښـی‌د ۳۹ کال‌ډغوئی‌پەمیاشت کښی‌وشودتجارت‌دوزارت‌نماینده‌شامل‌شوپەدغه کنفرانس کـښی‌دد آسیائی‌او افریقائی‌هیوادوداقتصادی‌مرستی‌دمؤسسې‌پەنامه‌دیوی‌موسسی‌دجوړیدو‌اوپرانستلوپەباب‌ددغوهیوادو تر منځ دتجارت دپراختیااوخارجی پانګی دپه کارا چولوپرموضوع ګانواونورو داډول مسئلو باند ی خبری اتری وشوې .

ب ـ دهیئت لیږل او تبادله :

یوبل مهم اقدام چه دتجارت وزارت و کړ هغه دباند نیوهیواد وته د افغانی هیئت لیږل اوپه افغانستان کښی‌دخارجی متقابله رالیږل شوی هیئت هر کلی دی‌لکه چه په دغه‌ډ کښی دلاندی هیوادو له خواافغانستان ته نمایندګان رالیږل شوی د تجارتی مسئلو،ددغو هیوادوسره دتجارتی

روابطو په پراختیا کښې دموافقت لیکونو ، علمي اوتخنیکي متقابلو مرستواونورو په باب خبري اتري وشوي او په مقابل کښې دافغانستان نمایندګان هم هغو هیواد وته ولیږل شول .

۱ - د چکو سلوا کیې د جمهو ري حکو مت لـه خوایو تجارتـي هیئت د ا فغا نستا ن ا و چکوسلوا کیې د حکومتو تر منځ د پنځمی دورې دپروتو کو ل دد را فتونود بیا کتنی او زیاتو تجارتی مسئلود مطالعی د پاره کابل ته راغی چه په کا بل کښی د مقد ماتی خبر و ا تر و نه و روسته افغانی هیئت په چکوسلوا کیه کښی دتړون د کیدو دپاره پراګ ته ولاړ .

۲ - د شو روی اتحـاد یو هیئت د د غه هیواد د خارجی تجـارت د و زارت د معین ښا غلی کو زمین په مشرۍ کـابل ته راغی ، چه دنهمی دورې تړون لـه پاره ئی د د و ا ړو هیواد و دمربوطو تجارتی مسئلو په باب خبر ی اتری و کړې .

۳ - د غه ډول د عر بی متحد جمهو ریت یو هیئت د دغه هیواد د اقتصاد د وزارت د معا و ن ښاغلی محمود بدواشیتی په مشرۍ کابل ته راغی ، او ددواړو هیوادو دتجارتی روابطو د ټینګید و په با ب یی خبرې اترې و کړې .

په نندارتونو کښی ګډون :

نندارتو نونه او په هغو کښی ګډ ون د مدنی ټولنود بیلو بیلو حیاتي پرمختګونو د معرفي کیدو په لا ر ه کښی مهم عا مل ګڼل کیږ ی ، په تیر ه په صنا یع ، تجا رت ، تخنیـك ا و نو ر و شقوقو کښی نندارتونونه مهمه بر خه لری ، نود تجارت وزارت برسیره پرد ې چه دخپلوا کۍ په جشن کښی د کیفیت او کمیت له حیثه دیو سترتحول سره په ښکلی ډول ، نندار تون خلاصوې و په هغه کښی د هغوانکشافاتو او پرمختګونو نمونی په ښه او مناسب ډول څر ګند وی چه کال په کال دتولیداتو او مصنوعاتو او نوروشیانو په باره کښی د هیواد په برخه شوی دې .

ترخپله وسه یی دا کو ښښ هم کړی دی چه په بین المللی او خارجی محلی نندارتونونو کښی ګډ ون و کړ ی . چه له یوې خواد هیواد دانکشافی چارو داستفادې له پاره د بیلوبیلو هیوادو دتخنیکی ، کر هڼی ، صنا عتی او اقتصادی چټکوتحو لا تواو انکشافاتو مطا لعه و کړی اونه بلی خواد هغوپر مختګونو او انکشافاتو معیار او اندازه چه په دغو ساحو کښی دافغانستان په برخه شوی دی د باند نیو هیواد و ته څر ګنده کړ ی او دنور زیات پرمختګ له پاره ښی لاری چار ی ولټوی ، نو تیر کا ل یی په دغو نندارتو نونو کښی ګډ ون کړی دی :

(۱) - دهند د کرهنې بین المللي نندارتون :

دغه نندارتون د نومبر په (۱۱) نیټه په ډیلي کښې پرانستل شواود ډیر ا هیت وړ ؤ په دغه نندارتون کښې برسیره پردې چه هند خپل صنا عتي ا و د کرهنې مهم پرمختګ ونه و ښو دل د افغانستان په شمول دنړۍ ډیرو هیواد و په هغه کښې ګډون و کړ،افغانستان د او مومو ادو پیداوار ، دقره قلي پوستکو نمو نې ، دغالیو او دلو صنایع ، دهیواد پیداو ار بیل بیل پوستکی ، هرډول وچې میوې او دافغانستان نور پیداوار چه د هغو ډ ولونه تقریباً ، د و ونیمو سو وته رسیده په دغه نندارتون کښې وښوول . دغه رنګه یې دهیواد ټول صادراتی پیداوار معرفی کړل په دغه نندارتون کښې هند ، سیلون ، عراق ، جنوبی ویتنام ، برما ، منګولیا ، ایران ، پو لینډ ختیځ المان ، دولسي چین جمهوریت ، شوروي اتحاد ، امریکی او دهند بیلوبیلو ایالتونو لکه بمبئی ، مدراس ، مشبوری ، داسام ولایتونه ، دیوپی ولایت ، د کشمیرولایت او نو رو ګډ و ن کړی ؤ افغانستان په دغه نندارتون کښې و ګولی شوچه دنړۍ ډیرو هیوادو پاملرنه دخپل هیوادد کرهنې دمهمو پیداوارو نندارتون ته راوړی چه دمسلعد ی هواله کبله دنړۍ ډیرو هیوادود پیداوار و په نسبت خاص اهمیت او امتیازلری ، دغه رنګه په د با ند نیو هیوادو کښې د خپلومودود پاره تاوده بازارونه او ښه رانیونکی و لټوی .

۲ - په تهران کښې دفرانسې صنعتي نندارتون :

دغه رنګه افغانستان دفرانسې په بلنه په تهران کښې دفرانسې په صنعتی نند ا ر تو ن کښې د کټونکی په حیث ګډ ون و کړ ، په دغه نندارتون کښې د فرانسې صنا عتی پر مختګ نه ا و انکشافات وښودل شوه ، چه په هغه کښې دافغا نستا ن له خوادتجارت ، کر هنې ، ر و غتیا ، فوائد عامې ، کانو او صنایعو ، او مخابراتو دوزارتونو نمایندګانو ګډون در لود ،نو مو پ ی نندارتون دا کتوبر په (۳۱) نیټه پرانستی او دنومبرتر (۱٤) پورې یې دوام و کړ .

۳ - دپوزنان بین‌المللی نندارتون :

دتجارت وزارت دپوزنان په بین المللی نندارتون کښې ګډون و کړ چه د ۳۹ کا ل دغبر ګولی په (۲۲) نیټه‌دپولینډ په مر کز کښې پرانستل شواو په‌هغه کښې د هغه‌هیواد صادراتی‌پیداو ار ، او مه مواد ، د کرهنې مواد ، دمصنوعاتو نمو نې ا و نور ی‌و ښو دلی شو ی چه په دې ډول دهیواد دتجارت د معرفی کولو په ګټه یې کارو کړ .

دشو رومونو منځ ته راوستل (دائمي‌نندارتون) :

دتجارت‌وزارت‌یوبل مهم اقدام دخارجی‌تجارت په ساحه کښې داؤ چه‌دهیوادونه په بازارونو کښې یې دد ائمی شورومونو دخلا صو لولو کبله خار جی کمپنیوته ا جا زمور کړه،د هیوادو

دتجارتی راتلونکی انکشاف ،اودمالونو دتبادلی اودتجارتی معلو ماتو زیاتو لود پلره دد ا ئمی شورو مونو پرانستل پیر کټور دی . چه همدغه‌شی دخارجی سوداګرودرقابت‌پیدا کید و سبب کیږي چه په نتیجه کښی دقیم انحصارله منځه وړي. دغه رنګه‌دداخلی‌سوداګرواوا ستهلا ک کو و نکو د پا ر ه دتا کلو سا حه پراخوي ، اووارد کوونکی سوداګر کولی شی‌بی‌له ز حمته دجنسو نو نمو نی و ګو ري ، دهیواد دارتیاوسره‌سم مالونه او جنسونه و تا کی او رائی نیسی ، په ۳۸ ګال کښی په کابل کښی دایتالیي ، اطریش اوپولینډ شورومونونه خلاص شول.

ټرانزیټ :

په۳۸ ګال کښی دافغانی مالونوپرضد په پا کستان کښی دټرانزیټی مشکلا تو دلیري کو لو دپاره دتجارت‌وزارت یونماینده پـا کستان‌ته‌ولیږه چه‌دهغه ځا ی دوا ګمنو ما مو ر ینو سر ه وزغیږی ، خوبیاهم‌دپا کستان‌حکومت‌دبین‌المللی‌تعاملا تواوترا نز یټی موافقت لیکو نـو بر خلاف د کراچی‌له لاری افغانستان ته ږه‌واردشویومالو نو با ندي زیات ترانز یټی مشکلا ت را پیدا کړل چه‌د دغه عذ رو نوله کبله کـله کـله په لاره کښی ځینی ساما نو نه ورک کیږ ي ، دغه رنګه دپاکستان حکومت دټرانزیټی موافقت لیك دلومړی مادي نه‌برخلاف د افغانستان او پا کستان دوارد شو یومالو نو ترمنځ تو پیر او امتیازمنځ ته‌راوړي ، او ا ور کاړي‌لو مړ ي د پاکستا ن ما لو نه وړي ، له همدي کبله دافغانستان دمالونوپه را وړلو کښی ځنډ پیښیږی ، اوهم دموافقت لیك د (٥) مادي‌له مخی‌دافغانستان دترانز پټی‌مالو نودایله کولو دپاره دپا کستان دحکومت له خواصحیح شیت نه ور کول کیږ ي اوهغه رقبه چه دپا کستان حکومت د پیښور په‌صدر کښی‌تا کلی ده کو چنۍ ده چه د ډیر وما لونو ګنجایش‌نه‌لري سر بیره پردي دغه ر قبه خاص دپرچون ما لونود پاره ده . کوم‌وخت چه ثقیله‌سامانونه یالوي ماشین آلات راورسیږي ، پر هغه ر قبه باندي اچول کیږ ي چه په پیښور کښی دافغان‌ملي با نك له خوا کر ایه اخستل شوي ده .

ددي له پاره‌چه په افغانی مالونو باندي ډیمرج او ار قیچ راشی پا کستان‌پخپل هیواد کښی دافغانستان ترانز یټی مالونوته د ٢٤ ساعتونه زیات دځنډ پدواجازه نه و ر کوي خوله بلی خوا موافقت‌لیك د (٨) مادي نه برخلاف‌دمالو نو دنقلولودپاره‌د کافی وا ګون په تهیه کولو کښی پاملر نه ، نه کیږي او افغانانو ته له دي کبله په ملیو نو افغانو زیان ر سیږي .

دغه رنګه دموافقت لیك د (٤) مادي نه بر خلاف ، دحمل ونقل د لګښتو نو څخه پر ته د مالو نو د وړلو راوړلود مربوطه‌ا داري لګښت له پاره په‌هرنامه چه د پا کستا ن حـکـو مت

وغواړي برافغاني مالونو هغه په زوره تحميلوي ، لکه سليز ټکس ، د ګمرک محصول ، سرغچ پولي ريفوجي ټکس اوچونکسي محصول (دافغاني ميو وشخه اخلي) اوپه جمرود کښي د ګمرک دربانی محصول د پاکستان پوليټيکل اجنټ دافغانستان دترانزيټي مالونودهري لاري شخه (۱۲) کلداري دجمرودي محصول په نامه اخلي، چه زموږ سوداګرو، اقتصادي مئوسسواود ولتي ايروته له دغي لاري شخه هر وخت زيات تاوان رسيږي .

دتجارت وزارت دپاکستان دحکومت ددغو مشکل تراشيو په مقابل کښي دخارجه وزارت اوهم د هغه هيواد دوا کمنو سره دخبرواترو له لاري جدي اقدامات کړي اوددغو مشکلاتو دليري کولو په لاره کښي يي هر ډول کوښښ ته هڅه کړي ده ، څرنګه چه په ۳۸ کال کښي د تجارتي رئيس په مشري يو هيئت ددغو مشکلاتو دليري کولو دپاره پاکستان ته لاړ خو لکه چه زموږ توقع وه دمتبوعه حکومت دحسن نظر اودتجارت دوزارت فعاليتونو او اقداماتو شخه دپاکستان دحکومت دناوړي رويي له کبله ګټوره دنتيجه وانه خستله شوه .

خو برعکس د۳۷ کال په نسبت په ۳۸ کال کښي دافغاني مالونو ترانزيټ دشوروي اتحاد له لاري زيات انکشاف کړي اوپه آينده کښي هم مخ په زياتيدودي .

په افغانستان کښي دخارجي پانګي په کاراچول:

۲- په هر پروگرام کښی څلور پاینځه اختصاصی معلوماتی او ارشادی مضمونونه دموسم او وخت څخه‌داستفادی دپاره تهیه شوی دی.

ج - دعلمی او معلوماتی مراجعو دماخذونو دتهیه کولود پاره دشیون‌ما لیار او گرونکی پردرو گریوباندی د گرهنی جایزی‌تصویب شوی چه‌دهر گروپ‌دپاره دری درجی‌وټاکل‌شوی په هر گروپ کښی لومړی‌او دوهمه درجه دمولفینو اودریمه دترجمه کونکودپاره ده

د - دنورو گټورو نظریاتو پیش بینی هم تراجرالاندی دهچه‌د گرهنی‌دتوسعوی اوترویجی چارو په‌اړخ کښی به‌البته وروسته عملی شی اوهغه د گرونده سیئما ارشادی فلمونو او تبلیغا تو تهیه کولډی‌چه‌په کورد کروالواوفراغت‌په وخت کښی د گرهنی دتولید گرونکو یعنی ما لیا ر گرو نکی او ما لدار په درد خوری نو ددی مقصد لپاره دوزارت کتابتون تقویوه شو

دتوسعې دمدیر، داصلاح‌او تکثیر دمدیر اود خارجی متخصص (توسعې دمشاور) په گډون دامریکائی نبردغنمود کښت دلیدودپاره‌چه‌د۳۸ کال په تله کښی‌د گرهنی‌وزارت‌دغه‌غنم گرونکو ته‌ویشلی وه‌دخزندو دمتخصصو گرونکودحاصلا تو دډېرښت لپاره دهغه تخم گرلی ؤ، دلو گرد او کوهدا من لویو حکومتونه دتوسعې دیوې‌ډلې فنی مامورینو سره استول شوی چه ددغه تخم دودی اود کښت‌په باب کتنی و گړی‌او زېوټ مربوط مقام‌ته وسپاری.

د گرهنی د۳۸ کال(۸) تنه‌فارغ التحصیلان ددغه‌مدیریت دفنی‌غړو او(۳) تنه ئی داداری غړو په‌حیث مقرر شوی‌دی.

د توسعی اونشریاتولوی مدیریت‌دخپلو انکشافی‌پلانونو‌په‌ترڅ کښی‌یوشمېر خارجی چرگان لکه‌رودائیلنډ ،نیوهمشایر دوطنی‌چرگانو دنسل دسمون اوډېرښت دپاره گرونکو ته ویشلی دی چه‌دوطنی‌چرگانوجنس‌اصلاح‌شی.

دچهلستون د کرهنې دتجر به ځی فارم یوه منظره

اقتصادی لوی مدیریت :

دا لوی مدیریت دوزارت په نوی تشکیلاتو کښی منځ ته راغی،اودغه لاندی اساسی هد فونه تعقیبوی:

۱- د کرهنې اواقتصاد مربوطی چاری: لکه د کرهنې کوپراتیفونه ، د آبیاری، ځنګلونو او څړونو اتحادیې، دزمینداری، دملکیت او اسکانو سیستم او د کرهنې دبازارونو چاری،

۲-دانکشافی پلانومربوطی چاری:

دغې څانګې دانکشافی پلان درې مياشتنی توحید شوی رپوټ تیار، تحلیل او تجزیه کړیدی او دنورو هیوادو دپلان او د کرهنې دګډو پروژو دادارو په باره کښی دملګرو ملتو د موسسې په څېرد کرهنې دوزارت او خارجی موسسو ترمنځ کتنه کوی.دامریکی دموستی دبین المللی مؤسسې

۳- د کرهڼی داحصائیی چاری،

په عمومی ډول د کرهڼی دوه ډوله احصائیی پکاردی:

الف- د کرهڼی اوسنۍ احصائي ،لکه د کرهڼی حاصلات، کرل شوی زراعتی مځکی ،مهم پیداوار دڅارویو شمېر، حیوانی حاصلات،د کرهڼی نرخونه او نور .

ب-د کرهڼی اساسی احصائیي:

د کرهڼی داحصائیوشمیر،اودهغه مربوط مهم خواص لکه جریبی اندازی دڅارویوشمیر ،دزمینداری دملکیت اواسکانو سیستم ، د کرهڼی نفوس ، په زراعتی چارو کښی استخدام،د کرهڼی آلات او ماشینونه چه په هرولسو کلونو کښی د کرهڼی دسرشماری په واسطه راغونډاوخپریږی .

داقتصادی لوی مدیریت پدغو لاندی څانګو ویشل شوی دی :

الف - دپلان او تتبعاتو مدیریت

ب - اقتصادی مدیریت .

الف - د پلان او تتبعاتو مدیریت :

دغه مدیریت دوظیفی له کبله داحصائیی اوپلان پردووڅانګو ویشل شوی دی .

د پلان څانګه :

۱ - د کرهڼی دوزارت دڅلرم کال دانکشافی پلان اودهغه بودجه دپلان دوزارت په لارښوونه او د کرهڼی دوزارت دڅانګو په مرسته تیاره شویده .

هغه څانګی چه دانکشافی پلان دفعالیت سره سرو کارلری ، دهغه له مخی اجراآت کوی ، دانکشافی څلرم کال دلومړیو اوددوهمو درومیاشتو رپوټ تیار شوی اودپلان دوزارت مربوطو څانګو ته وړاندی شو .

۲ - د کرهڼی دوزارت دانکشافی پلان ددروتیرو کلونو فعالیتونه ، اجراآت اولګښتونه د نړۍ د کرهڼی اوخوراکی موادودمؤسسی متخصص کتلی دی .

۳ - د کرهڼی دوزارت دوهم پنځکلن پلان ددغه وزارت د پلان د کمېټې ترلارښوونی لاندی دی ، چه وروسته به د کتنی ، تحلیل او نظرئي ور کولودپاره دپلان وزارت ته راټول شی .

٤ - دییلاقی او رتی فارم د کرهڼی مرکز ، داوبو اوخاوری دمنابعو دسروې دپروژودپرمختګ د اداری او کنترول دوظیفو په باب چه دملګرو ملتو دمؤسسی او د کرهڼو د وزارت ترمنځ تړون شوی دی اودپلان څانګه پدغه باب مؤظفه ده اوددغه وزارت دنورو څانګو سره په خبرواترولګیاده .

۵ - دای ، سی ، اې دپروژو په مقابل دافغانستان دحقیقی لګښتونو دجدول دتیارولو په باب اقدامات کوی(د۱۹۵۵ کال په سر کی د کرهنی دوزارت دیلو بیلو څانګو سره منځ ته راغلی دی).

۶ - د کرهنی دوه کلن پلان چه دو زیرانو عالی مجلس منظور کړی هغو څانګو ته داستفا دی دپاره لیږل شو چه د کرهنی دانکشافی پلان په چارو کښی تماس لری چه دپنځم کال په پروګرام کښی استفاده ځنی و کړی .

داحصائې څانګه :

۱ - دولایتونو ، اعلی حکومتونو ، لویو اومحلی حکومتونودتولو مرکزو څخه د کرهنی نر خونه راغونه شوی دی .

۲ - دپنبې داتحادیه شرکت څخه د کرل شویو مځکودپنبې دحاصلاتو داحصائې اوویشل شویو پنبه دانو تقاوی پیسود ۳۸ کال له سرشخه د۳۸ کال تر پایه پوری راغونډی شوی او ګراف ئی کښل شوی دی .

۳ - دغه څانګی دصناعتی شرکت ، دماشینکارا نودشرکت ، دامین شرکت ، لمنه شرکت اودسخی دماشینکارانو له شرکتسره خبری اتری کړی اوځو چه ممکنه وه مربوطی احصائې ئی راغونډی کړی دی .

۴ - دجغندرو تر کښت لاندی زراعتی مځکودجغندرو اوبوړې دحاصلاتو ، دجغندر اوقندی مواد ودفیصدی جغند ر دیوتن نر خ ، دفابریکې دظرفیت او دفابریکنی دګرز یدو دورځود شمیر په باب ئې دبغلان دقندجوړولودشرکت سره مکاتبه کړې او دډغه شرکت له پرانستلو څخه تر ۱۳۳۸ کال پوری ئی احصائیه ر اغونډه شوی ده .

۵ - دننګرهار دولایت دقندجوړولودشرکت څخه هم پدې باب احصائې غونډی شوی دی .

۶ - دتولو لایتونو ، اعلی حکومتونو اودمالیې دوزارت درعیتی اوحکومتی (للمی اواوی) زراعتی مځکو داحصائې په باب معلومات وغوښتل شوه چه دهری سیمی داملاکو احصائیه تیاره او ګراف ئی کښل شوی دی.

۷ - د۳۷ کال له سرشخه تر ۱۳۳۸ کال پوری دتجارت دوزارت څخه دمیوو ، قره قلی پوستکو ، پنبې ، وړیو اونورو په څیر د کرهنی مهمو پیدا وارو اوصا دراتو احصائیه راغونډه شوېده .

۸ - دغه څانګه دولایتونو ، اعلی حکومتونو اوملکی هوائی ریاست سره په تماس کی ده اود(۱۹۵۷) او (۱۹۵۸) کلونو او د (۱۹۵۹) دنیمی کال دهوا دحالاتو مربوطه احصائیه غونډه شوې ده .

۹ - د کرهنی داحصائې د راغونډو لو دپاره داحصائې کورس و پرانستل شو .

۱۰ ـ د کرهنی دسرشماری په باب ئی اقدامات کړی چه د (۱۹٦۰) دنړی په پیرو هیوادو کښی کپښی او خپل نماینده ئی دنژ دې ختیځ دمنطقوی کرهنی دسرشماری کنفرانس ته ولیږه چه ددغه کنفرانس او دنړی د کرهنی او خوراکی موادو دموسسې پاملرنه ئې زموږ د هیواد لازمو مرستو ته راواړوله .

۱۱ ـ څه موده مخکی د پلان دوزارت په لارښوونه ، د کرهنی او نفوسو گډه سرشماری په تجربوی ډول په ده خدای داد کښی وشوه ، چه په هغه کښی د دغی څانگی مامورینو ، دپلان متخصصینو او د احصائې د کورس زده کوونکو گډون کړی وُ .

۱۲ ـ د کرهنی د سرشماری د زیاتی کښنی د پاره په ځینو دوستو هیوادو ،او د لیری او نژدې ختیځ په ځینو هیوادو کښی د افغانستان دشاهی حکومت لو یو سفارتونو ته لیکونه ور لیږل شوی چه د دغو هیوادو د ۱۹۵۰ او ۱۹٦۰ کلونو د کرهنی دسرشماری د قوانینو د پروگرام په باب معلومات را کړی . چه د هغو د تجربو له مخی د کرهنی د سرشماری یوښه پروگرام تیاراو مربوطو مقاماتوته وسپارل شی .

۱۳ ـ د کرهنی دسرشماری دبریالی اجرا آ تو لپاره د احصائیې د متخصصینو دکتنی نه وروسته دې نتیجې ته ورسیدو چه کلی د کرهنی د سرشماری د چوکاټ او واحد په حیث وټاکو ، پدې ډول موافقه وشوه چه د ډیرو بر خو څخه د ولایتونو او اعلی حکومتونو د کلیولست راغونډه کړو .

۱٤ ـ د ځنگلونو ، ورشوگانو او بنونو د احصائیې غونډول جاری دی او یوه برخه ئی راغونډه شوې ده .

ب ـ اقتصادی مدیریت :

۱ ـ د کرهنی دبانک د کرهنی دوسایلو او موادو په باب لارښوونه کوی .

۲ ـ د کرهنی د کو پراتیفونو قوانینو او نظامنامې د کرهنی د اقتصاد د متخصصینو او د دغه مدیریت دمؤظفو مامورینو تر مطالعې او کتنی لاندی دی .

۳ ـ دغه څانگه د کرهنی دوسایلو ، دواگانو او ضروری شیانو د بیو په باب په کابل کښی دخارجی مؤسسو سره په خبرواترولگیاده .

٤ ـ د کرهنی دډیپو گانو د کورس د پرانستلو په باب ئی اقدامات د وام لری . د علمی ټولنو دپرانیستلو په باب اوس د کرهنی د بانک اقدامات جاری دی ، او پدغه باره کښی زیار ایستل کیږی اوهم د کرهنی وزارت دقوانینو مدیریت د کرهنی دټولنو اودغرودتا کلواوځینی نورو

موادو په باب په اقداماتو پیل کړی چه اقتصادی مدیریت د غه مو ضوع ته خاصه پاملر نه لری .

د او بواوخا ورولوی مدیریت :

دغه مدیریت نوی پرانستل شوی او په لاندی دوو څانګو کښی خپلی ورسپارل شوی چاری اجرا کوی:

۱ ـ د آبیاری مدیریت .

۲ د مځکی مدیریت .

۱ـ د قطغن آبیاری :

پدې مدیریت پوری د اجمیر اوارچې دویالو پروژه اود ځئینو نو روڼایو دسروې چاری اړه لری، چه دسروې چاری دیو نو دمتخصص پواسطه او د اجمیر ا و ارچې عمرانی چار ی د یوې اداری دستګاه (دپروژو آمریت) له خوا اداره کیږی .

لومړی د اجمیر پروژه :



ښاغلی صدر اعظم په بغلا ن کښی د آ بیاری دپروژی د کتنی په وخت کښی

ځکه چه په بغلان کښی د قندجو رولو یوه فابریکه شته اودفابریکی لومړی مواد (جغندر) د بغلان په سیمه کښی کرل کیږ ی اودغی سیمی ته د اجمیر ویاله او به ور کوی او پردغی سیمی باندې

هر کله سیلا ؤراځی اود آبیاری له مخی فنی اصلاحات غواړی نود کرهڼی وزارت د (اف،اې،او) دمتخصصینو په واسطه دغه ویاله سروې کړې اودمتخصصینودنظر یونه وروسته ئی د هغه په سمون او اساسی ترمیم کښی اقدام و کړ ، چه تراوسه پوری ددغی ویالی دعمرانی چارو زیاته بر خه پای ته رسیدلی او ورسته دفن له مخی دهغو دویش او ود انۍ کارشروع کیږی ،په دغو لاندی ځایو کښی دتعمیراتو له مخی اجرا آت شوی دی:

۱ - دعتیق خان دسیل مجراچه دعتیق د پله په نامه یادیږی پوخ شوی او کارئی پای ته رسیدلی دی

۲ - دعیتق خان دبریښنادبندپه برخه کښی اساسی دسیل مجرا جوړه شوی ده .

۳ - د کا نال اویادعتیق خان دبریښناد پرچاوې پراخېده د (۲) متروپسور او (۱۵۰۰) مترو اوږد والی په اندازه بشپړه شوی ده .

٤ - په تورانی کښی هم یو اساسی دسیل مجرا په اساسی ډول پخه شوی ده .

٥ - دیوه مترپه قطر دوچی ویالی سیفون دسمینټوڅخه جوړ شوی دی .

٦ - دحسن تال دسیفون کارپه سلو کښی (٦۰) پای ته رسیدلی دی .

دارچې ویاله:

داویاله چه څو کاله مخکښی کیند لی شوې وه ، ځکه چه په فنی ډول نه وه جوړه شوې ، اوبر سپره پردې دویالی سربند د کو کچی پرسیند پروت دی ، د کو کچی دسیند دمجر ا اوښتلو له کبله خطر ځنی متصور ؤ ، دمخه تر دې چه کوم خطرورځنی پېښ شی ، دمتخصصینو په نظریه دهغی دسر وې کار شرر ع شو ، هر کله چه دو یالی سر بند ټینګ شی ، دو یالی په اساسی اصلا حاتو ، دحقابی اودهغو ویشلو ته به پاملرنه وشی .

دالچین دښته چه ساحه ئی تقر یباً (۱٤) زره جریبه مځکه ده ، اوپه آینده کښی به دبمبې یاو یالی په واسطه او به شی ، دهغې دسروې کارپای ته رسید لی دی .

ننګر ها ر :

دننګر هارپه ولایت کښی چه دهیو اد یوه حا صلخیزه سیمه ده د کریم ویا لې ، دګمبیر ی او عبدا لخیلو دښتوته د کرهڼی دوز ارت پاملرنه اړول شوی ، اوهم د کر هڼی دپر مختګ اود خلکود بهبود دپاره تصمیم ونیول شو چه په کټو از او غزنی کښی سل دانی بمبې کښېنول شی ددې مقصددپاره مربوط انجنیران مؤ ظف شول ، چه په دغو ځایو کښی فنی کتنی و کړ ی او خپلی نظرئې مربوط مقام ته وسپاری ، ددغوځایو کتنه پای ته رسیدلی ، رپوټ ئی مربوط مقام ته سپا رل شوی اوتیار دی .

دمزار شریف ، ننګرهار اوقطغن ولایتو نوته د آبیاری مامورین ولیږل شوه چه په اساسی پول ددغو ځایود آبیاری چاری و ګوری اوخپله نظریه ځرګنده کړی .

دمځکو مدیریت:

دیوې وچی مځکی دانکشاف لپاره لومړی پکاردی چه دهغې خاوری دخاصیت اوعضوی ترکیباتو لهمخی مطالعه او کتنه وشی ،اوبل دالازمه ده چه د کرهنې دمځکو دخاوری تجزیه وشی چه دتجزیې نه وروسته معلومات لاس ته راغلی اود کیمیاوی پارو په واسطه دهغې په اصلاح اوتقویه کښی اقدام کیږی.

د کرهنې وزارت ددغه مدیریت په جوړیدو،دفنی پرسونل اودلابراتوار دلوازمو په تهیه کولوسره دهغه مربوط لابراتوارهم تقویه کړی چه پخپل مقصد کښی بریالی شی.

دقطغن، بدخشان،قره باغ، ګلبهار اوننګرهار په بیلو بیلو ځایو کښی خاوری تجزیه شوی دی اوهم د ګمبیری اوالچین ددښتو څخه دخاور وراوړلو دپاره یوهیئت لیږل شوی اوپه نظر کښی دی چه دغزنی ، کټوازاودنورو ولایتونو خاوری راوړل شوی اوتجربې لاندی ونیول شوې،په عین حال کښی دلابراتواراو دمځکودتجربو ځانګی دبیلو بیلو کښتونو دپاره کیمیاوی پارو مطالعه او کنټلی دی.

ددغی تجربې مقصدهر کښت ته دپاروددولونو اواندازې ځرګندولؤ، چه په راتلونکی وخت کښی مربوطو مقاماتو ته لارښوونی وشی چه څه ډول پارو افغانستان ته راوړی او کرونکوته وویشل شی.

د قوانینو دتدوین لوی مدیریت :

کهدنورو هیواد واداری تشکیلات وګورولیدل کیږی څه برسیره په پارلمان،ملی شورا،داجرائیه قوې په تشکیل کښی دقوانینو دتدقیق اوتدوین په نامه ځینی ځانګی شته چه دلومړیو قانونی پروژو په جوړولو کښی اقدام اودپارلمان سره مرسته کوی،ددغه مرام له مخی د کرهنې په وزارت کښی دقوانینو مدیریت د کرهنې په بیلو بیلو ساحو کښی دقانونی پروژودتدوین اوتدقیق لپاره جوړ اوپکارئی پیلو کړچه تراوسه پوری ئی لاندی پروژې تدوین کړی اوځینی نوری ئې دقانونی مراحلودتپرولو دپاره لوړو مقاماتو ته سپارل شوی دی اوځینی نوری به ئی دقانونی مراحلو دتپرو لونه وروسته پارلمان ته وړاندی شی.

۱ـ د کرهنې دجرګودپروژې قانون.

۲ـ د نما یند ګانو دټاکلود تعلیماتنامې پروژه.

۳ـ دجرګودداخلی دندو تعلیماتنامه.

٤ـ داجاره داری دقانون پروژه.

۵- د کښت دپروژې قانون.

٦- دا بیاری دپروژی قانون

هغه پروژی چه اوس ترتدوین لاندی دی:

دځنګلونو دقانون پروژه

دنهالګیو ایښودلو دقانون پروژه

دبیطارۍ دقانون پروژه .

دباغوانۍ دقانون پروژه

دقرنطین پروژه

دځنګلو داورشو ګانو مدیریت

الف- مرکز :

تیر کال په پسرلی کښی دپغمان دنهالګیو له ځنګله څخه (۷۰۰۰) نهالګی په مصنوعی ځنګلونوا وښونو کښی دایښودلو دپاره ویشل شوی دی دځنګلی ونو ۵۰۰ کیلو ګرامه تخم چه دخارج څخه راغوښتل شوی ؤ په دعه ځنګله کښی کرل شوی دلمنزو، ناجواودا کاسۍ (۵۰) سیره تخم په دغه ځای کښی و کرل شی چه یو ډول استرلیائی ناجو، اتلانتیکی لمنز، اورورینکا سروی اوروسۍ سروی اوولی ښه نتیجه ور کړیده

دپغمان په ځنګله کښی درې جریبه مځکه دخدنګ اوپنجه چنار قلمونه ایښودل شوی دی .

دقرغی دغونډۍ یوه برخه په مصنوعی ځنګله تبدیله شویده او په هغی کی (٦۰۰۰۰) بیل بیل نهالګی ایښودل شویدی .

داعلیحضرت شهید دمقبری دغونډۍ یوه برخه په مصنوعی ځنګله اوښتی ده او ٦۰۰۰ بیل بیل نهالګی په هغه کښی ایښودل شویدی.

دپل چرخی اوتنګ غارودغونډۍ یوه برخه په مصنوعی ځنګله اوښتی ده اوهم دسرک په دواړو خواونهالګی ایښودل شویدی چه ټوله ۷۲۵٤ نهالګی کیږی

دبامیانو دحکومت دطوپچی، جملش اوغندك په برخه کښی ۵۱ جریبه اوڅلور بسوی شاړه مځکه مصنوعی ځنګله په ډول اوښتی ده .

ب : ځنګلونه : -

دپکتیا اوننګرهار دولایتو دځنګلو دلیدو دپاره داخلی اوخارجی متخصصین استول شوی دی چه دهغوی دنظریی له مخی د کرهنی دوزارت دافغانستان د ځنګلو د آینده خط مشی

یو کروندکی په زاړه طرز د یوې کولوپه حال کښې



د کـابل د ښـکلي ښاريوه برخه

اودمندهر ډ ځانګې د ځنګلو د ګټې اخستلو اودنورستان د ځنګلو د ساتنې په اړه تصمیمونه نیو لی دی.

د ځنګلو تجربه او آزموینې چه آیا په آینده کښې به دهغو ، نه پرې کول نتیجه ور کړي او په نوعیت کښې به ئې کوم تغیر پیښ شي که نه د خوست ولوي حکومت په یوه برخه کښې ځنګل پراېښودل شویدی دسبز کال پیوند شو یوزیتونو نتیجه ور کړې ده ولیدهشي چه په آینده کښې به خرنګه قطعي نتیجه ور کړي اوهم دارنګه ۱۹۵۰ دزیتون ونې پیوند شوی دی ،

د ځانګې دمندهر په ځنګلو کښې هم یوه برخه د ځنګلي مځکې د ورو شو ګانو د آزویښې د پاره چمتو شویدی .

او هم په بیلو بیلو ځایو کښې په خپله د ځنګله امنز نها لګی په لازمو شرایطو سره کښل شوی چه دهغو نتیجه هم د ډاډ وړه ، په میمنه کښې دلیلی د دښتی یوه برخه د ورشو د پاره په آزمویښتی پول جوړه شو یده چه په آینده کښې به ئې نتیجه و کتل شي ، د افغانستان د ټولو ځنګلي و نود کلکسیونو نمونه راغونده شو ی او او س د ځنګلو په مو ز یم کښې د ټولود استفادې د پاره ایښودل شوې ده

د اعلیحضرت شهید د مقبرې غونډۍ :

۱ - د مقبرې پرغونډۍ باندې د ځنګلي و نودا و به کیلو د پاره د شپږ سو و مترو په اوږدوالي نل غځول شوی دی.

۲ - د دوهم حوض له برخې څخه د اعلیحضرت شهید تر مقبرې پورې د نیم مترژور والی او اته سوو مترو په اوږدوالي نل غځول شوی دی .

۳ - د مقبرې پرغونډۍ چه د غازي ستوډیو له یوې برخې څخه د اعلیحضرت شهید مقبرې تر سړک پورې د یومتر لوړ و الی یونیم متر پسور او د ۴۰۰ متروپه اږ دوالی یو وات د نها لګیو ایښودلو د پاره تیار شویدی .

۴ - د چمن د نندارتون په لوید یځه برخه کښې د سړک پر د واړو خواو باندې د زرغونهالګی ایښودل شوی دی .

۵ - د حضوري چمن د سړک پر د واړو خوا پنځه زره نهالګی ایښودل شویدی

د حضوري چمن د نندارتون ترشا مځکې د ترا کتو ر په واسطه هوارې شوې او په راتلونکی کال کښې د نهالګیو د ایښودلو د پاره چمتو دی .

۷ - د حضوري چمن د مځکې ځینې برخې چه خرابې شوې وې بیرته ترمیم شوی دی.

ب : د ډبل چرخي ځنګل :

۱ - د حوض په دوهمه برخه کښې د یو د سړک کښل .

۲ـ دلمړی حوض اودوهم حوض ترمنځ د کوچنیو ویالو کښل اودژورو ځایو کیندل چه په راتلونکی و خت کښی دنیالګیو ،دایښودلو دپاره دهغه څخه استفاده وشی .

ج :ددهدانا،دهمرادخان او دارالفنون ځنګلونه:ـ

ددهدانا، دهمرادخان اودارالفنون په ځنګلو کښی پنځلس څاګانی کښل شویدی .

اودونوبلګونه راتول شوی اود کمپوست(انبار) دتهیه کولو دپاره په څاګانو کښی اچول شویدی.

۲ - ددا رالفنون ځنګل چه یوسلوپنځوس جریبه مځکه ده جوړ پکی کښل شوی او تقریبا په دووجر یبو مځکو کښی نهالګی ایښودل شویدی .

۳ - ددهدانا مځکه چه دیرش جریبه دهجوړ پکښی کښل شویدی .

٤ - ددهمراد خان په ځنګله کښی چه پنځلس جریبه مځکه ده جوړ پکښی کښل شوی او نهالګی ایښودل شویدی .

٥ - دګذر ګاه د ځنګله دجوړ کښلو چاری چه مځکه ئی پنځلس جریبه ده پای ته رسیدلی دی.

٦ ـ ددارالفنون له ځنګله څخه یوز ردانی نهالګی دپل چرخی پرغونډی باندی دایښو دلو دپاره وړل شویدی .

۷ ـ دپغمان او قرغی دغونډی نهالخانی:

۱ - پنځه جریبه مځکه هواره شوی اودخارجی تخمونو د کرلو دپاره چمتو شویده .

۲ - دقرغی دغونډی په لمن کښی په سړک پوری نښتې مځکه چه تولهورانه اوخرابه وه نوی واتونه پکښی جوړ شوی اوونی کښښول شوي .

ه : دخیرخانی کوتل:

۱ - ویالی پکی تیاری شوی اوپه څنګ کښی ئی اته زره نهالګی ایښودل شویدی .

۲ - دتانې په لمړی برخه کښی دځلورو زرو نهالګیو د ایښودلو غوچونه تیار شویدی د(سبز کال په پسرلی کښی) دونو ییل ییل ډولونه لکه ارغوان ، ناجو، اکاسی ، بادام اونوری ایښودل شویدی اوهمدغه رنګه دنومورې کوتل دسړک پر دواړو خواودونو ناغی دبګرام ترهوائی پګر پوری تیاری او کمبود نهالګی ئی تکمیل شویدی .

دامتحانی سرویس لهمخی دځنګلودساتنی دپاره دامتحانی پروژې په حیث دهر اته پسته لق کښی اقدامات شویدی .

دداخلی اوخارجی متخصصینو دتقدیم شوی رپوټ لهمخی دمندهرد ځنګلو دعا دی نارو غیو په

ACKU

هکله مقدمات په نظر کښې نیول شوی اودمندهرد ځنګله دسر وی په باره کښې مقدماتی اجراآت شویدی .

د ځنګلونوجوړول

پل چرخی :-

دتنګ غارو پرغونده یودوه زره پنځه سوه غوچې کیندل شویدی دغونډې اوسپ ک په دواړوخواؤ له پل چرخی څخه بیاد تنګ غارو ترمخنې برخی پوری یوزرو اته سوه بیل بیل نهالګی اینبودل شویدی .

داعلیحضرت شهید د مقبری پرغونډې د کانتور کرښې تکمیل شوی او پنځه سوه غوچې هلته کینل شوی اونهالګی پکښې اینبودل شویدی اودهغو ټولو ونو پوچې شویده .

دپغمان او دقرغی دغونډې نهالځی :

د نهالګیوداوبولود پاره ځوحوض دقرغې پرغونډې جوړشوی او ددغی غونډې د کانتور کرښې بشپړشوی او نهالګی اینبودل شویدی.

(۱۱۸٦۰)غوچونه پکی ښندل شویدی اوبیلی بیلی ونی لکه اکاسی، ارغوان ، توت،زردالو،بادام ،ناجو ،دغره تا ډ تنګ غارواوپل چرخی په مصنوعی ځنګله کښې په تنګ غارو کښې داوبومخزن چه د کرهنې دپاره پکار اچول شوی دی اینبودل شویدی .

هغه مځکه چه دمخه ونی پکښې اینبودل شوی وې په پل چرخی اوتنګ غارو کښې په (٤٠) جریبو کښې یوم وهل شوی اودری زره دانې دولی قلمو نه په تنګ غارو کښې دننه درودپرغاړو اینبودل شویدی .

د مرنجان په غونډې یولوې سړک چه یومتر پسوراو پنځه سوه متره اږدوالی لری جوړشوی ناجواود یرش زره هراتې ولی پکښې اینبودل شویدی .

دقرغی دغونډۍ دلمنی دهواریدو کارچه اوه سوه متره دی بشپړشوی اونهالگی پکښی ایښودل شویدی .

ساختمانی چاری

د کرهڼی وزارت د کرهڼی، مالداری، اوداو بورسولودسیستم اونهالگیو ایښودلودانکشافی پلان دبشپړ یدو دپاره ځینی عصری ودا نیوته اړتیاحس کړه اوله دې کبله ئې دتعمیراتو مدیریت جوړ کړ.

دغه لاندی ودانۍ بشپړی شوی اومربوطی څانگی استفاده ځنی کوی :

الف ـ دوزارت په مرکز کښی دنسل اخستلو ودانۍ

۱ـ دمصنوعی القاح یوپوړه ودانۍ چه دهغه کارپه سلو کښی (۹۰) سرته رسیدلی دی

۲ ـ دوترنری دښوونځی ودانۍ چه دراتلونکی کال په پسرلی کښی به ئی کارپای ته ورسیږی اواوس ئی په سلو کښی تقریباً (۸۰) کارخلاص شوی دی .

۳ـ دمصنوعی القاح دوه پوړه ودانۍ چه دراتلونکی کال په پای کښی به ئی کارپای ته ورسیږی

٤ ـ دآسانودطبیلی ودانۍ چه په سلو کښی ئی (۹۰) کار تمام شوی دی

٥ ـ د پسونو دروزنی ځای چه په سلو کښی ئی (۹۰) کارخلاص شوی دی .

٦ ـ دسویاتو دروزنی مرکزچه کارئی بیخی پای ته رسیدلی دی

۷ ـ داوبورسولودماشین دوی کوټی داوبومخزن ددوودستگاوسره چه کارئی پای ته رسیدلی دی.

۸ ـ عصری تشنابونه چه په سلو کښی (۹۰) کارتمام شوی دی

ب ـ متفرقه ودانۍ :

۱ ـ دترانسپورټ گاراجونه چه دراتلونکی کال په پسرلی کښی به ئی کارپای ته ورسیږی

۲ـ دمامورینو دڅانگی یوعصری مطبخ چه په سلو کښی ئی (۷۰) کارپای ته رسیدلی دی او برسېره پردی پخپله ددغه وزارت ځینی کوټې اوودانۍ هم رنگ اوترمیم شوی دی

ج ـ د کرهڼی دوزارت دښار دمرکزودانۍ.

په گلباغ کښی :

۱ـ دوربښمو دچنجیو ودانۍ چه کارئی بشپړشوی دی .

۲ـ دمامورینوداستو گنځی ودانۍ .

۳ـ دشاتود مچیو کورونه چه دراتلونکی کال په پسرلی کښی به ئی کاربشپړشی.

٤ ـ میلمستو ن چه کارئی پەسلو کښی (٦٠)پای ته رسید لی د ی .

باغ بالا : ـ

۱ ـ داوبود یوځاه سره دمحافظې اوماشین‌دخونو جوړیده چه‌دباغ‌بالاپرغونه‌ی‌ـ پەشمالی ختیځه خوا کښی ده ، او کار ئی په سلو کښی (٦٠) پای ته رسید لی‌دی .

۲ـ دذخیرې‌ددووحوضوجوړیده‌چه کارئی پەسلو کښی(٥٠) پای‌ته رسیدلی دی .

داعلیحضرت‌شهید مقبره :

۱ ـ دغونډی‌ـ دنو ی ځنګله دمحا فظینو خونه چه‌دهغه کار بشپړ شو یدی .

۲ ـ دغونډی‌ـ پرسر دونود اوبو رسو لو دپاره دیوې دخپرې دحو ض جوړول چه دهغه کار بشپړشویدی .

هغه‌شات‌چه د کرهنې دوزارت دمچیو دروزنې له‌مرکزڅخه‌لاس ته‌راغلی‌دی

دعلی آباد فارم

دزراعتی تتبعا تو پر وژه

هغه‌وخت‌چه‌پوا کتر چارلس‌مك اینلی‌د۱۹۵۹ ددسمبرپراو ومه نیټه کابل ته‌را ورسید ده بیا

پخوانی‌ـ تجربې او تتبعات و کړل‌اوپه‌خپلوعملی لیار و ئی و کو لای شوچه څنه زمینه برابره کړي څرنګه چه دسبز کال‌دجشن‌دپاره‌ئی‌نوی‌دیوالی گراف جوړ کړ چه د ځلو رو کا لو د مخه دحاصلاتودنتایجو(دډو لډول‌حبوباتو او نورو تجربه‌شوونباتانو)په ښودلو کښی ګټور ثا بت شو .

دسابه اوحبوباتو دتخم په‌اصلا ح کولو کښی فعا لیت : ـ

۱ ـ هغه تخمونه چه‌نه‌پیژندل کیده لەمنځه یوو ړل شو ه .

۲ ـ دهغو سابو تخمونه چه د کر هنې پەوزارت کښی تراوه کالەزیات پاته شو ی وه محو اوله منځه یو وړه شول .

۳ ـ دنباتاتو بیل‌بیل تخمونه چه ترډزې کاله ژوند پاته شوی وه صرف نظر اوپه عوض کښتی ئی ټول تخمونه نوی کړه شول .

اوهم د جوارو، شپیشتو او نو یټا دغه صلاحیت ددرا غونډولو ډیاره پوره وخت وتا کل شو او دمخکنی دیوی اوشد یلوی مراقبت او کتنه د ډ می‌په‌وخت کښتی وشوه‌او دامر یکائی نبر دد غنمو کښت د کیمیاوی کاروډنره تجربه شو .

ډمنی غنم چه‌به (۱۳۳۸ - ۱۳۳۹) کال کښتی‌په کا بل کښتی وویشل شوه . دالاندی ځلور ډولونه‌ی په ۳۸ کال تجربه‌شوه اوپه‌دغه کال کښتی‌د غنمود سرخی ناووغی ډیره سخته وه .

۱ ـ نبر دغنم ـ په‌یوه ایکړ کښتی د ۱۹ څخه بیاتر ۲۷ بشلو پوری . یوبشل غنم شپیته پونډه ټول لری اوپوا یکړدوه‌جو یه‌وه .

۲ ـ ډلو گردوسیمی غنم‌په‌یوه ایکړ کښتی :۵۰ / ۲۱ بشله

۳ ـ قندهاری سرخچه غنم په‌یوه ایکړ کښتی ۹۳ / ۲۰

٤ ـ اسپند یار غنم ۳٤ / ۱۹ بشله په‌یوه‌ا یکړ کښتی

چه‌پرته له امریکائی نبرد غنم څخه نورټول داخلی او مورډ تا کلی وه په (۱۳۳۹) کښتی چه دسرخی ناروغی نسبتاًلږ وه دغه لاندنی غنم ترتجر بی لاندی ونیول شوه

۱ ـ مصری غنم ۷۲ / ۳۳ بشله په‌یوه ایکړ کښتی

۲ ـ دعلا والدین غنم ۸۸ / ۳۲ بشله په یوه ایکړ کښتی

۳ ـ نبرد غنم ۲۸ / ۳۲ بشله په یوه ایکړ کښتی

٤ ـ بلیک هل غنم (تور) ٦۲ / ۳۱ بشله په‌یوه ایکړ کښتی

چه لومړی درې ډوله وځنی‌وه‌اوډلمړی ځل دپاره ترتجربې‌لاندی‌ونیول شوه .

دژ منی بیلوبیلو غنمو لنډ‌پوټ‌چه دمخه تیار شوی و ۷٦ ډ و لو ته ر سیدی او ژ مو ز په‌پروګرام کښتی ځلور کاله مخکنی داخل و چه دهغی جملې څخه ۲۱ ډوله ئی‌به۱۳۳۹ کښتی ترتجربی لاندی نیول شوی اوپه وروسته کلو کښتی هم‌دهغه په‌باره کښتی‌نظریات اومعلومات‌شته.

دهغو غنمو ډولونه چه‌په اوسط ډول ئی حاصل ورکړی دی :

لمبر	ډول	دځلورو کلونو په موده کښتی منځنی حاصل (په بشل کښتی‌یوایکړ)
۱ ـ	نبرد	۳٤ / ۷٤
۲ ـ	چینائی	۲۸ / ۰۱
۳ ـ	قندهاری سرخچه	۲٦ / ۱۸
٤ ـ	سیین‌چک‌دمزارشریف	۲۲ / ۰۷

دیادولو وړ نکته داده چه نبرد غنم هیڅ وخت د دومرو کلونو په تجربو کښې تر څلرمی درجی کښته شوی ندی او لږ حاصل ئی ندی ور کړی .

ب- د پسرلی غنم (۱۳۳۸) :

د پسرلی د کرل شویو او تجربه شویو غنمو شپږ ډولونه د حاصلاتو له مخی دادی :

شمېر	ډول	د حاصلاتو اندازه د بشل له مخی په یوه ایکر کښی
۱	مایده غنم	۲۷/۸۹
۲-	لی غنم	۲۰/۴۵
۳-	پنجابی غنم	۲۲/۸۱
٤-	کن لن غنم	۲۲/۵۳
٥-	پایلوت غنم	۲۲/٦۷
٦-	وطنی غنم	۲۰/۸۷

تجربې داښکاره کړیده چه د دغو وارد شویو غنمو ډول نسبت وطنی ډول ته مثبته نتیجه ور کړیده کله چه د وطنی ډول ځینی بی سوغی (مویك) وی نو په لږه موده کښی د پرند گانو تر حملی لاندی د غنمو خوشې خالی او دانې ئی پرند گان خوری.

ج- اوربشی :

سږ کال په کابل کښی شپاړس ډوله اوربشی تر کتنی او تجربی لاندی نیول شوی چه د حاصل له مخی ئې وطنی ډول د ډاډ وړ ندی او د خارجی ډولو په راوړو کښی به اقدام وشی.

شمېر	ډول	د حاصلاتو اندازه د بشل له مخی په یوه ایکر کښی
۱-	امریکائی فرانیتز اوربشی	۵۱/۱۲
۲-	امریکائی هنچن اوربشی	۳۸/۳
۳-	وطنی اوربشی	۳۷/٦۵
٤-	امریکائی هلیند اوربشی	۳٦/۹

نوټ- د اوربشو یو بشل د ٤۸ پونډو سره برابر دی.

په تیرو کلو کښی ۲۵ ډوله اوربشی تر تجربې لاندی وې. اوس اوه ډوله تر تجربې لاندی دی هغه ډولونه چه ډیر حاصل ور کوی :.

ډول د حاصل اندازه و بشل له مخې یوه ایکر کښې د کاو تو اندازه چه ترتجربې لاندې وه

هلیند	۴۳ / ۳	٤
فرانتیر	٦۰ / ٥	٤
هنچن	۳۹ / ۸	٤
آتیس	۳۷ / ۱	٤
تیرباې	۳٦ / ٥	۳
تاکل شوی وطنی اور بشی	۳۲ / ٤	۲
بې له تاکلونه وطنی اوز بشی	۳۱ / ۸	٤

ج : شپشتی : ـ دالاندې جدول د څورالس ډولو شپشتو د څلورو کالو د تجربې نتیجه ښکاره کوی

ډول	۱۳۳٥	۱۳۳٦	۱۳۳۷	۱۳۳۸	د حاصل اندازه له بشل مخې په یوه ایکر کښې
	درې لوه	٥ لوه	٤ لوه	۳ لوه	
بفیلو	٤۰ / ۳	٥۲ / ۹	۱۳ / ۷	۱۳ / ۷	۳۹ / ٤ ۱۱ / ٦
اتلانتیك	۳٦ / ۳	۳۱ / ۸	۹۱ / ۷	۸٦ / ٤	۱۱ / ٦
میکربتیك	۱٦ / ۳	۱ / ۸	٦۳ / ۷	٤۰ / ٤	۸ / ٥
اډانجر	۷۳ / ۲	۳۷ / ۷	٦۷ / ۷	۲۳ / ٥	٦۰ / ٥
وطنی	۷٥ / ۲	۷٤ / ۷	۲۹ / ۷	٥۲ / ٤	٥٥ / ٥
ورنل	٥٤ / ۲	٥۳ / ۸	۲۳ / ٦	٤٥ / ٤	٤٦ / ٥
کاسك	۱۷ / ۳	٤۱ / ۷	۲٦ / ۷	۹٥ / ۳	٤٥ / ٥
درآزو کامن	٤٥ / ۳	٦٤ / ۸	۰٦ / ٦	٦٦ / ۰	٤٤ / ٥
گرم	۳ / ۳	٦٤ / ۸	٥۰ / ٦	٦ / ۳	۱ / ٥
مرك	۷۱ / ۲	٤٤ / ۷	٥۱ / ٦	۱۱ / ٤	۱۹ / ٥
هیرې پرووا ین	۱۳ / ٤	۷۱ / ۳	٦۰ / ٥	٦ / ۳	۱ / ٥
معمولی چلی	۷۱ / ۳	۳۱ / ۷	۰٦ / ٥	٥٦ / ۳	۷۸ / ٤
معمولی امریکائی	٦۷ / ۳	۲۹ / ۷	۲۷ / ٥	۸۱ / ۲	۷٦ / ٤
معمولی هندی	۲٦ / ۳	۱۹ / ٦	۰۲ / ٥	٥٤ / ۳	٦٥ / ٤

ACKU

چواری :

د جوار یو هغه ډولونه چه ډېرحاصل ئی ور کړی دی :

لمبر	ډول	دبشل له مخی په یوه ایکر کښی دحاصل اندازه
۱ -	یو - اس ۱۳ -	٦۲ / ٤۷
۲ -	فنکس	٥٦ / ٥۹
۳ -	چیو اسکا (توری)	٤٦ / ۸٤
٤ -	ر نبو	٤٦ / ۱۸
٥ -	هندی	٤۳ / ۳٤

هیبر چواری چه تخم ئی له خارج څخه راوړل شوی او شه نتیجه ئی ور کړیده

د جوار یو ډولونه چه دحیوانا تو دخوړلو دپاره استعما لیږی :

لمبر	ډول	دبشل لهمخی په یوه ایکر کښی دحاصل اندازه
۱ -	ایوامارېلو (برازیلی)	۱۳ / ۸
۲ -	هاستنگزیلو	۱۳ / ۰
۳ -	هایو	۹ / ٤

٤ – سلورمائین ۸ / ۱

٥ – یو – اصل – ۱۳ ۷ / ۹

نوټ : – یوبشل جواری د ٥٦٥ پونډ و سره مساوی دی .

لوبیا : – سبز کال لس ډوله لوبیا کرله شویده چه دهغی حاصلات څلورواره په بیلو بیلو وختونو کښی یو دبل نه وروسته راغونډ شویدی سبز کال دلو بیا حاصل نسبتاً لږ وه . د او بو لږوا لی او دچټی وښومو جود یت ددوی دلږ والی سبب گر زید لی ؤ .

په تیر کال کښی دلوبیا نتیجی :

لمبر	ډول	حاصلات د پونډ له مخی په پو ه ا یکړ کښی	حاصلات دسیر لهمخی په یوه ایکړ کښی
۱ –	ریډ مکسیکن	۵۲۱ / ۰	۱۵ / ٦
۲ –	سوتر څگری ډوله	٤۹۲	۱۵ / ۷
۳ –	سرې مکسیکن	۳۱٦	۱۳ / ۳
٤ –	نیټو	۳۸٥	۱۱ / ٥
٥ –	جی ان ۹۹	۲۹۱	۹ / ۳
٦ –	جی ان ۱٦	۲۷٤	۸ / ۷
۷ –	وطنی ۱۰	۲۱۰	٦ / ۹
۸ –	جی ان ۳٤	۱۹۰	۲ / ۲

د غلو اوحبوباتو کرل پهلاند ډول دی :

په ۱۳۳۸ کال کښی لس زره تنه تخمی غنم هیوا د ته راوړل شوی او یوشه ئی توزیع ا و وکرل شوه . د کرولو یو شه تخمی غنم چه دشوروی اتحاد څخه راغله شپږو ولایتونوتهئی (۹ ډ و له) وو ښل شوه :

۱ –	دقطغن ولایت ته څلور ډوله	۲٦۰۰	تنه
۲ –	دمزار شریف ولایت ته یو ډول	۱۵۰۰	»
۳ –	د هرات ولایت ته یو ډول	۱۵۰۰	»
٤ –	دفراه اعلی حکومت ته یو ډول	۲۰۰۰	»

ACKU

۵ - دمیمنی اعلي حکومت ته یوپول ۱۰۰۰ تنه
۶ - دشبرغان اعلی حکومت ته یوپول ۱۴۰۰ »

۲ - امریکائی نبردغنم څلویښت تنه د کابل مربوطو سیمو لکه لوګرد ،میدان،وردګ ، کوهدامن ، دهسبز ، سروبی او نورو ځایو کښې بزګرانوته وویشل شوه په دغو غنمو کښې دسرسیان مخصوصه دواچه دسیاه قاق مخه نیسی هم ګډه شوې وه .

۳ - یوتن امریکائی بقلوشپیشتی(د کابل۱۴۴)سیرهدمر کزبزګروتهتوزیع او ګړل شوید ی .

۴ - دنباتی تخمونو ویشل :

۱ - دهرات ولایت ته پنځه سیرهدناجو تخم
۲ - باغ بالا ته ۱۰ سیره » »
۳ - دپغمان نهالخی ته ۱۰ » » »
۴ - دګلباغ نهالخی ته ۵ » » »
۵ - دعلی آبادنهالخی ته ۲ » » »
۶ - دقرغی نهالخی ته ۱ » » »

۱ - دشفتالو مندکی ۸پاوه او۲ سیره دعلی آباد پهمر کزی فارم کښې
۲ - دسرخچه زردآلو مندکی ۸پاوه او۲ سیره » » » » » » »
۳ - دشلیلو مندکی۸ پاوه اویو سیر » » » » » » »
۴ - دتمصق مندکی » » » » » » » » »
۵ - دګیلاس مندکی(۲) سیره په ګندګاه کښې ګړلشویدی
۶ - یوپاو دمنو تخم دعلی آباد په فارم کښې توزیع شو یدی
۷-(۵۲)سیره دزردآلومندکی دعلی آباد ، ګندګاه اوباغبالا په فارم کښې توزیعشویدی
۸ - ۳۴ سیره دبادام مندکی » » » » » » »

دښکلوونو تخم :

۱ - (۴) سیره دارغوان تخم دمالداری انکشاف اودمیمنی اعلی حکومت تهاستول شوی دی .
۲ - ۳ سیره دلویو دانو دا کاسی تخم میمنی ته استول شوی دی
۳ - ۸ پاوهدارغوان تخم دمرکزی سیلو ریاست تهتوزیع شویدی
۴ - (۲) سیره دلویو دانو دا کاسیتخم قرغی ته ور کړ شوی دی
۵ - د کابل تخمهم د۱۳۳۹ کال پهپسرلی کښې توزیع شویدی.

د پوهنې وزارت

تشکیل

وزیر ع،ج ،س ع ډاکتر علی احمد «پوپل»

تدریسی معین ع ، ص ډاکتر محمد انس

اداری معین

ع ، ص عبد الاحمد عطائی

دفنی بوږ ډغړی

ع ،ص ، ډاکتر میر نجم الدین

انصاری

دفنی بوړ ډغړی

ع ، ص عبدالغفور برېښنا

تعلیمی مشاور

ع ، ص صدیق الله رښتین

دثانوی تدریساتو ریاست :

رئیس ع ، ص ډاکتر محمد اکرم

مشاور ع ، ص محمد اسمعیل ساعی

مرستیال

غړی

دمسلکی تدریساتو ریاست :

رئیس

دریاست مرستیال

غړی

دابتدائی تدریساتو ریاست :

رئیس

مرستیال

غړی

ددار التالیف ریاست:

رئیس

مرستیال

غړی

ع ، ج ډاکتر علی احمد پوپل

یو تن

یو تن

ع ، ص ډاکتر محمد حدر

یو تن

دوه تنه

ع ، ص محمد آصف مائل

یو تن

دوه تنه

ع ص سردار حمیدالله عنایت سراج

یو تن

څلور تنه

ACKU

دتالیف او ترجمی مدیریت:	
مدیر	یو تن
دعرفان د مجلی مدیریت	
مدیر	» »
غړی	» »
د کابل دعامی کتابخانی مدیریت	
مدیر	» »
د قرائت خانی آمر	
دتوزیع د کوتی آمر	» »
دمجلو او اطفالو د کوتی آمر	» »
د کنفرانسونو او نمایشاتو آمر	» »
دپلټنې ریاست :	
رئیس	ع ص عزیز محمد
دپلټنی ریاست مرستیال	یوتن
» » غړی	(۹) تنه

دپښتو ټولنی ریاست

رئیس	ع، ص گل پا چا (الفت)
دریاست مرستیال	یو تن
مسلکی غړی	» »
دتالیف او ترجمی مدیر	» »
دلغاتو د څانگی مدیر	» »
داد بیاتو د څانگی مدیر	» »
د کابل دمجلی مدیر	» »
د لیک او شمیر مدیر	» »
دتاریخ دټولنی ریاست :	
رئیس	ع، ص احمد علی (کهزاد)
غړی	دوه تنه

ACKU

دافغانستان دمجلی مدیر	یو تن
د آریانا دمجلی مدیر	« «
مهتمم	« «
دموزی او حفر یاتو مدیر	« «
غړی	(۱۰)تنه
دتجارتی صنایعود موسسی ریاست:	
رئیس	ع،ص عبدالرسول
داجرائیی مدیر	یوتن
دمحاسبې او کنترول مدیر	« «
فنی مدیر	« «
دخیاطۍ فنی مدیر	« «
د کاش کاری او تباشیر مدیر	« «
دپانومدیر	« «
مرستیال	« «
دسپورټ مدیر	« «
دتعمیراتومدیر	
دپوهنې دشفا خانی سرطبابت:	
« « « سرطبیب	« «
دغاښوډاکتران	دری تنه
دډاکتر مرستیال	یو تن
دا کسریزد څانګی متخصص	« «
د آریانا دایرةالمعارف د ټولنی رئیس	ع ، ص سردارمحمد منګل
غړی	(٤) تنه
د قلم مخصوص لوی مدیر	یو تن
مرستیال	« «

ACKU

دمامورینو او معلمینو لوی مدیر
دمامورینو مدیر
« معلمینو مدیر
« اساسي تعلیماتو مدیر
« اداري لوی مدیر
« جنسي « مدیر
« « « «
« نقدي « «
« انبار مدیر
« « مرستیال
« خریداري مدیر
« معاینې هیئت غړی مدیر
« تحصیلي مدیر
« بودجې مدیر
« دفتر داري مدیر
د بهرنیو اړیکو د چارو مدیر
د احصائیې مدیر
د کلوپ مدیر
د حبیبي د لیسې مدیر
« « « « مرستیال
د استقلال دلیسې مدیر
د استقلال دلیسې مرستیال
د نجات دلیسې مدیریت
آمر . . .
مرستیال
د غازي د لیسې مدیر
« « مرستیال

ACKU

د ملالۍ د لیسې مدیره	یوه تنه
مرستیا له	» »
د زرغونې د لیسې مدیره	» »
مرستیا له	» »
د نوي کابل د لیسې مدیر	یو تن
مرستیال	» »
د ښارۍ مکتبونو مدیر	» »
مرستیال	» »
د میرمنو د ابتدائي مکتبونو مدیره	یوه تنه
د بلخي رابعې د منځنۍ ښوونځي مدیر	یو تن
د مدیر مرستیال	» »
د رحمان بابا د مکتب مدیر	» »
د خوشحال خان د مکتب مدیر	» »
د شرعي علومو د مدرسې آمر	» »
د پداګوژۍ د موسسې ریاست:	
رئیس	ع،ص غلام حسن مجددي
د دار المعلمینو مدیر	یو تن
د ابن سینا لیسې مدیر	» »
د مدیر مرستیال	» »
د تجارتي لیسې مدیر	» »
» » » مرستیال	» »
د ثانوي تخنیک مدیر	» »
» » » مرستیال	» »
د کرهنې لیسې مدیر	» »
» » » مرستیال	» »
د کابل د میخانیکي ښوونځي مدیر	» »
» » » » مرستیال	» »
د صنایعو د ښوونځي مدیر	» »

ACKU

دپوهنی چاری

بتد ائی تد ر یسات :

دپوهنی وزارت دابتدائی ښوونځیو په کلا سیك او نظری پروگرامونو کښی در کله نوي کتنه کړي ، عملی اوحیا تی جنبه ئی په هغو کښی تقو یه کړې ده ، څو کا له و ړا ندی دا بتد ا ئی ښوونځیو پرو گرام د لیکلو ، سواد ، حساب او په ضروری دینی مسایلو کښی د نظری معلوماتو څخه عبارت ؤدعملی اوحیاتی چارو رعا یت لبز پکښی کېده د پلان په دوره کښی له یوې خوا دعمومی جریان له کبله په نړۍ کښی په نو یوفعالواو حیا تی ا صولو سره د پخوا نیو نظر ی او کلا سیکی اصولوتغیر له بلی خواهغو کسانوته داړتیاداحساس په نسبت چه د عملی چاروذوق او استعداد لری، څوچه په اقتصادی ، صنعتی اود کرهڼی په څانګو کښی دنوی ژوندانه د د ستګا ه پکاراچولوسره یوه مرستیا له ډله منځ ته را ولی،نودپرو گرام عملی اوحیاتی جنبه تقویه کېږی .

نودپلان په څلورم کا ل کښی دابتدائی تعلیماتوانکشاف له یوې خوا د تعلیماتوپه سسیتم کښی دلازمو اصلاحاتوپه باب ؤاودبلی خوادنویوښوونځیوپه پراختیا اوپرانستلو کښی کو ښښ و شو .

الف ـ داصلا حاتوتطبیق اودتعلیمی پرو گرام حیاتی کیدل :

کوښښ کېږی چه په ابتدائی ښوونځیو کښی تعلیمی پرو گرام دټولنی اومحیط د ژوند ا نه سره نژدی ارتباط پیدا کړی دعملی کرهڼی، آرت او لاسی چارودمحلی حر فوپه عملی کولواوښوونځیو ته دوړو کوداولیاؤ دپاملرنی اوارتباط په باره کښی توجه شوې ده.

۱- د محلی حرفو تطبیق :

ددې دپاره چه په زده کوونکو کښی حرفوی مهارتونه راویښ او د کار په و سا یطو پوه شی دتېرو کلونوپه اساس دپلان په څلرم کال کښی(۲۸) حرفې په لاندی ښوونځیو کښی شاملی شوې:

۱- دشیو کیو په ښوونځی کښی د نجارۍ حرفه

۲-دپغمان دمرکز په ښوونځی کښی دسنګ تراشۍ حرفه

۳- د قند هار دفاضل قند هاری په ښوونځی کښی د سنګ تراشی حرفه
۴- « « په مشرقی ښوونځی کښی دخیاطی (گنډ ولو) «
۵- « « په تیمورشاهی « دتر کانی (نجاری) «
۶- « « ددهخواجی « « « « «

دځارندوی د تلین له منظرو څخه

۷- دقندهار په احمد شاهی ښوونځی کښی د گنډ ولو حرفه
۸- دهرات د ولایت دغوریانو دفوشنج په ښوونځی کښی دتباشیر جوړولو «
۹- « « دسیوشان په ښوونځی کښی د تر کانی «
۱۰- دمزارشریف دبلخ دمرکز په ښوونځی کښی دتر کانی «
۱۱- « « دولت آباد « « « دغالی اودلو «
۱۲- دپکتیا دولایت دځا ځیو د مرکز په ښوونځی کښی دتر کانی «
۱۳- « « دخوست دمرکز په ښوونځی کښی داو دلو «
۱۴- دپروان داعلی حکومت دیګرام په ښوونځی کښی د گنډ ولو «
۱۵- « « « دګلبهار « « داودلو «

۱۶ - دغزنی داعلی حکومت دسلطان مسعود په‌ښوونځی کښی داودلو حرفه
۱۷ - « « « دملکه‌جهان‌دښځو په‌ښوونځی کښی د کنډ ولو «
۱۸ - دفراه ددارا آباد په ښونځی کښی دسطر نجی اودلو «
۱۹ - « دبالا بلوك « « د گلم اودلو «
۲۰ - دبدخشان‌دجرم « « « د او دلو «
۲۱ - « دمعروف « « « «
۲۲ - دمیمنی داند خوی دمرکزپه‌ښوونځی کښی‌دتر کانۍ «
۲۳ - دشبرغان دسنگ چارك « « « «
۲۴ - « «دخانقاه « « « دغالۍ اودلو «

د کرهنی په لیسه کښی دعملی تد ریس دفعا لیتونویوه نمونه

دغه رنگه د قطغن په دووښوونځیو او دننگرهار په دووښوونځیو کښی دتر کانۍ او اودلو

څلور حرفی شاملی شوی دی .

۲ - عملی کرهنه :

دعملی کر هنی او با غوانی تد ریس د ځینو ښوو نځیو په پروګرام کښی شا مل شوی دی په ۳۸ کال کښی په ډ پروښوونځیو کښی چه مځکه ئی درلوده عملی کـر هنه او با غو ا نی په زده کوونکو تطبیق شوی د کرهنی سامانونه او دخارجی سابو تخم ښوونځیو ته وویشل شـو .

۳ - دتدریس دموادو او لوازمو سمون :

دښه آموزش دپاره دتدریس زیات مواد اوو سایل پهښو ونځیو کښی پکارا چول شو ی دی ، سمعی اوبصری وسایل چه دتدریس په چارو کښی لویه برخه لری، دعکسونو،چارتو، نخشو، تعلیمی او تر بیوی فلمو اونور و څخه استفاده شوی ، دګرځنده سینما یوه د ستګاه دو لایتونو پهښوونځیو اوبله دستګاه دمر کز په ښوو نځیو کښی هر کله زده کوو نکو اوځلکوته ګټور فلمونه ښودلی دی ، دښوونی اوروزنی دموسسی په مرسته ددرس یوشمیرمرستیا ل کتابونه تدوین اوتیار شوی اودخپر یدلونه وروسته اسټنا ده ځنی شو یده .

٤ - د ښوونځی او ټولنی تر منځ رابطه زیاته شوی دوړو کو د اولیاؤ علاقه نسبت ښوونځي ، ښوونی ، اوروزنی،دښوونځی وسایلو، ودانی اوسامونونوته ورځ په ورځ زیاتیږی .

٥ - دو ړو کو د ذهنی قوی دانکشاف او حیاتی استعداد دروزلودپاره پهابتدائی ښوونځیو کښی لاسی چاری تقویه شوی زیات اجتماعی اوحیاتی معلومات زده کوونکو ته ور کول کیږی .

ب - نوی تاسیسات :

۱ - شپږ صنفی اساسی ښوونځی : دغه ښوونځی وړو کوته دضروری حیاتی اواجتماعی معلوماتو ور کولودپاره پرانستل شوی دی ، دپلان په(٤) کال کښی دافغانستان په بیلو بیلو ځایو کښی پنځوس اساسی ښوونځی جوړشوی دی .

۲ - کلیوالی ښوونځی: پههغو ځایو کښی جوړیږی چه ټولنه ئی تیت وپرك اوو ګړی ئی نسبتاً لږ اوداساسی ښوونځی تعداد ونلری . دتحصیل دوره ئی درې کاله ده ، زده کوونکی پدغه دوره کښی لیك ، لوست ،حساب ، اوضروری حیاتی اودینی معلومات اخلی ،فارغ التحصیلان ئی داساسی ښوونځی پهځلرم ټولګی کښی داخلیږی ، تیر کال(۱۰۸) کلیوالی ښوونځی دهیوادپه بیلو بیلو ځایو کښی پرانستل شوی دی .

۳ - دلویانو کور سونه :دبی سوادي سره مجادله دپوهنی دانکشافی پروژو څخه ده ، دغه فعالیت دپلان دنورو کلونو پهځیردوام درلود سره ییره پردی چه لویان (ښځی او نارینه) لیك اولوست

زده کوی دتربیوی فلمونو، عکسونو، نخشواوتبلیغی پوسټرونوښو دل په دغه پروگرام کښی داخل دی ، دغه رنگه دبخوان وبدان مجله دلویانو د کورسو زده کوونکی او بی سوادو کسانوته ویشله کیږی پدغه کال کښی (٤٠) دلویانو کورسونه دهیواد په بیلو بیلو ځایو کښی پرانستل شوی دی.

ثانوي تدریسات :

دحبیبي لیسې دفزیك په لابراتوار کښی ددغې لیسې پوټولگی زده کوونکی دعملی تدریس په حال کښی

۸- کال کښی هم دغه ریاست دنورو کلونو په څیر دانکشافی پروژو په عملی کولو کښی زیار ایستلی ، دپوهنې وزارت دنورودایرو په مرسته او دحکومت شوق له کبله ئی و کولی شوچه زیات ابتدائی ښوونځی په منځنی ښوونځی تبدیل کړی دپلان په څلرم کال کښی دغه ښوونځی په منځنی ښوونځیو اړول شوی دی :

۱- دفراه داعلی حکومت دچخانسور دلوی حکومت ښوونځی دمنځنی ښوونځی په حیث

۲ - دننگرهار دولایت درو داتو « « « « «

۳ - « « « دچغه سرای « « « « «

٤ - « « « دکامی « « « « «

۵ - دقطغن د ولایت د پلخمری دمیرمنو ښوونځی د منځنی ښوونځی په حیث
۶ - دشبرغان د اعلی حکومت د شبرغان « « « « «
۷ - میمنې « « دمیرمنوستاره « « « « «
۸ - د کابل ولایت د سرای خواجه « « « « «
د پروان د اعلی حکومت د جبل السراج « « « « «
د انکشافی پلان له مخې دغزنی دسنائی منځنی ښوونځی دلیسې په حیث لوړشوی دی .

دبیالوژی په اطاق کښې د کابل دارالمعلمین ځینې زده کوونکی

له دې کبله چه دمرکز اوولایتونو دپروګرامونو ځایونه زده کوونکو ته دلوړو تحصیلاتو چانس ورکړ شی د کابل پر لیلیه ښوونځیو سربیره په انکشافی پلان کښې دنویو پنځو لیلیو پرانستل پیش بینی شوی وه چه دوی لیلیې په ګردیز اوبغلان کښې دپلان په لومړی کال اودوی نورې ئې دپلان په څلرم کال کښې په مزارشریف او بدخشان کښې جوړې شوې بدغودوونو یو لیلیو کښې دابتدائی

د وري فارغ التحصيلانو برسېره دولايتونو دډېرو ځايو څخه د کليوالي ښوونځيو (۳۰) تنه تر(٤۰)تنو پورې يوه يوه يادوې څانګې غونډې او په څلرم ټولګي کښې د تدريس لاندې نيول شوي دي.

پدې ډول دپلان دڅلرم کال په سرته رسيدو سره ددغه رياست منځنی ښوونځی اولېسې (٤۲) بابه اودزده کوونکو شمېر ئې د (۳۰۰۰۰) متعلمينو اومتعلماتونه زيات دي، چه(۱٦) بابه دنارينو اوښځو لېسې(دوه بابه ليليه لېسې او نوري نهاري دي)۲۲ بابه دنجونو او هلکانو ښوونځی او په ولايتونو کښې(٤) بابه ليليې دي.

په۳۸تعليمي کال کښې دپلان دلومړي کال دنويو جوړشويو ښوونځيو څخه(۲۰۰) تنه دليسې او منځنی ښوونځيو فارغ التحصيلان مسلکي مؤسسو اود کابل پوهنتون ته معرفي شوي دي.

پروګرامونه:

داوسنی تعليمي کال دښځو دليسو دبيالوژي په پروګرام باندې نوې کتنه شوې هغه مسايل چه دمتعلماتو دلوړو تحصيلاتو په دوره کښې(دانساني،حيواني اونباتي فيزيولوجي په څېر) په ژوندانه کښې دهغو په درد ډېر خوړل کېږي لکه حفظ الصحه اونور په پروګرام کښې شامل اوعملي شوي دي.دغه رياست له څو کلونورا هيسې نسبتاً يو خاص پروګرام عملي کاوه چه دښوونکي دروزلو دپاره ؤ چه دښوونځيو له فارغ التحصيلاتو څخه لومړي ښوونکي مقرري کړي خو کله چه تر يوې اندازې دغه اړتياليږي شوه دولايتونو په منځنی ښوونځيو د کښې هم مير منو دډلي مخصوص ذا کادميک پروګرام تطبيق کېږي.

دثانوي تدريساتو رياست دپوهنې دمحترمې ټولنې په موافقه دښوونکو دسويې دلوړولو دپاره په قندهار اوبغلان کښې کورسونه جوړ کړي دي چه دسهار له خوا ښوونکي تدريس کوي او ماسپېښين دخپلو سويو دلوړولو دپاره پخپله په علمي اومسلکي تحصيلاتو لګيادي.

ځکه چه دمير منو وروستني اجتماعي نهضت دغې ډلې ته په پښتني ټولنه کښې دزيات فعاليت لار خلاصي کړې ده، دغه رياست دا کادميک اومنظمو تحصيلاتو په څنګ کښې په ځينو ليسو کښې دنفيسه صنايعو ،فارسي اولاتين ټايپونو آزاد کورسونه په وړيا ډول جوړ کړي دي.

ځکه چه دساينس لايق ښوونکي لېزوه دغه وزارت ديوې خوا دهغو دعلمي اوتجربوي سويې په لوړولو کښې پسله وخته کورسونه جوړ کړي اودبلې خوائي کوښښ کړي دي چه ددغو ښوونکو څخه زيات زده کوونکي ،استفاده وکړای شي ،پدغه باره کښې په ۳۸-۳۹ تعليمي کال کښې دوه تجويزونه عملي شوه ، چه يوئې دفزيک ساينس دتجربوي کورسونو جوړول دي ،دغه کورسونه دساينس دپوهنځي او ثانوي تدريساتو په مرسته په رخصتۍ کښې شروع شول.

دښو ونځیو ښوونکو اوزده کوونکو ته ئی دلابرا تورونو د آلاتو اواسبابونو د استفادې او په لابراتوارونو کښی دتجربودترتیب اوتهیه کولو په غرض دمحلی پیداوارواوموادو په استعمالولو کښی نو ی لیاری زده کړی اوهغوی دنن روځی دنویو نظریاتو سره آشنا کوی چه د ساینس په نړۍ کښی هره ورځ دپرمختګ په حال کښی د ی.

د غه کورس اوس هم دنارینو اوښځودښوونځیود کیمیا دښوونکودپاره دعملی اونظری پوستونو په غرض دښوونځیودرخصتۍ په وخت کښی دوام لری .

دوهم تجویز دادی چه دسړو ځایودرخصتۍ په وخت کښی د دغو ځایو د ساینس د ځینو ښوونکو څخه غو ښتل شوی وه چه دحق الزحمې په ډول په تودو ځایو کښی تدریس و کړی ، دغه اقدام چه په نورو کلونو کښی په منظم ډ ول نه کېده په ۳۸ کال کښی منظم شو په ځینو تودو ځایولکه کندهار اوننګرهار کښی عملی اوښه نتیجه ئې ور کړه .

لوایح:

په ۳۸ کال کښی سربیوه پردې چه دازموینی دلایحې په ځینو مادوباندی نوی نظرو شو ، د آزمو ینی یوه نوې لایحه جوړه شوه چه څو کسه دښوونځی دباندی دبیلو پیلو تولګیو پروګرامونه تعقیبوی او دازموینی په وخت کښی حاضرشی . آزموینه ځنی اخستله کیږی ، دغه لایحه دپوهنی د ټولنی دمنظورۍ نه وروسه داوسنی تعلیمی کال په سر کښی په ښوونځیو کښی تطبیق شوه .

د نوی لایحې خصوصیات دادی چه دداوطلب (سامع) کسانو دبریالیتوب په وخت کښی دهغو دوخت ، آزموینی او تصدیقونو دنوعیت په باب به ئې لاس ته راولی لازم توضیحات ور کړه شوی دی .

ازموینی

دغه ریاست په معمولی ډول هر کال د ښونځیوددرو ګونو ازموینو په تېره د کلنۍ آزموینی وارسی او کنترول په دوه دوله کوی دتدریساتو او پوهنی دوزارت دغړو ، دپوهنتون پروفیسرانو اونورو متخصیصنو اولوړ و کسانو پو اسطه د ازموینی جریان په مستقیم ډول ګوری ، بل ترتیب دا دی چه دلومړۍ اودوهمی ادورې دختمېدو نکوتولګیوسوالونه تاکی .

بکلوریا آزموینه د کال په دوو وختونو کښی دافغانستان دسیمو له کبله اخستل کیږی ، دقودو ځایو ازموینه دغیر ګولی په میاشت کښی اودسړو ځایو آزموینه دلیندۍ په میاشت کښی شروع کیږی په ۳۸ کال کښی زموږ نمایند ګانو د کندهار دا حمد شاه بابا دلیسې ، دمزارشریف دباختردلیسې دهرات دسلطان غیاث دلدین دلیسې اودمهری دمنځنی ښوونځی د بکلو ریا په از موینو کی ګډون

وکړ ، پدې پول ئې د پوهنې دمد یریتو نواود دغو ښوونځیو دتربیو ی هیئت سر ه د آزموینې په اخستلو کښې مرسته وکړه.

د غازی دلیسې ځینې زده کوونکې پدغه لیسه کښې

دغه ریاست دتا کلو هیئتو نو په مرسته په کابل کښې دبکلو ریاد وري د آز موینې دلو مړی اودوهم چانس دپاره (۱۱۰۰) سوالونه اونهم قولګی ته د (۲۰۰۰) نه زیات سوالونه تیار کړی اودهغو له مخې ئې دلیندې راوکب په میاشتو کښې ازموینه واخستله . د کابل دنارینو دمر کزدلیسو، دنعمان دلیسې اوچار یکارو دلیسې آز موینه داستقلال په لیسه اود ملالۍ په لیسه کښې دمیر نو دلیسوازموینه واخستله شوه .

د ۳۸ کال په ازموینه کښې دشاملو کسانو شمېر نسبت ۳۷ کا ل ته په سلو کښې (۳۰) زیات ؤ اوپدغه کال کښې دنارینو دښوونځې دبکلوریا فارغ التحصیلان نسبت ۳۷ کال ته په سلو کښې (۳٤) زیات اودښځو دبکلوریا فارغ التحصیلانې نسبت تېر کال ته په سلو کښې (۲۷) زیا تی وې .

دنرو دبکلو ریا فارغ التحصیلان دحر بی پو هنتو ن ،دپو لیسوعالی ښو و نځی ، پو هنتون ، د کر هنې وزارت اود کانو اوصنایعو وزارت ته دلوړو وزده کړو دپاره ولېږل شوه ، او د ښځو دلیسو فارغ التحصیلانې پو هنتو ن ته دلوړو زده کړو دپاره ولېږل شوې او ځینې ئې د پو هنې دښو ونکو لوی مدیریت ته معرفی شولې چه دښو ونکو په حیث وظیفه اجرا کړی .

دپوهنې وزارت له‌خو کلونورهیسی‌یوشمېر دبکلوریافارغ‌التحصیلان داجتماعیاتو او سا ینس په‌بیلو بیلو شقو قو کښې دمعلمې دروزنې دپاره خارج ته لېږلی‌چه‌دراستونېد ونه‌وروسته‌زموږ دښوونځیو علمي چوکات تقویه اوټول‌مضمونونه‌دلایقو داخلی ښوونکوله خواتد ریس‌شی .

دغه زده کوونکی چه‌خارج ته‌دزده کړې لپاره اسول کېږی دهغواداره اودلګښتو نواجرا دثانوی تدریساتو ریاست دپو هنتون له‌لاری کوی او هم هغه زده کوونکی‌چه‌خارج ته‌د خپلو اولیاؤ دماموریت له کبله ځی‌اوباید دخپلې زده کړې سلسله جاری وساتی ددغو کسانو دتعلیمی چاروار سی‌او کنترول دغه ریاست کوی چه په حکومتی نرخ اسعار غواړی .

دنور و کلو نو په څېرپه ۳۸ کال کښې په‌هر سمستر کښې ددغو کسانو د (۹۰) تنودر پوټو و ار سی شوې اودافغانستان بانک ته د هغو داسعارو درانیو لواجازه شوې ده .

دپوهنې‌وزارت‌له‌خو کلونورا هیسی‌ارت‌اومستظرفه صنایعو ته زیاته‌پاملرنه کړې، ددې‌لپاره‌چه دښوونځوزده کوونکی‌زیات‌تشویق‌شی‌اودهغودبدیع‌ذوق‌په‌ژوندی کولو کښې‌مرسته‌و شی‌په کال کښې یو ځل‌دمتعلمینو اومتعلماتو‌درسامې ،نقاشې اولاسی چارو دښوو آثار نندارې‌ددغه‌ریاست دادارې لاندې دسالون خز ان‌به‌نامه پرانیزی.

په۳۸ کال کښې،دابتدائی، متوسطی‌اولیسی‌دیلو بیلوورو متعلمینو اومتعلماتو ۷۲ آثار وته جایزې ور کړه‌شوی،دغه‌وزارت دهر کال‌په‌څېر تیر کال دننداړتون یوه‌لویه‌غړ فه د تجارت‌د وزارت په‌مرسته تهیه اوپه هغې کښې ۲۵عرفانی موسسو خپل آثار وښودل .

دمسلکی تدریساتوریا ست:

دپوهنې مسلکی ښوونځیو چه‌دهیواد دپرمختګ په‌لار کښې مهم ګامونه اخستی په تیرو کلو نو کښې یې‌دپرو ګرامو نودتکامل‌دمخانګودپراختیااوجوړید، و دښوونکو اوزده کوونکو د روزنې‌اوزیاتیدو،د کارځیود بهبود او نودانیو داصلاح پدبرخه‌کښې لوی تحوالات کړی د ی .

په پرو ګرا مونو کښې تحول:

دځینو مسلکی ښو ونځیو لکه‌دار العلومونه د کابل دار المعلمین‌د کرهنې‌اودتجارت ښوونځی په‌پر و ګرامونو کښې اصلاحات شوی چه‌په‌هر یوه کښې‌دمتخصصینو په‌نظر یه‌د نړیوتعلیمی لیارو څخه استفادې شوی ده

په ۳۸ کال کښې ددار العلو مو په‌پرو ګرام کښې دهیواد دعلماو په‌نظریه اصلاحات‌وشول ځکه‌چه‌دډینی‌علومو په‌څنګ کښې عصری علوم هم زیات اوشامل شوه چه دپرو ګرا م په عملی

کیدو سره دډاډوړ نتیجه لاس ته راغله، ددار المعلمینو په پروگرامونو کښی هم گڼور اصلاحات وشوه چه په دغه جمله کښی دپروگرام نظری برخه شامله ده دښوونی او روزنی مبادی او تربیوی اجتماعیات ددرسی پروگرام جزشو، سر بیره پردی ځینی مضامین دسمستر په ډول د ٤ نیمو میاشتو دپاره تدریس کیږی.

دثانوی تخنیك ځینی زده کوونکی د کار او فعالیت په حال کښی

زده کوونکی تر ۱۱ تولگی پوری یوځای زده کړه کوی هر کله چه د ۱۱ څخه ۱۲ تولگی ته ولاړ شی دابتدائی، منځنی او پوهنځی په دروڅانگو ویشل کیږی چه تیر کال ۵ تنه د ښوونکو څانگی ته داخل شوه او ددغی څانگی زده کوونکو داساسی تعلیم د پاره دری میاشتی په دهکده کښی وروزل شوه.

دمنځنی ښوونکو په څانگه کښی هم خاصه پاملرنه وشوه او هلته د ثانوی تعلیماتو په نامه یو مضمون زیات شو، زده کوونکی دمرکز په لیسو او ابن سینا کښی دتدریس په زده کولو لگیاوو او هم په دارالمعلمین کښی دارټ او کرهڼی مضمونونو یو ښه شکل غوره کړ، د کرهڼی دلوستونو دپاره دښو عصری آلاتو او اسبابونو سره د کرهڼی لابراتوار جوړ شو.

دبدنی او روزنی ښوونځی چه له نهم ټولګی څخه فارغ التحصیل ور کاوه ،لسم ټولګی ته ارتقاو کړه تر (۱۲) ټولګی پوری دوام کوی ، په هغه کښی خارجی ښوونکی هم استخدام شول، دتجارت دښوونځی دمالی څانګې په مضمونونو کښی هم وخه تعدیلات راغلل .

د ثانوی تخنیك زده کوونکی د عملی تدریس په حال کښی

دڅانګو پراختیا :

دولایتو دارالمعلمینو په دریمواو څلرمو کلونو کښی پښه اینبې او لیلیو ئی اصولی اومنظم شکل غوره کړ،تخنیکی ښوونځی هم دنیوعلمی لیاروپه ترڅ کښی ښه پرمختګ کوی د کابل دثانوی تخنیک په ښوونځی کښی دماشین اولوی ور کشاپ ترتیب اودټولوضروری موادو سره درول شوی او استفاده څنی کیږی . د سپورټ د کلب دپاره په ښوونځی کښی دسپورټ ټول لوازم لکه پنګ پانګ ،فیدربال،بوکسنګ ، کرمبول شطرنج اونورته په شوی اوزده کوونکی دسپورټ او بازی په وخت کښی استفاده څنی کوی .

د کابل په میخانیکی ښوونځی کښې د تخنیک او اوزار جوړو لوړ په نامه دوې نورې څانګې جوړې شوې ، د کندهار او خوست میخانیکی ښوونځیوله ابتدا څخه تر اوسه پورې د پرمختګ کړی اود ۳۸ کال په دوبی کښې چه ورستنی ټولګی ئې جوړ شوی ؤ یوشمیر لایق فارغ التحصیلان ځنې راووتل، دفراه دصنایع په ښوونځی کښې د کابل دصنایع پروګرام عملی شو اوښه شکل ئې غوره کړ، یوه دوره ئې فارغ التحصیل شوه.

د کابل د پوهنې د میخانیکی ښوونځی یوه ټولګی زده کوونکی

د کابل دصنایع په ښوونځی کښې هم زیات پرمختګونه وشوه ،علاوه پر تر کانې ، معماری او ګنډولو داودلو او آرټ دوې څانګې نوری جوړې شوې اوښوونکی ئې دالمان دتخنیکی مرستې دموسسې څخه معرفی شول ،اوهم ددغې موسسې له خوایوشه سامانونه اودرسی لوازم د صنایعو ښوونځیوته ور کړه شو چه پدغه شق کښې استفاده ځنې کیږی.

د کار ځیو انکشاف: د کابل په میخانیکی ښوونځی کښې عملی چاروپرمختګ کړی ،عصری آلات اوماشین دعملی تعلیماتودپاره له المان څخه راوړل شوی اواستفاده ځنې کیږی دخوست په

میخانیکی ښوونځی، کښې دډېزل نوی ماشین درول شوی، خرادۍ، برمه کرۍ او اهنګرۍ ماشینونه دزده کوونکو دزده کړې دپاره پکار اچول شوی دی، د کندهار میخانیکی ښوونځی دنړۍ د لوړو هیوادود کارځیو په څېر په ټولو عصری ماشینونو او آلاتو مجهزدی چه دماشینونو او خارجی ښوونکو په برخه کښې یونسکو زیاته مرسته کړې ده.

دپوهنې دمیخانیکی ښوونځی یوه څانګه

ثانوی تخنیك هم زیات پرمختګ کړی په عصری آلاتو او سامانو سره مجهز دی، دغه ښوونځی ته دموټر، حلبی جوړولو او ولډنګ کرۍ یو څه سامان د (آی، سی، آې) له خوا دمرستی په ډول ور کړه شو او هم یو څه سامانونه چه د دولت په پیسو له امریکی څخه غوښتل شوی وه را ورسیدل.

دښوونکو روزل:

په مسلکی ښوونځیو کښې دښوونکو دروزلو په برخه کښې ډېری اختصاصی جنبې پکار دی، دساینس، ادبیات، حقوقو او اقتصاد پوهنځیو دعمومی او اجتماعی درسونو په برخه کښې زموږ اړتیاوی پوره شوی، خو په تخنیکی او فنی برخه کښې که څه هم یو څه ښوونکی خارج ته لېږل شوی، بیا هم دې ته اړیو چه هر کال یو شمېر ښوونکی خارج ته ولېږو.

د مسلکی ښوونځیو د فارغ التحصیلانو اوجدید الشمولو احصائیه

ښوونځی	فارغ التحصیل		جدید الشمول	داخله شمېر
	دولسم ټولګی	صنف ۹		
د کابل دارالعلوم	۲۲	—	۲۵	۲۰۷
د ا ر ا لمعلمین	۶۹	—	۱۵۰	۳۰۸
د ننګرهار دارالمعلمین	۱۶	—	۱۴۶	۳۵۱
میرویس دارالمعلمین	۱۲	—	۹	۲۵۵
ثانوی تخنیك	۵۹	—	۱۰۲	۳۰۷
د کابل د میخانیکی ښوونځی	۲۶	۷۹	۲۴۰	۴۸۲
د خوست میخانیکی «	—	۳۲	۶۰	۱۵۰
د قندهار میخانیکی «	—	۳۶	۵۵	۱۵۰
د کابل صنایع	—	صنف ۱۰-۲۰	۸۵	۲۰۹
دفره صنایع	—	صنف ۹-۱۲	۵۰	۷۲
د کابل زراعت	۵۶	—	۷۲	۱۸۹
ابن سینا	—	۲۵۸	۵۰۰	۱۲۱۸
تجارت	۳۲	—	۱۱۹	۴۰۶

ACKU

تعمیرات:

دمیخانیکی ښوونځی دالحاقیه ودانی ریوه برخه جوړه شوی او استفاده ځنی کیږی .

دتجارت په ښوونځی کښی څو لوستځی نوی جوړشوی دی ، دصنایع دښوونځی دودانی رنخشه چه په عصری ډول تیارشوی ده په راتلونکی وخت کښی به دهغه په جوړولو پیل وشی .

دشاهزاد گی ربلقیس ښوونځی:

دغه ښوونځی دلومړی پنځکلن پلان دپیش بینی رله مخی د ۳٦ کال دغوښتنی په میاشت کښی پرانستل شو ، په لومړی قدم کښی په دغه ښوونځی کښی حیاتی مضمونونه لکه د کورچاری اود وړو کی د روزنی اصول مهمه برخه لری ، او په ټوله منځنی دوره کښی ئی تدریس کیږی .

دپرانستلو په وخت کښی سل تنه زده کوونکی پکښی شاملی وې اودروتنولایقو ښوونکوئی تدریسی چاری اجرا کولی خو کله چه په دوهم تعلیمی کال ئی پیل وکړد زده کوونکو شمیر (۲۲۱) تنو ته ورسید، د ۱۳۳۹ کال په کښی لومړی ځل لسم ټولگی پکښی جوړشو ، داعدادیی دوری دتعلیمی پروگرام موضوع دمحیط دایجاباتو له مخی و کتله شوه ، دغورنه وروسته دغه وزارت دی نظر یی ته ورسید چه د دغی دوری تعلیمات هم خاص شکل غوره کړی ، چه له یوی خوا دهغه اجتماعی نهضت سره هم آهنگی ولری چه پدی وختونو کښی دمتبوعه حکومت له خوا منځه تهراغلی اوله بلی خوا د نوی ښوونی اوروزنی سره موافق وی.

د دغی ښی نظر یی له مخی په اوسنی کال کښی دهغی اړتیا دپوره کولو د پاره چه وزارتونه، بانکونه ، تجارتی کمپنی راواقتصادی موسسی ئی دتعلیمیافته ؤ میرمنو په نسبت لری ، دغه ښوونځی خپله لومړی اداری څانگه پرانستله ،

د دینیات ، پښتو ، فارسی ، انگلیسی ، اجتماعی علوم د تجارت حساب ، د کورچارو ، بشری روابطو ، مشق او جغرافیی مضامینو تدریس پکښی کیږی . بایدوویل شی چه دغه پروگرام یوا ځی دسبز کال د پاره تدوین شوی دی ، په راتلونکو کلونو کښی به اقتصادی مضامین او تایپ هم په هغه کښی شامل شی .

دبشری روابطو دتدریس څخه مقصد دادی چه شاگردانی خپل ځان او خپل شاؤخوا و پیژنی ، په ټولنه کښی خپل حقوق او نسبت ځان ته د ټولنی حقوق و پیژنی ، په کور کښی دخپلوانو اووړو کو سره څه ډول چال چلند و کړی ، دلباس ډول اود ګډوری غذا تیارول زده کړی ، په ټولنه کښی د ډسپلین او نظم مراعات و کړی ، دهیواد تاریخ ورته څرګندوی ، دخپلی ټولنی ښه دودونه او خویونه واخلی .

دپوهنی وزارت دغه ښوونځی ته شپږ جریبه مځکه تهیه کړی او ودانی رپلان ئی پلاس کښی د ی ،

غواړی چه لابراتوار ، کتابځی اودمیرمنو دتعلیماتو مخصوص یوشمیرفنی کارځی پکښی ودان کړی، اوپه نظر کښی لری چه یوساده اپار تمان دخپلو تجهیزاتوسره تهیه کړی چه دمودل (نمونی) په ډول وی اوپه کورنیوچارواوانتظام کښی شاگردانو ته لارښوونه وکړی، ددغه ښوونځی دپروگرام اصلی مقصددادی چه پیغلو ته په حیاتی تعلیماتو کښی لارښوونه وشی اودغه تعلیمات دوی ته له یوی خوا په اجتماعی ژوندانه کښی فعالیت ساحه چمتو کوی اودبلی خوا موقع ورکوی چه پخپل فامیلی ژوندانه کښی نیک مرغه او خوښ وی .

دارالتالیف :

دایوه داسی څانگه ده چه دتالیف ، ترجمی، تدوین ،تصحیح ددرسی اومرستیالو درسی کتابو رسالو اومجلو دطبع او خپرولو ، دپوهنی د کتابځی اود کابل دعام کتابځی چاری پرمخ بیا ئی په ۳۸ - ۳۹ تعلیمی کال کښی ددغه ریاست دڅانگو اجراآت په لاندی ډول دی :

۱ - دترجمی اوتالیف مدیریت :

پدغه برخه کښی دپښتو اوفارسی کتابونو تالیف اوترجمه ، تصحیح ، نوې کتنه اوخپرول د یادولو وړدی ، دغه کتابونه دلومړی ټولگی څخه تردوولسم ټولگی پوری دپوهنی وزارت دتیار شوی پروگرام دمفرداتو له مخی ، تالیف او خپریږی ، وړیا به شاگردانه ته وویشل شی .

الف - د درسی کتابونو تالیف :

دپښتو ویونکو ځایو دپاره دفارسی کتابونو اوفارسی ویونکو ځایو ته دپښتو د کتابونو په لړ کښی چه (د آموزش او پرورش دفن له مخی مخصوصه طریقه غواړی) دتالیف او ترجمی مدیریت پدی بریالی شو چه دفارسی ویونکو ښوونځیو دپاره دلسم، یو لسم اودولسم ټولگی دپښتو قرائت کتابونه تالیف کړی دغه رنگه ئی دپښتو ویونکو ځایو دپنځم اوشپږم ټولگی دپاره دفارسی قرائت کتابونه تالیف کړل .

دپښتو درسی کتابونو په لړ کښی دپښتو ادبی رساله او املاوانشاء دوه پښتو کتابونه نوی تالیف شوی دی ،

ب - ددرسی کتابونو ترجمه :

دتالیف او ترجمی مدیریت دمنځنی او ثانوی ټولگیو دعلمی اودرسی کتابونو دترجمی په باب جدی اقدام کړی دی چه ځینی ئی په پښتو ترجمه شوی اوخپاره به شی اوځینی به ئی ژر په پښتو ترجمه شی، او هغه کتابونه دلسم ټولگی تاریخ اوالجبر ، دیوولسم ټولگی کمیا اوتاریخ د اووهم اواتم ټولگی فزیک اود دوولسم ټولگی هندسه اومثلثات دی .

ج - د درسی کتابونو تصحیح ادامه لری ، درسی اوغیردرسی کتابونه چه پخوا تالیف شوی دی متخصیصنو او پوهانوته دیاخپرولو دپاره لیږو ، چه دخپرېدونه دمخه دعلم له مخی دهغه مطالب بیا کتل شوی او تصحیح شی ،چه ددوهمی خپرونی دپاره چمتو شی .

د-درسی کتابونو خپرول:

دپوهنی وزارت اودارالتالیف ریاست د(۱۳۵) پولونو درسی کتابونو دچټکی خپرونی دلوی مشکل سره مخامخ شو ،ځکه چه کافی مطابع نه وې اوژرئی زموږ ټول کتابونه نه شو خپرولی نوئې یوشمېر لږ کتابونه چه(۳۵)پولونه کېږی دولتی، پوهنی اوملی دفاع مطابعوته دخپرولو دپاره ور کړی دی، پاتی سل پوله کتابونه دلوړو مقاماتو په اجازه د۱۳۳۶ کال دوری په ۲۹ نېټه دیوه ټرون د کېدونه وروسته دتهران دفرانکلین دخپرونی مطبعې ته، سپارلی ،ددغو کتابونو (۲۵) پوله ئی په ۳۶ کال کښی او(۳۹)پوله ئې(په۳۷) کال کښی دیوه غیردرسی کتب (پټی خزانې) سره طبع ته سپارلی ،د۱۳۳۷ کال تر پایه پوری ئی تقریباً درې ملیون جلده خپاره کړی اود پوهنی وزارت ته را لېږل شوی دی.

دخوست دمیخانیکی ښوونځی ځینی زده کوونکی د کار په حال کښی

د۳۸ کال د کب په میاشت کښې مودشوی پخوانی تړون له مخې دفارسی او پښتو درسی کتابونو (۲٦) ډولونه دغې مؤسسې ته ولېږل، چه اوس هم خپرېږي. دښوونې اوروزنې د متخصصینو دنظرئی له مخې داسې تجویزشوی دی چه دابتدائی دورې ټول کتابونه په نسخ او نستعلیق خط او دثانوی دورې کتابونه دمطبعې په تورو خپاره شي.

دغه رنګه په دولتی مطبعه کښې (۲۵) زره جلده دقرآن کریم سپاری له چاپه راوتلی او ښوونځیو ته ویشلی شوی دی.

۲-ددرسی مرستیالو او مطالعې کتابونه:

دتالیف او ترجمې مدیریت په پښتو ژبه دفارسی کتابونو دترجمې نه برسېره دعربی، ترکی اوغربی ژبو یو شمېر کتابونه چه متخصصینو تالیف کړی اوخپاره شوی دی لاس ته راوړی، ددغه ریاست دعلمی هیأت په سلا ددرسی مرستیالو کتابونو په حیث د (هلکانو او نجونو) زده کوونکو دعلمی سویې دپرمختګ دپاره په پښتو او فارسی ژبو ترجمه اوخپاره کړی دی یو شمېر نور کتابونه اورسالې چه ویونکو ته آفاقی اوحیاتی معلومات ور کوی، ددغه ریاست له خوا تالیف، ترجمه تدوین او خپاره شوی دی او یا به خپاره شي،

دنشریاتو ماموریت:

دنشریاتو ماموریت ددارالتالیف یوه څانګه ده، دغې څانګې وظیفه داده چه هغه کتابونه چه دتالیف او ترجمې دمدیریت له خوا دخپرولو دپاره چمتو کېږي خپاره کړي، دغه څانګه یوه پایه دګستتنر ماشین هم لري، چه په هغه کښې ددارالتالیف او ددغه وزارت دنورو څانګو ځینې فرمایشونه چه دخپرولو شمېرئی لږ او عاجل وی خپروی، پدغه کال کښې دنشریاتو دماموریت، دګستتنر په دستګاه باندې دغه کتابونه خپاره شوی دی:

۱ - ددوو لسم ټولګی د الجبر کتاب
۲ - دلسم ټولګی دفارسی منتخباتو «
۳ - د دوولسم ټولګی دفارسی «
٤ - د پښتونستان د جغرافیې «
٥ - دو همه پلاد دوولسم ټولګی «
٦- دښوونځیو د کتابتونو نولارښوونکی «
۷ - د لسم ټولګی د فارسی قرائت «

دموټرپه ور کشاپ کښې دتخنيك زده کونکی دموټر دماشين دترميم په حال کښې

د عرفان او پوهنې د مجلې مديريت :

۱ - دپوهنې وزارت رسمي خپرونه د عرفان مجله هره مياشت له (۵۰) څخه تر (۷٤) پانو وري مصوره خپريږي .

۲ - دعرفان دمجلې پښتو خپرونه د پوهنې مجله چه د ۳۷ کال په سر کښې د يو پ درې مياشتنۍ مجلې په ډول پرانستل شوې او هر درې مياشتو تر (۵۰) پانو پو ری خپريد له د۳۹ کال د سرڅخه دمياشتنۍ مجلې په ډول د(۵۰) څخه تر (٦۰) پانو پور ی مصور ه خپريږی .

۳- د عرفان د مجلې مديريت د عرفان او پوهنې د مجلو پەخپرو لو سره بهره پە۳۸ کال کښې هر کله يو شمېر رسالې او فوق العادې هم خپری کړی دی .

د کابل عام کتابځی

د دغه کتابځی يو مقصد دادی چه د کتاب او اوستونکو تر منځ خنډ او مشکلات په هره ذريعه چه کيږی ليری کړی ، نوئې کوښښ کړی دی چه تر ممکنې اندازی د آسانی ليا ری

کتابونه‌دلوستونکو د استفادې د پاره وسپارې او هم ئې دغه لاندې چاري سرته رسولې دي:

۱- د قرائت خانې د سامانونو او کتابو نو د نیمګړتیا و سمون

۲ - د کتابځي دویشلو دسالون د یوې اندازې سامانو او لوازمو بشپړتیا

۳ - د کتابځي د کنفرانس د سالون د لوازمو او سامانونو بشپړ تیا

٤ - دوړو کو د مجلو او کتابځي دنندارې دخونو تهیه او بشپړ تیا

٥ - د کتابځي د یو زیاب شمېر کتابونو صحافت او ترمیم

٦ - زیاتو کسانوته دداخلې او خارجې مجلو او ورځپاڼو تبادله او اشترا ك

۷ - د کتابځي د تایپ‌او ګستتنر د څانګې پشپړتیا

۸ - کارت نویسي اود کتابځي د فهرست‌او عمومي کتلاك تیارول

۹ - د کابل د عام کتابځي‌د تربیتي او تبلیغي‌پروګرامونو پراختیا

۱۰- په بیلو بیلو موضوعاتو او ژبو کښې د کتابځي دپاره دیو شمېر زیاتو کتابونو تهیه

۱۱- له کتابځي څخه په هره میاشت کښې دوه ځله د عرفاني‌اخبارو خپرول

۱۲ - د پوهنې دمسلکي کتابځي پرانستل

او دغه لاندې چاري‌ئې هم اجرا او موادئې تهیه کړې دي :

دابتدائي تعلیماتو په باب مواد

د ثانوي او عالي تعلیماتو په باب مواد

دنړۍ‌په‌بیلو بیلو هیوادو کښې د پوهنې په باب مواد

د اساسي سمعي او بصري تعلیماتو په باب مواد

د مسلکي‌او صنعتي تعلیماتو په باب مواد

د لویو هیوادو دپوهنې رسمي مأخذونه

د نړۍ د ښونځیو او پوهنې پروګرامونه او تعلیماتنامې

د نړۍ‌دلویو هیوادو په باب عمومي‌معلومات

د نړۍ‌ د تعلیمي او تربیتي مواد و ، رپوټونه ، احصائي ، فهرستونه او ګرافونه

درسي کتابونه او متنونه ، البته د بیلو هیو اد و څخه بیل بیل مو ضوعات

بیو ګرافۍ او پتې

د تتبوع او پلټنې لپاره‌د مهمو علمي کتا بو کتلا کونه اولستونه

کالنۍ، دلغاتو کتا بونه ، دائرةالمعارفونه، اطلسونه او‌نور

د نړۍ ډیلوډیلو تربیتی سیستمونو په باب تربیتی او علمی تبصرې
د برقش کنسل،یونسکو او نورو په څېر د نړۍ دتربیتی او علمی ټولنو او موسساتو علمی او تربیتی خپرونی .

داداري، شوونځیواوعرفانی مؤسسودتنظیم په باب مواد
دهیواد دعلمی ټولنو او کنفرانسونور پوټ
دنړۍ په ډیلوډیلو هیوادو کښی څار ندوی
دپوهنی دپرمختګ او انکشافاتو په باب تاریخی عکسونه .

دپلټنی ریاست

دپلټنی مخصوصه څانګه :

الف - دپوهنی دوزارت دصوابدید لهمخی دولایتونو اومرکز دشوونځیو دعرفانی چارو دوارسیو اوپلټنی د پاره دمرکز دپلټو نکو تاکل .

ب - دپلټنی دد وسیوتر تیبول اودا صولی مراحلو دتېر ولو نه وروسته دهغواجراکول ، او دپوهنی داداری اوتدریسی چارو دپرمختګ او انکشاف په لاره کښی ګټو ری لارښوونی دد غی څانګی دمهمواو اساسی وظیفو څخه دی .

ج - دتحقیق اوپلټنی نهوروسته محاکماتی دوسیې داثبات جرم دوکیل سره د دغی څانګی لهخوا مربوطو محاکموته راجع کیږی .

د - پرته له دې څخه د خصوصی لیکونو په شاوخوا کښی اجراآت کول دپلټنی د مخصوصی څانګی یوه مهمه وظیفه ده دپورتنیو توضیحا تولهمخی سبز کال دپلټنی دلایحی دمقرر اتو سره سم دپروان ، فراه ، شبرغان ، میمنی داعلی حکومتو نواومزارشریف دولایت دعرفانی چارو پلټنه شوې ده چه تراصولی دوران لاندی دی اودځینو ولایتونو دپلټنی نتیجې دوړ راو مناسبو هدایاتو سره دپوهنی مدیریتو نوته ابلاغ شوی دی .

پدې وروستیو وختونو کښی یوبل هیئت دقطغن دپوهنی لوی مدیریت اودهغه دمربوطو شوونځیو دتدریسی او اداری چارودکتلو دپاره تاکل شوی اوپکار ئی پیل کړی دی ، دغه رنګه دځینولیسو دآزمویښو نتیجې دتاکلی هیئتونو لهخوا کتل شوی دی په عمومی ډول پدې کال کښی (۱۶) قضیې تحقیق او (۱۹۵۲) لیکونه وارد اوصادر شوی دی .

د کابل په ورکتون کښې دعملی کارونو یوه نمونه

دکرهنی دښوونځی زده کوونکی دښوونځی په کارگاه کښی دکرهنی او نجاری د سامانو
داستعمال دول زده کوی

د پلټنې دریاست لومړۍ څانګې :

هغه زده کوونکی چې د مرکز څخه ولایتونو اودولایتونو څخه مرکز ته ځای بدلوی ، ددوی دشا ملپدو امر ، دسوانحو کارت اوسوابق مربوط ځایونه لېږل اونوری متفرقه چاری دلومړۍ څانګې وظیفه ده، سربېره په دی دهغوزده کوونکو دپچې په باب چه دزده کړې په وخت کښې په عسکری خدمت کښې خپژی اقدام کوی ، همداراز کوم زده کوونکی چه د احتیاط دظابطانو په کورس کښې دخپل شمول غوښتنه کوی او که ددغه کورس په شرایطو برابروی، دمربوطه مکاتیبو له خواددوی په نامه دسوانحو د کارت سپینه فورمه دخانه پرې لپاره موږ ته رسیږی چه دمربوط ښوونځی دستون دې کولونه وروسته بیرته مربوط مقام ته ور لیږل کېږی .

دزده کوونکو شمول ، تبدیلی (په مرکز کښې دیو ښوونځی څخه بل ښوونځی ته)، اخراج او دجواز ور کولو چاری د پلټنې په دوهمه څانګه پوری اړه لری ، برسپره پر دې دلیلیه او نهاری په برخه کښې دلیلیه ښوونځیو ته دزده کوونکو معرفی کول دد غې څانګې وظیفه ده ، هغه زده کوونکی چه دپوهنې وزارت له مربوطو ښوونځیو څخه دنورو کورسونو دشا ملپدو غوښتنه کوی ټولی چاری ئې دغه دوهمه څانګه اجرا کوی احصائیه ئې په لاندې ډول ده :

۱ - (۱۲۰) تنه دمرکز اوولایتونو دمنځنی ښوونځی دنهمو ټولګیوزده کوونکی دپوليسو عالی ښوونځی ته او (۳۰) تنه دتوپوګرافی ښوونځی ته معرفی شوی دی .

۲ - دولایتونو دپوهنې مدیریتونه هدایت ورکړ شوی دی چه دشپږم اونو رو ټولګیو (٤٥٠) تنه زده کوونکی دحربی ښوونځی تا کلی هیئت ته معرفی کړی، .هر کال په معمولی ډول دتا کلی پیښ له مخې دنورومسلکی ښوونځیو لپاره دولایتونو دپوهنې له مدیریتونو څخه یوشمېر زده کوونکی غوښتل کیږی چه مربوطو لیلیو ته مخکښې له دپنه ویشل شوی په لاندې ډول دی:

۱ - دابن سینا د منځنی ښوونځی لپاره (۵۰۰) تنه .
۲ - د کابل دمیخانیکی ښوونځی لپاره (۳۰) «
۳ - د صنایعو دښوونځی لپاره (۲۵) «
٤ - درحمن بابا « (۱۵۰) «
۵ - دخوشحال خان دلیسی لپاره (۱۰۰) «
٦- دبدنی اوروزنی دښو و نځی لپاره (۳۰) «
۷- د لیك او شمېر د ښوونځی لپاره (٦۰) «

پښتو ټولنه

الف - چاپ شوی آثار :

۱-ډیلی دپښتنو په وختونو کښی

۲- دجادبې قوه

۳- بر ېښنا

٤ -هغه حیوانات چه پېژنوئی

٥- املااوانشاء

٦-دپښتو ادبیاتو دتاریخ دوهم ټوك

۷- خیالی دنیا

۸- دافغانستان دځینوژبواولهجو قاموس

دثانوی تخنیك زده کو ونکی دټایپ په واسطه دمخابرې په حال کښی

ب - چاپ ته تیار کتابونه

۱- دسېرة النبوی « ص » دریم اوڅلورم ټوك

۲- داحمد شاه بابا شهنامه چه دلندن دبرټش موزیم څخه فوټو گرافی شوې ده .

۳- دو یلهلم تل (ترجمه)
٤- زوړ سړی او سیند (ترجمه)
٥- دحشراتو تولنه (ترجمه)
٦- شخصیت څنګه وده کوی (ترجمه)
ج- ترترجمې اوتا لیف لاند ی کتابونه :
۱- د فلسفې تار یخ
۲- دتمد ن قهر مانان
۳- انګلیسی په پښتو ډ کشنری
٤-دخارجیانولپاره پښتو په لاتین خود آموز

دتاریخ تولنه

چاپ شوی آثار :

۱- په پښتو دافغانستان دتاریخ ددوهم جلد نوی کپد ه، دتاریخ تو لنه غواړی چه خپل آثار په فارسی اوهم پښتو خپاره کړی په پښتو دافغانستان دتاریخ دوهم جلد خپورشوی اوصحا فی ئی کپدله دبد ه مرغه ددولتی مطبعې دسوزل کید و سره وسو ، په ۳۸ کال کښی ددغه کتاب په بیا خپرولو اقدام وشوچه تقریباً (۷۰۰) پانې دی او(٥۰۰) پانې ئی خپړشوی دی .

۲- په افغانستان کښی داسلام خپر یدلورساله ، سبز کال دافغانستان دتاریخ دریم جلد لومړی فصل دښاغلی غبار په قلم خپورشوی ، د آثاروپه پښتو کولو کښی هم اقدام وشو ، دغه رساله په ۳۸ کال کښی دپوهنی په مطبعه کښی خپره شوه .

۳- د کابل بالاحصاردوهم جلد:د کابل بالاحصاردوم جلد په (۱٥۷) پانو کښی ددولتی مطبعې دسوزلوپه پیښه کښی له منځه ولاړ ، په ۳۸ کال کښی یی بیا خپر یدو ته ا قدام و شو ، د مهمی برخی لیکل اوخپریدهئی دوام لـری .

٤- د کابل مزارات:دښاغلی محمد ابراهیم خلیل تالیف داسی کتاب دی چه د کابل دشا وخوا مز ا رو نه معر فی کوی .

٥ - د کر ت ال اوچنګیزاحفاد دوه کتابونه دی چه ښاغلی محمد اسمعیل مبلغ او دادبیاتو د پوهنځی استاد ښا غلی میرحسین شاه لیکلی دی په۳۸ کال کښی د آریا نا په مجله کښی ددواړو خپرول پای ته رسیدلی دی.

٦ـ د شاه شجاع د احکامو د ثبتولو د دفتر او فرمانونه: دغه دوه قلمی گران اثار د آریانا په مجله کښی خپر ېږی ، په ۳۸ کال کښی ئی د خپر و لو کار شروع شوی او دوام لری . د غه دوه کتابونه د شاه شجاع د سلطنت د دوهمی د وری په دوورو روستنیو کلونو ، اود دغه پاچا د اداری پر ډول او دانګلیس سره د ده په تعلقاتو روښانئی اچوی.

۷ ـ د ر جا لو ا و تا ر یخی پېښو کتا ب په پښتو هم تر جمه شو ی ، خپر ېد ه ئی په ۳۸ کال کښی شروع او دوام لری.

د موز یم ولوی مدیریت او د لرغونو آثار و ساتنه:

د هنری او تاریخی آثارو د غونډولو او ساتنی له کبله چه د دغی خاوری د تېر شوی تمد ن څرګندوی دی د پوهنی وزارت د موزیمو د لوی مدیریت د تشکیلا تو د پراختیا لپاره لوړو مقاماتو ته پیشهاد ونه وړاندی کړل ، د هغوله مخی د اسی وشول چه د موزیمو لوی مدیریت دی (د افغانستان د موزیمو او د لرغونو آثارو د ساتنو لوی مدیریت) په نامه یادشی ، او د هیواد د تاریخی مو زیمو د چا رو او د لرغونو آثارو د ساتنی وارسی دی و کړی، د نویو تشکیلاتو له مخی د غه مدیریت یو تن لوی مدیر، یو تن مرستیال او څو مد یریتونه لری د د غه مدیریت مهمی څانګی او اصلی وظیفې دادی :

۱ ـ د موزیم داری ـ څا نګه : د تحقیق ثبت، د کشف شویو آثارو طبقه بندی او د هغو ساتنه، د رپوټ ، کتلا ګ او نورو خپرونه د دغی څانګی له علمی کار ونو څخه دی .

۲ ـ د حفریا تو څانګه: د حفریاتو مربوطی چارې، د خارجی هیئتو او د هغود نورو چارو وارسی د غه څانګه پوری اړه لری ،

۳ ـ د موزیمو او د لر غونو آثارو د ساتنی څانګه : د ولایتو د مو زیمو تنظیم ، پلټنه او ترتیب او د لر غونو شیانو ساتنه د دغه مدیریت و ظیفه ده .

٤ ـ د تخنیک څانګه : د مو زیم د شیا نو ترمیم ، د علمی کتنو او د موقتی او دائمی ننداره و د ښکلا په غرض د موزیم د ساما نو عکس اخستل او نور د دغی څانګی وظیفې دی .

٥ ـ کتابځی او نشریات : د قلمی کتابو ترتیب او تصنیف ، د هغولو اوسنیو او پخو انیو مد ار کو او نشریاتو غونډول چه د افغانستان په باب لیکل شوی او یا خپاره شوی وی د دغی څانګی وظیفه ده.

په لاندی ډول د دغو څانګو فعالیت په لنډ ډول لیکل کېږی :

د موزیم داری ـ په څانګه کښی باید وویل شی چه د غو څو میاشتو کښی د منډ یګک د (۳۰۰۰) قلمو سامانو اساسی نمره لیکل شوې په کتاب کښی داخل او په ډیپو ګانو کښی مرتب اینبودل شوی دی ، او هم د بګرام د شیا نو پنځه سوه کارتونه په علمی ډول تیار شوی دی .

دموز یمو اوتاریخی شیانو د سا تلو دڅانگی په باب لیکل کېږی : دولایتوموزیمونه چه مخکښی لهدېنه دښا روالی یامطبو عاتوتر اثر لاندی وه، اوس ئې مر بوطی چاری دموزیمو اولر غونو آثارو دساتنی پهلوی مدیریت پوری اړه لری . لکه چه دهرولایت اواعلی حکو مت لپاره دموزیم دیویو ماموریت پېش بینی شوې ده ، دولایتو نودمو زیمو سامانونه او شیان دیوه هیئت پهواسطهموجودیشوی اویو نقل ئې د کابل موزیم پهمخصوصهدوسیه کښی ایښودلشوی دی.

دحفریاتو دڅانگی پهباب وایوچهتېر کال پهدووځایو (سرخ کوتل اوغزنی) کښی حفریات وشول :

الف ـ سرخ کوتل: دحفریاتو پهلسمهدوره کښی چهد۳۸ کال دوزی څخهدلړم ترمیاشتی پوری جاری وه هغه آبده چهدسرخ کوتل دلوی معبددختیځ جناح پرڅو که اویوه برخهئی دلوی سړك لاندی وه، پلټنه پکښی وشوه، فرانسوی هیئت یوه څاه وموند لهچه قطرئې(٤) مترؤ ډبرینی زینی ئی دننهځړول شوی اودڅاهژوروالی لس مترؤ.

دسرخ کوتل دحفریاتو دنهمی دورې پهوخت کښی دمعبدپهډبرینوزینو کښی(۹)دانی لیکل شوی ډبری کشف شوې پدغهدوره کښی نوری(٤٤) لیکل شوی ډبری هم کشف شوی،غالب گمان دادی چهدغهلیکل شوی ډبری ددوړ لویو کتیبو برخی دی چهپردیوال نصب شوی وې،پهسرخ کوتل کښی دحفریاتو یوولسمه دوره د ۳۹ کال د غوئی په میاشت کښی شروع اود چنگاښ ترڅوور ځو پوری ئی دوام درلود.

ب ـ غزنی: دغزنی دحفریاتو دریمهدوره دتېر کال دزمری پهمیاشت کښی شروع شوې دلړم ترمیاشتی پوری ئی دوام درلود . حفریات په دوو نکتو کښی وشوه یو د سلطان ابراهیم زیارت ته نژدې چهدغزنوی دورې لهوداینو څخهده، پدغه دوره کښی اصلی هدف ددغی ودانی دپلان تا کلؤ د کار په وخت کښی(٤٢)دمرمروښکلی اولیکل شوی لوحې «دپیزارې »پهډول چهددیوال په کښته برخه کښی نصب وی وموندل شوې.

بل پریوه غونډۍ حفریات وشوه دغهغونډۍ دسردار دغونډۍ پهنامه یادېږی چهپه یومهم ځای کښی دغزنی دښار اوروضی ترمنځ پرتهده دحفریاتو پهنتیجه کښی یولړ ستوپې موندل شوی چه د کوشانی دورې څخه وې، یو لدغو ستوپو څخه چهپهپورتنۍ برخه کښی ودانی شوی وی دایتالوی هیئت پهنظریه دافغانستان له ستروستوپو څخهشمېرل کېږی.

تصادفی اکتشافات: دتېر کال په دوهم نمیی کښی د غزنوی اوسلجوقی عصرونو (۱۷٦) دانې دینارونهدهمهغه عصردیو شمېر گانوسرهدقندوز لهچار درې څخه نابېره وموندل شول. ددغوسکو طبقهبندی داسی کیدای شی:

دموز یمو اوتاریخی شیانو د سا تلو دځانګی په باب لیکل کېږی : دولایتوموزیمونه چه مخکښې له‌دې‌نه دښا روالی یامطبو عاتوتر اثر لاندی وه، اوس ئې‌مر بوطی چاری دموزیمو اولر غونو آثارو دساتنی په‌لوی مدیریت پوری اړه‌لری . لکه چه دهرولایت اواعلی چکو مت لپاره دموزیم دیویو ماموریت پیش بینی شوې ده ، دولایتو نودمو زیمو سامانونه او شیان دیوه هیئت‌په‌واسطه‌موجودی‌شوی‌اویو نقل ئې‌د کابل‌موزیم [redacted] وصه‌دوسیه کښی‌ایښودل‌شوی‌دی.

دحفریاتو دځانګی‌په‌باب وایوچه‌تپر کال په‌دووځایو (سرخ کوتل اوغزنی) کښی‌حفریات وشول :

الف‌ـسرخ کوتل:دحفریاتوپه‌لسمه‌دوره کښی چه‌د۳۸ کال دوزی څخه‌دلړم ترمیاشتی پوری جاری‌وه هغه آبده چه‌دسرخ کوتل‌دلوی معبدډختیځ جناح پرځو که اویوه‌برخه‌ئی‌دلوی سړک لاندی‌وه،پلټنه‌پکښی‌وشوه، فرانسوی‌هیئت‌یوه‌ځاه ومونډ له‌چه قطرئې(٤) مترؤ پربنی زینی ئی دننه‌ځړول شوی اودځاه‌ژورو الی‌لس‌مترؤ.

دسرخ کوتل‌دحفریاتو دنهمی‌دورې په‌وخت کښی دمعبدپه‌پربنوزینو کښی(۹)دانی لیکل‌شوی ډبری کشف شوې‌پدغه‌دوره کښی‌نوری(٤٤) لیکل‌شوی‌ډبری هم کشف‌شوی،غالب گمان‌دا‌دی چه‌دغه‌لیکل شوی‌ډبری ددوولوپو کتیبو برخی‌دی چه‌پردیوال نصب‌شوی‌وې،په‌سرخ کوتل کښی دحفریاتو یوولسمه دوره‌د ۳۹ کال‌د غوئی‌په میاشت کښی‌شروع اوډ چنګاش‌ترځوور ځو پوری ئی‌دوام‌درلود.

ب‌ـغزنی:دغزنی‌دحفریاتودریمه‌دوره‌دتپر کال‌دزمری‌په‌میاشت کښی‌شروع شوې‌دلړم‌ترمیاشتی پوری‌ئی دوام درلود . حفریات په دوو نکتو کښی وشوه یو د سلطان ابراهیم زیارت ته نژدې چه‌دغزنوی‌دورې له‌ودانیو څخه‌ده،پدغه دوره کښی اصلی‌هدف ددغی‌ودانی‌د‌پلان‌تاکلو د کار په وخت کښی(٤٢)دمرمرو ښکلی‌اولیکل‌شوی‌لوحې‌دپیزارې ،په‌پول‌چه‌ددیوال‌په کښته‌برخه کښی نصب‌وی ومونډل‌شوې.

بل‌پربوه‌غونډی‌ـ حفریات‌وشوه دغه‌غونډی‌ـدسردار دغونډی‌ـپه‌نامه‌یادېږی چه‌په یومهم ځای کښی دغزنی دښار‌اوروضی‌ترمنځ پرته‌ده دحفریاتو په‌نتیجه کښی یولړ ستوپې مونډل شوی چه د کوشانی دورې څخه وې، یو‌لدغو ستوپوڅخه چه‌پورتنۍ برخه کښی‌ودانی شوی‌وی‌دایتالوی هیئت په‌نظریه دافغانستان‌له ستروستوپو څخه‌شمېرل کېږی.

تصادفی اکتشافات:دتپر کال په دوهم‌نمبر کښی‌د غزنوی اوسلجوقی عصرونو (۱۷٦) دانې دینارونه‌دهمهغه عصردیو شمېر ګانوسره‌دقندوز له‌چار درې څخه نابیر ه‌ومونډل شول. ددغوسکو طبقه‌بندی داسی کیدای شی:

یوه دانه دطغرل سکه، (۱۷) دانې دفرخزادسکې (۱۰۰) دانی دسلطان ابراهیم سکې، (٥٤) دانې دالپ ارسلان سکې، شونوری سکې و نه پېژندل شوی. ددغو سکو څخه څرګنده پېښی چه د طغرل پلاس دغزنوی تخت غصبېده اودفرخزاد جلوس په (٤٤٣) کال کښی ؤنه په (٤٤٤) کال کښی، چه تاریخی کتابونو ثبت کړی دی. پدې معنی چه په غزنی کښی وهل شوی دطغرل سکه او په غزنی کښی وهل شوی دفرخ زادسکه په (٤٤٣) کال کښی وهل شوی وی دغه سکی دغزنوی پاچهانو پرعصر رو ښنائی اچوی، دغه رنګه دالپ ارسلان سکې د کابل په موزیم کښی نه وې اوپدې سره دموزیم تاریخی سکی زیاتی شوې.

دوهم داؤ چه یوډ برین صقیلی تبرنابېره وموندل شو، ددره نورځخه لاس ته راغی، واقعاً یوه ستره نمونه ده خودتحقیق له کبله بل تبرونه موندل شوداسی اتکل کولی شوچه هغه به دبل ځای څخه دره نو رته راوړل شوی وی.

دریم تصادفی کشف یوه بودائی صحنه ده چه دشیست په ډبره کښی کیندل شوی بود اته یوه ډله تحفه و رکونکی دسو غات وړاندی کولو په حال کښی څرګنده وی، دسو غات وړاندی کونکو جامه د کوشانی دورې دهغه وخت دمحلی جامې نمایندګی کوی.

دغه ډبره د کلکان دعلا قداری دا غاسرای دشا وخوا په خواجه بیل کښی موندل شوې ده کتابځی د قلمی نسخو کتلاګ تیارشوی دی، تراوسه د (۳۰۰۰) کتابونو عنوانونه غونډ شوی او د کتابونو درانیولو دپاره خارج ته استول شوی دی، دتخنیک په شق کښی دمنډیګک شیونه ترمیم اوعکسونه اخستل شوی دی، د اشیا فوټو یشن په لګښت د کابل موزیم دوه تنه غړی دیوه کال دپاره دموزیم په شق کښی سویس ته لېږل شوی دی. دغه رنګه ددغی مؤسسې په مرسته یوشمېر کتابونه دموزیم داری په بیلو بیلو هنری او کلتوری موضوعاتو کښی د کابل موزیم درې تنه غړو داستفادې دپاره تهیه شوی دی په نظر کښی دی چه د کابل موزیم درې تنه ترمیم کونکی ددغی مؤسسې په لګښت خارج ته ولېږل شی.

آریانا دائرة المعارف :

د آریانا دائرة المعارف علمی ټولنی تپر کال دغه چاری سرته رسولی دی :

۱ ـ دافغانستان دجغرافیوی قاموس دریم جلد چه د «ش» له توری څخه شروع اردم» په توری ختمېږی، ۲۸۲۸ محلی عنوانونه او ٤٩٤ پانی لری، خپورشوی او استفاده ځنی کېږی.

۲ ـ دافغانستان دجغرافیوی قاموس دځلرم جلد خپرول چه دقاموس وروستنی جلد دی.

۳ - دفارسی آر یانا دائرة المعارف دشپارسمی برخی چاپېدل چه دوه سوه پانې او ٤٠٤ بیل بیل عنوانونه لری .

٤ - د(ب) او(پ) عنوانونه او ارتیکلونه که محلی وی او که خارجی عنوانونه ، نومونه اونخبنی (علمی اوغیر علمی) ، اته سوه پانې بشپړی شوی دی .

٥ - د پښتو برخه :

څلور سوه پانې دپښتومضمونونه تر او سه پوری تهیه شوی دی ؛ په راتلونکی کال کښی به دپښتو آریانا دائرة المعارف څلرم جلد شروع شی .

دخارجی ارتباط مدیریت

سبز کال دلړم په میاشت کښی په پاریس کښی د یونسکو یوولسم لوی کنفرانس کېږی ، دغه څانګه له اوس څخه د کنفرانس پانې تهیه کوی ، څه موده مخکښی ئې دتربیتی ، علمی او کلتوری فعالیتونو رپوټ په پاریس کښی دمؤسسې مرکزته ولېږه ،چه یونسکو په مخصوص شکل غږښتی ؤ.

پدغه موده کښی دغړوهیوادو دارتباط د دفتر د یونسکو دوه تنه غړی کابل ته راغلی اودیونسکوداوسنی اور اتلونکی پروګرامونوپه شا وخوا کښی ئی خبری اتری وکړې ، هغو پدې ترڅ کی د پوهنی له مسؤلو کسانوسره لیدلی او په بیلوبیلو پروژو کښی ئی د یونسکو دمتخصصینو فعالیتونه وکتل .

په اوسنی وخت کښی دیونسکو دغه مرستی دافغانستان سره جاری دی :

۱-درې تنه متخصصین دقند هارپه میخانیکی ښوونځی کښی.

۲- دیونسکو دهیئت رئیس چه پدې ترڅ کښی په ابتدائی اوثانوی ښوونځیو کښی دسا ینس دتدریسی مشاورپه څیث کار کوی .

۳ - په پوهنتون کښی دیوتن متخصص له خواد سا ینس تد ریس ، ژرپه یو بل متخصص هم کابل ته راشی .

٤ - دمطبعې متخصص دسبز کال دغوئی دمیاشتی ترپایه پوری خد مت وکړ .

٥ - د آرت متخصص دسبز کال له لومړی سرڅخه کابل ته راغلی دی .

دپوهنی وزارت ددرسی کتابو په هغه نندارتون کښی برخه و ا خستله چه په نوی ز یلا نه کښی دیونسکودملی کمیسیون له خواجوړشوی ؤاوهغه هیوادته ئی یوشمېردرسی کتابونه ولېږل.

دغه رنګه دمرستی د کوپونوله پیسو څخه چه د ۳۷ کال په پای کښی دجاپان دځینو عرفانی مؤسسوله خوا موږ ته رسېدلی وې د «قو تو کا پینګ» یوه پایه ماشین او مخصوص کاغذ رانیول شوی دی.

په بین المللی تولنو کښی (کنفرانسو اوسیمینارو) ګډون:

۱ـ داجباری ابتدائی تعلیماتوسیمینارچه سبز کال دیونسکوله خواپه کراچی کښی جوړ شوی وو د افغانستان له خوا په هغه کښی ډاکتر روان فرهادی ګډون کړی وو، په دغه سمینار کښی داداري، پلان جوړولو، ودانیو، اودښوونکودر وزلوپه باب خبری اتری وشوی. داسی اټکل شوی دی چه په نړۍ کښی که د بې وسلې کولو مسئله حل شی په را تلونکو شلو کلو کښی به ددغه مقصد دپاره ۸۰ بلیون ډالره خرڅ شی

۲ـ دښوونې او روزنې دوه ویشتم کنفرانس

دپوهنې وزارت پخواهم پدغه کنفرانس کښی ګډون کړی وو په ۳۸ کال کښی ډاکتر محمد حیدر دمسلکی تدریساتو رئیس اوډاکتر محمد اکرم دټا نوی تدریسا تو رئیس د پوهنې دنمایندګانو په‌حیث ګډون و کړ ددغه کنفرانس موضوعات داوو:

۱ ـ دابتدائی ښوونځیو ددرسی کتابونو دټاکلو ترتیب اواستفاده

۲ ـ د تخنیکی پرسونل روزنه

۳ ـ په ۱۹۵۸ ـ ۱۹۵۹ کال کښی دپوهنې دپرمختګ ر پوټ

٤ ـ دمسلکی اوتخنیکی تعلیماتودادارۍ هیئت‌په‌ور کشاپ کښی ګډون

پەدغه سیمینار کښی‌چه‌د اسیادجنوب ختیځ دهیوادو دپاره‌د کار او کار کونکی دمؤسسی او دجاپان دیونسکو دملی کمیسیون له‌خوا جوړ شوی وو دپوهنې وزارت له خوا ښاغلی محمد نسیم دټانوئی تخنیک پخوانی مدیر ګډون‌پکښی کړی وو دافغانستان نماینده‌ددغه‌سیمینار رئیس په‌حیث وټاکل شو او پدغو لاندی موضوعاتو کښی خبری اتری وشوې

الف ـ دمسلکی اوتخنیکی‌تعلیماتو په‌منځ کښی رابطه.

ب ـ دهیوادوانکشاف له مخی د کار او کار کوونکو نفر یوته اړتیا

ج ـ دپوهنې دپرو ګرامو نوترتیب او بیا کتنه

د ـ په‌مسلکی او تخنیکی تعلیماتو کښی لارښونه

س ـ دزده کونکو کنترول اوټاکل اومسلکی لارښونه

ص ـ مسلکی او تخنیکی ښوونځیوته دودانیو په ګډون سامانونه اولوا زم.

ظ-دزده کوونکواوښوو نکوبین المللی تبادله:

ع-دمسلکی اوتخنیکی تعلیماتو راتلونکی انکشاف .

٤ - دترك اواسلامی صنایعو پهلومړی بین المللي کنفرانس کښی گډون :

د۱۹۵۹ کال د اکتوبر په میاشت کښی دغه کنفرانس دانقری دپوهنتون له خوا جوړشود پوهنی وزارت تدریسی معین ښاغلی محمد انس په هغه کښی د کتونکی په حیث گډون وکړ، پیلو پیلو هیوادونو څخه بین المللی پوهانو گډون پکښی کړی وُ تر کی، انگلیسی، فرانسوی اوالمانی دځلور ژبی ددغی کنگری در سمې ژبو په حیث و پیژندل شوی دغه رنگه په فارسی اوعربی ژبو کښی داسلامی کتابو او کتیبو د هنری آثارو تدقیق ته زیاته اړتیا ولیدله شوه.

پروفیسر تو چی پدغه مجلس کښی دغز نوی دوری دصنایعو دتاریخ په باب یوه خطا به ورکړه په قونیه کښی افغانی کتونکی دمولانا جلال الدین رومی اوپه اسلامی کلتور کښی دافغانستان دبرخی اخستولو په باب وینا وکړه هغه خپرونی چه دمنارجام اوغزنوی صنایعو په باب وشوی دصنایعودتاریخ پوهانو خوښی کړی.

ه-دختیځ اولویدیځ د کلتوری ارزش اوتفهیم سیمینار:

دختیځ او لویدیځ دثقافتی ارزش دمقابله تقدیر له مخی دښوونځیو دنشریاتو استعمال لپاره د بین المللی حسن تفاهم په تامین کښی دیونسکو له مهموهدفونو څخه دی که چیرته نه شی دد غه مقصد لپاره دیونسکو لویه پروژه جوړه شوی ده

لسم عمومی کنفرانس دا فیصله کړه چه دختیځ اولویدیځ دثقافتی ارزشود متقابله تقدیر لپاره دی دښوونځیو دنشریاتو دسهم دتدقیق سیمینار جوړشی، اوداسی وسایل ولټوی چه دغه تقدیر پراختیاو مومی ددغه مقصد لپاره دسږ کال په فروری کښی دنوی زیلانډ په مرکز ویلنګټن کښی دیونسکو او نوی زیلانډ دحکومت له خوا په گډه یو سیمینار جوړشو، په هغه کښی (۲۷) هیوادونو او څینو بین المللی موسسو گډون کړی وُ ، چه د افغانستان د پوهنی وزارت له خوا ښاغلی غلام علی آئین ددارالمعلمینو پخوانی مدیر گډون پکښی وکړ.

٦ - دیونسکو دوهم منطقوی کنفرانس :

دغه کنفرانس دفلپین دیونسکو دملی کمیسیون، فلپین دحکومت اویونسکو له خوا دسږ کال دجنوری په میاشت کښی د آسیا دجنوب څنیځو هیوادو دپاره جوړشو .

۷ - امریکی ته عرفانی هیئت :

دپوهنی یوشپږ کسیزهیئت دپوهنتون دلیک دځانګی دمدیراو دپوهنی دخارجه ارتباط دمدیریت

د پخوانی غړی ښاغلی محمد یونس سکندر زاده په مشرۍ د امریکی د متحده ایالتو د اطلاعاتو دسرویس په بلنه دملګرو ملتو موسسه د هغه هیواد علمی، کلتوری او فرهنګی موسسی او ځینی ایالتونه وګرځل.

ښاغلی محمد اکبر روشنضمیر، د عرفان د مجلې مدیر، ښاغلی محمد سرور همایون د آریانا د مجلی مدیر، ښاغلی ګل احمد فرید د پوهنی د کتابځی مدیر، ښاغلی دین محمد د تالیف او ترجمې مدیر او ښاغلی محمد حسن کاکړ د کابل مجلې مدیر د دغه هیئت غړي وو.

۸ - عراق ته عرفانی هیئت :

د عراق د حکومت په بلنه یو پنځه کسیز هیئت د مطبوعاتو د ریاست د پوهنی د نداري د آمر ښاغلی عبدالرشید لطیفی په مشرۍ سبز کال د غبرګولی په میاشت کښی هغه هیواد ته ولاړ، او کلتوری فرهنګی او علمی موسسې ئی وګرځلې.

د ثانوی تخنیک زده کوونکی د موټرو په ورکشاب کښی د موټرو عرابه ترمیموی

ښاغلی محمد اسحق وطب پوهاند ، ډاکټر سیف الرحمن صمدی دساینس‌دپوهنځی‌پوهنوی انجنیراحمد شاه‌د کانو اوصنایعودوزارت له خوا ، او ښاغلی محمد شا ه ار شاد وهیواد مدیرددغه هیئت غړی‌وو .

۹ ـ شوروی اتحاد ته عر فانی هیئت :

دشوروی‌اتحاددپو هنی وزارت‌په بلنه یوځلور کسیزهیئت‌سبز کال په‌غبر گولی کښی‌دپوهنی دوزیردو کتور پوپل‌په مشری دهغه هیو ادعرفانی ، کلتوری‌اوعلمی مؤسسې‌و کتلې ، دابتدائی تدریسا تو رئیس ښاغلی محمد آصف ما یل ،دمسلکی‌تدریساتو رئیس ډاکتر محمد حیدر او دساینس دپوهنځی رئیس ډاکتر کا کړ د دغه‌هیئت غړی‌وو .

دفیلوشپ اوسکالر شپ چاری :

له‌څو کلوراهیسی دارتباط مدیریت دفیلوشپ او سکالرشپ‌دمر کزی جر گه گډه د د فتر په حیث کار کوی دتپرو کلو دتعلیمی بورسو څخه زیاته گټه اخستل شوی په ۳۸ کال کښی د د غه وزارت اوپوهنتون دفیلوشپ او سکالرشپ شمېر (٤۲) تنوته رسېږی.

متفرقه‌چاری:

۱ ـ د (۱۲) تنو خارجی سکالر شپوسره مرسته وشوه

۲ ـ د (۳۲) تنو په‌استخدام کښی‌موافقه شوې‌دځلور تنودوره اوزده اودوه تنه‌مسترد شول .

۳ ـ دهر کال په‌پول د۵۹ کال‌په‌اکتوبر کښی‌دملګروملتودځورلسم‌تلین‌مراسم‌دپوهنی‌وزارت اوپوهنتون‌له‌خوا په افغانستان کښی اجرا شول .

دافغا نستان اوترکیې ترمنځ فرهنګی موافقه :

دنومبر په(۷)نېټه په انقره کښی دافغانستان لوی‌سفیر اودترکیې دبهرنیو چارو وزیر زورلوترمنځ دهغه هیواد په‌خارجه وزارت کښی‌یو کلتوری‌تړون‌وشو. دپوهنی‌وزارت تدریسی معین ډاکتر محمد انس دافغانستان له‌خوا دتړون په‌مراسمو کښی د ګډون دپاره لېږل شوی ؤ دغه‌تړون دملګروملتو دمنشور اودیونسکو دپرینسیپو له مخی ددواړو وهیواد و په منځ کښی فرهنګی مرسته او متقابله‌حسن تفاهم‌زیا توی .

دپوهنی‌سرطبابت

دمحرقې اوپا راتیفو دناروغیو دمخ نیوی دپاره د۳۶ کال په سر کښی دروغتیا د وزارت په‌واسطه دمحرقی ضد وا کسین تهیه شو ل او دپو هنی در وغتون دفنی پر سو نل په و ا سطه اودعلی آباد دروغتیا دمؤ سسو په مرسته په ۳۹ کال کښی ستنی ووهل شو ي .

ځینی نمیګړ تیاوی چه در وغتون په مخکی ودانۍ کی د عصری تشناب او د غا ښو د سرویسود کوټو ترمنځ داو بودنل اوټانک دندر اودلو په نسبت موجودی وې، لیری او بشپړی شوې

هغه زده کونکی چه دولا یتونو څخه دپوهنی روغتون ته داساسی تداوی لپاره معرفی شوی وو په ممکنو وسیلو سره ئې تداوی وشول . ددې لپاره چه دزده کونکو اساسی معاینه وشی دزده کونکود کارتو او صحی معاینو په تهیه کولو کښی اقدام وشو ، هره ورځ یو زیات شمیر زده کونکی په مرکزی معاینه ځی کښی معاینه شوی اودروغتیا دځرنګوالی په باب ئې دمتخصص له خواپد غو کارتو نو توضیح شوې ده .

په ۳۹ کال کښی دپوهنی سر طبابت (۱٦) زر وتنو هلکانو او نجو نوزده کو نکو ته د کوی ستنی وهلی دی .

ددې لپاره چه دسر طبابت له صحی او بو څخه استفاده وشی، عصری څاه کښله شوې اودبریښنا بمبه هم لری.

تېر کال دتوبر کلوز فنی هیئت په ۲۰ زرو تنو (هلکانو اونجونو) زده کونکو باندی توبر کولین تطبیق کړه چه په ډېرو کسانو کښی دما نتو دتعامل په مقا بل کښی منفی نتیجه واخستله شوه اوو روسته د (بی ، سی ، جی) ستنی ورو وهل شوې پدې ډول دتو بر کلو ز دناروغۍ په مقابل کښی شپږ کاله معافی ور کړه شوه .

د پوهنی سپورټ : دسپورټ لوی مدیر یت په ښوونځیو کښی د سپورټ د ا نکشا ف په باب دغه اقدامونه کړی دی:

الف ـ دپوهنی دزده کونکو درسم ګذشت په مخصوصه ورځ (۵۵۰۰) تنو ګډون و کړ، چه جامې لوحې او نوری اړتیاوی دمخه دغه مدیریت ورته تهیه اوویشلی اودتمرین زمینه ورته برابره شوې وه.

ب ـ دپوهنی دها کی دهغه ټیم و ارسی او مرسته ئې ورسره و کړه چه دهند دها کی دټیم او دمتحد عربی جمهوریت دټیم سره ئی لوبی و کړې.

دپوهنی درسمی اتلتیک دتور نمنټ تیاری دسپورټ دلوی مدیریت له خواشوې چه د۳۸ کال دتلی په (۷) نېټه شروع او نتیجه ئې داده :

الف ـ د(۱۰۰) مترو ځغاستی په لوبو کښی داستقلال لیسه لمړی ، د غازی لیسه دوهم اوحبیبیه دریم لمبر وپیژندل شوه.

ب ـ د(۳۰۰۰) مترو ځغاستی په لوبو کښی دنجات لیسه لومړی د تجارت ښوونځی دو هم اودنجات لیسه دریم لمبر شوه .

بزکشی دهیواد دشمالی سیمو ملی او باستانـی سپو رت



د پوهنی د اساسی تعلیماتو دلو از مود نهیه کولو څانګه



دسپورټ په ډګر کښې دابتدائی ښوونځی یوټولګی زده کوونکی

ج - د (٤ × ٤٠٠) ر یلی ځغاستی په لوبه کښې د نجات لیسه لو مړی ، حبیبیه دو هم اودغازی لیسه دریم لمبر شول .

د ـ د (٨٠٠) مترو ځغاستی په لوبه کښې د نجات لیسه لمړی لمبر ، د تجارت ښو و نځی دوهم اودریم لمبر شول.

هـ د (٤٠٠) مترو ځغاستی په لوبو کښې د حبیبیی لیسه لمړی اودوهم اود نجات لیسه دریم لمبر شول.

و ـ د (١٥٠٠) مترو په ځغاسته کښې د نجات لیسه لومړی لمبر ، د تجارت ښوو نځی دو هم او د غازی لیسه دریم لمبر شول .

ز ـ د (٤٠٠٠) مترو بایسکل ځغلولو په لوبو کښې د حبیبیی لیسه لومړی ، داستقلال لیسه دوهم اودغازی لیسه دریم لمبر شول .

ح - د (٢٠٠) مترو ځغاستی په لوبه کښې د غازی لیسه لمړی ، د تجارت ښوو نځی دوهم او د نجات لیسه دریم لمبر شول.

ط ـ د (۲۰۰۰) مترو باسیکل ځغلولو په لوبه کښې داستقلال لیسه لمړی ، د حبیبیې لیسه دوهم اودغازی لیسه دریم لمبر شول .

ی ـ د (۵۰۰۰) مترو ځغاستې په لوبه کښې د بدنی روزنې ښوونځی لومړی ، دنجات لیسه دوهم او دغازی لیسه دریم لمبر شول .

ك ـ د (۱۰۰۰) متره باسیکل ځغلولو په لوبه کښې د استقلال لیسه لومړی ، د حبیبیې لیسه دوهم اودغازی لیسه دریم لمبر شول .

ل ـ د (٤×۱۰۰) متره ریلی په لوبه کښې دنجات لیسه لومړی ، حبیبیه دوهم او دغازی لیسه دریم لمبر شول .

م ـ دقدم دارغور ځنګ په لوبه کښې حبیبیه لومړی ، دغازی لیسه دوهم او دنجات لیسه دریم لمبر شول .

ن ـ د لوړ غور ځنګ په لوبه کښې دنجات لیسه لمړی ، د غازی لیسه دوهم او دریم لمبر شول .

س ـ دلیرۍ غور ځنګ په لوبه کښې د نجات لیسه لومړی ، او د حبیبیې لیسه دوهم او دریم لمبر شول .

ع ـ د پوالوالۍ (نښتری غور ځنګ) په لوبه کښې حبیبیه لومړی ، دغازی لیسه دوهم اودبدنی روزنې ښوونځی دریم لمبر شول .

ف ـ د ګلولې اچولو په لوبه کښې د حبیبیې لیسه لومړی اودوهم اودثانوی تخنیک ښوونځی دریم لمبر شول .

ص ـ د ډیسک اچولو په لوبه کښې د حبیبیې لیسه لومړی دنجات لیسه دوهم اودحبیبیې لیسه دریم لمبر شول .

ق ـ د نښتری اچولو په لوبه کښې د حبیبیې لیسه لومړی ، د بدنی روزنې ښوونځی دوهم او د خوشحال خان لیسه دریم لمبر شول .

۳ ـ د پوهنې د منی تورنمنټ د ۳۸ کال د تلې په (۱۷) نېټه شروع او نتیجه ئې داده :

الف ـ د مقبال په لوبو کښې د حبیبیې لیسه د ۳۸ کال د قهرمان په حیث وپیژندل شوه .

ب ـ د هیندبال په لوبو کښې د حبیبیې لیسه د ۳۸ کال د قهرمان په حیث پیژندل شوې او دغازی لیسه دوهم لمبر شوه .

٤ ـ د آزاد اتلتیک د قهرمانۍ په تورنمنټ کښې چه د المپیک ریاست اعلان کړی و ،

میرمن حنیفه عزت دکابل دز رغونې دلیسې مرستیاله زده کوونکو ته د روغتیا دورځې په نسبت
وینانیې په حال کښې

دعلم زده کړه پر هر نر اوښځی فرض ده، پښتنی پېغلی او میرمنی هم په دغه لارکښی زیا رباسی

د پوهنې یو شمېر زده کونکو په هغه کښې گډون کړی، نتیجه ئی په لاندې ډول ده:

الف-د (۱۰۰) متره ځغاستی په لوبه کښې داستقلال په لیسه کښې په (۱۱) ثانیو کښې لومړی، دغازی لیسه په ۲ - ۲۱ ثانیو کښې دوهمه او د پوهنتون تیم په ۲ - ۲۲ ثانیو کښې دریم شو.

ب-د (۲۰۰) متره ځغاستی په لوبه کښې داستقلال لیسه په ۵-۲۳ ثانیو کښې لومړی، دغازی لیسه په ۹-۲۳ ثانیو کښې دوهمه او پوهنتون په ٤ - ٤۷ ثانیو کښې دریم شو

ج - د ٤ متره ځغاستی په لوبه کښې پوهنتون په ۲-۵۵ ثانیو کښې لومړی، او په ۱ - ۵٦ ثانیو کښې په دوهم او په ۷۵ ثانیو کښې دریم شو.

د-د (۸۰۰) متره ځغاستی په لوبه کښې پوهنتون په ۱٤-۳ دقیقو کښې لومړی د نجات لیسه په ۱۵-۲ دقیقو کښې دوهمه او (ح،پ) په ۲-۱٦-۲ دقیقو کښې دریم شو.

هـ - په (۱۵۰۰) متره ځغاسته کښې نجات په ٤٤-٤ دقیقو کښې لومړی، پوهنتون په ٦-۵۵-۵ دقیقو کښې دوهم او (ح ، پ) په ٦ - ٦ دقیقو کښې دریم شو.

و-په (۳۰۰۰) متره ځغاسته کښې پوهنتون په ۳۸-۱۰ دقیقو کښې لومړی، د بدنی روزنی ښوونځی په ۳-۳۸-۱۰ دقیقو کښې دوهم او د نجات لیسه په ۱۱ دقیقو کښې دریم لمبر شوه.

ز-د (٤×٤۰۰) متره ریلی په ځغاسته کښې د پوهنې تیم په ۷-٤۷ ثانیو کښې لومړی، پوهنتون په ۱-٤۸ ثانیو کښې دوهم او د پوهنې دوهم تیم په ۳-٤۸ ثانیو کښې دریم شو.

ح-په (۵۰۰۰) متره ځغاسته کښې پوهنتون په ۲٤-۱۸ دقیقو کښې لومړی، د بدنی روزنی ښوونځی په ٤۹-۱۸ دقیقو کښې دوهم او د نجات لیسه په ۲٦-۱۹ دقیقو کښې دریمه شوه.

ط-په (٤×٤۰۰) متره ریلی ځغاسته کښې پوهنتون په ٤۸-۳ دقیقو کښې لومړی، د پوهنې تیم په ۵۰-٤ دقیقو کښې دوهم او د پوهنې دوهم تیم په ۵ دقیقو کښې دریم شو.

ی- د نېزې په لوبه کښې د حبیبیې لیسه لومړی، د پولیسو پوهنځی دوهم او د بدنی روزنی ښوونځی دریم شو.

ك-د لوړ غورځنگ په لوبه کښې پوهنتون لومړی او دوهم او ح،پ دریم شو.

ل-د ډیسك اچولو په لوبه کښې پوهنتون لومړی او دریم او ح،پ دوهم شو.

م-د گلولی په اچولو کښې پوهنتون لومړی، دوهم او دریم شو.

ن-د لیری غورځنگ په لوبه کښې دغازی لیسه لومړی، او پوهنتون دوهم او دریم شو.

س- د قدم دار غورځنگ په لوبه کښې دغازی لیسه لومړی، پوهنتون دوهم او حبیبیه دریمه شوه.

ع-د پوالوات (د نېزې سره غورځنگ) په لوبه کښې حبیبیه لومړی، د پولیس پوهنځی دوهم او پوهنتون دریم شو.

ه ـ دا ستقلال د لیسې دستورې بو دوه نورې کـاز چه‌تیر کال شروع شوی وُ دغه چاری ئې سر ته ر سید لې دی :

الف ـ دسپورت دې ګردهوارولو او کبل اچولو کار د (۹۰) مترو په اوږدوالی او د (٦٥) مترو په پسوربشپر شو .

ب ـ د دې ګر شاوخواسې کونه چه هر ډول ځغا سته پکښې کېږی د متخصصینـو په نظر په په اساسې ډول بشپرشوی او استفاده ځنی کیږی .

ج ـ دې ګرپه ختیځه برخه کښې دهر ډول غورځېدو لپاره دریګودوه حوضونه پـه اساسی ډول دبین المللی ډګرونو داندازو له مخې بشپړ شوی او استفاده ځنی کیږی .

د ـ د (٤) مترو لوړوالی او (۱۰۰) مترو اوږدوالی په اندازه دستدیو دندانې په کانکریټ سره جوړی شوی او نورلوړوالی به ئې دعصری تشنابواود جامې اغوستلود کوټو په جوړ ېدو سره د کال تر پایه پوری بشپړ شی .

ه ـ دې ګرداحاطې کار په اساسی ډول بشپړ شوی دی .

٦ ـ سپورټ او بدنی روزنه دنجونو په ښو ونځیو کښې در سی مضمون په حیث سها ر او ماسپښین ترنهم ټولګی پوری رسمامنل شوی اودهغه دعملی کېدو پاره دغه اجراآتشوی دی :

الف ـ د مشاوری په حیث د نجونو دابتدائی ښوونځیو د سپورټ او بدنې روزنې معلمه چه درې ښاری وظیفه هم اجرا کوی استخدام او په کار ئی شروع کړې ده .

ب ـ تېر کال دمعلماتو دپاره د سپورټ او بدنی روزنی کورس جوړشو ، چه په هغه کښی لـه تو لوښوو ونځیو څخه (۱۰٥) تنومعلماتو ګډون کړی او د کورس د فراغت نه و ر وسته سبز کال په ښوونځیو کښی دسپورټ د ښوونکو په حیث وظیفه اجرا کوی .

ج ـ دنجونو دښوونځیو دپاره دسپورټ او بدنی روزنی اساسی پروګرام تیار او د هغـه لـه مخې سپورتی فعالیتونه جاری دی .

د ـ دسپورټ دمشاورپه پیشنهاددسپورټ زیات سامان اولوازم دسپورټ دلوی مدیریت له خوا دنجونو ښوو ونځیوته ویشل شو ی دی .

دپوهنې احصائیه

۱ ـ په ۳۸ او ۳۹ کال کښی دغی څانګی پخپلو عا دی چارو سر بېره چه دښوونځیو او پوهنی دأحصائې درپوټونو اوفورمو غونډول اوویشل ، اورسمی څانګو ته دلیکنو اومعلوماتولیږلدی

دیو څلو ښتم کال دجشن دترتیباتو دپاره دوزارت په لارښوونه دښوونی او روزنی دمؤسسې سره تماس کړی اوهغی څانگی ته ئې دپوهنی داحصائې بیل بیل معلومات ور کړی چه دپوهنی په غرفه کښی په ښه ډول مراجعه کونکو ته وړاندی شی، له همدې کبله گرافونه، سلائیډونه او نور دپوهنی داحصائیې له مخی دښوونی اوروزنی دمؤسسې له خوا تیار شول.

۲ - ځکه چه پنځکلن پلان پای ته رسیږی دغه څانگه دلومړی پنځه کلن پلان نتیجو اوددوهم پنځکلن پلان پیش بینی ته پاملرنه لری، لکه چه ۳۸ کال په پای کښی له ټولو ولایتو څخه دپوهنی دلومړی پلان دښوونځیو دتاسیساتو احصائیه غونډه او تیاره شوې ده.

۳ - له دې کبله چه دپوهنی وزارت دنارینو او ښځو دابتدائی اومنځنی ښوونځی، لیسې او مسلکی ښوونځیو اوپوهنځیو دفارغ التحصیلانو دشمېر څخه په راتلونکو کلونو کښی معلومات ولری دغه څانگه پدې مؤظفه شوه چه په اټکلی ډول پیش بینی وکړی، دغی څانگی تر ۱۳۴۳ کاله پوری دپوهنی دبیلو بیلو ټولگیو دداخلی شمېر له مخی دنارینو او ښځو دپوهنځیو، لیسو، منځنی، ابتدائی اومسلکی ښوونځیو دفارغ التحصیلانو اټکلی شمېر ترتیب کړی او وزارت ته ئې وړاندی کړی چه دپوهنی دپلان دبوړ ډهیئت له هغه څخه استفاده کوی.



درابعه بلخی دلیسې ځینی متعلمینی په دغه لیسه کښی

دښوونکومدیریت:

دپوهنې دپرمختګ سره دښوونکوشمېرهم ورځ په ورځ زیاتېږي چه ددغه مدیریت کار ورسره دپرېږي ، د کارد آ سا نتیاله کبله دښوونکو دمدیریت چاري په دروځانګو ویشل شوی دی :

الف ـ دسوانحو دځانګې لومړې قسم :

دغه ځانګه دښو ونکود مقرري ، اوتبدیلې ، ترفیع اوتقاعد ، استعفی د بېې دمعافېدو ، مجازاتو اومکافاتو اونورو چارو په باب لازمه اجراآت کوی دغه چاري ئې سرته زسولی دی :

۱ - (۲۳۰) تنه ښوونکی دمسافرت ددو ري دبشپړېدو له مخې دیوولایت څخه بل ولایت ته تبد یل شوی دی .

۲ - (۱۱۳۷) تنه ښوونکی د یوښوونځی څخه بل ښوونځی ته تبدیل شو ی ـ ی .

۳ - (۲۱۷) تنه نوی ښوونکی مقر ر شوی دی .

٤ - (٥١) تنی میرمنی دمعلما توپه حیث مقر ری شوی دی .

٥ - (٥٨٤) تنومعلمینو اومعلماتو له مر کز څخه ترفیع کړېده .

٦ - (٣٥٦) تنه له ترفیع څخه پاتی شوی او سری تبلیغ ور کړ شوی دی .

۷ - (٤٢٧) تنو ښوونکودولایتو دپوهنې دمدیریتوله خوا ترفیع کړی ده .

۸ - (١٥٥) تنوښوونکو شپږ کاله دغه مقدس مسلك منلی اودېچی څخه معاف شوی دی .

۹ - (٥٧٠) « « دپلټنې دلا یحې یا ورو معا ینو له کبله مکافا ت یا مجاز ات وړې او په سوانحاتو کښې ئې لیکل شوی دی .

۱۰ - (١٦) تنه ښوونکی په پوهنځیو کی شامل اوله معلمې څخه منفك شوی دی .

۱۱ - (۳۰) تنه ښوونکی تقاعد شو ی دی .

۱۲ - (۳۸) تنوښوونکو استعفی کړی ده .

۱۳ - (۲۹) تنو ښوونکو اومامورینوته مه ال یانښان ور کړشوی دی .

۱٤ - (٥) تنو ښوو نکو له (٥) رتبې څخه یوه رتبه لوړ ترفیع کړې ده .

ب ـ داستخدام ځانګه دوهم قسم :

ددغې ځانګې وظیفه چه په عین حال کښې دخارجی ښوونکو چاري هم اجرا کوی دمسلکی ، غلګی ، امتیا زی ، اود پښتو امتیا زی معاشونو دتخصیصاتو اجرا کول دی د بېې د کا ر ت کوپون اودغه رنګه د کوپون دنوی کېدو په باب اجراآت کوی او نوری متفر قه چا ری لکه دحساباتو اوباقیداریو تصفیه، جلب دپورو موضوعات او نورهم اجرا کوی ، هم دداخلی اوخارجی

ښوونکو داستخدام اوتر ون چاری ، داوسیدواووتلو دویزې ، مالیات برعاید ات اود ولا یتو دخارجی ښوونکودحاضری په باب اجرا آت کوی ، (۵۵) تنه خارجی ښوونکی دمعاش یاله نورو هیواد وشخه دمرستی په پول خدمت کوی چه دهغو داستخدام او نورو چارو په باب دغه څانګه مؤظفه ده.

مډالونه

دغو معلمینو او معلماتو مډالونه اخستی دی :

ښاغلی نیاز محمد	دملالی دلیسی ښوونکی	دپوهنی مډال
« ګل محمد	دد ارا لمعلمین «	« «
« حفیظ الله	دنجات د لیسه «	« «
« نور محمد	دمرکزدښتو کورسو «	« «
« محمد نبی	دنجات دلیسی «	« «
محترمه مستوره	دبدخشان پخوانی سرښوونکی	« «
« کبرا بیګم	دملالی دلیسی مدیره	« «
« معصومه	درزغونې دلیسی مدیره	« «
« انیسه	دملالی دلیسی ښوونکې	« «
« شفیقه	دزرغونی « «	« «
« سیمین	دبلقیس دښوونځی ښوونکه	« «
« سید بی بی	دملالی دلیسې سرښوونکی	« «
« زینب	دزرغونی دلیسی سرښوونکی	« «
« بوبو ګل	دمحجوبه هروی «	« «
« مملکت	دمیمنی دنجونو «	« «
« بهچه	دمزارشریف نجونو «	« «
« ښاغلی محمد حسن	دخان آباد دلیسی مدیر	« «
« عبدالقیوم	دسیدجمال الدین دښوونځی ښوونکی	« «
« غلام دستګیر	دپکتیادپوهنی مدیر	« «
« عبدالخالق	دپښتوټولنی غړی	« «
محترمه نادره اخری	دهرات دنجونوسرښوونکی	« «
ښاغلی پاینده خان	داستالف دښوونځی ښوونکی	« «

ACKU

ښاغلی غلام محمد	دفندهار د احمدشاهی ښوونځی سرښوونکی			دپوهنی مدال	
« نور احمد	دغزنی دسنائی	«	«	«	«
« قاری محمدعمر	دابونصرفراهی	«	ښوونکی	«	«
« اسد الله	دمیمنی د	«	«	«	«
« نور محمد	دتکا ب د	«	«	«	«
« عبد النبی	دصنایع مدیر			«	«
« محمد عمر (نفیس زاده)	د هرات دپوهنی مدیر			«	«

دمامورینو مدیریت : دغه چاری ئی سرته رسولی دی :

الف ـ هغه مامورین چه د ۳۸ کال په وزی کښی ئی یوه رتبه ترفیع کړی ده :

۱ ـ ښاغلی دو کتور محمد حیدر د مسلکی تدریساتو د ریاست کفیل د (٥) رتبې څخه (٤) رتبې ته

۲ ـ « عبدالمجید د ثانوی تخنیک دښوونځی مدیر د (٥) « « (٤) « «

۳ ـ « غلام حسین د اداری لوی مدیریت د پیپو گانو مدیر د (٥) « « (٤) « «

٤ ـ « محمد یعقوب د کابل دمیخانیکی ښوونځی مدیر د (٥) رتبې څخه (٤) « «

ب ـ هغه مامورین چه د (٦) رتبې څخه تر (١٢) پورې یوه رتبه ترفیع کړې ده :

د (٦) رتبې څخه	(٥) رتبې ته پنځه تنه		
« (٧) « «	(٦) « «	(١١)	«
« (٨) « «	(٧) « «	(٢٧)	«
« (٩) « «	(٨) « «	(١٥)	«
« (١٠) « «	(٩) « «	(١٦)	«
« (١١) « «	(١٠) « «	(١٦)	«
« (١٢) « «	(١١) « «	(١٢)	«
« (١٣) « «	(١٢) « «	(١٧)	«

ج ـ هغه مامورین چه د بودجې دنه گنجایش له کبله د فیصدی معاش په اخستلو بریالی شوی دی:

د (٣) رتبې څخه تر (٩) رتبې پورې (٧٨) تنه

د ـ پنځو تنو مامورینو تقاعد کړی دی.

ش ـ (١٢٧) تنه نوی مامورین مقرر شوی دی .

ص ـ (٧٤) تنه مامورین تبدیل شوی دی.

ط -(۱۲) تنو مورینو بخښښو نه اخستی دی.

تعمیرات :

۱ - دمیخانیکی ښوونځی دلومړۍ برخی دالحاقیه ودانۍ بشپړتیا

۲ - « « « دد وهمی « « « « «

۳ - د کرهنې د لیسې د الحاقیې د و د انۍ بشپړتیا

٤ - دملالۍ دمدیریت دالحاقیه ودانۍ د کار « «

٥ - دغوری مستورې دودانۍ دالحاقیې د کار « «

٦ - دفتح الله خان په بڼ کښی دنجونو دښوونځی دودانۍ یوه برخه بشپړه شوې ، شاوخوا دیوال ئی جوړاوقاب چی خانه به ئی هم بشپړه شی .

۷ - دموزیم دا لحاقیې کار بشپړ شوی دی .

۸ - دمطبعې دختیځ اړخ الحاقیه ترسر طاق پوری رسیدلې ، کانکریټ ئی اچول شوی اوپاته کارئی دوام لری.

۹ - د حبیبیې دلیسې دو دانۍ یوې برخی چه درز کړی ؤ ، نړول شوی او بیرته تر آهن پوش پوری رسیدلې چه ژربه دغه کار بشپړ شی .

۱۰ - د رحمان بابا په لیسه کښی یو نوی پارك جوړ ېږی چه د سنګ کارۍ تر برخی پوری ئی کار رسیدلی دی.

۱۱ - داستقلال په لیسه کښی د سپورتی نندار ولپاره یوه عصری سټډ یوود انېږی چه کارئی په بیړه جاری دی.

۱۲ - دپوهنی وزارت دنوی تحویلخانې دودانۍ کار بشپړ شوی دی.

ترمیم :

۱ - درحمان بابا دښوونځی روغنی رنګمالی اونور ترمیمات

۲ - د کرهنې د لیسې « « « «

۳ - دوزارت دزیاتو کوټو اولو ازمو ترمیم اودتحویلخانو کاه ګل کاری .

٤ - دیونسکو دودانۍ رنګمالی او کاه ګل کاری .

٥ - داستقلال په لیسه کښی د کاشی خشتو سره دتشاب د کموډ ایښول اوروغنی رنګمالی،

٦ - دملالۍ دلیسې دبامو کاه ګل کاری او ترمیم، اودور کشاپ دخوتی کانکریټ کاری اورنګمالی

۷ - دمحجوبه هروی دښوونځی ترمیم رنګمالی اودټولوټولګیو کانکریټ اوده پیزارو، پخته کاری

۸ - دنجات دلیسی دودانیو ترمیم او رنگمالی .

۹ - دخوشحال خان دلیسي « « «

۱۰ - ددا را لمعلمین « « « «

۱۱ - دابن سینا « « « « او دپوښښو نو نړول اوبیا ودا نول،

۱۲ - دمیخانیک دلیلیي « « « «

۱۳- دشاه دوشمشیره دښوونځی دچتونو نړول اوبیرته ئی له سره ودانول او گاډر کاری

۱٤- دزرغونی لیسي دپخوانیر ودانیر دلوید یځی برخی نړول او په نظر کښی دی چه بیرته دنخشي له مخی ودانه شی.

۱۵- په شهرا را کښی د حربی ښوونځی پخوانیر و دانیر چه د ملی د فاع له و زا رت څخه رانیول شوی اوپـه نظر کښی دی چه دبلقیس ښوونځی لپاره ودانه شی.

۱٦- د علا ؤا لد ین د تجربوی ښوونځی ترمیم ، رنگما لی ا و د کوتو د غولوا و د یو الو کا نکریټ کاری

۱۷- په آهن پوش سره دسپین کلی دښوونځی تر میم

۱۸ - دبابرشاه دبن ترمیمات او نورچاری لکه نل د وانی دلا مبود حوض او فواري ترمیم

۱۹- دروغتون دسرطبابت دودانیر ترمیم اورو غنی رنگمـالـی

۲ ۵۳۱۷ کیلوروسی سپین آهن چادررانیول شوی اوپه ښوونځیو کښی په مصرف رسیدلی دی .

۳۳ /۸ ۵۳ مکعب متردارچی لرگی په ښوو نځیو کښی په مصرف رسیدلی دی

(۵۸۹) دانې گاډرونه په مصرف رسیدلی دی

دمطبعی دسوزل شویواوسپنوڅخه (۷٤۰) تختې رانیول شوی اود مربوطو ښوونځی په آهن پټوشی کښی کارځنی اخستل شوی دی .

(۱۳٦)دانې اینداری رانیول شوی اوپه ښوونځیو کښی اینبودل شـو ی دی .

سمعی ابصری کورس : ددغه کورس څخه په ۳۸ کا ل کښی(۱۵) تنه بریالی شوی اوتصدیقونه ور کړه شوه چه دټبرو کلو په اساس ئی تد ریس دښاری ښوونځیو دښوونکوله خواوشو،

دا ساسی تعلیماتو مدیریت دمتخصصینواونورو داخلی غړوپه مرسته سر بیره پردې چه د کـلیو دانکشاف دریاست دمربوطو پنځگونو بلا کودپرمختگ په چارو کښی ئې همکاری کړې(۱۹) بابه دهلکانواو نجونوابتدائي ښوونځی (۲٤)بابه کـلیوالی ښـوونځی (۱۷) بابه دلویانو کورسونه

او (۱۵) بابه اجتماعي مرکزونه ئې په ۳۸ کال کښې ترمراقبت اونګرانۍ لاندې نیولې ، ددغو بلاکو دپرمختګ لپاره ئې د خپلو لوازمو دتهیې له څانګې څخه دغه مرستې کړې دي:

۱- د ۹۶۳ جلده ددرسي کتابو بیل بیل مضامین ئې په ۳۸ کال کښې وراستولي دي .

۲- ۱۵۶۳ جلده دمرکز بیلي بیلي مجلې ئې ورلېږلي دي.

۳- ۲۰۰۰ داني سپیني کتابچې زده کونکوته استول شوي دي

٤- دوړو کې دذکاوت ددرجې دپرمختګ ، لیک لوست او حساب لپاره ۲۰۰۰ پاڼې تربیوي چارتونه لېږل شوي دي .

سربېره پردې ځینې نور ضروري شیان لکه نخشې ، کرې ، پنسل ، پنسل پاك ، نئي قلم ،

د سمعي او بصري کورس دتعلیمي لوازمو یوه نمونه

سلیټ او نور ددهکدې دغوښتنې او تړون له مخې دغو بلاکوته لیږل شوي دي اوهم دغه مدیریت په ۳۹ کال کښې دلوړو مقاماتو په مرسته د کابل دپوهنتون مربوط دپوهنځي (٤) تنه فارغ التحصیلان د هکدې ته معرفي کړي چه په بیلو بیلو شقوقو کښې خدمت وکړي ، دغه رنګه دوه تنه

دپوهنې مامورین، دپروان بلاك، یو دپوهنې مامور دنورستان بلاك او یو تن دشیو کیو بلاك ته و لیږل شوه، هم داساسي تعلیماتو څلورتنه منتظمین دغو بلاکو ته واستول شول.

عکاسي: ددغې څانګې دداخلي متخصصینو له خوا یو زیات شمېر دپوهنې د فعالیتو او پرمختګونو، تاریخي آثارو، نویوودانیو، دبریښنا او نورو فابریکو عکسونه اخستل شوي او دخپلواکۍ دجشن په ورځو کښې دپوهنې کمپ، لیسو میخانیکي ښوونځي، ښوونې او روزنې مؤسسې ته د استفادې لپاره استول شوي دي.

دعرفاني او تربیوي فلمونو ښوول: ددغه مدیریت ګرځنده سینما په مرکز او ولایتونو کښې (۳۰۰) رول تعلیمي، تربیوي، دروغتیا، کرهڼې او تفریحي فلمونه (۲۷۷۷۱۰) تنو ته ښوولي دي، او هم ئې یو شمېر نور فلمونه ددغه مدیریت دترتیب شوي پروګرام له مخې په دغه کال کښې د کلیو دانکشاف دپروژو مربوط دهلکانو او نجونو ښوونځیو او خلکو ته ښوولي دي، همدغه فلمي ښودنه او ننداره په مرکز او ولایتونو کښې دوام لري.

دلوازمو دتهیه کولو مرکز:

له دې کبله چه دپوهنې وزارت دتدریس علمي اړخونه تقویه کړي تل دتدریس ښه اصول او ګټوري لاري چاري لټوي سر بېره پردې ئې سمعي او بصري وسایل لکه چارتونه، پوسټرونه لوائح، نخشې، فللین ګراف او نورو تربیوي کارتونه، ترافیکي علامې چه دخلکو داستفادې دپاره ئې تهیه کړي او د کلیو د انکشاف دپروژو دتربیوي او عرفاني موسسو په اختیار کښې ایښي دي.

دلمر پروجکتورونه:

دسمعي او بصري تعلیماتو له مهمو وسایلو څخه د فلمونو، فلمسترپو، ټایپ ریکارډر او نورو تعلیمي لوازمو استعمال دي. د پښتني ځوانانو د ذکاوت له کبله دغه مفکوره پیدا شوه چه دبریښنا او دخاورو دتیلو په عوض کښې دلمر درونا څخه په پروجکتورو کښې کار واخستل شي، او دفلمسترپو نو څخه استفاده وشي، ددغې مفکورې له مخې دغې څانګې دخپلو وطني پیداوارو څخه دلمر پروجکتورونه جوړ کړي او استفاده ځنې کوي، یوائې دپروجکتور لنزونه په خارج کښې جوړ شوي دي، دغې څانګې تراوسه (۲۵۰) دانې پروجکتورونه جوړ کړي او ژر به ئې عرفاني مؤسسو ته داستفادې لپاره وویشي.

فللین ګراف:

(۲۵۰) قطعې فللین ګراف به دټولو تعلیمي لوازمو او کارتو سره ښوونځیو ته وویشل شي

یوه برخه ئی تر او سه پوری د کلیو دا تکشاف مربوطو ښوونځیو او دلو یا نو کورسوته ویشل شوی د ه .

دلو یانو په کورسو کښی تحول :

له د ې کبله چه نن په نړۍ کښی دلو یانو د کورسونو مفهوم دانه د ی چه و گړی یوائی لیك او لوست زده کړی بلکه ښا ئی چه هرسړی د ښاري فرد په حیث ښه ور و زل شي د ځان او نورو سره د مرستی مفکوره پیدا ، خپل حقوق او مسئولیتونه و پیژ نی او دژوند انه چا ری پخپله پرمخ بوزی خوچه د یوه گډور غړی په حیث د هیواد د انکشافي او اقتصاد ي پلا نو نوپه پرمخیولو کښی برخه واخلی .

نود اساسی تعلیماتو مد یریت غواړي چه دلو یانو پر کورسونو سربیره یوشمیر د کورسونو حرفي اول په تجربوي ډول په مر کز او بیاپه ولایتونو کښی جوړی کړی .

ACKU

د فوائدعامې وزارت

تشکیل :

وزیر ع ، ج ، س، ع ډیپلوم انجنیر شاغلی محمد کبیر

معین ح ډ گروال محمدعظیم (د کفیل په حیث)

فنی معین . . . . . مدیریت

ع ، ج انجنیر محمد کبیر

دقلم مخصوص او نشریاتو اوی مدیریت

د نشریاتو او کتابخانی « «

اداری ریاست :

اداری رئیس ع ، ص محمد طاهر

(۱) د مامورینو اوی مدیریت

(۲) د محاسبی « «

الف ـ د نقدی محاسبی « «

ب ـ د دفترداری ـ « «

ج ـ د کنترول « «

د ـ د بودجې « «

(۳) ـ د جنسی محاسبی مدیریت

(٤) ـ د لوازمو « «

(٥) ـ د ډیپو گانو « «

(٦) ـ د بانو « «

میخانیکی ریاست :

میخانیکی رئیس ع ، ص شاغلی غلام محمد

د ریاست مرستیال یوتن

(۱) ـ د تهیی او پیرودنی مدیریت

(۲) ـ د ذاتیی « «

(۳) ـ د ماشینری ـ « «

ACKU

(٤) - دور کشاپ	مدیریت
(٥) - د پیپو کانولوی	»
(٦) - دارتباط د پروژو	»
(٧) - دنقدی محاسبی	»
د تشریح اومعاینی اداره:	
د لوازمو	»
د پانواداره	
د قرارگاه مفرزه	
دودانیواداری لوی	»
دودانیولوی مدیریت	
(١) - د اجرائیی	»
(٢) -دراډیو اتومات تیلفون اود کابل هوتل دتعمیراتودارتباط	»
دحبیبیی دودانیو اودشیر پور دروغتون دودانیو دار تباط	»
(٣) دخارجه وزارت دتعمیر دار تباط	»
(٤) دپوهنتون دودانیو دارتباط	»
دودانیوفنی لوی	»
فنی لوی	»
» » » مرستیال	
اداری	»
دلاروادارې لوی	»
عمومی	»
دسړکو	»
(ب) دپلان	»
دلارو فنی لوی	»
فنی لوی	»
اداری	»
داحصائیی	»

ACKU

دبندو اوویالو آ مر یت

آمریت :

فنسی لوی	مدیریت
لو ی	»
دنقشی کښلو	»
(ب)دمطا لعاتو	»
ج- دجو پونی	»
اد ار ی لو ی	»
لو ی	»
۱ - داجر ائیی	»
ب - دپیو گانو	»
ج-دجنسی محا سبی	»
دتر انزیټی بروژی لوی	»
لو ی	»
د » مدیریت	مر ستیال

دارتباط

دفتی او اداری پلټنې لوی	»
دپلټنی لوی	»
اداری	»
دسنجش او کنترول	»
دبګر ام او کابل دهوائی ډګرو د ارتباط لوی	»
لو ی	»
د کندهار د کشك دوا تداز تباط	»

دکا رقوا:

د کاردقو او لویه‌قوماندانی:	ح د ګروال محمد عظیم
» » » »	مرستیال

ACKU

ددیوان حرب ریاست :
دقرارگاه دلواز مو مدیریت
دساتنی اوښارنی لوی «
دذاتیی «
دحرکاتو «
دامر اواستخباراتی «
دانبار «
دانشائی «
دمعاینی ریاست:
دمحاسبی لوی «
دسالنګ دوات د ارتباطاتو لوی «
دپیرودنی ریاست :
مرکزی سرطبابت
دعینیاتو «

دهیواد په شاوخوا کښی د کارقوماندانی

اوآمریتونه

دسالنګ دسرک لوی آمریت
« « « د لومړی برخی «
« « « د دوهمی « «
« « « د دریمی « «
د کندهار او کشک د سرک لوی «
د کندهار د کشک د سرک د واحد (یونټ) قوماندانی
د کابل د هوایی ډګر آمریت
د بګرام « « «
د(۱) واحد قوماندانی
د(۲) واحد قوماندانی
د(۳) واحد قوماندانی
د(۴) واحد قوماندانی
د(۵) واحد قوماندانی
د تعلیمی واحد قوماندانی
د تورخم د سرک د ګیرا چولو د واحد قوماندانی

ACKU

دفواید عامی چاری

دلاروجوړول دفوائدعامی دوزارت له مهموپروګرامو څخه دی.

زموږ په هیواد کښی دلارو جوړول ډیر ګران کاردی، موږ دخپلو سړکوجوړولو دپاره مجبور یو چه دغرولمنی وتراشو او سخت غرونه سورې کړو اودسیندوپه څنډواو په سختودرو کښی اویا په پراخه دښتو کښی لاری جوړی کړواوسختی یخنی اوسوځوونکی ګرمی پر ځان تیری کړو.

دافغانستان دلارو شبکه چه دجوړونی په حال کښی ده اویاترمطالعې اودجوړونی ترپرځوړې لاندی وه دمنځنی ختیځ له مهمو شبکو څخه ده.

دلاروجوړولوپروژه سربیره پردې چه زموږ دمملکت دپاره ډیراهمیت لری په بین المللی ساحه کښی هم مهمه ده، ځکه دغه شبکه د افغانستان په شمال شرقی او شمال غربی سرحدو کښی قزل کلااو کشك په جنوبی شرقی اوجنوب غربی کښی له تورخم او سپین بولدك سره یوځای کوی اوپه دغه ډول هغه خلا ډکوی چه داروپا اوشرق تر منځ د مځکنیو ستروعصری لارو په شبکه کښی شته.

دهیوادپه لارو او دلارو جوړولو په برخه کښی دفوائدعامی دوزارت فعالیتونه په لنډول داسی څرګندیږی:

الف ـ په سترولارو کښی دجوړونی چاروته دوام ورکول.

(۱) ـ د کابل اوتورخم سړك:

دغه سړك چه دافغانستان مرکزی دپښتونستان په سرحد کښی له تورخم سره یوځای کړی دی ۲۳۲ کیلومتره اوږددی چه دهغه بیلی بیلی برخی داسی څرګندیږی:

(۱) ـ کابل ـ تنګی غارو (۲۰۰۰) کیلومتر.

دغه برخه چه یو څه یی پخواجوړه شوې وه په دی وختو کښی ترمطالعې لاندی نیول شوې ده

چه‌دقیر اچولو دپاره چمتو کړی شی‌له دې امله چه ددغی‌برخی په زیاتره ځایو کښی دسړک سطح‌نژدې دورځرمه مځکی له سطحی‌سره برابره ده زیارایستل کیږی چه په‌دغو ځایو کښی دسړک‌ځمکه لوړه‌شی چه‌بارانونه څه‌زیان‌ور پیښ‌نه کړی.

(۲)- دتنګی غارو خولې- دشیرخان کڅ (کیلومتر ۲۰۰۰- کیلو متر ۵۶۰۰): دابرخه‌چه د کابل اوتورخم دسړک‌له‌پیرو سختو برخو څخه ده کاریی دقرارداد یانو په واسطه جاری دی‌په دې و ختو کښی یـی د هغـه عمـده جـو ړ و نـی تر کـا ر لا نـدی نیـو ل شو ی دی ا و په هغوۍ برخو کښی‌چه له‌غره‌څخه‌د ډبرورغړ ید و بیره یی کیږی د غره پر خوا - ۱۲متره جګ استنادی دیوالونه جوړیږی په ځینو برخو کښی ګلوری ګان تر کـارلاندی‌نیول شوی دی چه لو یی ډبری او هم دسیل او به چه له شیلو څخه وربا ندی را ځی سړک ته ز یان ونه رسوی او پر سر یی تیری شی او سیند ته ولویږی .

په ځینو نورو برخو کښی د زیاتوسرنګوالو زول غواړی .

ددې دپاره چه سړک پوره سور ورشی له کلکو کانکریټی ګاډرو څخه کـاراخیستل کیږی چه ددغو ګاډروځینی‌بشپړشوی دی یو کارچه په دې یوه کـال کښی‌په دغه سړک باندی شوی دی یوعصری ۲۰ متره پل دی چه د کـابل پرسیند باندی جوړ شوې دی .

(۳)- دسرویی دشیرخان کڅ (۵۶۰۰ کیلو متر- ۷۲۰۰ کیلومتر)په‌همدغه برخه کـښی دی‌چه د کا بل پر سیند باندی د نغلو دبند جو ړول په نظر کښی نیول شوی د ی په د غه ډول نژ دی ۱۲ کیلومتره سړک دبند د کاسی‌تراوبولاندی کیږی له د غه امله نوې کرښه سروې شوې ده چه کاربه یی‌په راتلونکی کال کښی شروع شی دد غی په آخروبرخو کښی به څوپلونه‌جوړ شی چه له هغو څخه یوپل چه په ۹ متره بوایې او په ۲ متره لوړوالی ۳ درې کمانی ولری ترجوړو نی لانـدی نیول شوی دی .

(٤) - سرویی - سر کنډوبابا(۷۲۰۰ کیلومتر۱۰۳۰۰) دغه بر خه هم د کابل - تورخم د سړک یوه برخه ده ځکه سړک دور یښمین تنګی له غرنی تنګنا څخه تیر یږی .

د غره له لوری څخه د ډبرو در غړید و اوله سیند څخه دسیلا وداوبو نه د سړک ساتلو دپاره دمعبرو، ابروودواستنادی دیوالو پلواونورو جوړول په کـاردی. چه ددغو زیاته بر خه بشپړه‌شوې اوپاته برخه یی تر جوړونی لاندی ده .

ددغی‌برخی له عمده جوړولوڅخه پرسیند باندی د یوه پله چه ۱۱ متره بوایه ولری اوپه سیند کښی د ډبرودقوی کـانکریټی دیوالو جوړول دی .

(٥) - سر کنډو بابا - جلال آباد (۱۰۳۰۰ کیلومتر ۱۵٦۰۰ کیلومتر): په دې کال کښې د هغو زیاتره جوړونې بشپړې شوی اوسړک دقیرا چولودپاره نژدی چمتو کړشوی دی .

(٦) - جلال آباد - تورخم (۱۵٦۰۰۰ کیلومتر ۲۳۲۰۰): د غه بر خه چه پخوا جوړه شوې وه په دې کال کښې دهغې د اسفالټ لومړی طبقه په ٦۰ کیلومتره اوږد والی بشپړه شوې ده او په دوهمه طبقه به یې په بیړه پیل وشي هیله ده شته چه په کمه موده کښې د هغې لومړی او د وهمه طبقه بشپړه اودتګ وراتګ دپاره چمتوشي .

(۲) - د کابل - قزل کلاستره لار :

دجوړونې له مخې ددغې سترې لارې تقسیمات داسې دی :

کابل - چاریکار	(٦٥ کیلومتره)
چاریکار - جبل السراج	(۱۳ « «)
جبل السراج - دوشی (سالنګ)	(۱۰٦ « «)
دوشی - قزل کلا	(۲۱۸ « «)

(۱) - د کابل - چاریکارو سړک :

دغه سړک چه په تیر کال کښې یې اساسي جوړونه ٦۸ کیلومتره اوږد ده او اسفالټ کاری یې تر ٤۰ کیلومتروپورې بشپړه شوې وه په دې کال کښې یې د بستراو قیراچولو کار نژدې په سلو کښې سل بشپړشوی دی هغه جوړونې چه د پلان په څلورم کال کښې په دغه سړک کښې شوی دی دادی :

د کانکریټی ابرو ۲۲ ستنې له ۸۰ مترونه تر ۲۰۰ مترو بوایو پور ی.

« « « ۸ ستنې له ۸۰ نه تر ۲۰۰ مترو بوایو پور ی.

« « « ۲ ستنې له ۸۰ نه تر ۲۰۰ متر و « «

« « پله ٤ ستنې له ۳۰۰۰ تر ٤۰۰ مترو « «

« « « ۷ له ۳۰۰۰ تر ۲۰۰ مترو « «

« « « ۱ ستن په ٤۲ متر بوایه سره.

یوه لار ۱۰۰ متره اوږده .

دچاریکارو - جبل السراج سړک: ددغه سړک په جوړولو تراوسه لا پیل نه دی شوی. خود مهندسي نقشې یې طرح شوی دی.

نوی سړک به،نسبت پخوانی سړک ته (۲) کیلومتره لنډ وی.

په‌دغه‌سړک باندی‌دیادولو وړجوړونی دوه‌پلونه‌یوئی د۳۲ مترو په‌بوایوسره دغوربند پرسیند اوبل‌یی جبل‌السراج ته نژدې دسالنګ پرسیندی .

هیله‌شته‌چه دچاریکارو -جبل‌السراج سړک‌له‌تولو چوړونو سره دپلان په‌پنځم کال کښی بشپړاودموټروتګ ور اتګ ته‌چمتوشی.

دجبل‌السراج-دوشی‌سړک :

دغه سړک هما غه دسالنګ نا متوسړک دی چه دسا لنګ له‌کندر کا ه څخه د هند و کش دستروغرودسلسلی له نامتو کندر کاووخخه په نژدې له ۲نیم کیلومتره‌اوزده او له بحر څخه په ۳ نیم زره متره جګ تونل کښی تیریږی اود افغانستان داقتصادی لومړی پنځکلن‌پلان ددوهم کال له آخرووختوخخه تراوسه پوری ترجوړونی لاندی نیول شوی دی .

دغه سړک په لاندی دریو برخو کښی جوړ یږی :

لومړی برخه (دوشی - دوشاخ ۵۱ کیلو متره)

دوهمه « « (جبل السراج - اولنګ ۳۰ کیلومتره)

دریمه « « (دوشاخ - اولنګ ۲۵ کیلو متره)

کومی چاری چه د ۱۳۳۷ کال د سنبلی له اول نه د ۱۳۳۸ کال ترحوت پوری په لومړی برخه کښی بشپړی شوی دی په لاندی ډول څرګندیږی:

پلونه په سلو کښی (۵۳)

پلچکونه په سلو کښی (٤ ۵)

آبرونه په سلو کښی(۸۱)

دخاموسړ کوجوړول په سلو کښی (٦۹)

قیراچول په سلو کښی (۲)

ودانۍ په سلو کښی (۷٤)

کومی چاری چه په دغه موده کښی په دوهمه برخه کښی شوی دی په دې ډول دی :

په‌سلو کښی ۵ ۵ پلونه

« « ۱۳ پلچکونه

« « ۹- آبرونه

په سلو کښې ۸٤ ودانۍ .
« « ۱۳ د خاموسې کوجوړول

داد ی چه مو ز د جوړونې له اول څخه د ۱۳۳۸ کال د صوت تر آ خره پورې د سا لنګ په سړک کښې د بشپړ وشوپو چارو رپوټ په لاندې ډول خپرو و :

لومړۍ برخه (دو شی - دوشاخ) :

کیند نی	۱۱۵۷۵۰۹	متره مکعب
د سر نګو ا لوزول	٤۹٦۹	« «
په جغلی سره د سړک فرشول	۲۷۹۰	« «
په وړوړ برود د سړ ک فرشول	۱۰٤٤۸	« «
د اسفلټ د پاره د جغلی اچول	۷۱٤۰	« «
قیراچول	۱۹٦۰۲	« «

داند راب د لوی پله جو ړول :

کیند نی	۳۹۰٦۹	متره مکعب
پخه ډبر کاری	۱۵۰۸	« «
ډبره لرونکی کانکریټ	۲٦۹۲	« «
د کانکریټواچول	۳۹۱	« «
دوچی ډبر کا ر ی	۷۰۱	« «
و سپنی لرونکی کا نکریټ ریزی	۲۷۱	« «
انګا فکاری	٤	« «
ریپټ کاری	۸٤۹۰	« «

دمتو سطو پلوجوړول :

(۱) - دراکول درې پل .
(۲) - دخواجه زید ددرې «
(۳) - ددرازدرې «
(٤) - د بید درې «
(۵) - د کروددرې «
(٦) د د ره خشك «

ACKU

(۷) - د کزه کل پل
(۸) - د و لیا نو »
(۹) - د خنجا ن »
(۱۰) - دچنبران »
(۱۱) - دملخان »
(۱۲) د خصار »

دهغو چارو حجم چه په دغوپلو باندی شوی‌دی داسی شرکند یږی :

خامکاری ۹۶۶۲۰ متره‌مکعب
هوار کاری ۶۱۹۷ » »
پخه‌پرکاری ۱۹۸۵۵ » »
دوچی پرکاری ۱۴۰۷ » »
دپرو اچول ۴۳۸ » »
دپرولرونکو کانکریټ ریزی ۴۶۶۹ » »
وسپنی‌لرونکی » » ۱۱۰ » »
انکا فکاری
ریپیټ کاری ۵ » »

دپلچکوجوړول:

کیند نی ۴۰۲۲۳ » »
پرکاری ۱۴۰۸۲ » »
کانکریټ ریزی ۵۲۹ » »

ابروونه‌اواستنادی دیوالونه

خامکاری ۶۰۲۹ » »
پخه‌پرکاری ۳۰۴۴ » »
دوچی پرکاری ۹۲ » »
انکا فکاری ۲۱۶۴ » »

ACKU

دودانیو جوړول :		
دواړه اولوی هوتل جوړول:		
کیندنی	۲۶۶۰	مترمکعب
خشتکاری	۱۶۵۹	»
ډبر کاری	۲۲۲۱	»
کانکریټریزی	۲۰	»
بسته کاری	۹۹۶	»
دور کشا پواونورو ودانۍ :		
کیندنی	۱۱۹۲	مترمکعب
خشتکاری	۴۰۰	»
دترانسپورت ودانۍ:		
پخه‌ډبر کاری	۱۲۳۶	مترمکعب
عمومی ور کشاب :		
وسپنی لرونکی کانکریټریزی	۴۳	»
بسته کاری	۲۳۳	»

نوری‌ودانی عبارت‌له برقی‌خانی ، آهنگری،لابراتوار، حمام، روغتون‌او نوروشخه:

موقتی‌ودانۍ :

عمومی ډیپو		
خامکاری	۷۴۲	»
دانفلاقیه موادوډیپو:		
ډبر کاری	۵۳۱	»
دروغنیاتو ډیپو :		
کانکریټ ریزی	۱۰	»
دسمنټو اونورو ډیپو:		
انکافکاری	۸۵	»
بسته کاری	۵۸۶	»

ACKU



دغه سپین دود چه په هوا کښې ښکاری اتومی چاودنه نه دی بلکه دپښتنو زړور ځوانان دهندوکش غرسوری کوی



دقره باغ اوچاریکارتر منځ دقیر اچولو کارچه په دی کال کښی پای ته ورسید

فرعی لاری اوموقتی پلونه:

په جغلی سره فر شکا ری	۱۰۶۰۰	مترمکعب
هوار کاری	۱۶۶۹۲۰	» »
دموادو ذ خیره :		
دډبر کاری ډبری	۵۸۲	» »
هغه ډبری چه په ماشین سره ماتی اوتهیه شویدی	۲۸۰۳۰	» »
دډبرو اچولودپاره ډبری	۱۰۰۶۱	» »
جغله	۱۳۶۲۰	» »
ریگ	۲۲۲۱۰	» »
وړې ډبری	۱۸۸۶	» »
وړی ډبری چه ماتی شوی دی	۲۰۷۳	» »

دسالنگ په دغه برخه کښی په سلو کښی بشپړی شوی چاری :

پلونه	په	سلو	کښی ۵۳
پلچکونه	»	»	» ۹۴
ابرووته	»	»	» ۸۱
ودانۍ	»	»	» ۷۴
اساسی سړک	»	»	» ۶۹
قیر اچول	»	»	» ۲

دجبل السراج ـ او سالنگ دوهمه برخه

لومړنۍ چاری :

دسړک خطبری	۲۵	کیلو	متر
له ونو، ودانیو او نورو څخه دسړک دخط پاک کول	۱۷	»	»

دفرعی لارو جوړول :

۱۰ متری ابرووته او پلچکونه	۱۲۰	
دګاډی پلو ګانګریټی ستنی	۶	
دمتوسطو پلو جوړول	۸	
دپلو دستنو حجم	۴۶۹:۰۰	مترمکعب

ACKU

دمخکی چاری:

دسړك دخط په‌اوږدو کښی دسرنگو الوزول	۲۹۸۰۰۰	متر مکعب
دفرعی لاری په‌اوږدو کښی‌دسرنگو الوزول	۲۳٤۰۰۰	» »
صناعتی تاسیسات:	۷٤۰۰۰	» »
ډبر کاری	۳۰۰۰۰	» »
فرعی لاری	۱۵۰۰	» »
ابروونه او پلچکونه	۱۵۰۰	» »
وسطی پلونه	۲۱۷۰۰	» »
استناد ی دیوالونه	۱۷۰۰	» »
د کارپه مخ کښی تاسیسات :		
داستوگنی‌ډیپوگانو، ور کشاپواو نورووداني	۲۳۰۰	» »
د ډبرو لرونکو کانکریټ اچول	۳۳٤۵	» »
د کانکریټو دپاره تهیه شوی مواد	۲۹۵۳	» »
دوسپنو لرونکو کانکریټو دپاره‌تهیه شوی‌مواد	۲٦۰	» »
د یومتر ی ابروپلیټونه	٦۳۸	دانی
دیو نیم متر ی » »	۱۱۲	» »
د د وم متری » »	۱٦٤	» »
ستنی	۲۹۸	» »
تهیه شوي مواد :		
ډبری	٤۲۵۰۰	متره مکعب
ریگ	۱۰۵۰۰	» »
وړی ډبری	٤۰۰۰	» »
جغله	۷۷۰۰	» »

دسالنگ په سړك کښی په‌سلو کښی‌بشپړی شوی‌چاری:

رپوپه‌سلو کښی ۵۰ پلچکونه په‌سلو کښی ۱۳ابروونه په‌سلو کښی ۹ ودانۍ په سلو کښی ۸٤ او اساسی سړ کونه په سلو کښی ۱۳ .

ددوشاخ او سالنګ دوهمه برخه:

کیند نی	۲۱۷۳۳	مترمکعب
دتالو پر کاری	۱۸۱۹	» »
دښتې پری	۱۳۲۲۲	» »
دبخاریو او دودرو پر کاری	۲۱	» »
د کانکریټ اچول	۶۱	» مربع
انګافکاری	۲۲۳۸	» »
د کړ کیو اینبودل	۱۴۰	» »
د دروازو اینبودل	۱۳۲	» »
دمو قتی چوکاتو اوسیخانو جوړول	۱۲۳۴	» »
د کړ کیو د آینو اینبودل	۶۱	» »
دخونو دفرش کانکریټ کاری	۷۱	» »
دخونو دفرش جغله اچول	۷۳	» »
د کړ کیو اوددروازو داطرافو پلستر کاری	۶۹	» »
دودانیو پوښنې دارمی کانکریټ	۱۰	» »

ددوشی- قزل کلا سړک:

دغه سړک چه د کابل او قزل کلا ترمنځ دستری لاری وروستی برخه ده اوه ۳ ۲ کیلو متر فاصله یی نیولی ده دپلان په محلورم کال ددغه سړک په یوه برخه کښی ۷ کیلومتره او په یله برخه کی یی دوه نیم کیلومتره له تولومربوطو پلچکو، معبرو، آبرو او پلوله لارو سره بشپړشوی اوتر استفادی لاندی شوی دی اوهم دهغه سړک ۱۵ کیلو متره نقشه لکه پلچکونه، معبرونه، آبروونه او نور له تولو ملحقاتو سره تهیه شوی ده .

دهغو آبرو څخه چه نقشی یی ترتیب شوی دی ۲۵ یی په ۲۲۵۰۰ متر مکعب سره جوړشوی دی اودپاته برخی جوړولو دپاره یی کوښنې کیږی.

ددوشی او بغلان ترمنځ په زیاتره ځایو کښی چه دسیل او بهورباندی را ځی اوخو ړ و نه ورباندی راغلی دی کانکریټی لاری جوړی شوی دی چه وروسته له دی به ئی پرځایسو باند ی پلونه جو ړ شی .

ب ـ نوی اقدامات:

(۱) د کشك او کندهار دستری لاری جوړولواقدام

(۲)د کندهار اوسپین بولدك دسړك د ترمیم اوقیر اچولو دپاره اقدام

(۳) د کابل ـ کندهار دستر لاری جوړولوپه باب اقدام

(٤)د کشك ـ کندهار ترمنځ دستری لاری جوړولو به باب اقدام

ددغو لارو سروی او دانجینیری ـ دتحقیقاتو ټرون د فـوایـد عـامـی دوزارت اوشـوروی دتخنوا کسپورت دنمایندگی ترمنځ لاسلیك شواو په دغه پول دهیواد دانکشاف په لاره کښی ستر گام وا خیستل شو.

د کندهار ـ سپین بولدك سړك چه پـخوا دامریکایی موریسن کنودسن دشرکت په وسیله جوړ شوی دی دداسی ستری لاری متم به وی چه زمونږ دگران هپواد شمالی سرحد دجنوب شرقی سرحد سره یوځای کړی.

د کند هار ـ سپین بولدك دسړك دترمیم اوقیراچولو له پاره اقدام :

دپلان ددوهم کال په آخرووختو کښی په کـابل کښی دامریکی د بین المللی همکـاری ـ له اداری سره د کـند هار ـ سپین بولدك پرسړك دقیراچو لو اودهغه ترمیمو لو دپاره د ترانزیتی پروژی په نامه دیوی پروژی ټرون لاسلیك شو.

اودهغه دسروی او نقشی اخیستلودچارو دپاره دامریکـائی (کن اروایت) له شرکت سره ټرون وشو ددغه ټرون په اساس دامریکائی (هنتنگ ایر سروې) دشرکت یوه هیئت د ۱۹۵۹ ع کال له جون څخه تر جولائی پوری دهواله لاری دهغه سړك دمنطقی عکس واخیست .

په دی وختو کښی د قیر اچولو پلانونه اونقشی تهیه شوی داسفالټ شوی رقبی اوږ دوا لی ۱۰۳ کیلو متر او سور به یی ۷ کیلو متر وی او قیر اچول به یې درود مکس په پول وشی.

ددغی پروژی لمخی دترنـک پر سیند باندی دیوه ۲۲۰ متره اوږده او ۱۸ متره سورور پله جوړولو نقشه جوړه شوی ده.

د کابل ـ کندهار دستری لاری جوړولو په باب اقدام:

دافغانستان دلارو جوړولو یومهم پروگرام هماغه د کـابل او کند هار ترمنځ دستـری لار ی جوړولو پروگرام دی.

دغه سړك چه ۵۲۰ کیلو متره اوږدی کابل له کـندهار سره چه زمونږ دگرا ن هیو اد

لومړی ښار دی و صل کوی اوسنی سړک چه له ډیرو کلوراهیسی یوائی ددغودووښارو ترمنځ دارتباط وسیله دی‌داسی سړک دی چه‌دننی‌انجینیری له معیار سره مطابقت نه لری یا تی نیمګړتیا وی لری.

له دې امله چه د افغانستان تجارت ورځ په ورځ پراختیامومی او واردات او صادرات مخ په زیاتیدو دی د دغه سړک جوړول د مملکت د لومړی اقتصادي پنځکلن پلان په تجویز شویو جوړونو کښی په نظر کښی نیول شوی ؤ.

له دغه امله دامریکایی‌دیو سترا نجنیری‌شرکت د کن اروایت له کمپنی څخه‌وغوښتل‌شول چه هغه سروې کړی اونقشه یی واخلی.

ددغه‌سړک دانجینری تحقیقات په ډیر دقیقانه ډول سره شوی دی لکه چه په خوږو کښی‌چه دپلو جوړول وربانده ضرور دی کیند نی شوی دی چه دپلودستنواو قند اغو جوړ و لو په باب وړ معلومات وشی.

داهم بایدوویل شی‌چه د کابل او کندهارسړک دجوړونی‌له حیثه په دریو برخوویشل شوی‌دی چه لومړی برخه یی د ۱۵۰ کیلومترو په اوږدوالی سره له کابل څخه شروع شوی اوپه غزنی کښی‌ختمیږی.

دوهمه برخه یی په ۱۵۰ کیلومتره اوږدوالی له کند هازڅخه شروع کیږی اودقلات پرلوری تیریږی وروستی‌برخه یی ددغودووبرخوترمنځ‌ده. دلومړی برخی لومړنی نقشی ترتیب شوی او کابل ته لیږل شوی دی. ددغی برخی نهایی نقشی‌به ژرپه‌ژره بشپړی شی او وروسته له هغه به یی دواوطلبی په ډول په جوړونه پیل وشی.

د غه رازد هغه د دوهمی برخی لومړنی نقشی ترکار لاندی نیول شوی او ژر به کابل ته راوړسیږي ویل کیدای شی چه ددغه سړک دانجنیری او نقشی‌اخیستلو تحقیقات په سلو کښی ۸۰ بشپړ شوی دی.

ددغه سړک د جوړونی معیارډ یرعالی دی د سړک مخ به په ۷ مترو سره اسفالټ شی چه رودمکس په ډول سره به صورت وموی.

د ودانیو برخه

په کابل کښی عصری‌ودانی:

ځینی‌ودانی‌چه‌په‌تیروځلورو کلو کښی‌جوړی شوی‌یااوس‌جوړیږی اویابه‌په‌نږدې‌وختو کښی جوړی شی دمملکت په‌پنځکلن اقتصادی پلان‌پوری اړه‌لری‌اوځینی یی‌نه لری.

ځینی ستری دولتی ودانۍ دفواید عامی دوزارت اود خارجی جوړونی اوانجنیر ی د کمپنیو پهوسیله پهګډه سرهجوړیږی .

ځینی یی داسی دیچه جوړونهاودپلا نواو نقشوتر تیبولهیی د خارجی شرکتو پرغاړه اچول شویدی اودهغوپه بابدفواید عامی وزارت یواځی دهغو څارنه کوی چهدشویو تړو نوله شرطو سرههغه ودانۍ سمیجوړی شی .

اوځینی داسی لوییودانۍ شته چهپلا نونه اونقشییییواځیدوزارت په واسطهتهیه شوی دی اودوزارت د کار کوونکو ترڅارنی لاندی دداخلی جوړونی دشرکتو پهواسطهجوړ یږی .

عمرانی فعا لیتونه پهلاندی ډولطبقه بندی کیږی:

لومړۍ برخه:هغهودانۍچه نقشی اوپروژې یی دخارجی شرکتوپه واسطه طرح شویوې د جوړ ونی دخا رجی شرکتو په وسیله دوزارت په مرسته په کابل کښی جوړیږی .

دوهمه برخه:هغهودانۍدیچهنقشیاوپروژییدخارجیشرکتوپهواسطهطرحشویاودجوړونی خارجی شرکتو په وسیله په کا بل کښی جوړ یږ ی.

در یمه برخه : چه نقشی اوپر وژې یی د وزارت پهواسطه طرح شو یاودوزارت په مرستهد تعمیری داخلی شر کتو پهوسیله بشپړی شو ی دی .

څلو رمه برخه : چه نقشه او پرو ژې ییدفواید عا می دوز ارت په وا سطه په کا بل کښی جوړ یږ ی .

پنځمهبرخه : داسیودانۍ دیچهنقشې اوپروژې ییدوزارت دتعمیراتو دفنیاداري پهوسیله تر کار لاند ی دی .

شپږمهبرخه: داسی ودانۍ دیچهنقشییدوزارت پهوسیله طرح شویاودوزارتدنمایندګیو پهمرسته پهولایتو کښی جوړیشویاجوړیږی .

بایدوویل شی چهدوزارت مرسته دلومړۍ برخی دو دانیو په باب دموادو دتهییاودخارجی شر کتود ځینی اړ تیاو او دریمیبرخی ودانیوپهبابدفنیمراقبتو لومړۍ برخه ودانی ده .

(۱) ـ دحبیبییدلیسیودانۍ : دغه سترهودانۍچهددارالامان دسړك پهاوږدو کښی د کابل دچاردهي دخواجه ملادسمسورو کښتوپه منځ کښی واقع دهد المانی هوځتیف دشر کت په وسیله دپوهنی دوزارت دپاره ترجوړونیلاند ی ده نقشی یی په لوی سر کښی ۲۲ کاله ړومبی دچکوسلوا کیاییداباك دشر کت په وسیله طرح شویوهاو جوړونه یی دځینی معا ذیر واو علتو

په‌اثر تردی څو کلو پو ری تال کړی شو ی او اودجوړ ونی اوانجنیری له المانی نامتو شر کت هو ختیف څخه وغوښتل شول چه‌دطرح شویو نقشوپه باب تجدید نظر و کړی .

دهغه ترون له‌مخی چه‌دهغه کال په‌پسرلی کښی له‌نوموړی شر کت‌سره وشودهغی ودانی‌دجوړولو چاری دهغه شر کت په‌غاړه واچو لی شو ی.

د ۱۳۳٦ کال‌دوزی په ۱۳ نیټه ددغی‌ستری عرفانی ودانی‌دبنسټ تیزه کیښود له شوه .

په‌دی کال کښی دهغی ودانی خښتکاری او کانکریټ اچول په سلو کښی سل بشپړ شوید ی او پاته چا ری ئی دوام لری .

هغه وخت چه‌دغه ودانی بشپړه شی داسی مواد به‌پکښی ولګیږی :

(۱) - پخی خښتی	٤۰۰۰۰۰۰ قالبه
(۲)- کانکریټ	۳۰۰۰ متر مکعب
(۳) - دقالبکاری دپاره لرګی	۱۹۰۰۰ « «
(٤) - تعمیری وسپنی	٥۰۰۰۰۰ کیلو ګرامه
(٥) - سمنټ	۱۰۰۰۰۰۰ « «
بیه به‌یی	۳٤۰۰۰۰۰۰ - افغانیوته ور سیږی

په‌دی وختو کښی‌په کابل کښی دامریکی دبین المللی همکاری داداری په‌واسطه دهغی مرستی له مخی چه منلی یی دی د هغی ود انی دتسخین سا مان ، ر بنی فرش ، فلز ی کړ کی، دچت څراغونه او تعمیری وسپنی تهیه اوپه نصبو لویې پیل‌شوی دی .

دغه رازد دغی ودانی دبر پښنادسیم په تیر ولوهم پیل شوی دی .

(۲) دروغتیا دوزارت د عامی روغتیا د مؤسسی ودانی :

دغه ودانی‌هم‌دالمانی دهوختیف‌دشر کت په‌وسیله جوړ یږی .

دهغې ؛بنسټ تیزه د۱۳۳٦ دوزی په ۱۷ نیټه دافغانستان دصدراعظم شاغلی سردار محمدداود په و سیله کیښو دله شوه .

دغه څلورپوړه ودانی چه‌د کابل دالوتکوپه پخوانی ډګر کښی جوړیږی او۱٤ مترو به‌جګه وی داسی خو نی به و لری .

په‌لو مړی پوړ کښی دډ و ډی خوړلو سالون ، دجاموا یستلو خونه ، مطبخ، دمر کزی تسخین زیر خانه ،دوه تشنا بونه .

په دوهم پوړ کښی دمد خل ستر سالون ، قرائتخانه کتابخانه ، د کنفرا نس خـونه ، دجامو ایستلو خونه اودوه تشنـابونه .

پهدریم پوړ کښی سترسا لون ، دروغتیاد احصائیی دری خونی ، تحویلخانه ، دمسری ناروغی دعلم (اپی میولوجی) دپاره (۲) خونی،د انتی مو لو چی (۲) خو نی ، د تغذ یی (۳) خو نی دهیماتولوجی(مکروب پیژندنی) خونه دسپرلوجی خونه ،دځارو یود تجزیی دپاره خونه د تعقیم خونه ، د گاز دتولید خو نه ،دنسلگر ی خونه ، دتبرید خونه ، دپراسا یتا لو جی خو نه دحیاتی کیمیا خونه ، ددرمل جوړ ولو خونه ، دد رملو خو نه ، دستیری لای ز یشن خونه ، ددفتر خونه اودانتظـارستره خونه .

دهغوخطرو دمخنیوی دپاره چه دزلزلی پهاثر پیدا کیږی خاص وسایل په کارا چول شویدی ددغی ودانی ساحه د کنفرانس دسالون دودانی له ساحی سره ۱۰۵ ۰۰ مترو مربعو ته رسیږی اوداتکل لهمخی ٤۰۰۰۰ متره مکعب تعمیری حجم لری او دا اتکل شوی دی چه دغهودانی به په ۲۸۰۰۰۰۰۰ ـ افغانیو سره سرته ورسیږی .

ددغی ودا نی خښتکـا ری او کا نکریت کاری پر ته د کنفر انس له سا لو ن څخه پوره اود کنفرانس دسالون پهسلو کښی ۷۰ بشپړ شوی دی .

هیله شته چه دد غی ودانی پوښښ او داخلی دیوال اودهغی تزئینی چاری دپلان د پنځم کا ل په اول نیمائی کښی بشپړی شی داوبودرسو لواود گرمی دمر کز دستگاهوی چه پخوایی خارجی شر کتو ته فرمایشت ور کړ شوی وُپدی وختو کښی تهیه شوی اونصبولو تهیی هڅه شوی ده

ددغه لارد بریښناسیم تیرول اودبد رفت دنلو نصبول له نقشی سره جاری دی

ددغی ودانی دفرش او نورو تعمیراتی سامانو پیرودلو دپاره له خـارجی شر کـتو څـخه د مقایسوی عرصو غوښتنه شـوی ده .

دغه ودانی چه بشپړه شی نو داسی موادبه پکـښی ولگیږی.

(۱) پخی خښتی څهناڅه	۲۵۰۰۰۰۰قالبه
(۲) کانکریټ	۱۸۰۰متر مکعب
(۳) گول میخونه	۳۲۰ تنه
(٤) سمنټ	۸۰۰۰۰۰ کیلو گرامه
(٥) دقالب بندی دپاره لرگی	٦۰۰۰ متره مربع
بیه بهیی	۲۸۰۰۰۰۰۰افغانی د ی

(۳) د شیر پور دروغتون و دانۍ :

د غه ۳۰۰ بستر یز ه ر و غتون ډیره عصری ودانۍ هم دبی بی مهرو دغونډۍ په جنو ب کښی د کا بل دا لو تکو پخوانی ډگر کښی دهوختیف شر کت په وسیله جوړیږی

په‌دریو برخو ویشل شوی ده

چه په هر ه برخه کښی یی‌سل تنه ځایږی اویواځی یو برخه یی ترجوړنی‌لاندی ده

ددغی ودانۍ لگښت ۳۳۰۰۰۰۰ افغانی‌اټکل شوی دی‌ددغی ودانۍ عمومی‌برخی ترڅلورم پوړه پوری سرته رسیدلی دی ا واونر اوسه‌ئی‌په‌سلو کښی ۸۰ کانکریټ‌خښت کاری او قالب کاری بشپړه‌شوی‌ده.

دد غی ودانۍ دبدرفت دلر گیو جروهل دوام لری اوپه‌بیړه‌بشپړه‌شی.

له خارجی شر کتو څخه‌داوبورسولو،تسخین تنویر،فرش دسامانو اوداوسپنو اونورو مقایسوی عرصه غوښتل‌شوی ده.

(٤) - د کابل‌رادیو دلندی څپی دسټو دیودانی

دغه ودانۍدا لوتکو په پخوانی ډگر کښی دعسکری کلوپ ترمخ‌جوړیږی!

او د هغی لو مړنۍ عمرانی چاری‌په ۱۳۳٦ کال کښی داطریشی اونیماك‌د شر کت په و سیله شروع شوی‌ؤ اودهغه کال دمیزان په ۸ نیته دهغی لومړۍ برخی‌دبنسټ کیندلو کار شر وع شوی‌ؤ.

دغه برخه‌دری پوړه‌ده او۲۲ددفتر خونی یوه کتابخانه‌اته تحویل خانی اوعملی خونه، څو ر لس د کارخونی اوپه‌پورته‌برخه کښی یوسالون لری د هغی دبنت دخاوری دد قیقی معا ینی په‌اساس ددغی ودانۍدبنسټویوه‌برخه‌دوسپنو لرونکو کانکریټوڅخه جوړه شوی‌ده د سټوډیو ودانۍ په‌دریوجلاجلا برخو ویشل شوی‌ده چه‌دری واړه‌برخی‌یی په‌بلا ك کښی جمع کیږی

ددغی ودانۍعمومی‌ساحه ۲٦٥۰ متره اوحجم‌یی ۲٦٦۰۰ متره‌مکعب دی ددغی‌ودا نۍ‌ه دوهمه برخه‌په‌عمودی ډول دالوتکو دډگردسړك په څنگ کښی‌واقع ده اویود بر و د کا ست سالون‌لری دغه سالون ۱۸متر وایه ۱۲ متر جگوالی او ۲٤ متره اوږدوا لی لر ی له د ی امله چه‌زغ له‌یوه ځایه‌بل ځای‌ته نفوذ ونه کړی دوه‌برخی بیخی یوله بله‌سره جلا جوړی شوی‌د ی.

دبرا ډ کاست دسا لون په‌څنگ کښی د کا ر (۷) خو نی اویودجامو ا یستلو خو نه‌جو ړ ه شوی ده .

ددغی ودانۍ در یمه برخه دوه سټوډیوچه‌بیخی سره‌جلا دی‌او۲۱د کارخونی لری.

ددغی ودانی توله احاطه لهیوی کانکریتی پنچره لرونکی کتاری څخه چوړه شوی ده ددغی ودانی خښت کاری کانکریتکاری پهسلو کښی۸۵بشپړهشوی ده.

ددغی ودانی دتجهیزاتو لکه دتهیی، اوبو رسولو اوتسخین ددستگاو و ا ودنو ر و لوازمو لکهد کړ کیو دروازو فلزی کړ کیوچه آوازنه ورځخه تیریږی او دمدخل دښیښی د ر وا ز ی د براکیټ دتختو ربنی فرش دبریښنا دسامانو اونورو دتهیه کولو دپاره ستر گامونه اخیستل شوی دی دالاندی مواد پهدغی ودانی کښی مصرف شوی اومصرف بهشی:

پخی خښتی	۱۳۰۰۰۰۰ قالبه
ریگ اوجغله	۱۰۰۰۰ مترمکعب
توقی توټی ډبری	۱۶۰۰ «
سمنټ	۶۵۰۰۰ بوری
گول اوسپنی	۳۰۰ تنه
ددغی ودانی لگښت به	۳۰۰۰۰۰۰۰ افغانیو تهو رسیږی

۵- د کابل راډیو دلنډی څپی دبراډ کاست ودانی:

دغهودانی د کابل دښار په څنگ کښی په یکه توت کښی جوړیږی.

دهغی دجوړونی چاری د۱۳۳۶ کال په پسرلی کښی داو نیمایی داطریشی شرکت په وسیله شروع شویدی دودانی ساحه یی ۶۱۰مترهمربع اوحجم یی ۴۴۰۰مترهمکعب دی اویوستر نشراتی سالون، د دوو ماشینو دپاره یوه سترهخونه، ور کشاپ، (۲) تحویلخانی، (۴) ددفترخونی، ۱۳د کارخونی اویوه دجامو ایستلو خونهلری.

دغهودانی په دی کال کښی بشپړه شویده لکهد کابل راډیو د لنډی څپی دستگاه پکښی په کاراچول شوی ده.

پهدغه ودانی کښی:

۲۶۰۰۰	قالبه پخی خښتی
۱۷۰۰	مترهمکعب ریگ اوجغله
۱۸۰۰	مترهمکعب توقی توټی ډبری
۶۰۰۰	بوری سمنټ
۱۷تنه	گول وسپنی په مصرف رسیدلی دی.



والاحضرت صدر اعظم په تالقان کښی د تالقان د نوی ښار نقشه ملاحظه فرمایی



بناغلی صدر اعظم دسالنګ د کار جریان ګوری

٦ـدافغانستان بانك دسپماد خزانی ودانیږ

دغه ودانیږ چه هم داونیماك داطریشی شرکت په وسیله جوړیزی اوپه شاهی ارګ کښی به وی دطلا ،سپینو زرو،جواهرو،بانکنوتو، سکواودقیمتی کاغذ ودساتلو دپاره جوړیزی دودانیږ جسم به له وسپنی لرونکو کانکریتو څخه وی.

ددغی ودانیږ چت اوخارجی دیوالونه ئی د غلا اوبم په مقابل کښی مقاومت لری.

اودولایه له وسپنو اوفولا دوخته چه متقاطع پکښی په کار اچول شوی جوړه شوی ده .

دغه دوه پوړه ودانیږ ٤٥ مترہ اوزدوالی، ٢٦ مترہ سوراو ٨ مترہ جګوالی لری.

دتهکوی په پوړ کښی یی(٢)ستری خونی د طلا د ذخیری دپاره او (٢) ستری خونی دسپینو زرو دذخیری دپاره اویوه وړه خونه دجواهرودپاره په نظر کښی نیول شوی ده.

په دوهم پوړ کښی به یی دسکې او بانکنوتو دپاره چه چارپیره به یی ګاډروی دخزانی یوه ستره خونه اودزړوبانکنوتودسوځولو دپاره به(٢) توری خونی و لری.

په لومړی پوړ کښی سربیره پرهغه یوه ددفترخونه اویوه دمحافظې خونه جوړه شویده.

دقیمتی شیانو دحمل اونقل دپاره مخصوصه دروازه طرح شوی ده چه څنګه چه دقیمتی شیانو څخه بارموترودانیږ ته داخلیزی پخپله ترله کیږی چه هغه شیان په ساتلی پول ورځخه بښکته اوپه ځای شی. طلا،سپین زراوجواهردپوی برقی زینی په واسطه دتهکوی محفظی ته وړل کیږی.

دسپماد خزانی دودانیږ دهری خونی دپاره دخفیفو اوازو اوریدلو دستګاه پیش بینی شوی ده چه که کله غیرمجاز کسان ورشی پخپله اخطارور کوی.

د غه ودانیږ چه دبنسټ تیږه یی ده ١٣٣٥ کال دزمری په میاشت کښی ایښودل شوې ده ٤٥ مترہ اوږ ده ، ٣٦ مترہ سوروره او ٨ مترہ جګه ده . هیله شته چه دپلان دپنځم کال په منځ کښی په سلو کښی له ٩٥ نه تر سلو پوری بشپړه شی .

په دې وختو کښی ددغی ودانیږ دفلزی دروازو یابرقی زینی، دزړوبانکنوتودسوځولو انکودانبو دتهویی ، بمبی او دشنوایې دستګاوو او دبرقی اوچت دلوازمو ، د پنجرو او مد خل د دروازې فر مایشت صادر شویدی ، د دغی ودانیږ تخمینی مصرف ١٠٠٠٠٠٠٠ ، ملیو نو افغا نیو او ٢٣٠٠٠٠ ډالروته رسیږی .

٧ ـ د خارجه وزارت ودانیږ :

د غه ستره ودانیږ دارګ په بر کښی دخارجه وزارت دپخوانیږ ودانیږ په شمالی بر خه کښی واقع ده او تر زیاتی اندازې پوری داونیماك دشرکت په واسطه جوړه شوی ده .

لەدی امله چه چاری یی په زیاته اندازه پرمخ تللی و ی او وزارت په دې کال کښی د هغی دپاته چارو سرته رسول پخپله غاړه واخیستل .

ددغی ستری ودانۍ کانکریت کاری او خښتکاری په سلو کښی (۹۵) بشپړه شوې ده او هیله شته چه دپلان په پنځم کال کښی بیخی بشپړه شی .

ددغی د بنسټ تیږه د ۱۹۵٦ کال د ستمبر په ۲۵ نیټه د افغانستان د صدر اعظم ښاغلی سردارمحمد داود په لاس ایښودل شوې وه .

داونیماك دشرکت نقشې دپولنډی نامتو مهندس اس سی ، پی د لومړیو نقشو په اساس او دافغانستان دځوان مهندس ښاغلی سراج په مشوره ترتیب شوی دی .

دغه ودانۍ په دریو برخوویشل شوی ده . دهغی لومړۍ دری پوړه برخه د کار دځانګو اودفترودپاره ده،دهغی په یو پوړه دوهمه برخه کښی دتشریفاتواوهر کلی دپاره خونی جوړی شوی دی.

ددغی ودانۍ مخصوص تجهیزات به تلیفونی، ساعتی او دپیش خدمت د ورغوښتلو مخصوصی دستګاوی وی او مخ به یی دمرمرو له ډبرو څخه وی چه هغه یی زیاته ښکلی کړی ده .

دوهمه برخه ودانۍ :

(۱) د کابل د پوهنتون ودانۍ :

دمملکت ددغه علمی اوفرهنګی مرکز دسترو ودانیو پروژه د ۱۳۳٦ کال دثور په میاشت کښی د فغانستان دحکومت اودامریکی دبین المللی همکاری دادارې ترمنځ دموافقه لیك پر اساس تثبیت شوی ده. دپوهنتون دودانیو لومړۍ برخه چه د کابل دښار دعلی آباد دغره په لمن کښی جوړیږی داسی ودانۍ لری:

(۱) ـ دجمنازی یم	ودانۍ
(۲) د کتابخانی	»
(۳) د ۸۰۰ کسیزی لیلیی	»
(٤) اداری	»
(٥) دساینس او کرهنی	»
(٦) د انجنیرۍ	»

دواټو دپار کو او بولو ددستګاو او دبدرفت د کثیفو او بو له تصفیه خانو سره ددغی ودانیو داستفادی وړ سطح ۷۰۰۰۰ مترمربع او په هغی پوری دتړلو لار او واټو سطح

۴۰۰۰۰ مترومربعوته رسیږی اوداوبوایستلودنلواوږدوالی به ۴۱۵۰ متره وی .

۲۲۰۰۰ مترمکعب

گول سیخونه ۲۱۰۰ تنه

سمنټ ۸۱۰۰»

دغه ودانۍ چه د افغانستان دحکومت ، دامریکی دبین المللی همکارۍ داداری اودایشیا فونډیشن دمؤسسی په پولی مرسته جوړ یږی له داسی عالی او ټینګوودا نیوڅخه به وی چه دنورومملکتوله د یروعصری ودانیوسره به سیالی اوبرابری و کړی . او نقشه یی د پاسی پیک ارکی ټیک اوپه ټوکیو کښی دامریکایی کمپنۍ په وسیله طرح شوی ده .

د دغوودانیود جوړولو د پاره په لوی سر کښی د خارجی جوړونی او انجنیرۍ له نامتو شرکتوڅخه بلنه شوی وه چه له هغوی څخه لاندی شرکتو دفوایدعامی دوزارت د شرطوله مخی دپوهنتون دودانیوجوړولوته خپل چمتوالی څرګند کړ :

(۱) دامریکایی موریسن کمپنۍ

(۲) دامریکایی مینل کارپوری شن »

(۳) په ټوکیو کښی د امریکی دپترسن شاپ ایند ریک جانسن پای پر کمپنۍ

(٤) په پاکستان کښی د امریکی دومن فارم ایند رایت »

(٥) دفرانسوی برایس ایټ بیلا رو »

(٦) دایټالیایی ام برسازی کارګنی »

(۷)دالمانی هوختیف »

له دی امله چه نسبت دنورو شرکتو عرضوته د المانی هوختیف د جوړونی دسهامی شرکت عرضه دافغانستان په ګټه وه نوپریکړه وشوه چه دپوهنتون د و دانیواد لومړۍ برخی جوړونه دی نوموړی شرکت ته وسپارله شی او له هغه سره د ی دجوړونی یو تړون وشی،هماغه ؤ چه دهغی برخی دودانیود لومړنیویعنی دجمنازی یم دودانۍ جوړولوتړون د۱۳۳۸ دجدی په میاشت کښی د فواید عامی د وزارت اود هوختیف د کمپنۍ ترمنځ لا سلیك شواو د هغی د بنسټ تیږه

د۱۳۳۹ کال د جوزا په میاشت کښې دافغانستان دصدراعظم ښاغلی سردارمحمد داود په واسطه چه د ابینی غړی اود کابل دپوهنتون استادان اوشاګردان حاضروو کیښود له شوه.

هغه ودانۍ به په زرو ورځو کښې چه له هغې جملې څخه دجمنازی یم ودانۍ په ۳۶۵ورځو کښې بشپړه شي.

دریمه برخه ودانۍ :

د کابل دهوټل ودانۍ چه تیر کال بشپړه او د استفادی د پاره چمتوشوی وه په دی وختو کښې دهغې په کیڼ اړخ کښې پردوهم پوړ باندی د ریم پوړ کړی شو اوددغی طبقی پتلیزول د۱۳۳۸ کال دسلواغی په میاشت کښې شروع شوی ؤ.

د ۱۳۳۶ کال دحمل په میاشت کښې بشپړه شوی ده. د دغه پوړ جوړونه د هغه کال په دوبی کښې بشپړه شوی ده. د غه دریم پوړ په دغه برخه کښې چه دابن سینا په واټ مشرف دی دهوټل ودانۍ زیاته ښکلی کړې ده.

ښاغلی سردار محمد داؤد صدراعظم دپوهنتون د ودانۍ دبنسټ تېبزه زدی

څلورمه برخه ودانۍ :

(۱) د کانو او صنایعو دوزارت ودانۍ :

دغه ودانۍ چه دوه برخی ده لومړۍ برخه یی د۱۳۳۶ کال دعقرب په میاشت کښې شروع شوی وه په دې وختو کښې. پشپړه شوې ده او ددوهمی برخی په جوړونه یی دمالیی دوزارت دودانۍ ترمخ په دی وختو کښې پیل شوی دی او هیله شته چه دپلان په پنځم کال کښې به بشپړه شي.

د کانو اوصنایعو دوزارت ودانۍ دشاهی ارګ په مقابل کښې دپښتونستان په واټ کښې د پایتخت یوه ښکلی اوعصری ودانۍ د ه.

(٦) – د کار تو گرافی و دا نی : دغه ودانی چه د کانو اوصنایعو د وزارت په څنګ کښی د پښتونستان په واټ کښی د صدارت عظمی د کارتو گرافی د ریاست دپار ه جو پ یزی په د ی وختو کښی نژدی بشپړه شوی ده .

دغه ودانی چه یو څه یی څلور پوړیزه ده لومړی پوړیایی تهکوی د تسخین او تحویلخانو د سیستم د مرکز اونور پوړونه یی دهغه ریاست د دفترو اود کارډخونو دپاره تجو یز شوي دی .

د دغی ودانی منځنی پوه برخه دوه پوړه ده، دغه ودانی د کنفر انس ، مجلس او نورو خونو په عصری تجهیزاتو سره یوه شکلی اومرغو به ودانی ده .

(۳)- د پروان مپنی د شوونځی ودانی:

دغه ود انی د کابل ،پروان اوپغما ن د سړک په دري لاری باندی د پر و ان په مپنه کښی د پوهنی د وزارت دپاره جو پ یزی .

دهغی د بنسټ تیږه د پلان د څلورم کال په اول کښی اینبودل شوی ده .

د دغی ودا نی یوه برخه څلور پو ړه او بله برخه یی دري پوړه لری او سر بیره پردی چه روښانه اوښی هواداری د رسی خونی لری اود کنفرانس اومجلس خونی هم پکښی جوړیزی تراوسه یی دلومړی پوړ برخه بشپړه شوی ده .

(٤) د دولتی نقلیاتو ریاست د ترانسپورټ ودانی :

دغه ودانی د سیلو د سړک په څنګ کښی سیلوته څرمه جوړیزی دهغی د ودانی د بنسټ تیږه د ۱۳۳۸ کال د عقرب په میاشت کښی اینبول شوی خود جوړونی چاری یې د ژمی د موسم په اثر تال شوی وې.

سبز کال د حمل په میاشت کښی یی په چارو بیا پیل وشو چه تراوسه لادوام لری د هغی یوه برخه دري پوړه او یوه برخه یی دوه پوړه ده هیله شته چه دغه ودانی د پلان د پنځم کال په منځ کښی بشپړ ه شی .

(٥) د افغانستان د نندار تون و دانی :

په دي وختو کښی د مر نجان د غونډی په لمن کښی د افغانستان د نندارتون په منطقه کښی د نندارتون د ستری ودانی تر مخ د اښکلی ودانی تر جوړو نی لاندی نیول شوی ده او د اسی په نظر کښی ؤ چه د هیواد د آزادی د دری څلویښتم تلین د جشن تر رخو پوری بشپړ ه شی .

پنځمه برخه و د ا نی :

(۱) د ملی دفاع د پاره د روغتون ودانی:

دملی‌دفاع وزارت دپاره‌یو ۷۵ بستر ئیزروغتون جوړیزی .

(۲)ددولتی مطبعی‌و دانۍ :

دغه‌څلور پوړه‌سټره ودانۍ دالوتکو په‌پخوانی ډګر کښی جوړ یږی .

دنقشویی په‌لوی‌سر کښی‌دیوی خارجی کمپنی مهندسینو د ۶۰۰۰۰ ډالروپه بیه‌تعهد کړی ؤ. خودهغوی‌ترتیب‌شوی نقشه‌ونه منله‌شوه نودوزارت دتعمیراتولوی مدیریت‌دهغی‌دنقشوپه‌تر تیبولو مؤظف شو دغه نقشه‌اوس تر کار لاندې ده.

(۳)دعدلیی دوزارت‌و دانۍ :

دعدالیی دوزارت دپاره دستری‌ودانۍ نقشی ترلاس لاندی‌دی چه امکان لری په‌دی نژدی وختو کښی بشپړه شی.

(٤) د فوائد عامی د وزارت ودانۍ :

په‌نظر کښی دی‌چه دشاهی سلامخانی ترمخ یوه سټره ودانۍ جوړه شی .دغه سټره ودانی به دپایتخت له‌ډیروښوودانیو څخه‌و ګڼله شی‌او ۱۰۰۰۰ مترمربع مځکه به ونیسی اود خپلو ملکی اوعسکری شقوقودپاره به(۲۲۰) وړی‌اوخوب بستری‌ولری اونقشی‌یی تر کارلاندی دی .

شپږمه برخه ودانۍ:

(۱)-دخوست دتخنیك د ښو ونځی ود انۍ :

دغه‌ودانۍ چه‌دپکتیا دولایت په خوست کښی دپوهنی دوزارت دپاره جوړیږی په دوبرخو ویشلوشوی ده‌چه‌لومړی برخه‌یی یو پوړه ده‌ماشینو اوشاګرد ادانو او دوهمه‌برخه یی چه دوه پوړه‌ده‌دشاګردانوداستوګنی دپاره‌ده‌دغه‌برخه‌دپوړی‌خورلو،دخوب‌خونی‌اوعصری‌تشنابونه‌لری.

(۲)- دقطغن‌دولایت‌دتخنیك‌دښوونځی ودانۍ :

دغه‌ودانۍ دخوست‌دتخنیك‌ودانۍ په‌شان‌ده اودجوړونی چاری‌یی نوی‌شروع شوی‌دی .

(۳)-دننګرهار دولایت‌دنجونو دښوونځی ودانۍ :

دغه‌ودانۍ چه‌یوشه بی‌دوه‌پوړه اویوشه‌یی دری‌پوړه ده‌څوشو خونی‌اودهلیزونه اوهواداری اوروښانه درسی‌خونی لری‌اوپرو سبز کال‌تر جوړونی‌لاندی نیول شوی وه ګوندی په دی نژ دی وختو کښی بشپړه‌شی.

(٤)د کندهار دخود کارتیافو ن ود انۍ :

ددغی‌ودانۍ دنقشی خاکه دمخابر اتو دوزارت په و اسطه ترتیب شو ې وه بشپړ ه نقشه یی دفوائدعامی وزارت‌تهیه کړه .



دچهلستو ن مانۍ (کابل)

په سالنګ کښې حتی په ډیر سخت یخ کښې دکار دقوا ؤ فعالیت په زړه پوری روان ؤ

دنو رستان یوه ښکلی منظره

داجر ښکلي دره

دغه ودانۍ چه بشپړ شوې ده یوه پنه عصری او ښکلی ودانۍ ده.

(۵) دسرای خواجه دلوی حکومت ودانۍ:

دغه ودانۍ چه نقشی یی پروسبز کال برابری شوی وی په جوړونه یی د ۱۳۳۸ کال په عقرب کښی پیل شوی ؤ خود ژمی دیخنی له کبله یی چه چاری تاتل شوی وی سبز کال بیا پیل و رباندی وشو او لومړی پوړیی بشپړشوی او دو هم پوړیی تر جوړونی لاندی دی.

(٦) د غزنی داعلی حکومتو ودانۍ:

ددغی ودانۍ نقشی په ۱۳۳۸ کال کښی طرح شوی او په ودانولویی هم په هماغه کال کښی پیل شوی ؤ په دې وختو کښی دو هم پوړ تر کار لاندی نیول شوی دی او هیله شته چه ژره په ژره په سرورستیږی.

(۷) - دمستوفیت ودانۍ

(۸) دښاروالی دریاست ودانۍ

(۹) دمخابراتو دمدیریت ودانۍ

(۱۰) دغزنی داعلی حکومت پارتمانونه، ددغو ودانیو نقشی په ۱۳۳۸ کال کښی بشپړی شوی او دغزنی اعلی حکومت تر ور کړ شوی وی په دې وختو کښی یی دنقشو له مخی په چارو پیل شوی دی.

(۱۱) اپارتمانونه

(۱۲) دسرایخواجه فامیلی کورنه

ددغو ودانیو نقشی د خوښی شوی نمونی له مخی ترسیم او مسئولو مقاماتو ته ور کړ شوی دې په دې وختو کښی یی د ځینو جوړونی چاری شروع شوی دی.

(۱۳) دیو شمیر ودانیو لکه دسراج العمارت ددوه پوړه ودانیو، د اسمارد کلوب، دجلال کوټ د عسکری چونۍ او د منصبدارانو د خو کورود ودانیو نقشی دننګرهارد ولایت دپاره او دخو تانو نقشی دپکتیاد ولایت دپاره او دیوه کلوپ نقشه دمینمی دپاره اودسینما او روضی مبارکی دشا و خوا نقشی دمزارشریف دپاره تهیه شوی دی. چه ددغو دانیو زیاتره برخی ترجوړونی لاندی نیول شوی دی.

ښاری پلانونه:

ښاری پلانونه اودافغانستان دځینی ښارو دپاره پلانونه له زیاتو مهمو ضرور یاتو څخه دی.

دفوائد عامې دوزارت دفنی تعمیراتو اداره په‌دې مامورہ ده‌چه دغسی پلانونه طرح‌او مر بو طو مقاماتوته یې وسپاری .

پـه لانـدی ډول دهـغـو پلانو چه‌دهغی اداري په‌وسیله تهیه‌شوی وی تهیه کیږی او یا بـه په‌دی نژدی وختو کښی تهیه‌شی په‌لنډ‌ډول یادونه کوو :

الف ـ هغه پلانونه چه‌تهیه شوی‌دی :

دجلال آباد ښاری پلان : سربیره پریوه‌ښاری نقشه‌چه‌پخوا تهیه شوې‌وه یوه‌بله ښاری نقشه دیوې دوه‌زره کسیزی ټولنی دپاره‌چه ټول ضروریات یی‌په‌نظر کښی‌پـکښی نیو ل شو ی دی دجلال آباد دپاره‌طرح شوې اومسئولو مقاماتوته ور کړ شوې‌ده .

(۲) دغزنی ښاری پلان: پخوادیوې‌پنځلس زره کسیزی ټولنی په‌غـرض‌ددغه‌ښاردپاره دیوې ښاری‌نقشی خاکه‌طرح شوی‌وه . په‌دی وختو کښی په‌هغی کښی تجدیدنظر شوی او په هغه باب کښی ځینی تغیرات او تعدیلات شوی‌دی .

دغه‌نوی نقشه‌په پنځه برخی ویشل شوې‌ده . له‌دغو پنځو برخو څخه‌اوس یواځی یوه بر خـه ترتطبیق لاندی‌نیول شوی‌ده اوڅو دولتی اوغیر دولتی ودانۍ ترجوړونی لاندی‌ونیول‌شویدی هیله‌شته چه‌نوری برخی‌یی هم‌پرله‌پسی جوړی‌شی اوپه لنډه موده کښی به‌په‌تاریخی غز نی کښی یوداسی نوی‌ښار جوړشی چه‌ودانۍ، اپارتمانونه ، دکانونه ، جوماتونه ، سرایونه ، سینما گانی ښوونځی اونور ولری .

(۳) دفراه ښاری پلان : دفراه دښار دیوی ښی‌عصری نقشی‌طرح کولو دپاره په پای کښی یوه‌داسی نقشه‌جوړه شوه‌چه دټولو خوښه‌شوه . ددغی نقشی‌په طرح کولو کښی دهغه ښارتود اقلیم‌په‌نظر کښی نیول شویدی دهغه‌په بیلوبیلو برخو کښی‌د کافی نهالـگیو اوبوټیو ا یښودلو اودپار کو اوسمسورو بڼو جوړولو تجویز شوی‌دی . اونقشه‌یی ددوولسو زرو تنودپاره تر تیب شویده .

د۱۳۳۸ دزمری په‌میاشت کښی دفوائدعامی دوزارت له‌خوا یوهیأت فراه‌ته ولیږ ل شو .چه دنوی ښارځای تثبیت اوخط یی وباسی دغه‌هیأت هلته‌لاړ او د خپلی و ظیفی دسر ته رسو لو نه وروسته بیرته کابل راغی .

(٤) دخان آباد ښاری پلان : دخان آباد دپاره یوه اساسی عصری‌نقشه ترتیب شوې په د غه نقشه به کی د یو ی لس زره کسیزی‌ټولنی‌تعمیری رازرازضروریات‌په‌نظر کښی‌نیول شوی او دوا کمن‌مقام‌خوښه اومنل‌شوی‌ده.دغه‌پلان‌دغزنی‌دښار دپلان‌په څیر په‌پنځو برخوویشل‌شوی‌دی

چه پر له پسې به جو پ ی شی . دنو ی ښار د کر ښې ایستلو دپا ره هم یو هیأت خان آبادته ولیږ ل شو .

(٥) دچاریکارو ښاری پلان : ددغه ښار پلان دپنځه ویشتوزر و تنو دپاره چه پـا ر کو نه ودانۍ اودیوه ښار رازراز تعمیری ضروریات په نظر کښې پـکښې نیول شویدی په خو ا طر خ اوتهیه شوی اودپروان اعلی حکومت ته سپارل شویدي .

(٦) دپلخمری ښاری پلان : یو کمکی ښاری پلان دیونیم زر کسیزی تولنی دپاره طرح شوی اوپلخمری ته استول شویدی .

(۷) دلغمان ښاری پلان : په لغمان کښې دشلو زروتنو دپاره دیوه نوی ښار نقشه طرح شویده دغه ښار وروسته له هغه چه وډان شی دننـگرهار دولایت دمرکزی حکومت ددوبی دمرکز دپار به یو مناسب ځای و ی .

ب ـ ښاری پلا نونه چه تر جوړونی لاندی دی .

(۱) دیوی لس زره کسیزی تولنی دپاره هرات دښار دیوی برخې له املـه .

(۲) ددوه زره کسیزی تولنی دپاره د کـلای مرادبیگ له املـه .

ج ـ ښاری پلانونه چه ترنظر لاندی د ی اوژر به تهیه شی .

(۱) د کوهدامن دقره باغ پلان ددوه زره کسیزی تولنې دپاره .

(۲) دننـگرهار په ولایت کښې دسروبی دبر کزی برخې پلان دیونیم زر کسیزی تولنی دپاره .

(۳) دننـگرهار په ولایت کښې دشلور زره کسیزی تولنی دپاره دچغه سر ای پلان .

(٤) دقطغن په ولایت کښې ددوو زرو تنو دپاره دنهرین پلان .

(٥) دقطغن په ولایت کښې دیوزر تنو دپاره د ینـگی کلا پلان.

بندونه اودیا لی :

افغانستان داسی مملـکت دی چه داوبو ذخیری اوپریمانه سیندونه لری .

ددغه مملـکت دغروله دروا و لوړو ځایو څخه پریمانه ویالی اوسیندونه تولو ځایو ته بهیدلی دی. دغه سیندونه اوویالی دافغانستان دپاره داوبو دبرینبنا اوداوبو لـگو لوستر منابع دی. افغانستان له دغه لحاظه روښانه آینده لری .

دافغانستان حکومت چه دمملـکت داوبو گټورو منابعو ته متوجه دی له هغو کـلور ا هیسی له هغو څخه دزیاتی استفادې په فـکر کښې شویدی اوځینی وړو اوسترو پروژو ته ئی هڅه کړ یده اوپه سریی رسولی دی چه له دغی جملی څخه په جنوب غرب کښې دمیرسیندواوبو لـگولواودبرینبنا

پیدا کولو پروژه اود کابل پرسیند دسرویی‌دبرینښنا دبندپروژه‌ده‌خودافغانستان دنورمپی‌پنځکلن اقتصادی پلان دتجویز شوی‌سیند مهمی پروژی دمملکت په‌خټیځه برخه کښی د کابل پر سیند دنغلو دبرینښنا دبندپروژه اودجلال آباد ددرې دأوبولو دپاره دبند پروژه‌ده چه‌د کانوا و صنایعو وزارت اودفوائد عامی وزارت پرله پسی دهغه کار دلومړنیوچارو په‌برابرولو بوخت‌دی لکه چه‌د۱۳۳۹ کال دچنګاش په‌میاشت کښی ددرونتی دبند دپروژې دجوړونې په‌لومړنیو چا رو پیل‌وشو . هغه کارروایی چه‌دلته اشاره ورته کیږی ددرونتی دبند دپروژی له‌مربوطو فعالیتو څخه‌پرته دفوائد عامی دوزارت دبندو اوویالو اداری عادی کارروایی ده‌چه په پنځکلن پلا ن پوری څه‌ربط نه‌لری .

دفوائد عامی دوزارت دبندو اوویالو د اداري کار روایی په تیر کال کښی د و ټ ی له‌میاشتی نه‌د۱۳۳۹ دوټی ترمیاشتی پوری په‌لاندی عناوینو سره‌ستاسو دپاره څرګند یږی .

(۱) دانجنیری ـ رپوټونه اوتحقیقات (اود انجنیر ی ـ سروی)

(۲) دجوړونې دټړو نو انعقاد .

(۳) جوړونه .

(٤) اداری تشکیل .

(۱) دانجنیری ـ رپوټونه اوتحقیقا ت :

الف : د۱۳۳۸ کال دلیندی ـ په ۲۳ نیټه دفوایدعامی دوزارت له‌خوا یوهیأت چخانسو رته استول شوی وٌ چه‌دهغه ځای د« آس» دبرج‌دبند ځای و ګوری چه‌داوبو ګرځولو د یوه‌بند چه د« سیخ‌سر» دویالی اودچخانسور نوری ویالی اوبه ورځخه اخلی دجوړولو امکانات و ګور ی هیأت هلته ولاړ اودخپلو کتنو اونظریو رپوټ یی‌وزارت ته‌وړاندی کړ .

ب ـ دبدخشان دروشان ځنګل :

دبدخشان دروشان له‌ځنګله څخه داستفادی اودپنج دسیند په‌مقابل کښی دهغه ددفاع له‌املا د۳۸ کال دتلی‌په ۱۲ نیټه خارجه ، داخله ،فوایدعامی‌وزارت اودصدارت عظمی‌د کارتو ګرافی ـ دریاست له‌نمایندګانو څخه یوهیأت هلته‌لیږل شوی‌وٌ ددی وزارت دبندو اوویالو اداری یوفنی هیأت دانجنیری ـ،اقتصادی اودجغرافیائی له‌مخی خپلی‌نظریی دیوه رپوټ په‌ترڅ کښی و زا ر ت ته‌وسپارلی اوپونقل یی‌خارجه وزارت ته هم و ر کړ شو .

له‌ټیکه مرغه هغه‌چاری چه‌دځنګله ددفاع په‌باب یی تجویز شوی‌وٌ دوا کمنو مقاماتولخوا منظوری شوی اوپه مناسب فرصت کښی‌به تر اجرالاندی ونیول شی .

ج - دبڼه کشانو په‌لومړنۍ رپوټ : د۱۳۳۸ کال د۱۱ میاشتی‌په ۲۷ نیټه‌دحضرت امام د بڼه کشانوپه حد کښی ډینج دسیند څخه دزیانو په‌باب د کـتنو اوڅیړنو له امله دو زار ت له خوا یوفنی هیأت واستو ل شو .

دغه هیأت په‌دغه باب دخپلو کـتنو رپوټ اوخپل پیشنهادو نه و زارت‌ته وړ اند ی کړ ل . دسیندود ناوړو اثراتو اودافغانی سواحلو دورانیدو دمخنیوی ډپاره ځینی تجویزونه ونیول‌شول.

د کلفت‌دډ کی په‌باب‌دانجنیری‌دتحقیقاتو ختم:

د۱۹۵۸ کال د جون په ۲۵ نیټه دافغانستان‌اودشوروی‌جمهوریتوداتحاددحکومت‌ترمنځ‌د آمو له سیند څخه د ګډوی استفا دی ډپاره یوتړون شوی‌ؤ چه دهغه له مخی د ۱۹۵۹د جولای په۱۲ نیټه دافغانی او ر وسیی یو فنی هیأ ت دمـزار شریف د کلفت په حد کښی د یوه بند لو مـړنی سر و ی‌بشپړه کړه.

روسی هیأت به په دغه باب یو مفصل تخنیکی او اقتصا دی رپوټ د افغا نستا ن حکومت ته و سپاری چه‌دهغه له مخی به وړ اقدامات وشی.

(۲) دجـوړونی دتړون انعقا د:

دشوروی جمهو ریتو داتحادد تخنو پردم ا کسپورت‌دمؤ سسی‌اودفوائد عامی دوزارت ترمنځ د۱۹۵۶دجولایی‌د۲۶ نیټی دتړون له‌مخی‌دجلال آبددناوې داو بولودتجویزشوی‌دنخشې‌طرح کولو د پار ه‌دانجینر ی‌ یا« لومړ نی‌سر و ې» له مخی په ۱۹۵۷ کښی‌لو مړ ی‌ مطا لعی و شو ی او د۱۹۶۰ کال‌دجولایی په‌میاشتـکښی‌دهغی مؤسسی‌اودفوائدعامی دوزارت ترمنځ د هغی پروژې دجو ړونی تړ ون وشو .هیله شته چه‌په دې وختو کښی دهغی پرو ژی په جوړ ونه پیل وشی.

دغه پروژه چه‌دافغانستا ن‌له ډیرو ستر و اقتصادی پرو ژ و څخه ده د ۲۱ متر ه جگ بند دبر یښناپیدا کولودیوی فابریکی اود یوی سترې‌ویالی جوړول چه دهغی په بشپړ و لو سره به ددرونټی دتنګنااو دهز ارنوع د کلی تر منځ د کابل دسیند د ښی اړخ مخکی او به شی.

ددغی پرو ژی په بشپړ ولو سره به۳۱۵۰۰هکتاره‌چه ۱۶۰۰۰۰ جر یبه مخکه کیږ ی او به شی .له د غی جملې څخه به ۱۵۲۰۰۰ جریبه مخکه له عمومـی ویا لی څـخه اونو ر به یې‌دبمبی (پمپ هاوس)له ددومر کز وڅخه او به‌شی .دغه ویاله به۷۰ کیلو متره‌اوز ده وی.

له عمومی ویالی‌څخه به‌فر عی‌ویالی‌جلا شی،فرعی‌ویالی‌اودپمپ دوه‌مر کز ونه یو به‌یې په۱۵ کیلو متر ی‌ اوبـل‌بـه یې په ۴۳ کـیلو متری‌ کښی له عمو می‌و یـا لی څخه او به ا خلی

ددغی ویالی جوړونه داسی دهچه دوه تو نلونه به دسره دیوال پهحد کښی په ۸۷۸ کیلومتره اوزدوالی سره او ۱۷ معکوس سایفنو نه به په ۲۱ کیلومترو سره جوړشی .

دغه پروژه به په څلورو کلو کښی داتکال له مخی ۲۲٤۰۰۰۰ ډالر وبشپړه شی.

(۳) جوړونه:

الف ـ د کرغی بند: دغه بند چه په اصل کښی په ۱۳۱۰ کال یعنی ۲۹ کاله پخواد کابل دشاوخواد شار ومحکو او بولودپاره تجویزشوی وُاو په ۱۳۱۱ کال کښی تر جوړونی لاندی نیول شوی وُدځینو علتو په اثر تر دې وختو پوری تال شوی وُ.

درې کاله پخواحکومت دغه واړه اوپیر کټو ربند ته چه دښار په څنګ کښی دهغه دغرب په ۱٤ کیلومتری کښی واقع دی او یوځه جوړشوی دی متوجه شواودفوائدعامی وزارت مو ظف کړی شوچه دهغه په شاوخوا کښی مطالعی وکړی .

دوزارت دمطالعواودداخلی او خارجی متخصصینوسره داستشارونه وروسته اراده وشوه چه دهغه پاته برخی بشپړی اوپخوانی جوړو نیی کلکی کړی.

هماغه وُ چه په ۱۳۳۷ کال کښی دهغه دبند جوړونی په چارو بیا پیل وشو چه تراوسه لادوام لری .دغه بند چه بشپړ شی نودبنست سور به یی ۲۸۰ متره اودپورتنی برخی سور به یی ۸ متره وی . ددغه بند دجسم نهایی لوړوالی به ۳۰ متره اوپه پورته برخه کښی به یی اوزده ـ ٤۰۰ متره اوپه کاسه کښی به یی داوبودسطح لوړوالی ۲٦ نیم متره وی .

دغه بند چه بشپړشي داوبو تا کلی اندازه به ۱۱ ملیونو مترومکعبوته ورسیږی په دغه اندازه اوبو سره به ۸۰۰۰ جریمه محکمه اوبه شی او ٤۰۰۰۰ تنوته به دچښلواوبه ورکړی شی.په دی وختو کښی دغه بند ۲۲ متره جګ شوی دی اودهغه ترمخ (سلا می) کښی ۵۰ سانتیمتره ډبره اوډل شوی دی اودهغه وپاته چارو دبشپړولود پاره کوښښ دوام لری .

تراوسه دهغه بندپه ۴ کاسه کښی څوځله دازموینی په ډول اوبه ذخیره شوی دی او د امید ورنتیجې لاسته ورځخه راغلی دی .

ب د کلفت ډکه :

دمزارشریف د کلفت دبندر په سیمه کښی د آمو دسیندافغانی ساحل دزیانمن کید وپه باب دترانسپورت دریاست دپیښینی له مخی د ۳۹ کال دحمل په ۱۳ نیټه دصدارت عظمی له مقام څخه یوحکم صادر شوچه داحتمالی زیانو دمخنیوی دپاره دی اقدام وشی .پرهمدغه اساس دفوائد عامی وزارت دمربوطو متخصصینو په مرسته په هغه سیمه کښی د آمو دسیند ساحل ٤۰۰ متره تینګ کړ



دهیواد په شمالی‌سیموکښې دکا ر دقواؤ د سړک جوړ و لو له فعالیتوڅخه



دبگرام هوائی ډگرته نژدې د کاردقوا ؤدډ بروما تو لو عملیات

په‌دغه کار کښی زیاتره له‌محلی مواردوڅخه استفاده شوی‌ده .دهغو تحقیقاتوله‌مخی چه‌دحضرت امام دبته کشانو په‌برخه کښی د آمو سیند څخه دزیانو په‌باب شوی‌دی اوپورته یی‌یادونه وشوه دصدارت عظمی په‌فرمان سره دیوه‌دفاعی بندجوړولو امر وشو .

ددغه بند کار سبز کال په‌منځنیوورځو کښی‌شروع شو .

تراوسه پوری یوله (۲)نه تر۱۰ مترو پوری جګ اوله ٦نه‌تر ۱۲ متر و پور ی سور ورا و ۹ کیلو متره اوزدبند جوړشوی‌دی‌په‌دی‌وختو کښی ددغه‌بند دبشپړ ولو دپاره فعالیت‌جاری‌دی.

(٤) اداری‌تشکیل :

دبندواوویالو په‌ساحه کښی‌دوزارت‌ورځ‌په‌ورځ‌زیاتیدونکو چاروددبندواوویالو دیوی فنی‌اداری مفکوره منځ ته‌راوستلی وه‌له‌نیکه مرغه‌په‌سبز کال کښی‌دغه‌مفکوره عملی‌شوه اودبندواوو یالو دفنی عمومی مدیریت‌په نامه یوه فنی اداره منځ‌ته‌راغله،هیله شته چه‌ددغی اداری‌په رویکاریدو سره دبندو اوویالو چاری رونق پیدا کړی اودغه ادارهٔ دفنی کار کوونکو له‌مخی چه دوزارت له مهمو احتیاجاتو دی خپل هیواد تقویه کړی اوتراوسه په دی بر یالی شوی ده‌چه‌دغه رازخوتنه لاس ته راولی اوشو شاګردان تهیه کړی .

د قرغی د بند کار

د۱۳۳۸ کال له‌وزی نه‌د۱۳۳۹ کال‌دغوبی ترمیاشتی پوری :

په‌بنسټ کښی دسلامی ددوهمی بر خی ډ کوالی	۳۰۰۰۰ مترمکعب
دبندډپورته خواډ کول	۱۸۰۰۰ » »
دبند ترمخ دریګ ا و جغلی اچول .	۱۳۰۰۰ » »
په‌ډبرو سره دسلامی دلومړی برخی فرشول	۸۰۰۰ » »
په‌ډبرو سره‌دسلامی ددوهمی برخی فرشول	۸۰۰۰ » »

دقرغی د بند کار د۱۳۳۹ کال له وزی نه‌دغوبی ترمیاشتی پوری :

دبند دمخ ډبری	۷۰۰۰ مترمکعب
دبند دسلامی ډ بر کا ری	۱۰۰۰۰ » »
دبندډسلامی ډ کول	٤۰۰۰۰ » »
دبند ډپورته‌خواډ کول	٤۵۰۰۰ » »

هوائی ډکرونه :

افغانستان چه‌له یوی خوا دمخکی دلارو دانکشاف دپاره زیارباسی اوپه زرګونوتنه افغانان

دخپل مملکت په دښتو، غرو، اوغر نیو منطقو کښې دعصری سړکوجوړولو دپاره کوښښ کوی له بلې خوادخپلو فضایی لارود سیستم پراخلو دپاره زیار باسی .

افغانستان لکه څنګه چه دځمکنۍ دلارولهخوائې په نړۍ کښې مهم موقعیت درلودنن روځ دنړیوالو په نظر کښې دفضایی کرښولهحیثه ډیراهمیت لری .ځکه چه هوایی بیړۍ چه دلویدیځ اوختیځ آسیا ترمنځ لیری الوتنه کوی په داسی صورت کولای شی چه پیره لنډه لاره پای ته ور سوی چه د کندهار، دښارله فضا څخه تیری شی اوهغه الوتکی چه دمسکو اوپیلی ترمنځ تګ وراتګ کوی یوائځی د کابل دفضاله لاری مساعده لارقطع کړی .

د کندهار بګرام او کابل هوایی ډګرونه چه په افغانستان کښې ترجوړونې لاندې دی اوهیله ښته چه په نژدی وختو کښې بشپړ شی .دغه لنډی فاصلی برابر وی .

کوم اهمیت چه دغه ډګرونه یی دافغانستان داقتصاد په ډګر کښې اودهغه دتجارتی اوفرهنګی چارو په انکشاف کښې لری روښانه دی هیله شته چه دهغه په بشپړو لوسره د مملکت په بیلو بیلو ځایو کښې شونور ډګرونه تأسیس اودافغانستان دپاره دعصری سړکوله شبکی سره اوزه په اوزه دهوایی پرمخ تللو اومترقی مواصلاتو یوه شبکه ممکنه شی .

دادی چه دبګرام او کابل دهوایی ډګرو دجوړونې په باب چه د شوروی جمهوریتو د اتحاد دمتخصصینو په لارښوونه دفوائدعامې دوزارت په وسیله جوړیږی لنډ معلومات وړاندی کړو :

(۱) دبګرام هوایی ډګر :

دغه ډګر پروژه دمملکت له سترو عمرانی پروژو څخه ده چه دفوائد عامی دوزارت دپنځکلن عمرانی پلان جزده د بګرام دهوایی ډګردلو مړۍ مرحلې دجوړونې تړون د ۱۳۳٦ دلیندۍ په ۱۵ نیټه دفوائد عامی دوزارت اودشوروی دتخنوا کسپورټ دمؤسسې ترمنځ لاسلیک شوی ؤ د هغه ډګرجوړونه دهغه اکال دسلوا غې په میاشت کښې شروع شوی وه دپلان تردریم کال پورې کانکریټ اچول په سلو کښې ۹۰ اوتعمیراتی چاری یې په سلو کښې ٦۰ بشپړې شوی وې .

ویل کیدای شی چه د هغه ډګر دجوړونې پاته چاری د پلان پدی څلورم کال کښې نژدی بشپړې شوی دی.

دبګرام هوایی ډګر کیدای شی چه دنړۍ له ستروډګروشخه وګڼل شی .

دغه ډګر د پلان پدی کال کښې د سترو شخصیتو لکه د شوروی اتحاد د صدراعظم خروسچف ، د امریکی د جمهور رئیس ښاغلی آیزنهاور، دهندصدراعظم ښاغلی جواهرلال نهرو اودنورو سترو مېلمنو د هر کلی شاهد دی .

۲ - د کابل هوایی ډګر :

د کابل د هوایی ډګر پروژه د افغانستان د لومړی پنځکلن اقتصادی پلان د تجویزشویو پروژوڅخه یوه بله پروژه ده دهغه دجوړونی تړون د ۱۳۳۸ کال د غویی په میاشت کښی د شوروی جمهوریتوداتحاد د تخنوا کسپورټ له موسسی سره لاسلیك شو او چاری یسی دهغه



د کابل د هوائی ډګر(درنوی)دجوړولو کار یوه منظره

کال د چنګاش په میاشت کښی شروع شوې .

داسی پیښینی شوی وه چه د هغه ډګر قولی چاری دهغه له مربوطو جوړونو سره د تړون له لاسلیك نه وروسته په دریو کلو کښی او دهغه(رن وی) دالوتنی دمنطقی چاری په دوو کلو کښی سرته ورسیږی .

د کابل هوایی ډګر چه له المان څخه وروسته به د نړی د عصری ډګرو په قطار کښی وګڼل شی د ۱۰- ل۱٤ روسوپر کانستی لیشن الوتکو دهر کلی دپاره چمتو شی د پروژې په لومړی مرحله کښی داسی چاری شاملی دی :

۱- دالوتنی یارن وی د کرښی جوړو نه ۲۸۰۰ متره او زده ، او ٦۰ ، ٤۷ متره سوروره

۲- د تکسی یا تکسی وی د لاری جوړونه.

۳- د الوتکود ځالو جوړونه

٤- دالوتکو د ۸۰۰ مترو مکعبو دپاره د تحویلخانو جوړونه

٥- د ۳۰۰ تنومسافرودپاره د ډګر دمرکزی ودانیو جوړونه د ۱۰۰ تنودپاره لدرستوران سره چه په عصری وسایلو مجهز وی لکه د ګرمیو د مرکز او سیستم او نورو سره

٦- د ګرمیو دمرکز د کارخانی جوړونه

۷- د بریښنا د ۲۰۰ کلیواته قوی دپاره دبرېښنا دخونی جوړونه

۸- د اوبو د ځلورو دستګاؤ جوړونه د بمبئی له دستګاه او د اوبو له برج سره .

۹- د ډګر د فرعی لارو او واټو جوړونه .



د کابل هوائی ډګر د نویوه برخه په سیمونوی کښی نیول شوی چه کانکریټ کولو ته چمتوده

۱۰- د ډګر د تنویر د عصری سیستم جوړونه.

۱۱- دمخابری دډګر جوړونه .

۱۲- د اوبو رسولو جوړونه .

۱۳- دلوړ کشیو (کانالای زی شن) جوړونه د هغی له تصفیه خانی اودبمبی له دستګاه سره.

۱٤- د تحکیم له تضییق شوی ریگ او جغل سره .

د ډگر چاری د ۲۸۷۰۰۰ مترو مکعبو خاوری نقلولو او د ۸۰۰۰۰ مترومکعبو کانکریټو او د ۲۱۰۰۰۰ متر و مکعبو جغلی تهیه کولوته اړه لری .

دغو چارو اوستر احجام د یو لړ تولیدی عصری ماشینو تأسیسول غوښتل نو ځکه په لاندی ډول فابریکی او ودانۍ جوړی شوی چه چاری یی د ۱۳۳۹ دوری تر میاشتی پوری بشپړی شوی .

۱- د ډبرو ماتولو د فابریکی د کار په هره دوره کښی د جغلی د ۷۵۰ مترو مکعبو په تولیدی قوه سره .

۲- د کانکریټ جوړولودوه فابریکی چه په یوه شپه اوورځ د ۶۰۰ مترومکعبو کانکریټو تولیدولو قوه ولری د ۳۸۰۰ ټنو سمنټو ذخیری دپاره د سمنټو له تحویلخانو سره .

۳- د بریښنا فابریکه چه ۱۲۰۰ کلیواټه قوه ولری .

٤- د وسپنی لرونکو کانکریټو د اجناسو کارخانه چه په یوه کال کښی ددغواجناسو د ۱۲۰۰ مترو مکعبو تولیدولوقوه ولری .

٥- د بخارخونه د لرگی کاری له بیلوبیلو ماشینو سره.



د کابل په هوائی ډگر کښی دډبروماتولواوچغلی جوړولوماشینونه

٦- ور کشاپونه .
۷- د ماشینو او موټرو د څارنې اوترمیمولو دپاره‌دموټرو دریدځی د هغه له تأسیساتوسره .
۸- د روغنیاتو ډیپو .
۹- د دفتر او استوګنې‌ود انې .
۱۰- ینځلی (فشرده شده) سړک ګونه .
د ۱۳۳۹ د غویی په میاشت کښی دډګر د اصلی تأسیساتو د سرته رسید لو چارو زیات احجام په‌لاندی ډول لاسته راغلی ؤ .
۱- د الوتنی په منطقه کښی ٤۷۰۰۰ متره مربع بستر .
۲- ۲۵۰۰۰ کانکریټ اچول .
۳- ډګر په مرکزی ودانې کښی د ٤۰۰ مترو مربعو وسپنی لرونکو کانکریټواچول
٤- د مرکزی ودانې په تیرواوستنو کښی د۵۰ مترو مکعبو کانکریټ اچول .
۵- په مرکزی و دانې کښی ۵۰ تنه‌په کار اچول شوی ګول سیخونه .
٦- د اوبو دری کیندل شوی څاه ګانی ، په بل عبارت تردغی نیټی پوری د ٦۲۰۰۰ مترو مکعبو په شاو خوا کښی کیندنی .
د ۹۰۰۰ مترو مکعبو کانکریټ اچول‌او د کانکریټو تهیه کول .
په ودانیو کښی د۲۰۰تنو ګول سیخواستعمالول .
٤۳۰۰۰ متره مکعبو ډبرو ماتونه شوی ده .
دغه ډګرته په کارمالونه‌چه دغویی‌ترهغی‌میاشتی‌پوری دقزل کلاله‌لاری له شوروی اتحاد څخه راوړل شو ی دی ۱٤ نیمو زرو تنو ته رسیدلی چه له هغی جملی څخه ٤ زره تنه سمنټ دی د۱۳۳۹ کال د غویی په میاشت کښی د روغنیاتو د تحویلخانی ، د بر پښناد فابریکی د (۵)ترانسفارمرود فرعی در پدځیو (سب ستیشنو) ، د تودوخی دمرکز د کارخانی اوداوبو د بمبی د مرکز د تعمیری چارو او د زهکشې او کولکتورو د جوړونی د مربوطو چارو د سرته رسولو دپاره په بیړه زیار ایستل کیده .
د غویی له میاشتی نه وروسته د پلان دځلورم کال د ختمیدلونه ترپخوایوی‌میاشتی پوری یعنی د وزی تر میاشتی پوری داسی چاری سرته رسیدلی دی :
د ۶۰٫۰۰۰ مترومربعو کانکریټ‌اچول تردی‌چه دالوتنی۲٫۰۰۰ متره کربنه لاسته راغله.
د ۱٫۵۰۰ مترو کولکتورو او ٤٫۰۰۰ مترو د اینارو تمدید .

د ۱۸٫۰۰۰ مترو کیندنی .

د ډګر په مرکزی ودانۍ کښی د ۷٫۰۰۰ مترو مکعبو کانکریټو اچول .

د روغنیاتو په تحویلخانه ، د ترانسفارمر د فرعی دربندیو ، د زهکشۍ د سیستم د اوبو د بمبی د کارخانی د مربوطو تعمیری چارو اوپه هغوی کښی د بسته کاری دچارو بشپړول.

د کابل د هوائی ډګر دخواجه‌رواش پرغونډۍ د سرنګ الوزول

باید و ویل شی چه ډیر ماشینونه ، دحمل‌ونقل‌وسائط او ډیرتخنیکی لوازم چه دبګرام له هوایی ډګر څخه فارغ شویدی د کابل هوایی ډګر ته راوړل شوی او راوړل کیږی .

او هم یو شمیر افغانی لائق کار کونکی چه خپلی وظیفی یی په هوایی ډګر کښی سرته رسولی دی د کابل په هوایی ډګر کښی استخدام شویدی او دغه هرو مرو د کابل د هوایی ډګر د کار په بیړه ، ښه والی او اقتصاد کښی زیاته اغیزه کوی.

دا هم باید وواییوچه د افغانستان ساخت د سمنټو د ښه جنسیت په اثرد روسی سمنټوراوړل شروع‌شوی دی .

د کابل دهوایی‌ډګرد(ترمینال) مرکزی‌ودانۍ:

دغه‌ودانۍ‌چه‌دغبر ګولی په۱۴۴نیټه ترجوړونی لاندی‌نیول شوی ده ډګرته به‌دهرو ۳۰۰ تنو

نویورا غلیو مسافرو دپاره ځای برابر کړی چه عمومی ظرفیت به یې په لاندی ډول ۱۷۰۰۰ متره مکعب اوعمومی مساحه به یې ۳/۱۲۵ متره مربع وی اودمسافرو اوخدمتګارو دخونو ۲۲۵۰ متره مربع مساحه دمهند سی له حیثه دراډیو ترصد دبرج دودانۍ مساحه ۵۷۵ متره مربع.

دودانۍ ترمخ یودر پدځی چه سل موتر به پکی ځای شی کانکریتی سطح جوړ یږی

دودانۍ دشمالی خواپر برابری یوه ودانۍ په مستطیل ډول چه پخپل څنګ کښی برآمد ګی ولری دهغې کیفه بدنه به په ۷/۷ متره لوړوالی سره دوه پوړه اوښۍ بدنه به یې په ٤،۸ متر لوړوالی سره یو پوړه جوړه شی اوپه مرکزی برخه کښی به دراډیو او ترصد برج په ۲۵٤ متره لوړوالی سره جوړیږی اودمرکزی بدنی په برخه کښی یوه وړه ښکلی ودانۍ چه داو بوفواره ولری ودانیږی، ددغی حویلۍ چاپیر به دمسافرو ځای، کړ کۍ، سالونونه، دبین المللی مسافرو د انتظار خونی، ګدامونه بګا ژ ځای، رستوران اونورواقع وی.

پرنورو څوڅو خونو علاوه دمسافرو مخصوصی خونی، داطلاعاتو ددفترو خونی، پسته خانه، ددولتی لوازموساتلو ځای، دمیندو، کوچنیانو، سلمانی ځای، داداری هیات او هوا با زانو دپاره ځای، روغتون اوقرائت خانه په نظر کښی نیول شوی دی.

دودانۍ اودالوتنی دمنطقې په اوږدو کښی دمشایونو اوهر کلی کوونکو دپاره په دوهم پوړ کښی یوه بالکن نما برنده پیشبینی شوی ده اوله رستوران څخه به دغی دروازی ته یوه دروازه پرانیستله شی اودرستوران دسالون په جنوبی خوا کښی به دبرنډی په شان یو کوچنی میدان چه ددوبی د کافی حکم ولری جوړیږی.

دهوایی ډګر دمرکزی ودانۍ دمنځنۍ برخی باغ چه دالوتنی پرمنطقه به مشرف وی دمسافرو دپاره دنندارې ښه ځای تشکیلوی. درپد ځی اودهغه ملحقات دزلزلې سره مقاوم او د وسپنی لرونکو کانکریټو څخه جوړیږی

دودانۍ دښۍ خواډیوه پوړه تعمیر دیوالونه او بر آمد ګی له خښتو څخه جوړیږی. او دنیستو مخونه به په پرینو خښتو سره نیول کیږی او بامونه ئی په قیچیګانو باندی په وسپنو پوښل کیږی او دخدمت خونی په ریښی فرش، دتشنابو، آشپزخانې او نورو دمتلاکس په تختو سره ښکلی کیږی.

ښکلتیاوی :

ددیوالو مخونه دننه اودباندی نقشکاری او ښکلی کیږی.

دمسافرو دسالونو دیوالونه تول په غوړینو رنګوا و نوری خونی په سریښ لرونکو رنګو سره رنګیږی.

دډ گرپه مرکزی ودانۍ کښې وسایل :

دډ گرمرکزی ودانۍ په ټولو عصری مدنی وسائلو لکه داوبو رسولو نلونه، ذ گرمۍ او ذهوا تصفیه کولو دمرکز دلولوایستلو په سیسټم ، دبریښناپه تنویر، تیلفون، راډیو، بریښنایی زینو او نورو سره مجهز وی .

دقزل کلا دسیندد بند جوړونه:

له شمالی گاونډی سره زموږ دتجارت ز یاتولو په نسبت دافغانستان حکومت دافغانستان اوشوروی جمهو ریتو داتحاد ترمنځ سرحدد آمودستر سیند په څنډه کښې په قزل کلا کښې دیوه بند جوړولو ته هڅه و کړه.

هماغه ؤ چه دمملکت دانکشافی لومړی پنځکلن پلان په دوهم کال کښې دفوائد عامې دوزارت اوشوروی جمهوریتوداتحاد دتخنوا کسپرت دشرکت ترمنځ یوتړون لاسلیك شو چه د هغه له مخی دشوروی جمهور یتو داتحاد حکومت تعهدو کړ چه دهغه بند په جوړولو کښې له افغانستان سره مرسته و کړی.

ددغه بندر جوړو لو دلومړۍ مرحلې عمده برخه دبېړیو در ېدځی ته څرمه دسیند ژورول، اوساحلی استحکاماتو باندی د کانکریټو اچول ، دیوه کانکریټی دیوال جوړول ،د پترولو دټانك جوړول،دیوې کانکریټی لاری اوډ گرو جوړول، د کار گاه (ور کشاب)، دروغنیاتو دتحویلخانی داوبوڅاه اونوروجوړول دلومړۍ مرحلې زیاتره چاری دپلان په دریم کال کښې په سلو کښې ۹۰ بشپړی شوی وی اودهغې پاته چاری دپلان دڅلورم کال په نیمایی کښې بشپړی شوی اوهغه بندر د۱۳۳۸ کال د کپ په میاشت کښې رسماً پرانیستل شو .

ددو همی مرحلې جوړونه :

دهغه بندددوهمی مرحلې دجوړونی تړون د۱۳۳۹ دغبر گولی په میاشت کښې د تخنوا کسپورت له شرکت سره لاسلیك شو اووروسته یې په کار پیل وشو چه تراوسه په بریالیتوب سره دوام لری.

پلونه

دڅرخی پل :

دغه ښکلی،عصری پل دتنگی غارو خولې ته نژدې د کابل پرسیند باندی په شپږ ومیاشتو کښې بشپړ شو .

د غه پل څلور کمانی لری اوله وسپنی لرونکو کانکریټو څخه جوړی شوی دی .

داسمار ، کامې اوبهسودو پلونه :

دوه لومړی پلونه د کامې اواسما ر کلیوته نژ دې د کنړپرسیند او دریم پل به دبهسود و کلی ته څرمه (درې واړه دننګرهار پهولایت کښی) جوړ شی .

دفوائد عامی دوزارت او دشو روی دجمهوریتو داتحاد دتخنو اکسپو رت دمؤ سسې تر منځ د موافقی لهمخی دهغوپلو «سروی » دچنګاښ په۲٦ نېټه دهغی مؤسسې د متخصیصنو په وسیله ختم شوې ده اوهغوی اوس دهغوپلو دپروژې پهطرح کولو بوخت دی .

د کو کچی پل :

دغه پلچه یوډیرعصری اوټینګ پل بهوی دقطغن پهولایت کښی به د کو کچی پرسترسیند جوړشی د دغه پله د « سروی» چاری همدشوروی جمهوریتو داتحاد دتخنوا کسپورت دمؤسسې دمتخصیصنو په واسطه شوی اواوس دهغه دپروژې پهطرح کولو کښی زیار ایستل کېږی .

ACKU

دمالیی وزارت

تشکیل :

دمالیی و زیر ع،ج شباغلی عبدالله (ملکیار)

مالی معین شباغلی عبدالکریم (حکیمی)

اداری معین « محمد انور (ضیائی)

حسابی مشاور « محمدالله (کاظمی)

عدلی مشاور « محمدشیرین

دقلم مخصوص لوی مدیریت :

لوی مدیر یو تن

داستخبارات و مدیر « «

اداری لوی مدیریت :

لوی مدیر « «

د « « مرستیال « «

داداری د بودجی مدیر « «

دمامورینو مدیر « «

دخدماتو مدیر یو تن

دتهیی مدیر « «

د آرشیف لوی مدیر « «

د آرشیف داجرائیی مدیران (۲) تنه

« « دحفظیی مدیر یو تن

داداری محاسبی لوی مدیر « «

د کنترول مدیر « «

ددفترداری « « «

دحواله جاتو « « «

ع،ج شباغلی عبدالله (ملکیار)

ACKU

دبودجی لوی مدیر	یو	تن
دبودجی دلوی مدیریت مرستیال	«	«
دبودجی مدیران	۳	تنه
دعوایدو لوی مدیر	یو	تن
دعوایدو دلوی مدیر مرستیالان	۲	تنه
د تمرکز مدیر	یو	تن
دتابلو گانو مدیر	«	«
دمراقبی اوراپور مدیر	«	«
دداخلی مالیاتو او برعایداتو مدیر	«	«
دخارجیانو مالیاتو او برعایداتو مدیر	«	«
« « « « مرستیالان	۲	تنه
د متفرقی مدیر	یو	تن
د مشکو او موادشی مدیر	«	«
دخزانینو لوی مدیر	«	«
« « مدیر	«	«
دصکو کو مدیر	«	«
دتادیاتو مدیران	۷	تنه
دسرمایه گذاری مدیر	یو	تن
دصکو کو اوضرابخانی ریاست :		
دصکو کو اوضرابخانی رئیس ع ، ص شباغلی صوفی عبدالحمید		
دضرابخانی مدیر	یو	تن
دضرابخانی دمحاسبی مدیران	۲	تنه
دصکو کو مدیر	یو	تن
دبریښنا مدیر	«	«
دمحاسباتو لوی مدیر	«	«
« « « « « مرستیال	«	«
دقوانینو مدیران	۶	تنه

ACKU

ددفترداریومدیر	یو تن
دتصفیې لوی مدیر	« «
« « د « مرستیال	« «
دمسلخ دتصفیې مدیر	« «
دنوی تصفیې مدیران	۲ تنه
د ګمرکاتو لوی مدیر	یوتن
« « « « مرستیال	« «
دتعرفې مدیر	« «
دقاچاقو دمخنیو ی مدیر	« «
داملاکولوی مد یر	یوتن
« « « مر ستیا ل	« «
داملاکومد یر	« «
دمخکو دتصفیې رئیس	« «
« « « « مرستیال	« «
د تقاعد و لوی مدیریت :	
لو ی مد یر	« «
څو ی	٦ تنه
د محاکماتو مد یر	یو تن
دوتې دمجلې مسئول مد یر	« «
دتهیې لوی مـد یریت :	
لوی مدیر	« «
د خارجې مد یر	« «
دلوازمو مد یر	« «
دډپو ګانو مد یر	« «

ACKU

دقراردادیانومد یر	یو تن
د تصفیی مد یر	« «
دتهیې‌دتصفیی مد یر	« «
« د معاینې مد یر	« «
دتد قیق او مطا لعاتومد یر	« «
غړی	« «
د مد یر په بست کښی غړی	۳ تنه

ACKU

د مالیې چارې

په ۳۸ - ۳۹ مالی کال کښې د مالیې وزارت داهڅه کړې ده چه په اداری چارو او اقتصادی چوکاټ کښې د تشکیل او دعاید اتو او لګښتونو په تنظیم ، په ټاکلی وخت کښې د دولتی دایرو او مؤسسو د تخصیصاتو په ترتیب ، انتظام او توزیع ، د خزائنو د چارو په نظم و نسق ، د املاك د چارو په ترتیب د حسابی چارو په تسریع او د نواقصاتو په مخنیوی کښې اصلاحات و کړی او ښې نیاری پکار واچوی .

د محاسباتو چارې :

د ۱۳۳۸ کال په تله کښې ئې د نوی محاسبې طرز تر اجرا او تطبیق لاندی نیولی دی ، پدغه سیستم کښې که څه هم د فورمو شکل او د محاسبې او بودجې د عملیاتو ډول د کیفیت له حیثه متحد الشکل دی ، خو هر یو پخپل ذات کښې څرګند او معامله ئې هم ښکاره ده .

د محاسبې د نوی سیستم جریان هر وخت تر مراقبت او څارنی لاندی دی ، د هغه مقررات ، لوایح او تعلیماتنامه تل اصلاح او نوی نظر پکښې کېږی ، د فورمو او د محاسبې د تعلیماتنامې ډېری نسخې خپری شوی ، او فرعی تعلیماتنامې د فورمو له نمونو سره د محاسبې ټولو یونټو (واحدو) ته استول شوی دی

د مالیې د وزارت د محاسباتو د قوانینو مدیریت

دټولووزارتونو داجراتو ډول اودمحاسبې جریان ترمراقبت لاندی نیول شوی اورپوټ یی وا خستل‌شو، دحسابی چاروعدم تمرکزاووروستی سنجش د نوی طرز له ممیزاتو څخه دی، په مرکز کښی دحساب نوی سیستم په سلو کښې ۹۵ تطبیق کېږی اوپاته برخه ئې پداسی مرحله کښی ده چه دتعهد په‌اسناد وپوری اړه لری په نوی سیستم کښی بر سېره پر دی چه پخپله په دایرو کښی ددولت د ټولو دایرو دلګښت کنترول اومرقبت کېږی دمالیې په وزارت کښی هم دټاکلو فورمو په واسطه چه دسترد فتر څخه عبارت دی مراقبت کېږی.

دپرله پسې کورسونو په‌افتتاح اوتطبیقید وسره نوی سیستم‌تعمیم شودبلی خوا دوټی دمجلې دخپرونی اوبیلو بیلولارښونوله لیاری څخه هم دهغه په تعمیم کښی مرسته وشوه، ددې لپاره چه‌دمحاسبینو تعاملات اونظریات پدغه سیستم کښی ورګډ نه شی دقوانینو اوحسابی مقرراتو مدیریت جوړشوی اوهر کله‌ټولودایرو اومحاسبینو ته‌لازمی‌لار ښوونی کوی.

دتېر شویو حسابی چارو دقطع کېدو ،تصفیې اوفیصله کولو دپاره د تصفیو لوی مدیریت فعالیت کوی اود۳۹ کال دغبرګولی ترپایه‌پوری سل‌ملیون افغانۍ‌تحصیل اوتصفیه کړی دی.

عوائد:

ترکومه ځایه‌چه لیدل کېږی دمالیاتو اخستلو اودعایداتو لاس ته‌راوستلو ډول نوی شکل غوره کړی دی. دمالیاتو دنرخ‌اصلاح او ددولت دمالیاتو په راغونډولو کښی دافرادوروزلو ته هم‌پاملرنه شوی،دعوایدو حاصلولو مراقبت‌او دصحیحورپوټو نواخستل‌دعوایدو پر کمیت باندی اغېزه‌و کړه ،پکار وه چه‌افغانستان دخپلو عوایدوپه اخستلو اوعایداتی منابعو کښی نوی نظر او اصلاحات اودنوی منابعوپه‌پیدا کولو کښی هڅه و کړی.

دټولو دولتی مؤسسو اودایرو وظیفه داده چه دنوی سیستم دعملی کولو په‌وخت کښی چه د۳۸-۳۹ مالی کال دسرڅخه پیل‌ورباندی شوی‌دعوایدو پیدا کېده اومراقبت په‌نظر کښی ولری اوټول پدی‌مکلف‌دی چه‌دنویومنابعودلاس‌ته‌راوستلودپاره‌دمالیې‌دوزارت‌ملاتړشی‌اودعایواتواخستلو څارنه اومراقبت و کړی،دعایداتومشاورتی کمېټه هم‌په‌ټاکلی وختونو کښی دعوایدوپه بررسۍ او کتنه لګیاده،دعوایدو پروژه ددغی کمېټی‌تر نظرلاندی ترتیب شوی دزیات غور لپاره‌لوړو مقاماتوته وړاندی‌شوه، په‌نظر کښی دی‌چه ترټاکلو شرایطواو مقرراتولاندی دټولومنابعو څخه عایدات په‌متحدالشکل‌ډول واخستل شی.

د ۳۸-۳۹ مالی کال‌د (۸)میاشتو دعوایدوتحصیلات‌نسبت دتېر کال عواید وته دډاډوړدی. دغه‌رنګه ددولت‌دعوایدو دزیاتېدو لپاره‌دمالیات برعایدات په قانون کښی تطبیق‌اوژوره څارنه

اغیزه‌نا که ثابته‌شوه .دادی د۳۸-۳۹ مالی کال‌د (۸) میاشتو حصول شوی عواید دتېر کال د(۸) میاشتو سره‌پرتله کوو:

د ۳۸ - ۳۹ مالی کال د۸ میاشتو یقینی او٤ میاشتو تخمینی‌عواید ۳۲۳٦٥٤۱۰٦۱/۳۸

د ۳۷ - ۳۸ مالی کال ۲۲۹٦۸۳۸۲۹٤

نسبت۳۷-۳۸مالی کال ته‌چه د۳۸ - ۳۹مالی کال‌په‌عوایدو کښی ۲۲ / ۹۲۷٤۱۰٥۸۱ افغانۍ تفاضل شوی دی ددولت دعواید ودبیلو بیلو ابوابو اومدار کوڅخه دی .

دتعلیماتنا موپه تهیه کولواو تنظیم کښی داظهار نامود جدولوپه جوړو لو کښی ، دعوایدو دقوانینو په طرح کولو ، او دمالیاتو او محصولا تواخستلو دمؤظفو مامو رینو داجرا اتو دطرز په کنترول کښی کتنه اوپه لازمو وختو کښی د مالیې دوزارت له خوا دمستو فیتو نوبر رسی شوې ده.داړتیااوایجاب‌له‌مخی‌دعوایدو لوی‌مدیریت هم‌جوړشواومناسب‌اداری‌یونټونه منځ‌ته‌راغله .

ددې لپاره چه دمالیې مؤدیان تکلیف اومشکلا ت احساس نکړی دمالیې‌دوزارت هیئتونه داصنافی مقرره‌مالیاتو ، اومالیاتو برعایداتو اونوور داخستلو په‌غرض دمؤدی دمحاسبې اوقناعت نه وروسته دحساب له‌مخی مالیه ځنی اخلی پدې ډول ترخپله وسه پوری دما لیاتو دگر یز څخه مخنیوی‌شوی، ځینی‌مالی اصطلا حات اصلا ح شول چه سو تفا همات له منځه تللی اود صححیو تعبیر اتو له مخی اقدام و شی .

دعواید وپه‌تصنیف کښی دغه آ سانتیاو شوه که دعواید وپه‌یوه منبع کښی کسرولید ل‌شی تر خپله و سه کو ښښ کېږ ی چه دهغه کسر تکا فو د بلی قا نو نی لیا ر ی څخه و شی .

بودجه :

دمالیې وزارت دبودجې‌نوی طرز منځ ته راوړ چه دنن ورځی دنویواومروجه سیستمو څخه دی هغه‌ئی عملی کړ، دبودجې ددغه طرز مهم اوعمده اساسونه دادی :

دبودجوی سیاست سره دلگښتو نو ار تباط .

دلگښتو نواود وارداتو دمنابعو اونور ومالی وسایلو په‌منځ کښی رابطه .

په‌اقتصادی‌اوقناعت‌بخشو لیارو کښی د حکومت دعملیا توتو سیعه .

دمرام اوهغه کارتا کـل چه‌په بود جه کښی ئې تشکیل نوی تکلیف کېږی .

دبودجې د مدیریت مامورین د کار اچول په حال کښې

دیومنظم پلان په چوکاټ کښې دټا کلی موضوع اومرام سنجش
دعوایدوپه بودجه کښې دتشکیل دګنجایش امکان په نظر کښې نیول
ددغوامکاناتواوملحوظاتوپه چوکاټ کښې ددولت دلګښتونوبودجه ترتیب شوی اوداصولی مراحلو دټپرولونه وروسته تراجرالاندی ونیول شوه په ۳۸ ـ ۳۹ مالی کال کښې که څه هم تعدیلات منځ ته راغله تخصیصات پخپل وخت کښې تو زیع شول .

دلومړی پنځکلن پلان د پنځم کال د بودجې دتر تیبولو د پاره لازمی فورمی تیار ی شوی دمنظور یدونه وروسته ټولو وزارتونو اومر بوطو دایروته وویشلی شو ی چه په هغه کال کښې دخپل ضرروت وړلګښتونه اوبودجې پدغوفورمو کښې راوړی اودمالیې وزارت ته ئې راولیږ ی. ددې لپاره چه دبودجې دجریان اونو ی طرز څخه خبر شودبو دجې متخصص د دایرو او مؤسسو دبود جې له مؤظفو کسانو سره ټل په خبرواترو لګیادی چه نیمګړتیاوی له منځه لیر ی شی .

دخزائنو چاری :

د دغی څانګی وظیفه د خزائنو کنترول ، په مؤسسو کښې ددو لت د پانګو بر ر سی ، د مالی بین المللی مؤسسو سره مراوده ، دد ولت ددایرو دضرورت وړ اسعارو ویشل او نوردی، ۳۸ ـ ۳۹ مالی کال په طبیعی او مقتضی ډول په جریان کښې ؤ د ۱۳۳۸ کال دتلې په سر کښې چه دمحاسبې

اوبودجې سیستم په‌نویوطرزو پکارواچول شو، دمحاسبې چاری ، دخزائنو تأدیات ، در پوهنو اخستل اودد ولت دپانګو کنترول هم په‌نوی ډول پکار ولوېد ، په نوی طرز باندې دما مورینو داشنا کېدواو پو هید لودپاره کورسونه پرانستل‌شول .

دخارجیانو مالیاتو برعایداتو مامورین پخپله مربوطه څا نګه کښې

دد۳۸ - ۳۹ مالی کال په‌سر کښې دخزائنو چاری دمالی ارتباط اوسرمایه ګذاری په‌مدیریتو، خزائنو ، صکو کو اوپوروسره بیلی شولې، اوهره څانګه تا کلی اومشخصه‌وظیفه اجرا کوی. دچک لیکلو اودپیسو دتادیه کولو چا ری چه‌په تپروسیتمونو کښې محاسبینو اجرا کو لی ، دمالیې دوز ارت دخز ائنو تادیه کولو په څانګه پوری وتړلی شوې ، دد ولت دد ایرو د پانګو کنترول اونوری پولی چاری هم دغه څانګه اجرا کوی

ددایرودضرورت وړاسعار د ۳۸ کال دتلی له‌سرڅخه د ۳۹ کال دغوئی‌دمیاشتی تر پایه پـوری په ۱۳٤۷۳۸۱۰/٦۲ ډالرو سره‌په‌بودجوی اوتصدی نرخ‌اجراشوی‌دی.

دمالیی‌وزارت دخپلی بین‌المللی اومالی ارتباط دڅانګی‌له لیاری‌په ۳۸-۳۹ مالی کال کښې هر کلهد بین‌المللی موسسو لکه‌بین المللی بانک، دبین‌المللی پیسو صندوق اوبین المللی مالی موسسو سره‌په تماس کښې‌ؤ.

په موسسو او انتفاعی تصدیو کښی د دولت د پانګو د مراقبت او خارنی، د بیلانس د اخستلو او نورو په باب هر کله اقدامات شوی دی، صکوک، نښانونه او قیمتی پانی هم د پخوا په پول خپرې او وپشل شوی دی، د غه رنګه (٤٢٤٤٨٤٤) قطعی د صکو کو پانی او قیمتی پانی خپرې او وپشلی شوی دی چه د (١٠٢٠٩١٨٢) افغانیو سره برابری دی.

د ګمرک چاری:

په تشکیلاتو، د اجراآتو په طرز العمل، قانون، ضوابطو او مناسب تسهیلاتو کښی کتنه شوې ده د تعرفې په تصنیف کښی دو ظیفې د معیار اساس، د مهمو وظیفو تاکل د ګمرکاتو د مربوطو قوانینو اجراکول، ضوابطو او کنترول د جعل کارۍ او اختلاس مخنیوی او د قاچاقو کنترول په نظر کښی دی.

د عصر د اقتضا سره سم د ګمرکونو د ودانیو په باب اقدامات جاری دی او د ګمرک نو راجراآت هم د پخوا په پول شوی دی، د قاچاق د مخنیوی په قانون کښی تجدید نظر شوی او اصلاحات پکښی شوی او لورو مقاماتو ته وړاندی شول.

د املاکو چاری:

د یو بشپړ املاکی قانون تدوین او ترتیب، د اجارې په ترتیبولو او طرز کښی اصلاحات او د املاکی عوایدو تسهیلات، د حاصلاتو او د املاکو د حق الاجارې زیاتوالی، د املاکو د حالت، او د دولت د تولو املاکو په باب د مطلوبه معلوماتو بشپړ تیا، د هیواد د املاکو د سروې په چارو کښی پرمختګ او د املاکو د دفترو د سیستم په طرز او مربوطو جدولو کښی اصلاحات د املاکو د چارو له فعالیتو څخه ګڼل کیږی.

د هیواد د مځکو د مساحت کار، د مځکو د مساحې د پراختیا او د مساحه کوونکو او لوازمو د کموالی له کبله بشپړنه شو او د غی موضوع د مالیې وزارت دې ته وګماره چه د غه باب اقدامات و کړی د د غه مقصد د پاره ئی ټپر کال خپل (٢٠) تنه مساحین د یو کال په موده د خارجی متخصصینو ترتعلیم او روزنی لاندی ونیول چه هغه مساحین او س د مساحت کار ته چمتو شوی دی.

د دولت د املاکو د اجارې او د هغې مربوطو ترتیباتو د پاره یوه بشپړه او منظمه لایحه ترتیب شوې ده د دولت د املاکو د عواید و د لورې دو په برخه کښی جدی اقدامات شوی دی، او د پخوا په نسبت پدغو عایداتو کښی زیاتوالی راغلی دی. د املاکو دفترونه به په را تلونکی وخت کښی لاښه منظم شی او د املاکی قانون د اصولی مراتبو د تهرولو د پاره لورو مقاماتو ته وړاندی شوی دی.

د تقاعد چاری :

په رهنی او تعمیراتی او پښتنی تجارتی بانکونو او نورو کښی د مساهمت له لیاری دتقاعد دپانګی دفعالیت او دوران په چټکتیا ، اودمتقاعدینو دخزانې په تقویه کولو کښی اقدام و شو

دمالیې وزارت هر کال دا کوښښ کوی چه د ګټورو لیار و څخه د تقاعد خزانه ز یاته شی ، په ۳۷ - ۳۸ مالی کال کښی (۱۵۸۲۸۷۸۰) افغانی ددولت دبیلو بیلو مرستو ، دملکیت د کرئیې دپانګی پکار اچولو ، دبانکی عواید امانتو او قرضی او دهویت دپانی دبیې له در کونو څخه او د ۳۹ کال دغبر ګولی تر پایه پوری (۸۳۹۲۵۹۶۱۹) افغانی دپور تنیو مدر کونو څخه دتقاعد خزانې ته تحویل شوی دی .

دمالیې دوزارت په ګمان دمتقاعد ینودزیات کمیت په نسبت دغه کمیت لږ دی او پکار ده چه له تقاعد خزانه د پخوانه ز یا ته تقویه شی ، لکه چه د ۳۸ - ۳۹ مالی کال لګښت چه (۹۸۲۸۰۱۳۱۰۸) افغانی کښی دتېرو کلونو په نسبت یو په دوه دی او پکاردی چه دتقاعد پیسې هم زیاتی شی ، هیله ده چه راتلونکی و ختو نو کښی د صحیحو ا و عملی تدبیرونو له کبله دتقاعد خزانه د پخوانه زیاته تقویه شی .

د ۳۹ کال دغبر ګولی تر پایه پوری ۴۹۳ تنومتقاعد ینوا ودنویو متقاعد ینووا رثانوته دهغه حقوق ور کړه شوی دی د(۳۱۵۳)تنونه زیات کسان دتقاعد له بودجی څخه میاشتنی معاش اخلی.



دمالیی دوزارت په اویدیځ مدخل کښی دمعلوماتو غرفه

دتهیې چاری :

دوغه وزارت دتهیې لوی مدیریت دتپر کال په څېرددولت ددایرودمایحتاج په تهیه اوتوزیع کښی کوښښ وکړ، دیوې خواد تهیې اوسنی مالونه چه په ډیپو گانو کښی په ز یا ته اند ازه موجودوه مربوطو دایروته وویشل شوه اود بلی خوا ئی نورشیان اواجناس دارتزاقی مواد وپه څېرلکه ،مارگرین غوړی، دودانیوسامان ، طباعتی لوازم ، قرطاسیه،ماشین آلات، جامې او نور یهیه اوو یشلی دی .

اداری چار ی :

دمالیې دوزارت دمربوطودایروپه تشکیل کښی غوروشو،په هره دایره کښی دعصری‌اداری تشکیلاتواود کاردحجم له مخی ،مناسب تشکیل منځ ته راغی، پد غه‌باب هم دا کوښښ وشوچه دمالیې دوزارت اوددولت‌دنورودایروترمنځ داجرا اتوپه شکل کښی‌ارتباط اواتحاد موجو دوی، پد غه کال کښی د مالیې دوز ارت په مجلس کښی (٥٤٣) بیلی بیلی اد اری ، حسابی ، ا ملاکی او گمر کی فقرې فیصله شو ی دی .

دپلټنی اومحا کماتوچاری :

که څه هم دمالیې په وزارت کښی دمحاسبې دنوی سیستم له مخی دپلټنی چاری د حسا با تونه ورو سته پلټنه ده پرهغه سربیره‌هم دمالیې دوزارت دنورو اداری چارو په څېرپه ۳۸-۹ ۳مالی کال کښی داداری پلټنی چاروجریان درلوداو کوښښ وشو چه د غه چاری د قانونی لیارو څخه اجرا شی تپر کال (۱۰٦) بیلی بیلی فقری په بیلوبیلوځایو کښی تحقیق اوو پلټل شوی او نتیجه ئې مربوطومراجعوته ورا نه ی شوه .

دمالیې دوزارت د نوی بودجې د کورس د تدریس یو ځ منظره

دمالیې دو زارت مامورین او دبودجې متخصص دبودجې دکورس ددریمی دوری د ختمید و نه و روسته

د مطبوعاتو مستقل رياست

تشکیل:

د مطبوعاتو مستقل رئیس

ج، د کتور محمد آصف «سهیل»

د مطبوعاتو د مستقل ریاست مرستیال

په لومړی رتبه

ع،ص بناغلی محمد ارسلان «سلیمی»

لومړی مشاور

بنا غلی عبدالحمید «مخمور»

مشاور « محمد قاسم «واجد»

ج ، د کتور محمد آصف «سهیل»

د قلم مخصوص مدیریت:

مدیر	په	(٤)	رتبه یوتن
غړی	په	بیلو بیلو	رتبو دوه تنه

د نشریاتو لوی مدیریت :

د نشریاتو لوی مدیر	په	(٣)	رتبه یو تن
د د ا خلی نشریاتو مدیر	«	(٤)	« « «
د کالنۍ مدیر	«	(٥)	« « «
د داخلی نشریاتو غړی	«	(٥)	« (٣) تنه
د نور غړی په بیلو بیلو رتبو		(١٠)	تنه
د خارجی نشریاتو مدیر	په	(٤)	رتبه یو تن
« « غړی		(٤)	تنه
د راپور تاژ مدیر	په	(٥)	رتبه یوتن
« « غړی		(٢)	تنه

د مطبوعاتو لوی مدیریت :

« « لوی مدیر په		(٣)	رتبه یوتن
« « د لوی مدیریت غړی په بیلو بیلو رتبو		(١١)	تنه

ACKU

دفرهنگی روابطو لوی مدیر یټ:

« « لوی مدیر په	(۳)	رتبه یو تن
دا فغانستان دمعرفی مدیر په	(٤)	« « «
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٥)	تنه
دخارجی مراجعاتو مدیر په	(٥)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(۳)	تنه
دعکاسۍ اوفلم اخستلو مدیر په	(٤)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٦)	تنه

اداری ریاست :

اداری رئیس	ع، ص امین الدین انصاری	
د « « مرستیال په	(۳)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٤)	تنه
دوارداتو دڅانگی آمر په	(٦)	رتبه یو تن
غړی په	(۱۰)	« « «
دمامورینو مدیر په	(٥)	« « «
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٤)	تنه
دعمومی چارو دڅانگی آمر په	(٦)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(۲)	تنه
دترانسپورت دڅانگی آمر په	(٦)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبه	(۲)	تنه
د محاسبی آمر په	په (۳)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٥)	تنه
د کنترول دڅانگی آمر په	(٦)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(۲)	تنه
دپانړو مدیر په	(٤)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(٤)	تنه
د کتابخانی مدیر په	(۳)	رتبه یوتن
غړی په بیلو بیلو رتبو	(۳)	تنه
دافکارو دروزنی لوی مدیر په	(۲)	رتبه یو تن

دپیام حق‌دمجلی‌مدیر په (۵) رتبه یوتن

غړی په بیلو بیلو رتبو (۵) تنه

د کابل رادیو ریاست :

رئیس په‌لومړی رتبه ع ، ص شاغلی عبدا لروف «بینوا»

اداری مرستیال په (۳) رتبه یو تن

مسلکی « « (۳) « « «

دخبرونو مدیرپه (۳) رتبه یوتن

غړی‌په بیلوبیلورتبو (٤) تنه

دپروگرام مدیر په (٤) رتبه یوتن

غړی په بیلو بیلو رتبو (٤) تنه

داردو څانګه:

منتظم په (٤) رتبه یو تن

غړی‌په (۵) « « «

داداری‌محاسبی مدیر په (۵) رتبه یوتن

غړی‌په بیلوبیلورتبو (٤) تنه

دډرام‌اودیالوګ مدیر په(٤) رتبه یوتن

« « « مرستیال «(۵) « « «

غړی‌په بیلو بیلو رتبو (۲) تنه

دمراقبت مدیر په (۵) رتبه یوتن

غړی‌په‌بیلوبیلو رتبه (۲) تنه

دپښتونستان مدیرپه (۵) رتبه یوتن

غړی‌په بیلوبیلو رتبو (۲) تنه

دلیک‌څانګی آمرپه (۷) رتبه یوتن

غړی‌په بیلو بیلو ر تبو (۲) تنه

ACKU

دنشراتی مؤسساتو آمران:

دانیس دنشراتی مؤسسی آمراومسئول مدیر ښاغلی محمد ابراهیم عباسی

دهیواد « « « « « محمدشاه ارشاد

داصلاح « « « مرستیال « صباح الدین کشککی

دژوندون دمجلی مسئول مدیر ښاغلی غلام مجدد لایق

دپښتون زغ دمجلې مسئول « « غلام غوث خیبری

دننداري دمجلی مسئول مدیر « بارق شفیعی

دپیام حق دمجلی « « « « محمد گلاب بشار

دوړوانیس دمجلی مسئول مدیر « محمد عظیم رعد

داتفاق اسلام دنشراتی مؤسسی آمراومسئول مدیر ښاغلی عبدالمنان دردمند

د طلوع افغان « « « « « محمد ولی ځلمی

د ننګرهار « « « « « عبدالله بختبانی

دبیدار « « « « « عبداللطیف نشاط

داتحاد « « « « « محمد علم غواص

دوړانګی « « « « « نور محمد پوونده

دستوری « « « « « میرغلام محمد حسینی

دهلمند « « « « « آغا محمد کرزی

دسیستان « « « « « عبدالقادر بلیغ

دبدخشان « « « « « محمد شریف نسیم

دپروان « « « « « غلام شاه سرشار

دسنایی « « « « « احمد جان کامران

دننګرهار دمجلی مسئول مدیر « محمد دلبر سمسور

دپوهنی نندارې ریاست:

رئیس ع ، ص ښاغلی عبدالرشید « لطیفی «

د « مرستیال یوتن

دتیاتر مدیر « «

دکنسرتو « « «

دفلم دتورید مدیر یوتن
دنندارې دمجلې « « «
دمحاسبې « « «
داداری څانګی آمر « «
د کابل دسینما مدیر « «
دباختر آژانس ریاست :
رئیس ع ، ص محمد خالد روښان
داخلی مرستیال یوتن
خارجی « « «
د خارجه اخبار مدیر « «
دداخله « « « «
دبولټن « « «
د کتابځی « « «
د عکاسۍ « « «
دتلګر افغانې « « «
دمخصوص اخبار « « «
دفنی څانګی « « «
دمحاسبې « « «

ددولتی مطابع ریاست:

رئیس ع،ص ښاغلی محمد ابراهیم «قندهاری»
اداری لوی مدیر یوتن
د محاسبی مدیر « «
دتصحیح « « «
دزنګو ګرافی « « «
و آرټ څانګی « « «
دپلټنی « « «

ACKU

داتسې مدیر یوتن
دپانړو ځای « « «
دحروف چینۍ « « «
دبر ېښنااو مهرجوړولو مدیر « «
د خطا طۍ مدیر « « «
درسامۍ « « « «
فنی اواداری غړی(٤٥٨) تنه
دولایاتو څانګی:
دقندهار دمطبعې مدیر په (٥) رتبه یوتن
فنی اواداری غړی(۳۲) تنه
دهرات دمطبعې مدیر په (٥) رتبه یوتن
فنی اواداری غړی(۳۲)تنه
دمزارشریف دمطبعې مدیرپه(٥)رتبه « «
فنی اواداری غړی(۳۲) تنه
دقطغن دمطبعې مدیر په(٥) رتبه « «
فنی اواداری غړی(۳٥)تنه
د پکتیا د مطبعې امر په (٦) « «
فنی او اداری غړی (۳۳) تنه
دننګرهار دمطبعې آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
دبدخشان د مطبعې آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
د میمنی دمطبعی آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
دفراه دمطبعې آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه

دغزنی دمطبعې آمر په (٦) رتبه یو تن
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
دپروان دمطبعې آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
دگرشك دمطبعې آمر په (٦) رتبه « «
فنی او اداری غړی (۳۱) تنه
دگر ځند و ی ریاست :
رئیس په دو همه رتبه ع،ص شباغلی عبدالوهاب « طرزی »
د « مرستیال په (۳) رتبه یوتن
اداری مدیر په (٥) « « «
دمحاسبې « « (٥) « « «
د تبلیغاتو « « (٥) « « «
دهرکلی « « (٥) « « «

نوټ : شباغلی عبدالباقی باغوانیوال د۱۳۳۹ کال دچنګاش په (۱۰) نېټه د ننګرهار د نشر یاتی مؤسسی د آمر او مسؤ ل مدیر او شباغلی عبدالله بختیانی د ننګرهار د مجلی د مسؤ ل مدیر په حیث مقرر شوی دی .

مطبوعاتی چاری

نشریاتی چاری :

پدغه کال کښی چه تیر شو د مطبوعات ریاست د خپلو هدفو په تعقیبولو او د مشخصو مسئولیتو په بررسۍ کښی بریالیتوب ته ورسید.

د ثقافت او هنر د تأمین ، د صحافت او طباعت د حالت د ښه کېدو او د ټولنی د افکار روښانولو د پاره د ښولیارو په میندلو او د مطبوعاتو د یوی ښی آیندی په غرض او په اسانتیا سره د هغه د تعمیم په باب د هیواد د نشریاتی او مطبوعاتی څانګو کوښښ زمینه پوره برابره کړی ده .

د نشریاتی سیاست په تفهیم او د دولت د انکشافی پلانو او پروژو په تبلیغ کولو ئی مسئلو مقاماتو ته د مراجعی له مخی د نشریاتی او تبلیغاتی دایرو او موسسو سره نژدی مرسته کړی او د هغه په واسطه ئی ټولنی ته لارښوونه کړی ده ، هم ئی د نشریاتی مؤسسو په واسطه د دولت خارجی او داخلی سیاست د هیواد داخل او خارج ته ابلاغ کړی د دولت د پالیسۍ او د ملت د نظریو په نظر کښی نیولو ئی د ذیعلاقه هیواد و سره ئې افغانستان بین المللی مناسبات روښانه او د نړۍ په مسایلو کښی ئی د افغانستان د بی طرفۍ او آزاد قضاوت د سیاست په باب د بین المللی ټولنو پاملرنه خپلی خواته را اړولی ده.

د ټولنی د معنوی اړتیا د لیری کولو او د زیاتی پوهنی او معرفت د خپرولو لپاره ئی د خارجی او داخلی منابعو څخه یو شمیر علمی ، ادبی او اجتماعی آثار تهیه کړی او هم د تألیفاتو او ترجمو په طبع کولو سره د هیواد علمی ذخیره زیاته کړی او له دی کبله ئی د مرکز او ولایتو د نشریاتی موسسو کتابځی تقویه کړی دی د غه رنګه ئی خارجی کتابځیو او مراجعو ، داخلی علمی موسسو او ښوونځیو ته د خپور شویو داخلی کتابو په اهدا کولو او د هیواد د نشریاتو ، فلمو ، پوستکارتو ، جریدو او مجلو په استولو سره په خارج کښی

دهیو اد دمعرفی کولواود گرانوهیوادوالودزیاتی استفادی دپاره خدمت کړی دی پدغه ترڅ کښی ئی د کتابځیو اوموسسوسره (په داخل او خارج کښی دخپاره شویو) علمی او ادبی کتابو په تهیه او انتخاب کښی مرسته کړی ده

د مطبوعاتو ښاغلی مستقل رئیس دشوروی اتحادیوه هزمندته تحفه ورکوی

دنړۍ په اختراعاتو او پیښو کښی زموږ دخلکو د آشنائی او هم دنړۍ والو د تفکر د طرز احساساتو، غوښتنو، کوښښو، مادی او معنوی انکشافاتو په باب زموږ دخلکو معرفت لپاره زیار ایستل شوی دی هغه مواد او مطالب چه پدغه باب ورته پکار وه د لومړینو منابعو څخه تهیه، ترجمه او خپاره شوی دی.

دجریدو سره مرسته :

دمرکز دجریدو او مجلو سره دمعنوی مرستی نه پرته چه هر وخت کیږی دمطبوعاتو دریاست د عرفانی مرستی له بودجی څخه په لازمو مواردو کښی دورځپاڼو د مالی بنیی دتقویی لپاره دنشریاتی موسسو سره مرسته شوی ده چه داصلاح او انیس دورځپاڼو په وروستنی انکشاف او دځینو جریدو دصوری او معنوی حالت په تحول کښی اغیزه لری.

ځکه چه دوسایلو دنه لرلو له کبله دولایتو جریدی او مطبوعات اوس هم پدی نه دی بریالی شوی چه په بیلو بیلو حیاتی شقوقو کښی ددولت دانکشافی جریاناتو څخه پوره خبر شی، نو دغی موضوع ته هم د مطبوعاتو ریاست پاملرنه کړی، له هری منبع څخه ئی کافی معلومات تهیه کړی او دهغو سره ئی مرسته کړی ده.

دملی او بین المللی ورځو د تجلیل په برخه کښی لازمو موردو کښی د نشریاتی منابعو پاملر نه جلب شوی او د سالو د فوق العاده څپرونو له کبله دهغو هر کلی شوی دی .

دافغانستان کالنۍ :

دافغانستان کالنۍ چه هر کال د دولت او اجتماعی ځانګو کارنامی په یو خاص ډول غونډوی او د علاقه مندانو د استفادی د پاره ئی خپروی دهغی په صحافت او طباعت کښی تحول پیښ شو، دغه رنګه د موضوعاتو د تدوین له کبله ئی د علاقه مندانو پاملر نه خپلی خواته وا ړوله .

سبز کال هم دهغو پرمختګو په باب د مربوطو ځانګو په مرسته ترخپله پوری مهم مطالب غونډ شوی چه د ژوندانه په بیلو بیلو شعبو کښی د پنځلس انکشافی پلان له مخی د پلان په ځلرم کال کښی د هیواد په برخه شوی دی او د نورو زیاتو معلوماتو په ترڅ کښی چه دهغو خپرول د افغانستان په کالنۍ کښی مناسب دی د ګرانو هیوادوالو اولوستونکو د پاره خپریږی .

د علم او هنر تقدیرول :

د مطبوعاتو ریاست د پرانستلو له وخت څخه د تألیفاتو او ترجمو د منځ ته راتلو لپاره هر کال یوشمیر آثار وته مطبوعاتی جوایزو یشلی دی، تردوه کاله د مخه رغه جوایز خاص د غه شق کښی وه خوورو سته له هغه نه د مطبوعاتی جایزو په ډله کښی دلیکونکو په ترجمو او تألیفا تو سر بیره په هیواد کښی د هنر د انکشاف لپاره بیلو بیلو هنری ځانګو لکه نظم ، نثر، رسامۍ ، خطاطۍ عکاسۍ، موسیقی اولاسی چاروته هم موقع ور کړه شوه چه تر هر کال په بې ساری ډول دلیکو نکو شاعرانو، ترجمه کوونکو او هنرمندانو تألیفاتو، ترجمو، ادبی پارچو، نظم او نثر، ډرامو نو، نکلونو، عکسونو، د خط نمونو رسمونو اولاسی چارو برخه واخسته ، دغه رنګه په هیواد کښی د موسیقی د انکشاف او تشویق لپاره د ساز مسلکی اوشوقی سندرغاړو ته د دوورځنیو کنسرت په ترڅ کښی موقع ور کړه شوه چه د مسابقې نه وروسته ځینو هنرمندانو ته جایزې ور کړه شوی .

د پښتو ژبی تعمیم :

ځکه چه د ټولنی موسسو او د ټولنی د ګرد و افرادو آرز و داده چه په دغه باره کښی زیات پرمختګ وشی نوله هم دې کبله د مطبوعاتو ریاست ترخپله وسه پوری نه یوائی د اچه د راډیو د پرو ګرامو، جریدو او مجلو د خپرولو او د کورسو د تنظیم اووارسۍ په ترڅ کښی چه د مسؤلی ځانګی له خواجوړ شوی د دغی لویی ملی وجیبی مراعات کړی دی بلکه د پښتو د عالی کورس په جوړولو سره ئې دلو یو مامورینو ، مطبوعاتی دایر و د رئیسانو او خبر لیکو نکو د مغلو ماتو د پراختیا لپاره د پښتو په ژبه کښی زمینه برابره کړه .

دمطبوعاتو مستقل رئیس دوکتور سهیل دشوروی اتحاد دهنر مندانو سره

دمطبوعاتو دمستقل ریاست مرستیال بناغلی سلیمی په کابل نندارې کښې دشوروی اتحاد ذهنر مندانو د نندارې دپرانستیلو په نسبت دبیانیې په حال کښې

په کابل ننداري کښې دشوروي ارتستانو دهنر دوې منظرې

دژورنالیزم انکشاف :

دورځپانوددایرو د کار کوونکواودمطبوعاتو دریاست دمسلکی ځانګودمامورینو دمعلوماتو دزیاتو لودپاره داتصمیم وشوچه دژورنالیزم دهغه کورس په عوض کښی چه دوه کاله مخکښی جوړشوی؛ دځګورو میاشتو دپاره دژورنالیزم د مسلك مخصوص کورس پرانیزی، ددغه کورس په سرته رسیدلو سره به دمطبوعاتو دریاست مسلکی غړي دنن ورځی دنامه نګار مې په فن کښی بشپړ معلومات ذاخلی اوپه نتیجه کښی به دهیوادپه مطبوعاتی حالت کښی تحول منځ ته راشی .

خارجی نشریات :

دهیواد دمعرفی کولو په لیاره کښی دموضوعاتو دخپر ولو دپاره پهلندن او قاهره کښی داطلاعاتو د ځانګو سره ددولت دبیلوبیلو ځانګو دفعالیتو او انکشافی پروژو دمهمو مطالبو او عکسونو په تهیه او لیږلو کښی کوښښ شوی دی.

راپور تاژ:

ددې لپاره چه پهافغانی ټولنواومطبوعاتی حلقو کښی دافغانستان په هکله دنړۍ دمطبوعاتو نظریات خرګندشی نوموړی ځانګهدغه مطالب دخارجی مجلواوجرایدو څخه راغونډ وی ، ترجمه اوتایپوی ځې اومربوطو مقاماتوته ځی وړاندی کوی.

دښه فلموپه تهیه کولو کښی مرسته :

دسانسور ځانګی داجتماعی سویې دانکشاف اودعالی فلو اوسترو پرامو دنیاز مندی لپاره دښوفلمو پهراوړلو کښی دمسؤلو مراجعوسرهمرسته کړي اوپهلازمو وختو کښی ئی داصلاحی او انتباهی پرامو په ښکاره کولو کښی نظریه ور کړي ده، دغی ځانګی په ټولو مطبوعاتی اوثقافتی چارو کښی دمطبوعاتو دمقرراتو پهعملی کولو سربیره دا کوښښ هم کړی دی چه دخارجی فلم اخستواود کمپنیو سره دهالیو ددیوې نامتو کمپنی موشن پکچرزسره دتړون د کپدو له کبله ،دعالی فلمونوپه تیره دسینماسکوپ فلمونوپهتهیه کولو کښی، دهیوادوالودذوق دتطمین اومعلوماتو دانکشاف لپاره خدمت وکړی .

دتمثیل دهنر انکشاف :

پدغهباب دزیاتموفقیت لپاره کوښښ وشو هغه پرامونه چه دنمایش دپاره پوهنی نندارو ته لیږل کیږی دنمایش دمخه پهغورسره وکتل شی، ددغه اقدام لهمخی دمحیط دروحیې سره سم، دهنری ښېګڼو اوداخلاقی ،انتباهی او اجتماعی قوی جنبولرونکو فلمونوپه تهیه کښی بر یالیتوب پهبرخه شوی دی.

دخرافاتی نشریاتو پرضد هڅه :

دخرافاتی نشریاتو اوهغوعکسونو مخنیوی‌شوی چه‌دفردی اواجتماعی اخلاقو څخه منافی دی

په پوهنی ننداری کښی دهولپون د پرام یوه منظره

اوپه‌عوض کښی ئې زیار ایستل شوی دی چه دعلمی کتابو اونشریاتو پەراوړلو سره دغه ټول خپرونوته دخلکوپاملرنه اوښتې‌او پدغه‌لیاره کښی‌ئی خدمت کړی دی .

دمؤسساتو سره‌ارتباط:

دمؤسسا تو دا رتباط ځانګی چه دمرکزی ټولنی‌او دهیواد دنشریاتی مؤسسو ترمنځ دارتباط وسیله‌ده دغه چاری سرته رسولی دی:

دنشریاتی اوفرهنګی مؤسسو دبودجو کتنه،دډایر و درئیسانو معرفی، مقرری او تبدیلی، په اساسنامو کښی تعدیل ،دعرفانی مرستو و ر کړه ،دمؤسسو دبیلانس مطالعه ، دمؤسسو دعمرانی مچاروارسۍ اودنشریاتی اومطبوعاتی مؤسسونوری اداری‌اوملکی فیصلې.

خارجی مراجعات:

د ورځپاڼه لیکونکو ،پوهانو، هنری او کلتوری هیئتونو هر کلی شوی چه دخپلو هیوادو دفرهنګی ارتباطاو کلتور دمعرفی کېدو دتقویې اویاد کلتور ،ثقافت اوسیاحت دآشنا کېد و لپاره زموږ هیوادته راغلی‌دی داستو ګنی وسایلو ئی تهیه‌شوی، اودنورو مشکلا تو لکه دپاسپورټ تکمیلېده،دویزې اخستل اودذیعلاقه مراجعواو کسانو سره د ملاقا تو او لید نو کتنو دپروګرام په‌ترتیبېدو کښی‌ئی‌په زړه‌پوری ډول‌زیار ایستل شوی دی.

دغه‌رنګه دوستو هیوادوته دافغانی کلتوری،فرهنګی‌اوهنری‌هیئتو نودمسا فرت تر تیبات ئې نیولی دنړۍ سره دافغانستان دروابطو دتینګیدو اوانکشاف له‌پاره ئی هرډول ا سا نتیا و ی برابری کړی دی اودخارجی پوهانو سره‌دافغانی‌پوهانودلیدلوله‌پاره‌زیارایستل‌شوی اوتیر کال دشوروی اتحاد،چینائی،هندی،ایرانې،امریکائی اوالمانی ارتیستانو ډ لی‌افغانستان‌ته‌راغلی زموږ دخپلوا کیر دیرته لاس ته راوستلو په یو ځلوبښتم جشن کښې اوهم ئې ور و سته له هغه نه شمیر هنری ټداری وښودلې.

پدی ډول د۸۰ تنو ورځپاڼه لیکونکو چه ددامریکې دجلالتماب جمهور رئیس ا و ۱۰ تنو نا مه لیکونکو چه‌دشوروی اتحاد دصدراعظم جلالتماب خروسچف سره افغانستا ن ته د را تلو په‌وخت کښی ملګری وو هر کلی شوی دذیعلا قه کسا نو اومراجعو سره دملا قا تد و خت او نوروپه‌باب ئی آسانتیاوی‌برابر شوی‌اوهم‌دنورودیرش‌تنوورځپانو لیکونکودمسافرت‌آسانتیاوی غو نډ ی شو ی چه‌په متفرق ډول زموږ هیواد‌ته‌راغلی دی دهغو داستو ګنی‌په وخت کښی لازمی مرستی شوی‌او دعکاسی‌او فلم اخستولو اجازه‌نامی تهیه شوی دی.

د غه‌رنګه‌دخارجی مراجعاتو اداری څانګه په‌خارج کښی دمطبوعاتو دزده کـــوونکود سکا لرشپ فیلوشپ‌اولیدرشپ ددوسیوپه ترتیبولو دداخلی اوخارجی کلتوری اوهنری هیئتو نو درپوټ‌په‌تهیه کولو،دوزارتونو خارجی، کلتوری موسسو اویونسکو سره‌دارتباط په‌چا ر وا ود بلنو دهغو کارتو او نمایشاتو په ترتیبولو لګیاده چه‌دسفارتونو له‌خوا کیږ ی.

دافغانستان معرفی:

دغه څانګه‌چه خارج ته دافغانستان اودهغه‌دپرمختګونو دمعرفی په لپاره کښی هڅه کو ی پدی بریالی شوه چه‌دهیوادد‌بیلو بیلو شقوقو اوټولو حیاتی چارو په‌باب د کافی اومفصلو معلوماتو سره یوشمیر زیاتی خپرونی په‌خارجی ژبو تهیه اودمراجعه کونکو داستفادې‌دپاره‌وړاندی کړی اوهم‌ئی‌ددغه‌هیوادد‌بیلو بیلو شقوقو په‌باب معلومات تهیه او غونډ کړی او د خارجی مو سسو

اوخلکو په اختیار کښی ئی اینبی‌دی چه ز مو ز د هیوا د دمعلوما تو سره ئی خپله علا قه‌ښکا ر ه کړي ده.

دا پول نورو نړیوالو ته‌دافغانستان‌دښه‌معرفی کېدو په‌لیاره کښی‌ئی مؤثروسایل پکار اچولی اودنړیوال دمعتبروعلمی اوفرهنگی زیاتو مؤسسوسره ئی ار تباط ټینګ کړی او دهغو مراجعینو داستفادې لپاره ئې ګټور او مؤثر معلومات ورلپېزلی د ی .

دعکاسۍ او فلم اخستولو انکشاف :

نړیوال ته د افغانستان د زیاتی معرفۍ ، د فلم په واسطه دژو ند ا نه د اجتماعی او اقتصادی پرمختګونو او انکشافونو د کلسیونو دغونډولو دپاره د هیواد له بیلو بیلو حیاتی ګو ښو څخه دمستندو فلمواو په زړه پوری عکسونو دلاس ته را وستلو په لیاره کښی فعالیت جاری د ی چه پد ې پول کیدای شی چه ددغو فلمو او عکسوپه ښوولو سره دهیواد د پرمختګواو انکشافاتو او دچارو دجریان څخه خلك‌داسی خبرشی‌چه له شروع څخه بیاتر پایه پوری هرانکشا فی‌عمل پخپلو ستر گوووینی او هم ممکنه ده چه له بلی هری رسالې او خپرونی په نسبت د د غه فلمو تهیه او ښوول خارج ته دافغانستان دمعرفی کولوپه لاره کښی زیات موفق وی .

دغه رنګه دغه اقدام کولای شی چه په مستنداو محقق پول دهیواد در اتلونکو زامنو په مخ کښی دننني نسل دربرونو او زحمتکښلو شاهد وی . دغی ځا نګی لاند ی فلمونه تهیه کړ ی د ی :

۱ - په ایران کښی دوالاحضرت صدراعظم‌مسافرت

۲ - په چین کښی دخارجه چارو د ښاغلی وزیر دمسافرت اود هر کلی دمراسموفلم

۳ - په جاپان کښی دخارجه چارو دښاغلی وزیر دسفرفلم

٤ - په کابل کښی دهند دصدراعظم‌جلالتماب نهرو دهر کلی دمراسموفلم

٥ - په کابل کښی دامریکی دجمهور رئیس جلالتماب آیزن هاوردهر کلی دمراسمو فلم

٦ - په کابل کښی دشوروی اتحاد دصدراعظم جلالتماب‌خروسچف دهر کلی‌دمراسموفلم

۷ - په کابل کښی داعلیحضرت‌ذنیپال دپاچا دهر کلی دمراسمو فلم

۸ - په کابل کښی‌دیو ګو سلاویې دخارجه وزیرجلالتمآب پاپوویچ دسفرفلم

۹ - د ګلبهار دفابریکې دافتتاح‌دمراسموفلم

۱۰ -دجنګلك دفا بریکې دافتتاح دمراسمو فلم

۱۱ - په‌جلال آباد کښی دوالاحضرت‌امان‌الله‌خان‌دښخولو مراسم

۱۲ - په بیلو بیلو وختو کښی دسالنگ دسړك جوړولو او عمرانی فعالیتو فلم اخستل شوی دی
۱۳ - د کابل دهوائی ډگرد عمرانی فعالیتو فلم
۱٤ - دنغلو اودرونتې د کار له شروع کېدو څخه فلم اخستل شوی دی
۱۵ - د کابل پوهنتون دساختمان له چارو څخه فلم اخستل شوی دی
۱٦ - دمعظم همایونی اعلیحضرت دز ېږ یدنی په ورځ دبز کشی دلوبی رنگه فلم جوړ شوی دی
۱۷ - ددهکدې دریاست دپرمختگونو او انکشافونو څخه فلم اخستل شوی دی
۱۸ - په مزارشریف اوشبر غان کښی دقره قلی له رمو څخه دقره قلی فلم یوه لو یه بر خه رنگه شوې ده
۱۹ دقند هاردبین المللی هوائی ډگردساختمانی اوعمرانی پروژو فلم اخستل شوی دی
۲۰ دمار کو پولو پر کرښه باندی د آریانا الوتکی دالوتنی فلم جوړ شوی دی
۲۱- دیوڅلو ېښتم کال دخپلوا کۍ دجشن دمراسمو څخه تورا وسپین فلم تهیه شوی دی
۲۲ - په کابل کښی دشوروی اتحاد دهنرمندانو دهنری نند ارو فلم جوړ شوی دی
۲۳ - دامریکا ئی هنرمند انو او سندر غاړ وفلم جوړ شوی دی
۲٤ - دننگر هار په ولایت کښی دسړك جوړ ولو دفعا لیتو فلم تهیه شوی دی
۲۵ - د ۱۳۳۹ کال دوړو کو دجشن له مراسمو څخه فلم جوړ شوی دی.

دغه فلمونه دنما یش لپاره بشپړ شوی او ځینی ئی وښودل شول، یوشمېر فلمونه چه دجوړولو کارئی جاری ؤدپښتو او انگلیسی شرحی سره به بشپړ شی .

په کابل کښی دنړۍ دسترو مشرانو دسفر دمراسمو څخه یوشمېر اخباری فلمونه په عاجل ډول دنړۍ په تلویز یونو کښی دنمایش دپاره لېږل شوی اوو ښو دل شوه .

دفلمونو نمایشات :

دعکا سۍ او فلم اخستلو دمد یر یت گر ځنده سینما په هغو دو سفر و کښی چه کند هار ، گرشك او کو هدامن ته ئی و کړ یوشمېر هغه تر بیوی او مستند اخبا ری فلمونه ئې خلکو ته وړیاوښوول چه دفلم اخستلو د څانگی له خوا تهیه شوی وو ،د نړۍ دبیلو بیلو هیو اد و دفلم اخستلو دهیئتو نو سره په لاندی ډول لارښوونه او مرسته وشوه چه زموږ هیواد ته دفلم اخستلو دپاره راغلی وو :

۱ - د ۱۳۳۸ کا ل دتلی په میاشت کښی د کابل په باب دد کومنتر ی یو فلم دغر بی المان

دتلویزیون دفلم اخستونکو له خوا تهیه شوچه په هغه کښی د کابل ور وستنی پر مختگونه او نهضتونه ښودل شوی دی دغه فلم دلویدیځ المان په یو تلویزیون کښی د ۱۹۵۹ کال په دسمبر کښی وښوول شو.

کابل ته دامریکی دجلالتمآب جمهور رئیس تر راتلو دمخه دامریکی دفلم اخستلو دوه هیئتو نه د(ن ، بی ، سی) او(سی ، بی ، اس) دتلویزیون دپاره کابل ته راغلل دافغانستان په باب ئی دوه مستند فلمونه جوړ کړل، دغه فلمونه کابل ته د جلالتماب آیزن هاور در اتلو په وخت کښی د(ن ، سی ، بی)او(سی ، بی ، اس) په تلویزیون کښی وښوول شول .

۲ - دبلژیك دفلم اخستلو هئیت چه دار وپا د کنفرانسو اوښوو نځیو لپاره دافغانستان څخه فلم اخلی دفلم اخستلو دځانگی په لارښوونه دافغانستان په بیلو بیلو ځایو کښی په گردش لگیادی.

۳ - دامریکې دمتحده ایالتو د کولمبیا په پوهنتون کښی د ایشیاد مؤسسې یوفلم اخستو نکی هیئت د کابل له سینداوشا وخوا څخه فلم اخلی .

٤ - دشور وی اتحاد د فلم اخستلو یو گروپ دافغانستان په بیلو بیلو سیمو کښی د هیواد دعمرانی فعالیتو دفلم په اخستلو لگیا دی .

عکاسی :

دغه څانگه چه دعکس په واسطه دعمرانی فعالیتو څخه دهیواد په معرفی کولو کښی دعکس په تهیه کولو مؤظفه ده ، دیو څلویښتم کال دخپلواکۍ په جشن کښی ئې دوروستنیو پرمختگونو اوعمرانی فعالیتو نودعکاسۍ یو نمایش په رنگه ، سپین اوتور ډول په نندارتون کښی تهیه کړ. پدغه کال کښی ئی ددولت میلمنو (جلالتماب آیزن هاور ، جلالتماب نهرو ، جلالتماب خروسچف، جلالتماب پاپوویچ او اعلیحضرت دنیپال پا چا) ته دتورواو سپینو عکسو اته دانې البم او درنگه عکسو دری دانې البم په کابل کښی دهغودهر کلی له مراسمو څخه تهیه اوهغوته وړاندی کړه.

دهیواد دمعرفی کولو دپاره ئی خارجی اوداخلی نشریاتو ،خارجی نامه لیکونکو اوهغه خارجی مراجعینو ته چه دوروستنیو پرمختگونو عکسونه ئی غوښتل (۷۰۸٤) قطعې توراوسپین عکسونه تهیه اوور کړه شوه دغه رنگه (٦۰) قطعی رنگه فوټو گان دسلایډ په ډول دمطبوعاتو دریاست خارجی نشریاتو ته دافغانستان دمعرفی لپاره ولیږل شول .

افغانستان اوسیاحین :

دسیاحینو په جلبولو او داقتصادی او فرهنگی گټو په تأمین کښی دگرځند وی د مؤسسی فعالیت مؤثر ؤ دنړۍ دتوریزم دځینو نمایندگیو سره درابطې په ټینگولو سر بېره ئې دتور یزم

سباغلی قندهاری ددولتی مطابعو رئیس او اداری مامورین

دزنگو گرافی او فوتو گرافی څانګی مامورین او کارکوونکی

د مطبعی د لویانو د کورس ښوونکې د تدریس په حال کښی

د دولتی مطبعې فنی کارکوونکی او دلویانو د کورس شاملینی دزده کړی په حال کښی

درسمی مؤسسو دبین المللی اتحادیې غړیتوب هم و مانه. په ما نیلا کښی د ۱۹۹۵ کال په نو امبر کښی ددغی اتحادیې په څورلسمه اسامبله کښی د ګرځندوی درئیس ګډون دافغانستا ن په نسبت دسیا چینو دجلبو لوزمینه ښه برابر ه کړ ه .

د ګرځندوی ریاست دهیواد دمعرفی لپاره د(روډمیپ) په نامه دافغانستان یوه نخشه چه د مملکت لاری اوسړکونه ښئی د کابل دښار دنخشې په ګډون دبورشو ر په پول دبامیانو د پو سټره سره خپره کړی ده چه په هغو کښی دافغانستان دطبیعی مناظرو فوټو ګان د کابل دښار په با ب لنډ معلومات په انګلیسی ژبه لیکل شوی اومهمی نقطی لکه سفارتونه، هوټلو نه ،واټونه د پټرولو ټانکونه اونور پکښی تثبیت شوی او د سیاحینو په لارښو ونه کښی مرسته کوی .

دغه رنګه دافغانستان توریستیک نخشه دیوه بورشور سره په څلورورنګو کښی په انګلیسی ژبه تهیه شوې ده چه دهیواد دتاریخی آثارو اوبه زړه پوری مناظرو عکسونه لری .

په انګلیسی ژ به د (سی افغانستان) د کتاب خپرونه چه دافغانستان دجغر افیا ئی ، تاریخی او کلتوری حالا تو په باب لوستو نکو ته معلومات ور کوی دهیواد په معرفی کولو کښی مؤثره ثابته شوه د دغونشر یاتو په څنګ کښی زموږ د ګران هیواد د مناظر و رنګه او عاد ی پوستکارتونه هم خپاره شوی د ی .

دغی څانګی د سیاحینو د حمل و نقل د وسایلو په تهیه کښو لواود پاسپورټ په مر بو طو چارو کښی ،دهوټل په تهیه او د هیوادد مهمو ځایو دلیدلو په غرض د هغو ی په لارښوونه کښی دسیاحینو دسفر د پاره وړ آ سا نتیاوی برابری کړی دی . تپر کال (۹۰۶) تنه سیا حین د نړ ی د(۳۲) هیوادو څخه افغانستان ته راغلل او ۵۷۶۲ افغانی ډ د ګرځندوی دعایداتو سره مرسته شوې ده .

هیله کیږی چه د دغی مؤسسې دز یات فعالیت له کبله به ژر زموږ ګران هیو اد افغا نستا ن په شرق کښی دسیاحینو د توجه وړ یو مهم مر کز و ګرزی .

کابل را ډیو

د کابل را ډیو ریاست دحکومت د ګټورو نظریو په اساس چه دخلکو داذ هانو درښانولو او انکشاف له امله دخپرونو او تبلیغو ملاتړ دی او دمطبوعاتو دمستقل ریاست دمستقیمی مرستی په اثر ئې په تپر کال کښی په لاندی تو ګه مخ په وړاندی ګامونه اخستی دی :

د تخنیک له حیثه :

سږ کال دلنډ و څپو پنځوس او لس کلیواته دستګاوی د آزموینی په تو ګه پکار اچولی شوی چه تر اوسه پوري ئې لاهم خپرونی دوام لری .

دستورپیودودانۍ چاری (چه دغه د دانۍ له او سنیو ډپرو عصری ودانیوڅخه ګټل کیږی) نسبت تپر کا ل ته ډپری مخکښی تللی او هیله ده چه د غه ودانۍ پـه دې نژ دې و ختو کښی بشپړه اوداستفادې وړو ګرزی .

نشر یاتی چا ری:

ځکه چه پدې اداره کښی دپښتو څانګی تشکیل ته ډپره اړتیاحس کیږده چه دغه څانګه به

له یوې خواپښتو مقا لې ا و مضمو نو نه تهیه کوی اوله بلـی خوابه د فـا ر سـی ژبو ګر امو په څېر پښتو مصـاحبـې ، راپور تاژونه او نـور دغـه راز چـا ری تنظیمـو ی نـو دپښتـو

د کابل راډیو یوه نطاقه دخبرونو ویلو پەحال کښی

دمدیریت په نوم یومدیریت پر ا نستل شو او پکارئی شروع کړې ده .

د دې دپاره چه د کابل را دیو د کوچنیانو پرو ګرام ښه شی ، نو د دغه کار دپاره هم دوې کمیټې پرانستلی شوی چه یوه ئې دپښتو او بله ئې دفارسی د کمیټو چاری انجـا موی .

ددې دپاره چه د اعلانو نیمګرتیاوی اصلاح شی نوداعلانو څانګه پرانستله شوه چه د دغی څانګی غړی د اعلا نو شکل ته تغیر ور کو ی چه د خپرولو دپاره چمتوشی .

کتا بځی :

دمحررینولوی مدیریت پخواهم یو کتابځی در لود، خوځکه چه د کابل رادیوتولی اړتیاوی ئی

نشواي تأمينولاي نوپه ۱۳۳۸ کال کښي دغه کتابځي هم دنوروانکشافي پرمختګو نو په لړ کښي يو ګام مخکښي کښېښو داويو شمېرنور کتابونه ئي لاس ته راوستل .

نوي پروګرامونه : په کابل راديو کښي دمتحابه هيوادود ملي ورځوپه مناسبت اختصاصي پروګرامونه د متقابلي رو يې په اساس ترتيب او خپاره شوي دي . چه پدې ډول له يوې خوا ددوستواومحتابه هيوادوسره زموږ کلتوري روابط پراخوالي مومي اوله بلي خوانړۍ وا لوته زموږ موسيقي ښه معرفي کېږي .

ځکه چه دحکومت له خوادهيوادنيوچارو دپر مختګونوپه منظورپه يولړفعاليتولاس پوري شوي دي ددي د پاره چه ددغوفعا ليتوڅخه خلك خبروي د څووزارتواومؤسسو دپاره مخصوص پروګرامونه ترتيب شوي دي چه په نوبت سره په هفته کښي يوځل خپر يږي .

داوريدونکوداستفادې له امله دانګليسي ژبي دزده کړي لپاره يوپروګرام ترتيب شوي دي چه په هفته کښي درې ځله داوريد ونکواوابتدائي کسانودپاره خپريږي .

دهيوددهغوميرمنودذهني انکشا ف اوافکارودتنويرپه نظو ر چه له تعليم اوښو و ني څخه بې برخي دي هره غرمه يو(۱۵)دقيقه ئي پروګرام (دميرمنوبرخه) په نامه خپر يږي .

د ګران هيواددموسيقي الاتواوادواتودمعرفي کولوواود کابل راديوداجرااتو دښوولوپه منظور د ګران هيوادد خپلوا کۍ دبيرته لاس ته راوستلو په جشن کښي يوه غرفه ددغي ادار ې له خوا پرانستل شوي ده، چه په دغه غرفه کښي لرغوني اونوي دموسيقي الات اود ګرامافونونوفو ټو ګان ايښوول کېږي او ګرانوهيوادوالوته معرفي کېږي .

د باندنۍ خپروني:

تقريباً يو کال کېږي چه د کابل راډيو دباندينو خپرونولوي مديريت جوړشوي دي علاوه پردې چه دپروګرامونوو ختوته توسعه ور کړه شوې ده سربېره پر هغه دعربي، فرانسوي او انګليسي د دوهم ځلي پروګرام چه دلويديځوهيوادودپاره خپر يږي پرې زيات شوي دي اواوس د کابل راديوريا ست په څلوروژبو انګليسي،فرانسوي،عربي،اواردو خپروني لري، د د باندنيو خپرونو په پرو ګرام کښي خبرو،مضامينو اوموسيقي ته عليحده وخت ټا کل شوي دي .

داردوژبي دپروګرام وخت:

دافغانستان په وخت دماښام له(٦)بجوڅخه په(٦٣)لنډه څپه او ٤٧٥٠ کيلوسايکل او منځنۍ څپه په ٤٥٤،٥ مترو ٦٦٠ کيلو سايکلو باندي خپر يږي.

دغه پروګرام نيم ساعت دوام لري ، اوپر ٦ نيمي ختمېږي.

دانګلیسی ژبی پروګرام :

دختیځ او منځنی ختیځ دهیوادو لپاره ماښام پر ۶ نیمو بجو په دغه پورتنیو څپو باندی تر ۷ بجو پوری دوام کوی.

۱ـ د کابل رادیو دباندنی خپرونی د (۷) بجو څخه تر ۱۰ نیمو بجو پوری معللی وی او له هغه وروسته پرتا کلی وخت چه ۱۰ نیمی بجی کېږی خپلو خپرونوته په لاندی ډول دوام ور کوی.

۱ـ دعربی پروګرام خپرونه د ۱۰ نیمو بجو څخه شروع بیاتر ۱۱ بجو پوری وی.

۲ـ دفرانسوی « « « ۱۱ بجو څخه « « ۱۱ نیمو بجو « «

۳ـ دانګلیسی « « « ۱۱ نیمو بجو « « ۱۲ « « اوختم

د خپرونو لوی مدیریت :

دغه مدیریت چه دیولوی مدیر اوپنځو غړو څخه جوړشوی دی د کابل رادیود سهار، غرمی، مازدیګر اوماښام دخبرو دتهیه کولو دپاره مؤظف دی په دې ډول چه خپل دسهار لومړی سرویس داووادډرش دقیقو نه تراوه اوپنځه څلویښتو دقیقو پوری په پښتو اوفارسی ژبو خپروی .

وروسته بیادسهار په نهو بجو دوروستیو خبرو په نامه یو سرویس لری چه اخبارئې یوا ځی په پښتو ژبه خپرېږی .

دغرمې دخواشخه دپنځلسو دقیقو دپاره اودمازدیګر له خواشخه شل دقیقې بیا دخبرو دریم اوشلرم سرویسونه لری چه په هغو کښی دنړی خبرونه په پښتواوفارسی ژبو خپرېږی .

دغه رنګه دپښتونستان په پروګرام کښی په بلوڅی ا و پښتوخبرو نه او مضامین خپرېږی .

دشپې دخوا کابل رادیوله اته نیمو بجو څخه ترنهو پوری یوعمده سرویس لری چه د هغه په ترڅ کښی داخلی مهم اوبیا هغه خبرونه چه بین المللی جنبه ولری که کورنی و ی یا دباند نی، اوریدونکو ته وړاندی کوی اودنړی په مهمو پېښو باندی رڼا اچوی .

دداخلی خبرونو په پای کښی یعنی دشپې له لسو بجو اولسو دقیقو نه ترلسواود پرشودقیقو پوری دغه مدیریت د (ورولیك) په نامه دپښتو خبرو یو سرویس لری چه داسر و یس دولایاتو دورځپانوسره دمرستی دپاره دی دخبرودمدیریت کار کونکی سربېره پردې چه د کابل رادیو خارجی نشریاتو دمدیریت دپاره خبرونه دنشر په غرض دموضوع داهمیت په لحاظ تاکی، سبز کال ئی یو بل مهم ګام هم واخیست هغه داؤ چه له اتو بجو او پنځو سو د قیقو نه ترنهو پوری د پښتو د خبرونو یو نوی سرویس داوریدونکو دغوښتنی سره سم پرانیست .

دملی مطبعې دتا یپسټۍ د کورس فارغ التحصیلو میرمنو ته دبری لیکونو دویشلو له مراسمو څخه



دز نگوگراف دفوتوگرافۍ ماشین اوقتی کارکوونکی



دروتا پرنت ماشین د فعالیت په حال کښی

دموسیقی مدیریت :

دموسیقی مدیریت تپر کال دغه فعالیتونه کړی دی :

۱ - دموسیقی د کنترول کمیټي دفنی ما هرانو او مامورینو تر نظر لا ندی دموسیقی دچارو کنترول کوی او نیمګړتیاوی ئی سموی .

۲ - ددی دپاره چه دافغانستان موسیقی بهرنیو هیوادو ته ښه معرفی شی نود کابل رادیو دموسیقی هنر مندان د کنسرتو ور کو لو له ا مله شوروی اتحاداو ولسی چین ته ولیږل شول.

۳ - دملی آهنګو اوسندرو دژوندی ساتنی اوهم ددغو ملی آ هنګو دتیپو لواواصلاحاتو له امله څو هیتونه پکتیا،غزنی،مقر، قلات، قند هار، ګرشک اوشاوخو اسیمو ته دتیپ له ماشینونو سره ولیږل شول او یوشمیر په زړه پوری سندری اونغمی ئی ثبت کړی

٤ - د(٦٠)پارچو په شاو خوا کښي ئی هیوادنی ملی آ هنګونه خارج ته ولیږل چه ریکاټونه تری ډک شی څوچه برسیره په پخوانیو هیوادنیو ریکاټودغه ریکاټونه هم ډک اود ګرانو هیوادو والو داستفادی لپاره په کار واچولی شی .

٥ - شوقی او کسبی سندرغاړی اوسازندګان د هیواد له هری برخی څخه راټول شوی اودوی ته ددی موقع ور کړه شوی ده چه هم په کابل رادیو کښی سندری ووائی اوهم ئي ږ غـونـه ثبت شی .

٦ - دهیوادنیو ،اروپائی اونورو موسیقی آلاتو او ادواتو دبرابرولو اولاس ته ر وا ستلو په برخه کښی ئي یوشمیر ز یات د غه آ لا ت په هیواد کښی دننه اوله هیوادنه بهر برابر کړ ی دی

۷ - د ګرانو اوریدونکو دخوښی دلاس ته راوستلو له امله نیم ساعت په پر و ګر ا م کښی زیاتوالی شوی دی.

۸ - یوزیا ت شمیر غږونه اونغمي ئي په ډول ډول صوتونو کمپوز کړی د ی .

پښتون ټغ:

د ۱۳۳۹ کال له سره څخه دلوستونکو شمیر زیات او دعلاقمندانو خا صه مینه ئي ځا نته راو ګرزوله نود مطبوعاتو دمستقل ریاست دلارښوونې په اثر ئی قطع اوصحافت لانبکـلی شو اوهم پدی بر یالی شوچه دلویدیځی اوختیځی موسیقی په باب یولړ پخی مقالی خپرې اوهم نامتو سندر غاړی اوهم هنه سپین زیری سندرغاړی چه نومونه ئی له خاطر وڅخه وتلی وومعرفی کړل او هم ئي د ا د ی اوخوږو پارچو اورادیوئی تاریخی،ادبی اواجتماعی نکلو په خپرولو لاس پو ر ی کړ .

دمراقبت مدیریت:

دمراقبت څانګه لکه چه له نوم څخه ئی معلومیدای شی د کابل رادیو دهولوچارو څار او مراقبت کوی او دنیمګړتیا ومخه ئی نیسی او دغه څانګه داوظیفه لری چه د ورځی اوشپې له خپرونو دمخه د ترتیب شوی پروګرام له مخی دموسیقی ، خبرونو ، پښتونستان او فنی مدیریتو سره په تماس کښی شی .

د پروګرام مدیریت:

دد غې څانګې وظیفه دداخلی اوخارجی خپرونو تثبیت او مراقبت دی او برسیره پدی د پښتون زغ په پنځلس ورځنی مجله کښی ددغو پروګرامو خپرول دپروګرامو په مدیریت اړه لری اودخپلو ترتیب شویو پروګرامو په ترڅ کښی ئې یو لړ اصلاحات منځ ته را وستلی دی اوپه نظر کښی لری چه دامکاناتو په چوکاټ کښی خپلو پروګرامو ته پراخوالی ورکړی او د اوسنیو پروګرامو په وخت کښی زیاتوالی راشی.

فنی مدیریت:

له دی امله چه د کابل راډیو دتیپ اخستلو چاری پراخی شوی اودتخنیکی ریاست ستوډیو یوائی دغه چاری پای ته نشو رسولای نود کابل رادیو نشر یاتی ریاست یونوی فنی مدیریت ددغو چارو دانجامولو دپاره پرانیست.

دغې څانګې پدغه موده کښی د کولای شوچه دایشیاقونډیشن دموسسې په مرستو اودیوه ماهر انجینیر په لارښوونه یوه وړوکی مجهزه ستوډیو په کارواچوی چه دغه ستوډیو به یوائی دتیپ اخستلو چاری پر مخ بیائی او راپوراتاژونه،مصاحبی،رنګار نګونه،انګلیسی درسونه دمیندو برخه او نور تیپ وی .

د آرت او دیالوګ مدیریت :

دغه اداره دډرامواوډیالوګو چاری اجرا کوی اوپه تیر کال کښی ئی ۵۲ ډیالوګونه او ۱۹ ډرامی ترتیب اوبرابری کړی .

دغه څانګه له یوی خوا دخلکو له ذوق سره برابر تربیوی،اجتماعی، صحی اواصلاحی مطالب دډیالوګو په ډول ترتیب او خپروی اوله بلی خوا یوشمیر ممثلین اوممثلینی روزی.

د دولتی مطبعی ریاست

په هیواد کښی د مطبوعاتو د انکشاف او نویو نشریاتو د منځ ته راتلو سره د دولتی مطبعی ریاست له یوې خوا دورځپانو، جریدو، مجلو او فوق العاده نشریاتو په خپرونه او دبلی خوا د هیواد د اپرودطباعتی

د زنکوګرافی د شکنجې ماشین د فعالیت په حال کښی

فرمایشونو په تهیه کولو کښی د زیات بریالیتوب ته ورسید، چه د غه موفقیت د هیواد د دایرو او نشریاتی مؤسسو سره د مرستی په لیاره کښی د هغو د فرمایشونو او نشریاتو په خپرولو او هم د دغی مطبعی د مالی بنیې په تقویه کولو کښی لویه اغیزه لری.

د غه ریاست سره له هغه چه د طباعت کافی وسایل او ماشینونه ئی نه در لوده بیا ئی هم د مطبعی د فعالو کار کورنکو او د مطبوعاتو د ریاست په مرسته و کولی شوچه د مجلو، ورځپانو او جریدو د صحافت او طباعت د حالا تو د بنه کیدو په باب تحول و کړی.

د اصلاح او انیس او د هیواد د دولایاتو د ځینو جریدو په انکشاف کښی د د غه ریاست کوښښونو او فعالیتو، په زړه پوری نتیجه ور کړه، د غه رنګه د پرومجلو او جریدو په مصور کولو او د زیاتو کلیشو په جوړولو د کلیشه سازی او روتاپرنت د څانګو په همکاری د نشریاتی مؤسسو سره مرسته و کړه.

دغی مطبعی دطباعتی موادو دتهیی او دسفارت خانو دبولتنو، بلن لیکونو او ددایرو دنورو فرمایشاتو په خپرولو کښی خدمت کړی دی .

د ورسپارلی شویو چارو داجرا کولو له کبله ئی و کولی شو چه دخپلو ځانګو د تقویی په لپاره کښی داخبار اور نګه خپرونی دماشینو او لینوتایپ دطباعتی ماشینونو په تهیه کولو کښی دمطبوعاتی هیئت مرسته جلب کړی چه لویدیځ المان ته ولاړ او پدی ډول ئی و کولی شو چه دغه هیئت په مرسته، په عصری ماشین آلاتو سره دمطبعی دمجهز کولو مقدمات برابر کړی .

په اداری چارو کښی دمطبعی یو مهم موفقیت داؤ چه د پرش تنه میرمنی او پینځلی ئی په بیلو بیلو طباعتی چارو کښی داخلی او وروزلی ، دغه کار کوونکی دحروف چینی ، زنګو ګرافی ، صحافی او پاکټ جوړولو په ځانګو کښی په خدمت لګیادی چه دغو میرمنو دسویی دلوړولو او سواد لپاره ئی د ننه په مطبعه کښی دمیرمنو دلویانو یو کورس هم پرانیستی دی

دزنګو ګرافی دشکنجې ماشین دفعالیت په حال کښی

د کالنۍ دحروف چینۍ او تصحیح څانګه



دزنګوګرافۍ داتسې په څانګه کښې کارکوونکي میرمنې دفعالیت په حال لیدل کیږي

د صحافی کارکوونکی د خپرو شویو پاڼو په ترتیبولو لګیادی



د صحافی دګندلو ماشین د فعالیت په حال کښی

د پوهنتون د ریاست چاري

کومې مهمې مسألې چه پوهنتون يې سبز کال په پيل کولو بريالی شويدی دهغه ضروری ودانيو ته هڅه کول دی، د طب، علومو، انجينيری او کرهنې پوهنځی، د درمل جوړ ولو او د نار ينه ود نرسنګ ښوونځی د پوهنتون د روغتيا مؤسسې دهغه له مربوطو روغتونو سره پرته د ښځو له روغتون څخه په هغه عصری اساسی ودانيو کښې چه د علی آباد په لمن کښې بناء شوی دی همدا ا وس په کار او فعاليت لګيادی او په همدغه ځای کښې نژدی ده چه د جراحی ويکتر لوژی د پاره ستره ودانی ر بشپړه شی.

له بلی خوا د پوهنتون د ريا ست څو پوهنځی او مربوطی مؤسسی په علی آباد کښې د ځای د نشتوالی له کبله د نبار او پغمان په دولتی ودانيو او کرائی ځايو کښې خوړې وړې دی.

دولت د دغی نيمګړتيا لری کولو د پاره د څو اساسی ودانيو جوړولو له امله چه پوهنتون او دهغه تولو مؤسسو ته په علی آباد کښې ځای ور کړشی او دغه ټيتوالی له منځه لاړشی پوره پيسی د پوهنتون په تعميراتی بودجه کښې منظوری کړې. او له بلی خوا د امريکی د بين المللی همکاری ر ادار ه د ې ته چمتو شوه چه د دغو ودانيو په جوړولو کښې مرسته و کړی.



د کابل پوهنتون د عمومی ودانيو نخشه

د خاصو ايجاباتو له مخی د کابل د پوهنتون د پنځو اساسی ودانيو خصوصيات د پوهنتون د علماؤ په واسطه په دقت وسنجول شول او د دغو پنځو ودانيو پلان چه د (۸۰۰) تنو محصلينو د پاره د ليليی د يو ې

ودانۍ،دعلومودپوهنځی اداری‌ودانۍ اودهغه دودانۍ‌درسی‌خونې،دعمومی کتابخانی‌ودانۍ‌اود انجینیری‌او کرهنی‌دپوهنځی‌ودانۍ‌دی‌د(پاسفیك آر کتیك)دانجینیری‌دمؤسسی‌په‌واسطه طرح اوبشپړ شی‌اودخارجی بیلو بیلو کمپنیو له‌داوطلبۍ‌نه وروسته‌په‌پای کښی‌دهغو ټرون دمرغومی په ۲۶ نیټه‌له المانی (هوختیف) شرکت سره لاسلیك شو.

سربیره دنوموړی کمپنۍ‌په‌واسطه دیوې ورزشی سټری ودانۍ پلان بشپړ شواود۳۸ کالد کب ۱۸۹ په‌نیټه‌دفوائدعامې دوزارت‌دمعین کفیل‌د کار دقواؤ لوی قوماندان دهغې د کار ټرون دهو ختیف د کمپنۍ‌له‌نمایندګۍ سره‌لاسلیك کړ او د۳۹ کال د (غبرګولی) په ۱۸ نیټه دښاغلی‌سردار محمد داود صدراعظم په لاس دپوهنتون دو د انیودبنسټ تیبز ه کښنودله شوه

ښاغلی‌صدراعظم‌دپوهنتون دنوی ودانۍ‌دبنسټ دتیبزی اینښودلو نه‌دمخه دبیانیې په‌حال کښې

لکه‌چه معلومه‌شوی ده‌د کابل دپوهنتون دنویو ودانیوټول لګښتونه به‌شپږو ملیونونهو لکو آته پنځوسو زرو شپږوسوو پنځه‌څلویښتو ډالروته‌ورسیږی چه‌له‌هغې جملې‌څخه به‌دیوسلوشپیتو ملیو نو افغانیو معادل دافغانستان‌حکومت اونوری به یې‌دامریکی‌دبین المللی همکاری‌ اداره در کړی.

دغه راز دجمنازیوم‌دودانۍ‌اودهغه دورزشی ډګر لګښت یولکواوه نوی‌زرو پنځو سو و شپږ اویاډالروته‌ورسیږی چه هغه به حکومت اودایشیافونډیشن موسسه په ګډه تهیه کړی او تاکل شوی‌دی‌چه‌دودانیوجوړولو چاری‌دټرون‌له‌لاسلیکینه وروسته ترزرورخوپوری‌بشپړی‌شی‌اود جمنازیوم‌دودانۍ‌چاری په یوه کال کښی‌پای‌ته‌ورسیږی .د کابل دپوهنتون نور مهم یو کلن فعالیتونه په لاندی ډول څرګندیږی :

علمی‌اوروزونکی‌فعالیتونه :

دښوونی‌اوروزنی لوی‌مدیریت:

دپوهنتون دعلمی اوروزونکو چارودانکشاف اوورځ‌په‌ورځ زیاتیدو اود کیفیت او کمیت

له مخی د کار دحجم دزیاتوالی په اثر دپوهنتون ریاست د۳۸ دتلی په میاشت کښی د پښوونی او روزنی د لوی مدیریت تشکیل پراخ کړ او دښوونکو اومحصلینو د مدیریت ، دخارجه ارتباط دمدیریت ،دنشراتواو کتابخانودمدیریت اوددرسی موادودتولید اوانکشاف دمدیریت په نامه څلور نوی تاسیس شوی مدیریتو نه هم ورپوری ضم کړل کوم مهم تصویبونه چه عالی شورا په ۳۸-۳۹ مالی کلو کښی وکړل پداسی ډول بیانیږی :

۱ : د کابل دپوهنتون دنوی بنأ تصویب .

۲ : دپوهنتون دتدریسی غړیواو فارغ التحصیلا نو مخصوصی جامی (خولی-چپنه) چه په مخصوصو وختو کښی لکه د دیپلومو وپښلو اونووووختو کښی یې پداغوندی .

۳ : دلیدو له فارغ التحصیلانو څخه دپوهنتون دشاملیدو دازموینی تصویب چه دوی به داستعداد اولیاقت له مخی بیلو بیلو پوهنځیوته وو یشل شی .

٤ : دپوهنتون دپاره دیوه کلیز تصویب چه په بیلو بیلو پوهنځیو کښی ددرسو پیل اوختم په یووخت مقرر کړی .

٥ : د کال په موده کښی دپوهنتون دعالی شورای دغونډی دپاره دتا کلونپټو تصویب .

٦ :دتدریسی غړیو دپاره په علمی ترفیع نائل شوی دی در تبو تصویب .

دښوونکو اومحصلینو مدیریت :

دغه مدیریت دوې څانګی لری چه یوه یې دښوونکو اوبله یې دمحصلینو او دریمه یې ددغه مدیریت دپروګرامو څانګه ده .

دښوونکو څانګه :

دغه څانګه د علمی لائحې له مخی دپوهنتون دتدریسی غړیو په علمی ترفیعا تو او علمی سوابقو باندی غور کوی اودتولو تدریسی غړیو بشپړ ریکارډونه تنظیم اوترتیبوی. دپوهنتون دداخلی تدریسی غړیوشمیرچه دپخوا په نسبت زیاتوالی پکښی شوی دی (۲۲۷) تنوته وسپښی چه دعلمی درجو او د کادر څای له مخی په لاندی ډول ویشل شوی دی :

پوهاند-پوهنوال-پوهندوی-پوهنمل-پوهنیار-پوهیالی- دپوهیالی نامزد

دپوهنتون په مرکز کښی ۱	۰	۰	۲	۱	۰	۱
دطب په پوهنځی کښی ۱۰	۱۳	۱۷	۹	۱۰	۱٤	۱۰
دحقوقو « «	۰	۱	۲	۱	۱	۱
دساینس « «	۵	۲	۲	۲	۱	۳

پوهاند-پوهنوال-پوهندوی-پوهنمل-پوهنیار-پوهیالی-دپوهیالی نامزد

دادبیاتو	په پوهنځی کښی	۲	۵	۳	۲	۲	۵	۰
دانجینری-او کرهنی	«	۰	۰	۳	۰	۲	۳	۳
داقتصاد	« «	۱	۰	۲	۱	۱	۰	۲
دنشرعیاتو	« «	۰	۱	۰	۰	۳	۰	۲
دښوونی اوروزنی موسسه کی	«	۰	۱	۰	۰	۶	۱۰	٤
دساینس	پوهنځی «	۰	۰	۰	۰	۰	۰	۰
د ادبیاتو	« «	۰	۰	۰	۰	۰	۱	۰

کوم کسان چه تراوسه یې علمی رتبه نده تثبیت شوې ۹ تنه چه تول ۱۸۹ تنه کیږی دپوهنتون تدریسی خارجی غړی په ۳۹ کال کښی (٤۸) تنوته رسیږی دغه کسان له بیلوبیلو مملکتو څخه دی چه ځینی ئی استخدام شوی اوځینی یی لکه دیونسکو دامریکی دبین المللی مرستی له قبیله د ځینو مرستونکو مؤسسو له خوا ر ارسیدلی دی .

دمحصلینو څانګه: داڅانګه دپوهنتون دمحصلینو په مربوطو چاروغور کوی او دسبزنی تعلیمی کال په اول کښی دلیسوله فارغ التحصیلانو څخه چه د کابل په پوهنتون کښی دشاملیدلو دپاره معرفی شوی وو دپوهنتون دعالی شورا دتصویب له مخی یی دشاملیدلو ازموینه و کړه او دهغی د نتیجی سره سم نوی شاملیدونکی طلاب په بیلوبیلو پوهنځیو کښی و پښل شوی دی. د کابل د پوهنتون د محصلینو شمیر په ۳۸ - او ۳۹ کلو کښی دهر پوهنځی په تفریق سره په لاندی ډول دی :

۳۸ کال			۳۹ کال		
دطب او درمل جوړولو په پوهنځی کښی	۳۵۷	تنه	درمل جوړولو	۱۰	تنه
دحقوقو «	۳۰۹	«	طب	۳۵۱	«
دساینس «	۳۲۲	«	«	۲٤٦	«
داد بیاتو «	۱۷۲	«		۱٦۵	«
دانجنیری-او کرهنی «	۸٦		انجینری-	۷٦	«
			کرهنی	۷۰	«
د شر عیا تـو «	۹٦	«		۷۹	«
د ا قتصـا د «	۸۱	«		۱۲۰	«
دښځودطـب «	۵۸	«		۷۳	«
« داد بیا تو «	۳۳	«		۵۸	«
« دساینس «	۱۵	«		۲۲	«

د ۳۸ تعلیمی کال په پای کښی د کابل پوهنتون له بېلو بیلو پوهنځیو څخه د و ه سوه شپږ تنه فارغ التحصیلان ئې تولنی ته تقدیم کړل چه ددائرو دار تیا ؤ او هغو تقسیما تو لهمخی چه دوا کمنو مقاماتو له خواو شول بېلو بېلو دولتی څانګوته معرفی شول او په کارئې پیل و کړ باید و و ا یو چه د انجینیرۍ او کرهنې پوهنځی په سبز کا ل کښی د خپلو فارغ التحصیلا نو لومړ ی ټولګی تقد یم کړ .

د کابل پوهنتون د ۳۸ کال دفارغ التحصیلانو شمېرپه لاندی ډول دی :

د طب له پوهنځی څخه	«	۳۲	تنه
د حقوقو	«	۵۷	«
د سا ینس	«	۲٤	«
داد بیا تو	«	۳۱	«
دشر عیاتو	«	۲٤	«
د ا قتصا د	«	۲۷	«
دانجینیرۍ	«	٤	«
د کرهنې	«	۹	«

بل تحول چه ددغی څانګی په واسطه دپوهنځیود تدریس په سیستم کښی پېښ شوی دی هماغه دسمستر د سیستم رواجول دی چه د انجینرۍ او کرهنې په پوهنځی کښی د سمستر او کریدت سیستم او داد بیاتودپوهنځی په لومړیو ټولګیو او په پی ، سی ، بی کښی چه سبز کال دریاضی مضمون هم وربانده زیات شویدی هم د از موینی په ډول دسمستر سیستم جاری شو ی دی .

دپروګرامو څانګه : دبېلو بېلو مضمونو ددرسی پروګرامو غونډول چه په پوهنځیو کښی یې تدریس کیږی دهغو ددرسی وختو له ویشلو سره ددغی څا نګی له وظیفو څخه دی . دغه ر از د کابل دپو هنتون دنو ی کتلا ګ تهیه کو ل او ترتیبول چه کا ریی جاری دی ددغی څا نګی له فعالیتو څخه دی .

دخارجه ارتباط مد یریت :

دغه مدیریت د ۳۸ کال دتلی په میاشت کښی په کار پیل و کړ او دهغه له تأسیس څخه مقصد هما غه دخارج په یونیورسټیو کښی دافغانی محصلینودچاروار سی ده اوخارج ته دطلابو دلېږلو او دپاره دترتیباتو نیو ل هم دد غه مدیریت وظیفه د ه .سر بېره په د غه دا څا نګه له ټولو خار جی علمی

مؤسسو سره د کابل پوهنتون تهربط ور کوی اوخارجی علمی مؤسسوتهپهزړه پو ر ی معلو مات تهیه کوی اوو راستو ی یې .

داخلی محصلینچه د۳۸ کالدتلیلهمیاشتی څخه تراوسهخارج ته لیږل شو یدی :

مملکتونه		دتحصیلرشته		استوونکې څانګه	
ع ربی متحدجمهوریتته	۳ تنه	دښود نی اوروز نی دپا ره -	۷ تنه	شخصی	۳ تنه
لو یدیځ المان ته	۵ «	دا توم دفز یك	۴ «	هو ز ار تو په مصرف	۵ تنه
بر یتـانیې ته	۲ «	دعضوی کیمیا	۲ «	داخلی فیلو شپ	۱ تن
فرا نسې ته	۳ «	دانجنیری	۲ «	« سکا لر شپ	۱ «
سویس ته	۱ تن	دا قتصاد	۲ «	داخلیاوخارجی فیلوشپ	۱ «
شوروې اتحاد ته	۵ تنه	دطب	۳ «	دعربی متحدجمهوریت سکالرشپ	۳تنه
امـر یـکی تـه	۷ «	دموټرودتخنیك	۱ تن	دشوروی اتحادسکالرشپ	۵
بلژیك ته	«	دبدنی روزنی	۲ تنه	دای . سې اې سکا لر شپ	۷ «
		دښسیم تیلفو ن	۲ «	بین المللی اتو می مؤ سسې	
		بندوا وویالو	۱ تن	فیلو شپ ۲ تنه .	
		د کرهنی	۱ «		
		در یا ضی	۱ «		

۲:دخارجی محصلینو برخه :

چینائی محصلین دپښتوژبی دتحصیل دپاره)

چینائی محصلین دفارسیژبیدتحصیل دپاره)دپوهنتون په لګښت منلشویدی.

یوتنالمانیعالمدافغانستاندفیلوشپ ترپرو ګراملاندیدار کیولوژیپه شق کښیمنل شـویدی

یوتنجاپانی عالمدافغانستان دسکالرشپترپرو ګرام لاندیدپښتواوفارسیژبوپهشق منل شویدی

اوهمبوهبل جاپانی محصل تهدپښتوژبیپهړشته کښیدزد کړیلهاملهموافقهمور کړشویده .

درې تنهخارجی استادان اومستخدمین پدی کال کښی استخدام شویدی .

رژور نالیزم یوپروفیسر داتازونی دخارجهوزارتدتعلیمیاوتربیتیتبادلیترینالمللیپرو ګرام لاندیدمیاشتو دپارمراغلی دی.

یوتناستاد دشرعیاتو دپوهنځی دپاره لهعربیمتحد جمهوریت څخه استخدام شویدی .

(۲۹) تنهدښوونی اورزنیاودساینسدپوهنځی د پاره د کولمبیا یونسکو دتیم دټرون له مخی

یوتن امریکایی دساینس دپوهنځي دپاره دامریکی دمرستی له لاری څخه اوهم دپو هنځیو دپاره د (۹) تنو نورو استخدامولد پوهنتون اود ایشیافونډ یشن دمو سسی دمرستو په لګښت په نظر کښی نیول شویدی.

۳:افغانی محصلین چه په بیلو بیلو رشتو کښی دما ستری اویاد کتوری ددرجې له اخیستلو نه وروسته په مالی کال کښی بیرته هیوادته راغلی دی :

له فرانسی څخه	۷ تنه
له لویدیځ المان څخه	۵ »
له اتازونی څخه	٤ »
له سویس څخه	۳ »
له هند څخه	۱ »
له ترکیی څخه	۱ »
له بیروت څخه	۱ »

دخارج له پوهنتونو څخه دافغانی فارغ التحصیلانو دولتی رتبی دعلمی سندو له مخی ددغی څانګی دعلمی کمیسیون په واسطه تثبیت اوتا کلی کېږی.

دپوهنتون دنشراتو او کتابخانو مدیریت:

دغه مدیریت د ۳۸ د تلی په میاشت کښی دپوهنتون دریاست په نوی تشکیل کښی زیات شویدی.

الف :خپرونی دغه څانګه دتدریسی هیات د آثارو خپرولو او نړۍ ته ددغی علمی موسسی دمعرفی کولو د پاره فعالیت کوی او په څومیاشتو کښی یې دنورو چارو په ترڅ کښی د «کابل پو هنتون خپرونه»، په نامه د یوې میاشتنۍ مجلې اود (بدنې اوروزنی) په نامه دیوې دری میاشتنۍ خپرونی په خپرولو بریالۍ شویده چه د بدنی روزنی خپرونی علاقه مندانو ته سپورتی مطالب او ګټور معلومات خپر وی .

ب : د کتابخانی څانګه : دغه څانګه په نړۍ کښی په عصری اورائج سیستم سره دپوهنتون د کتابخانو دزیات انکشاف اوتنظیم دپاره رویکارشوی ده اوتراوسه پورې پدې بریالۍ شوی ده چه دساینس ، کرهنی اوانجینیری دپوهنځی او دښوونی اوروزنې دموسسی کتابخانه په عصری سیستم سره تنظیم اوترتیب کړی اوهم یې په مملکت کښی دننه اودباندی څخه د کتابخانو دپاره څونوی کتابونه، علمی جریدې او مجلی تهیه کړیدی .

ددرسی موادو دتولید اوانکشاف مدیریت :

دغه اداره د کتابو، علمی وسائلو په چاپولو ، دسمعی اوبصری درسی موادو په تولیدولواوپه پای کښی به ددرسی نویو موادو په موندلو او انکشاف سره د کابل دپوهنتون دمحصلانو دپاره دتعلیماتو زده کولو اولوړو تجربو کولو دپاره ښه زمینه برابره کړی .

د کابل دپوهنتون ددرسی موادو دتولید اوانکشاف مرکزهمدا اوس دعکاسی ، سمعی اوبصری موادو دتولید ، دګرافیك دهنرودخدمتو څانګی لری .

نوموړی مرکزچه دپورتنیومطالبو اومرامو دپه نظر کښی نیولوسره هغه څه چه دپرانیستلو له وخت نه تراوسه یې اجرا کړی دی په لاندی ډول څرګندیږی .

۱ : د کابل دپوهنتون ددرسی موادو دتولید اوانکشاف دمرکز دځانګو دضروری ما مورینو او مستحد مینو تدارك ، استخدام ، مقررول اوپه کار اچول .

۲ : ددغه مرکز دبیلوبیلو څانګو دوظیفو اودیوه مفصل تشکیل چه په راتلونکی مالی کال کښی به یې منظوری واخیستله شی دلایحی ترتیبول .

۳ : د ګستتنر، استنوفاکس دینو د ماشینو او د عکاسی دسا مانو غونډول ، تنظیم ، درول او په کاراچول.

٤ : دښودنو پخپلو غرفو کښی دځو کلتوری ، ښوونکو او روزونکو دښوونو ښودل .

٥ :داصل اومینوټ ، داستعلام دپانو ، د استهد ائیه پانو ، دیاد داشت د کتابچو ، اخبارنامو اونوروپه شان دضرورت وړ ۳٦ زروتوتوقرطاسیې چاپول .

٦ : دحقوقودپوهنځی داقتصاد دمضمون ددرسی نوټو چاپول .

دسپورټ اوحفظا الصحی مدیریت :

ددغه مدیریت تأسیسولوځخه مقصد داوُچه د پوهنتون د محصلینو او کارکوونکو دسپورټی چار و وارسی اودحفظ الصحی څارنه (مراقبت) یې و کړی .

لکه چه ددغی څانګی په فعالیت سره د پوهنتون سپورټمینان چه د ۳۸ دلړم په میاشت کښی داولمپیك دریاست له خوادا تلتیك په لوبو کښی شامل شول ۲۲ تنو ته چه لو مړی ، او دوهمه اودریمه درجه شوی وومدال ور کړشو . دهغوی دحفظ الصحی په برخه کښی ځینی اقدامات شوی دی اودپوهنتون ټول مامورین اومحصلین په بشپړه توګه صحی معاینه شوی اود کولرا ، سترې تبې اود کډی ضد پیچکاری شوی دی .

د پوهنتون دنویو شاملید ونکو محصلینوپه برخه کښی هم تر تیبات نیول شوی چه دبشپړې معاینې نه وروسته دپوره روغوالې په صورت کښی په پوهنتون ډنبی شامل شی.

سربېره په پورتنیو چارو په خیال کښی دی چه دپوهنتون دمحصلینو او مامورینو دپاره دروغتیا یوه بیمه رویکار شی .

دلیلیو مدیریت : دپوهنتون دلیلیو مدیریت چه د۳۸ دتلی له میاشتی څخه ښه انکشاف کړی او دهغه په اداری اوروزنکو چارو کښی زیات اصلاحات شوی دی .

د غه راز دسپورت درې تنه ښو و نکی داد بیا تو ، حقوقو ،ساینس ، ا قتصا د انجنیر ی او د کرهنی دلیلیو دپاره تا کل شوی ا و په کارئې پیل کړیدی .

د پوهنتون لیلیو په ۳۸ کال کښی (۳۵۲) تنه او په ۳۹ کال کښی (۳۲۰) تنه شاګردا ن او نیمګړ ی سامانو نه لکه شړ ی، رو جایی ګانی ، دبر ېښناسامانو نه ،فرشو نه او نور ضر وری شیان یی ترڅویی چه په بود جه کښی ا مکان درلودبشپړ کړی دی خو د طب د پو هنځی لیلیه پخپله هغه پوهنځی اداره کوی پد غه مدیریت پور ی اړه نه لری .

فعالیت او اداری تشکیلات :

دپوهنتون ریاست پخواله دی محدود اداری تشکیلات درلودل خود کاردزیاتیدو له مخی لازم و بلل شول چه ځینی تعدیلات پکی وشی او څونوی څا نګی پکی تاسیس شی .

اداری لوی مدیریت په مستقیم ډول ددغو مدیریتو او څانګو وارسی کوی

داداری لوی مدیر یت ، دما مور ینو دمدیریت ، د بودجی دمدیریت ، د محاسبی د مدیریت د آرشیف دمدیریت ، دعامو خدمتو دمأموریت ، دتصفیی دمأموریت .

اجر ا آ ت :

کومی پیښی چه دلا براتوارو ، کتابخانو ، ودانیو او مدار کو بشپړولو دپاره له عادی او انکشافی بودجی څخه لګیدلی دی ۳۰۰۸۲٤۰۵/۱٤ - افغانیو ته رسیږ ی .

دهغو افغانی محصلینو چه په خارج کښی ددولت په پیسو او یا په شخصی پیسو دپوهنتون له لاری په تحصیل بوخت دی د اسعارو وارسی شوی د ه . لکه چه د ۳۸ کا ل له اول نه تر او سه پوری ۱۹٦۷۱ مار که ۹۸٦۰۸ فرانسوی فرانکه ۱۱٦٤۱ سو یسی فرانکه او ۷۱۲۰۱ ډالره په خارج کښی د افغانی نمایندګی په واسطه محصلینو ته ور کړ شوی دی . دغه را ز ددولت ټول وار داتو ته چه د پوهنتون دریاست له اداری څخه حاصلیږی ددولت دوارداتو په حساب انتقال ور کول کیږی چه د ۳۸ مالی کال له اول نه تر او سه پوری ۱۹۰۷٦۸/۵۵ افغانی ددولت په حساب کښی نقل شوی د ی .

په ۳۸ کال کښی دپاڼو ماموریت د آرشیف په مدیریت سره تبدیل او اوس داجرائیی او حفظیی له دوو څانګو څخه جوړ شوی دی .

دمالیی دوزارت دپریکړی له مخی دتصفیی آمریت دپوهنتون اودمربوطو پوهنځیوله بودجی څخه تشکیل شوی اود۳۸دمرغومی په میاشت کښی ئی په کارپیل کړی دی . چه له هغه وخته تراوسه ئی دپوهنتون طلب ۱۱۷۲۹۶۹/۹۵ افغانۍ ،۱۴۵۲۴ ډالره ، ۵۵۳۳ سویسی فرانکه ، ۱۱۷۲۶۹۲ فرانسوی فرانکه ۲۶۵۳۳ مارکه تحصیل اودحساب صورت ئی پاک شوی دی .

د۳۸مالی کال په نشکیلاتو کښی دپوهنتون دریاست اودهغه دمربوطاتو د یپوګانو اودجنسی چارو د(وارسی)له امله دعاموخدمتودماموریت په نامه یوه انګه تأسیس شوه .

دغوماموریتو په ۳۸ کال کښی دپنځمی رتبی څخه ترلومړۍ رتبی پوری ترفیع کړی ده.

پوهاند صوفی عبدالحق بیتاب له ۲ رتبی څخه لومړۍ رتبی ، پوهاند محمد اصغر د پوهنتون رئیس له۶ رتبی څخه ۵ رتبی ته ،مولوی محمدعلی پوهاند له۳ رتبی څخه ۲ رتبی ته ، ښاغلی غلام احمد پوپل له۳ رتبی څخه ۲ رتبی ته،ښاغلی شیرمحمد د لیلیو مدیر له ۵ رتبی څخه ٤ رتبی ته ، ښاغلی عبداللطیف دشرعیاتو دپوهنځی معاون له۵ رتبی څخه ٤ رتبی ته .

دپوهنتون ددائرو تشکیل :

رئیس لومړۍ رتبه ع ، ص محمداصغر پوهاند دپوهنتون رئیس.

اداری معاون دوهمه رتبه ع،ص پوهنوال دکتور محمدعمرورد ګ .

تدریسی معاون دوهمه رتبه . . . .

دلیك مدیریت

دښوونی اوروزنی لوی مدیریت

دښوونکو اومحصلینو «

د خارجه ارتباطو «

دخپرونو او کتابخانو «

د درسی شیانو د تهیی «

اداری لوی «

د بودجی «

دمحاسبی «

د آرشیف «

د سپورټ اوحفظ الصحی «

دپلټنی «

د لیلیو لوی «

د طب پوهنځی

۱ : د سمستر تدریسی سیستم :

دغه سیستم ډمحصلینو دښی استفادی دمقدمی اوددوی دعملی او نظری پروګرامو دښپړولو دپاره رویکار شوی دی .

پدی ډول چه دسرویس استادان پدی مکلف دی چه دورځی له خوا اود هروخت په ساعت کښی حاضر اوخپل کارته له پروګرام سره سم په تا کلیو ساعتو کښی دوام ورکړی اوهم دطلابو د عملی کار دوختوویشنه طرح او محصلین په وړو ګروپوو ویشی اودخپلو تدریسی غړیو ترمنځ داسی ویشو کړی چه ټول په یوه مرتب پلان کښی کار وکړی .

دزیاتو معلوماتو دپاره له اوسنی پروګرام سره دتیر کال دپروګرام دبیلو بیلو مضمونو دپاره د ساعتو یوه مقایسه په لاندی ډول ښودل شوی د ه .

په تیر کال اوسبز کال کښی ددرسی ساعتو توپیر :

	په تیر یوه کال کښی	په سبز کال کښی په یوه سمستر کښی
الف په اناتومی کښی	۷۲۰ ساعته په دوه کلو کښی	٤۲٤ ساعته په ٤ سمسترو کښی
ب - « بیوشیمی «	٤۳۲ « « « «	۲۰۸ « « « «
ج - « هستولوژی «	۱۰۸ « په یوه کال «	٥٦ « ۲ « «
د - « فیزولوژی «	۳٤۳ « په دوو کلو «	۱۹٦ « ٤ « «
هـ - « پتالوژی «	۲۰۸ « « «	۱۹٥ « ۲ « «
و - « باکتریولوژی اوپرازیتولوژی «	۱۰۸ « یوه کال «	۱٥۲ « « « «
ز - « داخله «	۱۰۳۲ « « دریو کلو کښی	۳۷٦ « ٦ « «
ح - « وقایوی او اجتماعی طب «	۲۳۰ « دوو کلو کښی	٤۸ « ٤ « «
ط - « جلدی «	۱٤۸ « « دریو کلو کښی	۱۸۲ « ۳ « «
ی - « جراحی : «	۹۷۰ « « « «	۳٥۲ « ٥ « «
ک - « ستوني او وزنو «	٦٤ « « یوه کال کښی	٥٦ « ۲ « «
ل - عقلی او عصبی «	۱٦۲ « « دو کلو کښی	۱٤٤ « « «
م - « نسایي ولادي «	۳۲۰ « « « «	۱٥۲ « ۳ « «

په تېر یوه کال کښې		په سبز کال کښې په یوه سمستر کښې
ن- «کوچنیان»	۲۳۰ ساعته په دوو کلو کښې	۱۱۲ ساعته په ۲ سمسترو کښې
ص- «دسترګو» ۱٦٤ « « یوه کال کښې		۱۰٤ « ۱ « «
ع- « فارمکو لوژی » ۲۰۸ « «دوو کلو کښې		۹۹ « ۳ « «

د کال ور وستۍ نتیجې:

په ۳۳۸۱ کال کښې

داخل شوی	۲۹۷ تنه
دازموینی شاملان	۲۹۱ «
غیرحاضراو ناروغ	٦ «
ناکام	۵ «
ستاژیر دکتوران	۳۵ «
په لومړی ټولګی کښې نوی وارد شوی	۷۸ «
کامیاب	۹٦ «

په ۱۳۳۷ کال کښې:

داخل شوی	۲٤۰ تنه
دازموینی شاملان	۲۱۹ «
غیرحاضراو ناروغ	۲۱ «
کامیاب	۲۲۸ «
ناکام	۱۲ «
ستاژیر دکتوران	۳۹ «
کامیاب	۹۵ «

دطب دپوهنځی تدریسی ستاف تقویه شو:

لکه څنګه چه په تیوریاك کښې هر کال معمول دی دتېر کال په اول کښې هم دطب دپوهنځی له فارغ التحصیلانو څخه ۹ تنه په بېلو بېلو څانګو کښې دپوهیالی دنامزد په حیث ونیول شول.

۱: دکتور محمدانور دو قایوی طب په لابراتوار کښې.

۲: دکتور محمد معصوم دفیزیولوژي په لابراتوار کښې.

۳: دکتور محمداختر مستمندی په نسایی ولادی سرویس کښې
٤: « احسان الله رښتیا په جراحی سرویس کښی
٥: « ضیاء احمد ذهین په عقلی او عصبی سرویس کښی
٦: « میرعبد القادر صدیق دستر گوپه سرویس کښې
۷: « عبدالاحد مولویزاده دباکتر لوژی اوپرازیتو لوژی په سرویس کښې
۸: « نورمحمد نافع دحیاتی اوطبی کیمیا په لابرا توار کښی
۹: « نوراحمد بریځ په جراحی سرویس کښی

دوی په پورتنیو څانګو کښی دیوه تجربوی کال له تېرولو نه وروسته دنو مو پ ی پو هنځی اودپوهنتون دعالی شوری په پیشنهاد اودوا کمنو مقاماتو په منظور ی سره دپو هیا لی په حیث مقرر شول.

پدغه قدم سره دهغه پوهنځی دتدریسی هیات شمېر چه په تېر کال کښی(۷٤) تنه وو (۸۳) تنو ته زیات شوی، سربیره پدغه دنوموړی پوهنځی دوه تنه استادان ښاغلی پر و فیسور برت چه ترون یې دتېر کال په سر کښی بشپړ شود دوو نورو کلو دپاره بیاتجدید شو اودښاغلی پروفیسوردوو ندار بر کان چه پخپله وظیفه کښی اوزده سایقه لری اوزیات بریالیتوب یی حاصل کړی دی ددوو نورو کلو دپاره ترون اوزد کړی شو.

دغه راز دانیستیزیولوژی دڅانګی دپاره دطب دپوهنځی کونښنو نتیجه ور کړه او پروفیسر طونی دمیر استخدام شو.

دپتالوژی په څانګو کښی دپروفیسر تاتانی ترون دپنځو کلو وظیفی اجرا کولو نه ور وسته ختم شو.

پروفیسور هدلی د کالیفورنیا له یونیورسټی څخه استخدام شو چه د ډا بل دطب په پو هنځی کښی دپتالوژی دپروفیسر په حیث خدمت و کړی.

دغه راز دباکتر لوژی اوحفظ الصحې عالم پروفیسر فوتر هم دطب پوهنځی ته راغی اوپخپل کاریې پیل و کړ داتو نومی په څانګه کښی دپروفیسر مولر ترون ددې کال په سر کښی ختم شو اودطب دپوهنځی په خیال کښی دی چه د مینس یو نیورستی که موافقه و کړی دغه پروفیسر به یو کال نورهم استخدام کړی.

سربیره پدغه دسبز کال اه فارغ التحصیلانو څخه اته تنه په لاندی څانګو کښې دپو هیا لی دنامزد په حیث په وظیفه کښې شامل کړی شوی دی :

د کتور محمدایوب روحانی په جلدی سرویس کښې
د کتور محمد رسول وردګ په انستزیولوژی کښې
د کتور سید سلطان حمید دباکترلوژی په لابراتوار کښې
محمد کبیر دسترګو په سرویس کښې
ضامن علی په انستزیولوژی کښې
محمد ګل رنځور یار دغوږو او ستونی په سرویس کښې
غلام رضا نجم دو قایوی او اجتماعی طب په لابراتوار کښې
عبدالرحمن وردګ په رادیولوژی کښې

پدغه ډول دطب دپوهنځی ستاف ټول پدی کال کښی (۹۱) تنه افغانی غړی او (٦) تنه خارجی استادان لری.

ددغه پوهنځی په وروستی پرسونل کښې زیاتی شویدی لکه چه په هغه کښی (٤٠) تنه فنی اوغیر فنی مامورین اومستخدمین نوی په وظیفه کښی پکی شامل شوی دی چه له دغو څخه (۱۷) ښځی په فنی اواداری وظیفو کښی او (۲۳) تنه نارینه دبېلو بېلو څانګو په وظیفو کښی شامل کړی شویدی دغه پوهنځی ته دچښلو او به ورسولی شوې.

ودانۍ: دجراحی په ودانۍ کښی اوس دطب دپوهنځی لیلیه، اداری څانګی او دانجینرۍ او کرهنی پوهنځی پکی دی د تیلفون او برېښنا انتسلان سیو بشپړ شوی دی.

دباکتریولوژی ستره ودانۍ نژدی بشپړه شوی ده چه په درېو پوړو کښی به یی زر په زره دباکتریولوژی څانګه دوقایوی طب څانګه اوفارسی پوهنځی ځای ونیسی.

دحیواناتو روزنه: تجربوی حیوانات لکه سپین موږك، کوبای اوسوی په پوره اندازه وروزل شول.

فیلوشیپان اوسکالر شیپان: ددغه پوهنځی دتدریسی غړیو دعلمی سطح لوړولو په لړ کښی دترتیب شوی پلان سره سم دامریکی اواروپا مترقی مملکتو ته ددغه پوهنځی دتدریسی غړیو لیږلو ته دوام ورکړ شو لکه چه ددغی پروژی له مخی دراډیوشین تراپی په څانګه کښی دو کتور عبدالباقی اودفار مکلوژی په څانګه کښی دو کتور عبدالحبیب دل دروغتونو په اداری چارو کښی دو کتور سید حشمت الله او دپاکتریولوژی په څانګه کښی دو کتور عبدالله عمر فیلو شیپ ته دیوه کال دپاره دوام ورکړ شو.

سربېره پردغه دراډيولوژي دتکنشين پهڅانګه کښي دجيلا ني فيلوشيپي ته دوام ور کړشو د و کتور عبدا لغفار متو کل اوعبد الکريم عفت لويديځ المان ته ولېږل شول چه په جلدي څانګه کښي زيا تي مطا لعي و کړي په دغو فيلو شيپا نو کښي له خارجي بو رسو څخه لکه دنړۍ دروغتيا دمؤسسې امريکايي ، لويديځ المان اوفرانسوي بورسو څخه استفاده وشوه .

ښاغلي د کتور عبدالولي ذکي داناتومي پهڅانګه کښي له لوزان څخه ښاغلي محمدابراهيم عظيم دداخله اوتوبر کلوز په څانګه کښي له امريکي څخه اود کتورعبد الو اسع دجلدي په څانګه کښي له لويديځ المان څخه بېرته راغلل .

دښځو دطب څانګه : دغه څانګه له پلان سره سم پرمختګ کوي او دمحصلا توشمېريي ورځ په ورځ زياتيږي اودسمسترۍ سيستم يې په بريا لتوب سره جاري دي اود کارنتيجي يې دقناعت وړدي اواوس دښځو دپوهنځي د محصلا تو شمير (٦١) تنو ته رسېږي .

دنرسنګ ښوونځي : دښځواونارينه وو په دواړو ښو ونځيو کښي اصلا حات اوانکشاف ليدل کېږي تېر کال دنارينه ودنر سنګ ښوونځي ته دهغه يوتن فارغ التحصيل د کانترپارت په حيث ور کړ شوچه دنړۍ دروغتيا دمؤسسې دنرس توتر مستر واتررسره کارو کړي .

پهخيال کښي دي چه ددغه ښوونځي معاون ښاغلي يار محمد ته چه په تير کا ل کښي يې له مستر نر سره د کونتر پارت په حيث په بريا ليتوب سره کار کړي دي خارج ته به د يوه کال دو ري دپاره فيلو شيپ ور کړشي چه دنرسنګ دتدريس پهچارواو مسلک کښي زيات معلومات و کړي .

دښځو دنر سنګ ښوو نځيي : دښځو دنر سنګ ښوونځي هم پرمخ تللي دي اومتعلماتي يې زياتي شوي دي خودابايد وويل شي چه په دواړو ښو ونځيو کښي لا تر اوسه دلوړي سويې د متعلمانو او متعلما تو د لا سته راو ستلو په باب مشکلا ت شته هيله شته چه په وروسته کلو کښي دغه مشکلات په تدريج سره لري شي . سبز کال دافغاني فارغ التحصيلا توڅخه يوه تنه حميده نوازپه لو يديځ المان کښي دتحصيل څخه دفراغ اودعملي معلوماتو حاصلولو نه وروسته بېرته هيوادته راغله اودښځو دنرسنګ پهښوونځي کښي دمديرې د کفيلي په حيث مقرره شوه . سربېره پر دغه يو ې دوهمې نرس توتر له دغه ښوونځي سره مرسته و کړه چه اوس کار پکي کو ي يوه تنه معاونه دوهمه کونترپارت مير من منوره فطرت چه ددغه ښوو نځي له پخوا نيو فارغ التحصيلو نر سانو څخه وه مقرره شوه چه له نوي نرس توترسره کا رو کړي .

دطب دپو نځي کتابخانه : دغه کتابخانه تير کا ل پخپلو وظيفو کښي بريالي وه او مراجعينو ته يې هررا ز اسانتيا وي بر ابري کړي سربېره په هغو کتا بو چه د غي مؤ سسې تهيه کړيدي

په کابل کښې دامریکی لوی سفارت اودبریتانیی دولت اودایشیافونډیشن مؤسسې څوطبی کتابونه دپوهنځې کتابخانې ته وبښل .

دنړۍ (۷۰) نویوطبی مجلوپه فرانسوي ،بریتانوي، المانی ، ترکی ، عربی،روسی اوفارسی ژبو سره سبز کال پدغه کتابخانه کښی ګډون وکړ اودپښتنی طبی مجلی په بدلون سره رارسیږی چه استفاده ورڅخه کیږی .

دخپرونو څانګه : دطب دپوهنځی دخپرونو څانګه دتیر کال غوندی پخپلو فعالیتو بوخته ده اودوام لری سربېره پدغه په تیر کال کښی یی څوفنی سامانونه لکه دتیپ ماشینونه ، رسامی، سکښت اونوروماشینونه ځانته برابر کړی چه زیاتی چاری یی اجرا دغه رازپه خیال کښی دی چه دغی څانګی ته دفوتو سکوب اونورونوی ماشینونه برابر کړی شی .

دغه څانګه په تیر کال کښی پدی بریالۍ شوه چه دا لاندی تصویر لرونکی اوبی تصویره کتابونه دګستتنرپه واسطه چاپ اودټولو استفادی ته چمتو کړی .

دنسایی نارو غیو لومړی ټوك دپوهاند دکتور دتألیف دو همه طبع .

دقبابی دفن لومړی ټوك دپوهاند دکتورانوری دتألیف دو همه طبع .

عقلي سیمیو لوژی دپروفیسر اونسال تألیف .

دقعفي اعصابو تشریح ددو کتور عبدالولی ذکي تتبع .

توصیفی تشریح ددو کتورسید عبدالقادر بها تألیف .

ددو کتور سید دد کتوراتیزپه فرانسوی ژبه .

آمبر یو لوژی ددو کتور بها تالیف .

دا لاندی کتابونه ترچاپو لولاندی دی اوزرپه رزه به استفادې ته چمتوشی .

۱ : دنسایي نارو غیو دو هم ټوك .

۲ : دقبابي دفن دوهم ټوك .

۳ : دمړی دفتح لارښودنه او تسلیخ دپوهاند دو کتور بالمکنداس تألیف .

دوینو بانك : دوینو دبانك فعالیت دپخواپه نسبت په ۱۳۳۸ کال کښی څه ناڅه یوپه دری شوی دی پدغه کال کښی دغه بانك ۷۶۳۲۰ سی سی وینه په ۱۱۱۴۸۰ افغانیوپیرودل شوې ده او ۵۸۳۳ سی سی وینی دخلکوله خوا وړیا مرسته ور کړ شوی دی .

او ۹۴۲۲۰ سی سی وینه بی وزلوته وړیاور کړشوی او ۳۴۰۰۰ سی سی وینه په (۷۸۰۰۰/۰) افغانیو پلورل شوی ده داهم باید وویل شی چه دوینو بانك نه یواځی دپوهنتون یعنی دعلی آباداودښځوله روغتونو سره مرسته کوی بلکه دهیواددروغتیا له نورو مؤسسو سره ئی هم هرراز مرسته کړی ده .

لومړی د اجتماعی علومو څانګه :

ددغی څانګی مشر دښودنی او روزنی دمؤسسی یوغړی دی هغه وظیفې چه د دغې څانګی په واسطه اجرا شو یدی ډمو ؤ ټرو پروګراموترتیب او تنظیم ، د در سی شیا نو ، ددرسی کتابو تهیه کول او دپروګرامود ښه تطبیقولو دپاره داجتماعی علومو له ښوونکوسره همکاری کول د ی دادی چه په مربوطو مؤ سسو کښی ددغی څا نګی فعالیتونه په لنډ ډول څرګند ېږ ی :

لومړ ي دابن سینا په ښوونځی- کښی :

۱ : داومو ، اتمو او نهمو ټولګیو دپاره ددرسی کتابو تهیه کول له یوه عمومی تجدید نظر سره دابن سیناد پروګرام انکشاف .

۲ : دموادودښه تطبیقولوپه‌لاره کښی‌داجتماعی درسو ښوونکوته لارښوونه ، ددرسی لوازمو په کا راچول او له محلی موا دو څخه استفاده کول .

۳ : داجتماعی علومو دلابراتوار او دهغو دلازمو شیانو تهیه کول .

د وهم په دارالمعلمینو کښی :

۱ : دپروګرام ترتیب او انکشاف . الف : دلسموټولګیو دپاره دنړی تار یخ او جغرافیه .

ب : دیو و لسموټولګیودپاره دافغانستان تاریخ اوجغرافیه

ج : ددو ولسمو ټولګیو دپاره محاصر افغانستان .

د : ددوولسمو ټو لګیو دپاره تدریسی اصول‌او مواد .

۲ : دپورتنیو ټولګیو څخه دهر یوه دپاره ددرسي کتابو او موادو تهیه کول .

۳- د اجتماعی علو مودلابراتوار تهیه کول .

٤ : په ثانوی ښوونځیو کښی دتدریس‌زده کولودپروګرام تهیه کول او د هغه پرمخ بیول

دریم هغه فعالیتونه چه پدی کا ل کښی د لومړ نیو تعلیماتو د څانګی په واسطه شوی دی :

۱ : له تجربوی ښوونځیو سره پرله پسې تماسونه او دد رسو دجریاناتو کنټرول او دنورو فعالیتو او په بېلو بېلو مضمونو کښی دتد ر یس داصولو د ا صلا ح دپاره ددارالمعلمینوله ښوونکوسره همکا ر ی .

۲ : د لو مړ نیو تعلیما تو له څا نګی څخه دښو دنی او روز نی د مؤ سسې مؤ ظفو غړ یو ددوو هفته مودې دپاره د قـطغن او مزارشریف د ولایتو په روز ونکی جرګه کښی د ښځود تعلیماتو له متخصصینو او دپوهنی دوزارت له نماینده ګډ ون و کړ .

څلورمه انګلیسی څانګه : مهمی چاری چه په سبز کال کښی سر ته رسېدلی دی په لا ندی ډول دی:

۱ : دوروسته وخت دپاره د انګلیسی ښو و نکو روزنه :

۵ : دپرو ګرمو دښه تطبیق داصو لو په لاره کښی ددار المعلمینو له ښو ونکو سره همکا ری .

دریم داد بیاتو په پو هنځی کښی کار کول :

۱ : په څلورم ټولګی کښی داجتماعی درسود کورس تدر یس .

۲ : دهغه کورس دمربوطو موادوتهیه کول .

۳ : دنارینه ؤاوښځو په ژمنیو کورسو کښی کار کو ل :

الف دښځو ژمنی کورسونه، د کورسو تأسیس او د مربوطو کورسو دپاره دموادو تهیه کول اودموادوپه تطبیق کښی له ښوو ونکو سره همکاری .

ب : دنار ینه ؤژمنی کور سو نه :

۱ : دپرو ګرام ترتیبول او دا صولو د کورس تدریس او دافغا نستان معاصر او دملګر وملتو دلا یقی شعبی تدر یس .

۲ : دموادوتهیه کول او دپور تنیو کورسوله استاد انو سره همکاری کول

دوهمه دساینس څانګه : ددغی څانګی مشردښودنی اوروزنی دمؤسسې یوغړی دی

د۱۳۳۷ کال په پای کښی دمحیط دتقاضا اودو خت دایجاب له مخی دد ارا لمعلمینو د سا ینس دپرو ګرام په ترتیب کښی یوعمومی تحول پیښ شوی ؤاودغه تحول په ۱۳۳۸ کال کښی تطبیق شو په ابن سینا کښی دعمومي ساینس په تطبیق کښی دساینس له ښو ونکو سره همکاری دپخوا په شان دوام لری او د څو کلو له تجر بی نه ورو سته لازمه و ګڼله شوه چه د ابن سینا دعمومی ساینس په مفرداتو کښی تجدید نظر و شی .

دساینس اوادبیا تو په پوهنځیو کښی دساینس اوله اجتماعی علوموسره د سا ینس در وابطو دتدریس داصولو کورسو نه دساینس دڅانګی په مرسته تدر یس شول .

دپوهنځي په انګلیسی څانګه کښی ٤٥ تنه په زد کړه بوخت دي چه له هغوڅخه د ادبیاتوله پوهنځي سره دښودني اوروزنی دمؤسسی دانګلیسی څانګی د همکاری په نتیجه کښي ۱۲ تنه دهغه دڅلورم ټولګی له زده کړی څخه فارغ اوښوونځیوته معرفی شوی او په کاریی پیل کړی دي .

۲: په خدمت کښې دشاملوښوونکوروزنه :

الف : په تدریس اود درسي شیا نوپه استعمال کښې دابن سینا ، دار المعلمینو ، حبیبیې اورابعهٔ بلخي ښوونځیوله انګلیسي ښوونکو سره همکاري.

ب : په ما فوق لیسا نس کورس کښې ، د ښځو دد و بی په کور سواود ښځواو نا رینه ؤ په ۱۷ژمنیو کورسو کښې دانګلیسي ژبې تدریس اودانګلیسي معلماتودپاره داصولواوموادوتدریس.

۳ : دموادوتهیه کول :

۱: دافغانانودپا ه دانګلیسي دوهم اودریم ټوك بشپړشو .

۲ : دانګلیسي نو ي لو مړ ي کتاب چه په رابعهٔ بلخي کښې ترتجربې لاند ی ؤبشپړ سواود زیاتې تجربې دپاره چمتودې

۳:دانګلیسي درس دری معاون کتابونه بشپړشوی اوتراستفادی اوتجربه لاندی نیول شویدی.

دغه رازدانګلیسي ښه تدریس دپاره(۱۰)سیټه تصویرونه، کاغذی ساعتونه،رازرازچارتونه، دپلاین تخته اورازراز کارتونه تهیه شوی دی . سربېره په دغه هغوښونځیوچه په دو همه ما ده کښې یاد شول دانګلیسي څانګې متخصصینودنورومؤسسولکه په قندهاراو کابل کښې دملکي هوائي ریاست، دپولیسودا کاډمۍ اونورودانګلیسي پروګرا موڅارنه او کتنه اوله مریوطو مؤسسوسره ئې مرسته کړی ده اود متخصصینوله خوادتدریس داصولواو موا دوپه برخه کښې ددارا لمعلمینود پا رسی او پښتوله ښوونکو سره هم مر سته شو ی ده .

٤: د کال په پای کښې دداخلی اوخارجی انګلیسي معلمینواو معلماتودپاره پنځه ور ځنی سیمینار دایرشوچه د ژبی ٦۰ تنه ښوونکی پکې شامل شول .

پنځم- دنارینه ؤ اوښځو ژمنې کورسونه :

الف : دښوونکوژمنې کورسونه :

د۳۸ کال په ژ منیو کورسو کښې له بیلوبیلوولایتوڅخه (۲٦۸) تنو ګډ ون کړی ؤچه ددوی سویه له۱۰نه تر۱٤ټولګی پوری ده سربېره په غه دسبز کال دښوونې اوروزنی مؤسسی دڅارندوی د٤٤ تنوزده کوونکو دپاره هم کورس پرانست .

له دی امله چه دښودنی اوروزنی دموسسی د کار ساحه کال په کال مخ په انکشاف ده نو ځکه دژمنو کور سو په څنګ کښې دڅارندوی د کور سو د پرانستلو دپاره زمینه برا بره شوه . چه په هغه کښې :(۱)- هغه ښوونکو چه له ولا یتو څخه غوښتل شوی وورسماً دڅارندوی د کورس په عنوان په ژمنیو کورسو کښې شامل شوی اوشمیریې ۱٤ تنو ته رسیده.

۲ : هغه مشمولین چه یواځی نهاری اوزیاتره ئی د کابل دښونځیو شاگردان ووشمیرئې (۳۰) تنو ته رسیږی

ب : دښځوژمنی اودوبنی کورسونه :

دښوونی او روزنی موسسی د مرکز او ولایتو د معلماتو در وزنی په برخه کښی خپلی روزونکی اوښودونکی مرستی ندی سپمولی لکه چه په دوبی کښی کابل دښار دلومړنیو ښوونځیو اولیسو د (۸۰) تنو معلماتو دپاره یې دوبنې کورسونه دایر کړل .

په ژمی کښی دمعلماتو دزیاتی غوښتنی په اثر دملالۍ په لیسه کښی هم دنارینه وو د کورسو په شان دښځو ژمنی کورسونه دائر شول چه دلومړنیو ښوونځیو ،لیسو اود کلیو د ریاست مربوطو (۱۵۲) تنو معلماتو گډون پکښی درلود .نو موړو معلمو دتحصیل ددرجی له مخی له (۷) تولگی څخه ترما فوق لیسانس پوری تحصیل کاوه دژمنیو کورسو په څنگ کښی دنارینه و وواوښځو تجربوی ښوونځی وجود درلود چه دوختو دویش له مخی د مدرسینو او مدرساتو په شمول دهر کورس مشمولینو اومشمولاتو دتدریس داصولو په تجربوی ټولگیو کښی وار په وار دبیلو بیلو مضمونو لیدنه او کتنه کوله .

په دغه کال کښی په ولایتو کښی هم دښودنی اوروزنی دموسسی فعالیت دوام درلود لکه چه دقطغن او مزارشریف په ولایتو کښی له معلماتو سره ددوی دتدریسی اوروزونکو مسالو اومشکلاتو په باب مرسته وکړه.

شپږمه دخپرونو څانگه : دښوونی اوروزنی موسسه دخپرونو یوه څانگه لری چه ددارلعلمینو ابن سینا ، دنورو مسلکی ښوونځیو ، دساینس اودادبیاتو دپوهنځیو درسی مواد او کتابونه، ددرسی کتابو معاون اومسلکی مضمونونه پکی تهیه او چاپیږی سر بیره په هغه دښوونی او روزنې موسسه دمعلماتو، ښوونکو، سرښوونکو او پلټنکو دمسلکی معلوماتو زیاتولو د پاره میاشتنۍ مجله پر له پسی خپره کړې ده .

ب :ددرسی لوازمو تهیه کولو څانگه: دښوونی اوروزنی دریاست ددرسی وسایلو برابرونکی څانگه پدې بوخته ده چه ترڅو چه امکانولری د درسی مرستی دځینی وسایلو محلی اوارزانه وسایل تهیه کړی لکه چه دبیولوژی دمډلو دمجسمې کرې ، دنقشی ایستیلو سامانونه ، اعلی سپین او رنگه تباشیر اوله لرگیو، چرم اونورو څخه یې د کوچنیانو دلوبو سامانونه جوړ کړی دی .

دغه راز دغه څانگه دیوه سلاید پرجکتور چه دلمر له نور څخه استفاده کوی په جوړولو

بریالۍ شوی ده چه ددغه کار اهمیت پداسی ښوونځیو کښی چه بر ېښناونه لری زښت زیات دی .

ج : د کتابخانې ترتیب : دښوونی اوروزنی موسسه دیوې کتابخانې په ترتیبو لواو تنظیمولو هم بریالۍ شوی ده چه کتابونه یې زیاتره په انګلسی ژبه اودښوونې او روزنی له ډېرو نویو کتابو څخه دی دغه کتابخانه د کتابدارۍ دفنی په نویو اصولو سره ترتیب او تنظیم شوی ده .

اوم ما فوق لیساینس کورسونه : کوم کسان چه دښوونې او روزنی دنوی پروګرام سره سم دساینس اوادبیاتو له پوهنځیو څخه چه په تیره دهغو په دریم اوڅلورم ټولګی کښی تطبیقېږی ددغی موسسی دښوونی او روزنی په څانګه کښی دیو کال زده کړی نه وروسته کولای شی چه مافوق لیسانس درجه واخلی او کوم کسان چه ددغه نوی پروګرام له تطبیقولو نه پخوا له هغو پوهنځیو څخه فارغ شوی دی لازمه ده چه ددغې درجی داخیستلو دپاره دوه کلن پروګرام بشپړ کړی .

له دی امله چه پدغو کورسو کښی دشاملیدلو دپاره له تدریس څخه د ښوونکو فارغېدل دښوونکی دضرورت له مخی ممکن نه ؤ نو ځکه له غرمی نه وروسته کورسونه دائرشول.

اود ۱۳۳۸ دغویې دمیاشتی په ۱۸ نیټه دپوهنی دوزیر دوکتور پوپل له خوا پرانیستل شول.

د کرهنی او انجینیرۍ پوهنځې :

د۱۹۵۹(۱۳۳۸)دتدریسی کال دوهم سمستر ددغه سمستر په ختمیدلو سره لومړی ځل و ټولګی زلمیان له دغه پوهنځی څخه دانجینیرۍ او کرهنی په څانګو کښی فارغ شوی دی او د کرهنی او انجینیرۍ په څانګو کښی یی بچلر آف ساینس درجه وړې ده او په وزارتو او بیلو بیلو څانګو کښی دخدمت دپاره ټاکل شوی دی دغه راز دانجینیرۍ دڅانګو څلور تنه فارغ التحصیلان دفوائدعامی په وزارت کښی مقرر شوی دی .

دد وهم سمستر دنهایی ازموینی مشمولین ۱۳۵ تنه وو چه له هغوې څخه ۱۰۵ تنه بریالی اوپاته ۳۰ تنه یې ناکام شوی دی .

دازموینو دوهم چانس پدغه ازموینه کښی چه په ۲۲ بیلو بیلو رشتو کښی وشوه هغوزده کوونکو چه دشاملیدلو استحقاق یې درلود برخه واخیستله اوله هغو څخه ۱۰ تنو په ازموینه کښی ګډون ونه کړ اوناکام وګڼل شول لازمه ده چه دوی دغه کورسونه بیاو لولی .

په ازموینه کښی له ګډون کوونکو کسانو څخه ۱٤ تنه بریالی او ۱۸ تنه نوریې ناکام شویدی

د شاملید و او لیاقت ازموینه :

د۱۹۵۹ کال دوهم سمستر دحربی پوهنځی د۱۲ ټولګی د۲۵ تنو فارغ التحصیلانو چه په هغه پوهنځی دشاملیدلو دپاره معرفی شوی وو دښودنی اوروزنی د موسسې د متخصص دو کتور سپنز تر کتنی لاندی دالجبر، عمومی ساینس او په ذکاوت کښی ازموینه و شوه له هغوی څخه ۹ تنه بریالی شول چه ۷ تنه یی دانجینیرۍ لومړی ټولګی ته ورغلل له ټولو زده کوونکو څخه چه پدغه پوهنځی کښی حاضر وو دښودنی اوروزنی دموسسی د یوه تن غړی له خوا په فارسی ژبه سره دلیاقت ازموینه وشوه .

د(۱۹۵۹) لومړی سمسټر:

هغه ښوونکی چه دپوهنځی تدریسی او اداری چاری یې پرمخ بیولی دی په لاندی ډول دی:

نوم	رتبه	هغه مضمونونه چه تدریس یې کوی او یا له امریکایې متخصصینو سره د کونتر پارت په حیث کار کوې
ښاغلی توریالی اعتمادی	دپوهنځی رئیس	باکترلوژی
« غلام نبی ناطق	تدریسی معاون	ښاری انجینیری
« عدالحی عباسی		میخانیکی انجینیری
« محمدافضل		ښاری «
« محمدانور		کیمیا
« ملک محمد قریشی		فزیک او الجبر
« نوراحمد رحیمی		کتابداری
« عدالملک صافی		کرهنه
« محمدطاهر		کیمیا
« شاه محمد		د بوټیو علم

دغه راز د امریکی دبین المللی همکارۍ دتړون له مخی په پوهنځی کښی دوایو منګ دټیم متخصصین په کار بوخت وو دغونویو متخصصینو د۳۸ کال دلومړی سمستر له ختم څخه یاد ۳۹ کال له لومړی سمستر څخه په تدریس او په کار پیل کړی دی:

ډاکتر ایلیت	دبیو لوژی متخصص	دپوهنځی مشاور
پیغله وایت	د کتابدارۍ متخصصه	
ښاغلی کارتر	د سویل انجینیر	دسویل انجینیر
« لانګ	بریښنا «	دبریښنا «
« واندروات	دفزیک متخصص	دفزیک متخصص

د کولمبیا دهیات دغو دریو تنو په ۳۸ - او ۳۹ کال کښی دانګلیسي مضمون درس و ر کړ یدی :

ښاغلی کنفلید ښاغلی پنس میرمن هایسر

د کرهنی دپراختیادووتنو متخصصینوهم په پوهنځی کښی د ۳۸د تدریسی کال په دوهم سمستر کښی هم درس ور کړیدی په کابل کښی دملګرو ملتو په اداره پوری مربوط ښاغلی دی او په کابل کښی دامریکی دبین المللی همکاری په اداره پوری مربوط ښاغلی شو من.

دغه راز دا مریکی دبین المللی همکاری داداری دځنګلو متخصص ښاغلی کارل ما یرهم دپوهنځی په دوهم سمستر کښی دځنګلو دمضمون درس ور کړی دی.

د کرهنی په ځانګه کښی دتېر کال فارغ التحصیل ښاغلی سید مزمل شاه د ۳۹ تد ر یسی کال له اول څخه دانجینیری او کرهنی په پوهنځی کښی دپوهیالی دنامزد اود کرهنی دلیسې مدیر ښاغلی ډا کټر شاه محمد دبو تواودبو تو دناروغیو دښوونکی په حیث مقرر شول.

په خارج کښی دلوړو تحصیلاتو پروګرام :

د ۳۸ تدریسی کال دلومړی سمستر په پای کښی دالاندی پنځه تنه د ماستری ددرجې ا خیستو دپاره دامریکی دبین المللی همکاری داداری په لګښت دوایو منګ پوهنتون ته و لیږل شول.

ښاغلی عبدالحبیب قریشی	دځاروی و دعلم په رشته کښی
« ګل محمد تلوار	دبوتو « « «
« محمد ظریف سالم	دځاور و « « «
« محمد اشرف	د کتابدار ی « « «
عبدالحی عباسی	دمیخا نیکی « « «

دغه راز په خیال کښی دی چه دغه کسان د ۳۹ کال دلومړی اودوهم سمستر په ختم کښی امریکی ته واستول شی .

محمد انور شنواری	دبوتو بایو کستری
عبدالملک صافی	هارتی کلچر
سید مزمل شاه	دبوتو ناروغی
محمد افضل	دسویل انجینیری

د کانو اوصنا یعو دوزارت په غوښتنه دانجنیری د دوهم اودویم ټولګی دادری تنه محصلین هغه وزارت ته معرفی شول چه دهغه وزارت دضرورت دپاره د تخصص دتحصیلاتو له اماله خارج ته و استول شی .

ښاغلی محمد اسمعیل دانش ، ښاغلی خواجه محمود ، ښاغلی محمد امان سلیمی .

دعربي متحدجمهوريت ددولت دسکالرشيپ دپروګرام له مخې ټاکل شوي دي چه زر به د کرهڼې او انجنيرۍ ددوهمو ټولګيو دغه دوه تنه محصلين دمصر ايالت ته واستول شي .

ښاغلو سلام جان او محمد اکبر

تجربوي فارم : دپوهنتون درياست او علي آباد دروغتيادموسسو درياست سره يوجريب مځکه دعلي آباد په بڼ کښې راکړل شوه چه دپوهنځي د کار کوونکو له خواهواره شوي او محصلين د کرهڼې عمليات پکې کوي . اوس دستي دادري هدفه منظور شوي دي :

الف :څه ډول علمي نتيجي تطبيقيږي .

ب : د کرهڼې دشويو عملياتو ښودنه.

ج په ځانګړي يا په غونډو سره د کسانو روزنه .

د کابل پوهنتون دروغتيا موسسي :

۱ : اداري فعاليتونه : په تير کال کښې دمربوطو روغتونو دضرورت وړ ټولي اړتيا وي لکه درملتونو نه غذاوي، جامې، دسون مواد دبودجې دمنظورۍ له مخې تهيه شوي او دروغتونو داستفادې دپاره ور کړ شوي دي .

دپوهنتون دروغتيادموسسو درياست دودانيو چاري د کابل ولايت په واسطه دپوهنتون درياست له بودجې څخه شوي دي . دغه رازيو درمل او دمربوطو روغتونو دجراحۍ دضرورت وړ نور سامانونه اولوازم چه خارج ته ئې فرمايشت ور کړ شوي ؤ هغو روغتونو ته رارسيدلي دي ،

۲ : فني څانګې: دپوهنتون دروغتيادموسسو درياست فني څانګې ددغو څلورو مهمو شقو څخه جوړې شوي دي :

۱ : دعلي آباد دروغتونو سرطبابت، ۲- دښځو دروغتون سرطبابت، ۳- دمرکزي کتنځي سر طبابت ٤- د رياست دمرکز ددرملتونو آمريت چه دهريوه اجراآت به جلاجلا څرګند کړي شي .

۱ : د علي آباددروغتونو سرطبابت ، دعلي آباد د کلينيکونو دودانۍ، بسترو او دروغتيادلوازمو له نظره دهيواد يو اځنې نامتو روغتون ګڼل کيږي د هغه مربوطي سروي په ښو عصري لوازمو او سامانونه مجهزدي او هرډول مهم عمليات په بريالیتوب سره پکې کيږي .

دبسترو عمومي شميريي (۵۰۰) بسترو ته رسيږي .

د علي آباد د روغتونونه څو څو سرويسونه لري او د هر سرويس د تداوي او عمليات شويو احصائيه داسي څرګند يږي :

دسرویس نوم، تداوی ،په بستری عملیات شوی، دبستری دباندی عملیات شوی، پانسمان پلستر،فوت

۱ : جراحی	۱۹۷۳	۱۲۶۲	۲۹۱	۸۱۳	۸۳
۲ : دستر کو	۷۲۱	٤۷٥	۲۳۳	۰	۰۰
۳:دستونی اوغوزو	٥٥٦	٤٥۷	۷٥۷	۰	۲۳
٤ : سنا تو ر یم	۳۷۱	۱۲٥	۰	۰	۲۰
٥ : د اخله	۱۳٤٦	۰	۰	۰	۸٦
٦ : جلدی	٤۲۹	۰	۰	۲۳	۱
۷ :عقلی اوعصبی	٦۱٥	۰	۰	۳۲۱تنوته الکتروشوك ور کړشویدی	

۸ : اکسریز رادیوسکوپی ۳۸٦۱تنه رادیو کرافی ۱۲۳۹ تنه .

۹ : لابراتوار د(۲۹۲۹۱۱)بستریی ناروغانو دوینو ، ادرار ، دمعدی دعصاری ، غائطه مواد و ، بلغم اونورو تجزیی او معاینی کړی دی .

په تیر کال کښی ٦۰۱٤تنه ناروغان دعلی آباد دروغتون په بیلو بیلو سرویسو کښی بستر ی او ترعلاج لاندی نیول شوی دی او(۳٦۰۰)تنه زاړراژ عملیات شوی دی او(۷۰۱٥۰)سی سی وینی یی په عملیات شویو ناروغانو کښی تزریق کړی دی .

دښځودروغتون سرطبابت : دښځودروغتون کلینیکونه دعلی آباد ډروغتون په شان په هر ډول طبی عصر ی وسایلو اوسامانو باندی مجهز دی دنوموړی روغتون دبستر وعمومی تعداد (۲۰۰) ته په رسیږی اودا کسریز هرډول لابراتواری معاینی او بیلی بیلی تداوی اونسایی او نور مهم عملیات په بر یالیتوب سره پکی کیدای شی . دنوموړی سرطبابت په کلینیکو کښی دتداوی شویو ناروغانو ، عملیات شویو اونورو مراجعینو احصائیه په لاندی ډول څرګندیږی :

سرویس	بستریی شوی	په بسترو کی عملیات شوی	د بسترودباندی عملیات شوی	پانسمان شوی	مړه
۱ جراحي	٥۸۹	٤۹۷	٤۰۹	٥۸۲	۱۹
۲:دستر کو	۲۲۲	۱٦۳	٥٦۲	۱۹۹	۰۰
۳:ولادی نسایی	۷۲۱	۲۱۷	۰۰	۹۱۹	۹
٤:دغوزواوستونی	٥۹۷	۳٤۹	۱۹۸	٤۹٤	۳
٥ : د اخله	٥۹۷	۰	۰	۰	۰
٦ : عقلی اوعصبی	۹۹	۰	۰	۰	۰
۷ : دکو چنیا نو	۱٤۳۲	۰	۰۰	۱۳۸	۹
۸ : جلدی	۱٥۰	۰	۰	۰	۰

۹ـ اکسریز ـ راډیو سکوپی (۱۲۲۲) تنه راډیو گرافی (۵۹۷) تنه .

۱۰: دمعاینولابراتوارد (۱۸۵۰)تنوبستریې ناروغانوویني ، ادرار ، غائطه موا د و ، د معدې دعصارې اونوروتجزیه کړې ده . او(۵۵۱۰) تنوته وینه ورکړ شوی ده .

د مرکزی کتنځی سرطبابت : دمرکزی کتنځی پولیکلینیکونه د نارینه او ښځو ناروغانو لومړی مرجع دهاوهره ورځ په زرګونوناروغان ورځی وروسته له هغه که مربوط متخصص یې لازمه وبولی اوبستری تشی وی ناروغ ته دبستریې کېدو خط ورکوی چه نارینه ناروغان دعلی آباد په روغتونواوښځی ناروغانی دښځو په روغتون کښی بستری شی او که چیری بستریې تشی نه وی ، ناروغ ، اونارو غی عاجله نه وی هغو ته د بسترد انتظار خط ورکول کېږی.خوعاجلی پېښی له دغه څخه جلادی. که چېری مربوط متخصص ناروغ یاناروغه د بسترئی توب وړونه کښی نو نسخه ورکوی چه که دمرکزی کتنځی په درملتون کښی درمل وی وړیا ورکول کېږل لکه څنګه چه د علی آباد اودښځوروغتونونه څوڅو کلینیکونه لری مرکزی کتنځی هم ییل ییل کلینیکونه لری اوپه دووبرخو ویشل شوی دی .

ا لف : دنارینه ؤ پولیکلینیکونه ب ـ دښځو پولیکلینیکونه.

په ۳۸ کال کښی دمرکزی کتنځی دمراجعینواحصائیه په لاندی ډول ده .

په ۳۸ کال کښی دمرکزی کتنځی د سرطابت دپولیکلینیکودمراجعینواحصائیه

سرویس	نارینه	دښځو	بستریې شوی نارینه اوښځې
۱ :ـ داخله	۱۰۱۰۰	۲۰۳۶۸	۱۴۸۱ تنه
۲ :ـ دسناتوریم سرویس	۱۳۰۰	۰	۲۲۸ »
۳ :ـ جرایی سرویس	۹۵۶۷	۸۰۹۷	۱۱۰۲ »
٤ :ـ دغوزو اوستونی	۸۲۰۰	۱۲۳٤٤	۸٤۳ »
٥:ـ دستر کوسرویس	۱۰۵۰۰	۸۹۷۸	۸۵۷ »
٦:ـ جلدی سرویس	٦۷۹۰	۱۰۲۰۳	۸۹٤ »
۷:ـ عقلی اوعصبی سرویس	۷٤٤۲	۳۹۳٤	۳٦۲ »
۸ ـ دبیولوژی سرویس نارینه اوښځی ۱۲۰۰ تنه			
۹ :ـ دکوچنیاعمومی سرویس	۲۹٦۷٤	۰۰	۹۷۷ »
۱۰ـ دنسایی اوولادی سرویس	۰	٤۰۲۱	۲۵۳ »
۱۱ :ـ پلستر شوی	۲٦۰	۲۲۱	۰

سرویس	نارینه	دښځو	بستری شوی نارینه او ښځی
۱۲-پانسمان شوی	۱۵۰٦٤	۹۱۲۰	۰
۱۳-دغابنو	٥۲۰۸	٦۸۱۳	۰
۱٤ -پیچکاری	٤٤۲۲	۲٥۸۹	۰
۱٥ - برېښنایی تداوی	۷۱۸	۰	۰
۱٦- د کوچنیانو ستنول	۳۱۰	۰	۰

۱۷ - د کوی ضدستنی نارینه (۳٤٥۱۳) نارینه او ښځی ۰۰

۱۸ - اکسریز: رادیو سکوپی :۲۲۹٤۰ تنه رادیوګرافی ۹۷٦ تنه

۱۹-د درملو رونکی ۸۱۰۳٦ تنه

دریاست دد ر ملتونکو آمریت داخلور څانګی لری :

۱ : مرکزی دپوی ۲-دزرقیه معلوماتو لابرتوار ۳-دجراحی دسامانودپو ٤-دتابلیت جوړولو څانګه، په تیر کال کښی د درملتونو د آمریت د درمل جوړولو څانګی لاندی درمل جوړ کړیدی :

۱ : دپرش سانتی ګرامه اسپرین اتیازره تابلیت

۲:اسپیکف دوه لکه نوی زره تا بلیت .

۳ : انتید یاری تابلیت یوشپیته زره دانې .

٤ : انتید یاری تابلیت د کوچنیانو دپاره نوی زره تا بلیته ،

٥ : انتی روماتیک تابلیت لس زره تابلیته ،

٦ : بیترو تارکود تابلیت دوه ویشت زره تا بلیته ،

۷ : بی کاربونات تابلیت دوه لکه اویازره تا بلیته ،

۸ : لکنات او کلو کونات کلسیوم یولک اتیازره تا بلیته ،

۹ : وتیا مین سی کلسیوم شپپتر زره تابلیته .

۱۰ : کاریز الک تابلیت زر دانی.

۱۱ : دیواو کف لس زره تا بلیته .

۱۲ : لو مینال لس سانتی ګرامه شپپته زره تا بلیته .

۱۳ : پولیو یت شل زره تابلیتـه .

۱٤ : سکو پلامین لس زره تابلیته .

۱٥ : پنځه سانتی ګرامه سانتونین زر تابلیته .

۱٦ : یوملی کرامه ستر کنین پنځه زره تابلیته .
۱۷ : دوه ملی کرامه ستر کنین پنځه‌زره تا بلیته .
۱۸ : ستومویل‌یوځلوپښت‌زره تا بلتیه .
۱۹ : تابلیت سلفاکو ا ندین دوه زره تابلیته .
۲۰ : تابلیت سلفا دیازین‌د وه زره تا بلیته .
۲۱ : تابلیت تیوپ لس زره تا بلیته .
۲۲ : تابلیت ترویت پنځلس زر ه تا بلیته .
۲۳ : تابلیت‌وتیامین بی‌یک سل کرامه دپر ش زره تا بلیته .
۲٤ : تابلیت ویتامین سی‌یك سل ملی کرامه دیرش‌زره تابلیته .
۲۵ : تابلیت ویتامین بی شش‌زردانی .
۲٦ : تابلیت سانتو نین دوه سانتی کرامه پنځه زره د انی .

دپو هتنون دروغتیا دمؤسسو دریاست دروغتونو دضرورت وړسیر ومونه اوزرقی در مل چه دد رملتو نو دآ مریت دزرقیدومحلو لاتودلا براتوارپه ذریعه جو ړ شوی اود مربوطو روغتونو دناروغا نوپه‌مصرف رسیدلی دی .

در مل	اندازه
سیر و م فیز یو لوژ یك په زر و کښی ۹	٤۸۰۰۰۰۰ سی سی
سیروم کلیکوز په سلو کښی ۵	٦ ۰۰۰۰۰ « «
سیرو م کلیکو ز « ۲۰	۲۸۰۰۰۰ « «
سیروم کلیکوز « ۵۰	٤۰۸۰ « «
سیروم کلیکو ز « ۱۰	۷۷۰ « «
سلوشی کالیسم کلورایده « ۱۰	۱۰۹۰۰۰ « «
« « « « « ۲۰	۸۰۰ « «
« « سودیم سا یسلا د یمز ۱۰	۷۷٦۰۰ « «
وتیامین ب پەسلو کښی ۲	٤۳۳۵۰ « «
« ب‌یك‌یك‌سی‌سی‌سل‌ملی کرامه	٤۳۳۵۰ « «
نوا کلن وا یفدرین	۳۵۰ « «
سلو شن ایفدرین‌پەسلو کښی ۲	۱۷۰۰۰ « «
«نترا کتلین « « ۲	٤۷۰ « «

ACKU

درمل	اندازه
نترا کتلین‌په سلو کښی ۱	۳۵۰ سی سی
« نوا کنین‌په سلو کښی۱	۱۲۸۳٤۰ « «
« « « ۲	۱۹۱۷۰ « «
« « « ۳	۲۷۰۰ « «
« « « ٥	۲۰۳۷۰ « «
اتروبلین په‌زرو کښی	۱٤۰٥۰ « «
مورفین په‌سلو کښی ۱	۲۲ ٦٥ « «
استر کنین‌په زرو کښی	۱٥۳٥۰ « «
یومادپیلو کاربین په‌سلو کښی ٤دستر کو دپاره	۱۰۰بو تله ۱٥ ګرامه
یومادا ترو پین« « ۲۰« «	۱۰۰ بوتله ۱٥ ګرامه
سلوشن پیلو کارپین« « ٤	۱۰۰بوتله٥ا ګرامه
« بردمواد وسود « ۱	۱۲٥۰ سی سی
۲٦ سلو شن اګر وپین په زرو کښی ۲۰ دستر کو دپاره	۷۰۰ سی‌سی
۲۷ « نیز وا یت دوسو دپه زرو کښی ۲۰	٤۳۰۰ « «
۲۸ « مبتلن پیلو په زر و کښی. ۱	۷٦۰ « «
۲۹سیروپیکاربونات « « ۱۲	۲٥۰۰ « «
۳۰ و ا سلین معقم . . ګر امه	۲۰۰ بو تله
۳۱ : سمو ت سا لیسلا ت په‌سلو کښی ۱۰	۱۰۲۰۰ سی سی.
۳۲ : روپل کامفر په‌سلو کښی ۳	۳۱۳۰۰ « «
۳۳ سلوشن سلفا ددومګنیزی‌په سلو کښی ۳	٤٦٤٦۰ « «
۳٤ :« یوروتن بین په سلو کښی ۲۰	۳۲۰۰ « «
۳٥ : « ستوییوم ترترات په‌زرو کښی یو	۱۰۰۰ « «
۳٦ « هماترو پین‌په سلو کښی ٥	۲٥۰ « «
۳۷ « تیترت دو سود په سلو کښی ۱۰	۳٥ ۰۰
۳۸ : سلوشن کافین سودیم نیز وات په سلو کښی ۲۰	٥۰۰ سی سی.
۳۹ « سیتر ا ت دو سود « ۱۰	٤۰۰۰ « «

ACKU

۴۰ : «میتین هید و کلور پەسلو کښی ۲ ۹۴۵ سی سی
۴۱ : « هیپوسلیفدو سود « « ۱۰ ۶۰۰ « «

دپوهنتون دروغتیا دمؤسسو دریاست ددرملتونو آمریت دخپل لابر اتو اراو دتا بلیت جوړولو دڅا نګوله محصو لاتو څخه چه پخوایی نومونه یاد شول په۳۸ کال کښی زیات دوادرمل لکه انتیی بیوتیکونه دترما یسین ار و ما یسین ، کلو رما یسین ، پنسلین ، ستر و پتو ما یسین سلفاجیدونه د۴رازهوارمونونه، ویتامینونه اوسپیسیالتونه ، وا کسینونه اوسترومونه اودشیمیکال ، کلینیك اونورپه سلګونوقلمه دوا ګانی لەخارج اودشیرشاه مینی ددرملوله د یپو څخه تهیه او دپو هنتون درو غتیاد مؤسسو دریاست درو غتونو نار وغا نوته ور کړ شوی دی چه عمده یې په لاندی ډول څر ګندیږی:

۱ : ستروپتومایسین ۲۰۴۰۰ ګرامه.
۲ : پنسلین ۸۴۰۰ میلیوم یونتی .
۳ : کلورمایلین ۲۵۰ ګرامه ۱۲ کپسوله زربوتل
۴: سبتوزان یاپر یستو ن یولك سی سی .دغه درمل فواق العاده حیاتی درمل وی.

یعنی هغونارو غانو تەچه یوه یادوه ورځې غذا ونه شې خوړلای دغه درمل لکه و ینې او غذا دپروفیزیون پەواسطه پەناروغ باندی تطبیقیږی چه ناروغ له خطرڅخه خلاص کړ ی .

۱: انتې تیتانیك سیروم ۱۵۰۰ واحده درې سوه امپو له.
۲: « « « ۵۰۰ ۵۰ « سل امپوله .
۳ : دفتیر یك « ۴۰۰۰۰ پنځو س امپوله .

سلفا میدو نه دوه لکه پنځلس زره تا بلیته .

دحقوقـواوسیا سی علومو پـو هنځی :

تعلیمی چاری :

ځینی نوی مضمونونه په۳۸ کال کښی پەعمومی پرو ګرامو کښی ضرور ګڼل شوی او عملی شوی د ی .

۱: د سیاست علم:

دنوموړی پوهنځی نهایی مقصد دحقوقواو سیاسی علومو پر اخول دی لەدې امله چه دسیاست علم ددغه پوهنځی دسیاسی علومو جز ګڼل کېده نو ځکه دحقوقو دپوهنځی په لومړ یو ټولګیو کښی ددغه علم تدریس حتمی اولازمی و ګڼل شو .

۲: دافغانستان اساسی حقوق : د افغانستان دحقوقو سیستم هم ددغه پوهنځی دپرو گرام جز، کړی شو او په دوهمو ټولگیو کښی یی تدریس عملی شو .

۳: عمومی جغرافیه :

هر کله چه عمومی جغرافیه دسیاسی اقتصادی او بشری جغرافیی اساسی ده نو ځکه د الازمه وگڼله شوه چه په دوهمو ټولگیو کښی دی دعمومی جغرافیی درس ور کړ شی .

خارجی پرو فیسران چه په ۳۸ کال کښی یې دحقوقو دپوهنځی په تعلیمی چارو کښی برخه اخیستی د ه :

۱: د (اداری حقوقو - دخصوصی بین الدول حقوقو استاد) پروفیسر ماتیو .

۲: د(تجارت دحقوقو- دجزاء دحقوقو استاد) پرو فیسرریف.

۳: د(دولتو دعمومی حقوقو ،دیپلوماسی،دنړۍ دسیاسی مسأاو استاد) پروفیسر گی دولاسال.

٤: د(اجتماعیاتو ،فلسفی ،اجتماعی مسألو استاد) پروفیسر کو سا ن

٥: د(عمومی جغر افیی اوسیاسی جغرافیی استاد)پروفیسرهان .

دمحصلانو شمېر دغه محصلان (۳٤۰) تنه دی.

دفارغ التحصیلانو شمېر دحقوقو پوهنځی په ۳۸ کال کښی(٦۱)تنه لیسانسه ټو لنی ته معرفی کړ ل چه له هغو ی څخه (٤٤) تنه دعامو خدمتو له څانگې او(۱۷) تنه یی د بین المللی مناسباتو له څانگی څخه فارغ التحصیل شوی دی.

دساینس پوهنځی :

پدی کال کښی دساینس په پوهنځی کښی یولړ تحولات او اجراأت و شول چه دیوی علمی مؤسسی دبشپړتیا اوپرمختگ له نظره ډېراهمیت لری .

۱: ښو ونکو دسویی لوړولو دپاره د کورسو تدویر :دساینس دپو هنځی یوه وظیفه داده چه د ثانوی ښوونځیو ښوونکی وروزی نو له دغه امله دساینس دپوهنځی له خوا د ثانوی ښوونځیو دښوونکو دعلمی اومسلکی سویی لوړولو دپاره داسې اقداماتو ته هڅه شوی ده :

الف:دښوونکو اومعلماتو دپاره دفزیك کورس: دفزیك په لړ کښی دثانوی ښوونځیو دښوونکو دمعلوماتو زیاتولو له امله د۳۸ کال په ژمی کښی دهغه پوهنځی په پیشنها داوه پو هنتون د ریاست دغه کورس مافوق لیسانس سویه لری اوزده کولو یی علمی اعتبار پیدا کوی اومشمولین یی دثانوی ښوونځیو له معلیمینو اومعلماتو څخه (۲۵) تنه دی .

دغه کورس دیونسکو دڅانگی درئیس ډا کتر گر انتهم او دعلومو د پوهنځی د ا ستا دا نو

د کتور صمدی، دا کتر هدلی، انجینر حضرت محمد انجینیر محمد رفیق له خوا چلول کیږی.

ددی له امله چه د ساینس پوهنځی د ساینس په تعلیم کښی د پوهنتون په سویه پوره تجربه کړی ده او په دغه باب یی لازم وسایل برابر کړیدی او لائق استادان او مجهز لابراتوارونه لری د پوهنی دوزارت د پوهنتون ریاست د پوهنځو د ساینس د پوهنځی تعلیمی چاری هم دغه پوهنځی ته سپارلی دی چه له دغو اوسنیو وسایلو څخه په دواړو مؤسسو کښی ښه استفاده وشی.

۲: د دیپارتمنتو تأسیس: د علومو پوهنځی څوځو څانګی لری لکه د فزیك، ریاضی، کیمیا، بیولوژی، اساسی ساینس، د کانو او نوری څانګی.

د معاصرو تربیوی او علمی ایجاباتو له مخی د علومو په پوهنځی کښی دیپارتمنتونه دا ټرشول. چه د هر دیپارتمنت آمر د خپلو غړیو په همکاری د خپلو دیپارتمنتو په مربوط تعلیمی چارو کښی پرله پسې غور اوسنجش اوو اقدامات و کړی.

د غه دیپارتمنتونه یې له آمرانو سره په لاندی ډول دی:

۱ : د ریاضی دیپارتمنت	آمر ښاغلی د کتور کاکړ.	
۲ : د فزیک	« «	د کتور ضیایی.
۳ : د کیمیا	« «	« پوهنیار انور علی.
٤ : د جیولوجی	« «	« د کتور عبدالله ناصری
٥ : د بوټنیو دیپالوژی	« «	« کتور ناصرزاده
٦ : د زولوژی	« «	« د کتور احمد شاه ر ی جلال.
۷ : د بشری علومو	« «	« غلام علی آئین.

۳ : د سمستر د سیستم ترویج: متمرکز تعلیم او تعلم دا ایجا بوی چه تعلم دی په لنډ ومودو کښی وشی په دغه هره موده کښی دې مربوط مضمونونه په داسی احتیاط سره تدریس کړشی چه چویی چه امکان وی هغه انسجام او ارتباط دی تأمین شی چه د یوه مخصوص لړ په بیلو بیلو مرحلو کښی موجود وی. نه داسی چه یو څه یی یو کال او بله برخه یې بل کال تدریس کړی.

٤ : د علو مو په پوهنځی کښی د هوا پیژند لو د څانګی تاسیس: د افغانستان د هوایی مناقلا تو انبساط او انکشاف دا ایجابوی چه دغه د مربوط موضوعاتو د تحصیل د پاره یوه جلا څانګه جوړه شی هماغه وُچه پدی وختو کښی د علومو په پوهنځی کښی د هوا پیژندلو یوه څانګه جوړه شوه

۵ : د بیالوژی په لړ کښې علمی پلټنه: د بوټنیو او څارویو په رشته کښی د فرانسوی پروفیسر موت ترلارښودنی لاندی په علمی پلټنه پیل کړی. نو موړ پروفیسر له همدغه امله د خلورو میاشتو په موده د فرانسې د « مومیلیرا » له پوهنتون څخه افغانستان ته راغلی دی.

۶ : دجیولوجی دلابراتوارتقویه کول : دجیولوجی لابراتوارچه نسبتاًغیرمجهزؤ دداخلی استادانو اوپنځوتنولویو خارجی استادانو په همکاری سره به تقویه شی .

۷ : دالکترونیك لابراتوارتدویر : دفزیك استاد پروفیسررونین دراډیوفزیك په لابراتوار به علاوه دساینس په پوهنځی کښی دالکترونیك په لړ کښی بل لابراتوارتنظیم کړی.

په افغانستان کښی داتومی انرژی کمیسیون : په ۳۸ کال کښی دواکمنو مقاماتو په صوابدید سره چه په لاندی ایجاب یی غوښتل په افغانستان کښی د اتومی انرژی کمیسیون تأسیس شو .

۱ : داتومی انرژی دتعلیم دلزوم په باب غوراو کتنه اوهغوته دزمینی برابرول .

۲ : دافغانستان د کرهنی په صنایعو کښی داتوم له انرژی څخه د کار اخیستو د امکاناتو په باب غور او کتنه او ددغه کار دو سایلو دلاسته راوستلو پیشنیی :

دساینس دپوهنځی یوشمیروا کوالان پوهان دموضوع سره دارتباط له مخی داتومی انرژی د کمیسیون د غړیو په حیث تاکل شوی او نومونه ئی په لاندی ډول دی :

ښاغلی د کتورعبدالغفار کاکړدعلومو دپوهنځی رئیس او پوهاند د رئیس په حیث.

«	«	محمدانور	«	« دغړی	«
«	«	عبدالعظیم ضیایی	«	«	«
«	«	سیف الرحمن صمدی	«	پوهندوی	«
«	انجینر	عبدالرحمن عبادی	«	«	«
«	«	عبدالقیوم وردگی	«	دمنشی	«

داتوم دانرژی په بین المللی مؤسسه کښی داتوم دانرژی د کمیسیون له خواافغانستان ته یو علمی هیات وبلل شوچه داتوم له انرژی څخه د کاراخیستو دامکاناتو په باب کتنه اوسروی و کړی .

دغه هیات چه ډاکترسمت رئیس ، مسترلاکوس ،ډاکترفشر ، مسترمیراحمد ، مستروب او دوتنه منشیان وو د ۳۸ کال دلړم دمیاشتی په ۱۷ نیټه کابل ته راغی او د دری و رځوموډی په تېرولو کښی یی سروی اوخبری اتری و کړی .

داتوم د انرژی د کمیسیون په غوښتنه وعده و کړه چه د ساینس په پوهنځی کښی دیوه لابراتوارتأسیسو لو دپاره داتومی انرژی یومتخصص له یو څه اتومی آلاتو او سامانو سره دافغانستان حکومت ته ور کړی.

داد بیاتو دپوهنځی څانګی :

۱ : دتاریخ او جغرافیی څانګه :دغه څانګه په ۱۳۳۰ کال کښی تأسیس شوه . دغی څانګی

په ۳۸ کښی ځلورم ټولګی نه درلو د ځکه د ۳۷ کال د د ر یم ټولګی په هغه کا ل کښی ازموینه‌و شوه او فارغ شو . په ۳۹ کال کښی د دغی ځانګی شاملین (٤٥) تنوته ورسېدل .

۲- دانګلیسی ځا نګه : د غه ځا نګه چه په لو ی سر کښی د ښود نی او روزنی‌په مؤ سسه پوری تړل شوې وه په ۳۵ کال کښی دادیاتو په پوهنځی پوری وشړله شوه او په ۳۸ کال کښی لو مړ ی ځل ۱۲ تنه و رځخه فارغ شول او په ۳۹ کال کښی ۱٤ تنه نو ی پکې شا مل شول چه دټولو شاملینو شمېرې ٤٥ تنوته رسید ه.

۳ : دپښتو ا د بیاتو اود پښتواو پارسی دادبیاتو ځانګی چه‌پخوا‌یې‌یوځای‌درس‌وایه‌په ۳٦ کال کښی سره جلا شوې . پدغه ځا نګه کښی د پښتو ا دبیا تو ښوونکـی ، محققین او لیکو ا ل روزل کېږ ی او په ۳۹ کال کښی ځلورم ټولګی ته نوې ورسېد له او د نو یو شا مل شو یو شمېرې ۹ تنوته او دټولو شاملینو شمېرې۳۸ تنوته و ر سېد

٤ : دپارسی دادبیا تو ځا نګه : پدغه کښې دپارسی ادبیا تو ښوونکی ، محققین او لیکوال روزل کېږی چه په ۳۹ کال کښې ځلورم ټولګی ته نوې ورسېده چه دنویو شاملینو شمېرې ۱۵ تنو ته او دټولو شاملینو شمېرې ۵۰ تنوته ور سېد .

الف : هغه‌محصلین چه په‌تېر لړ کښی یې خپلو زده کړوته دوام ور کړ ی دی .

له‌چین څخه‌دپښتو او پارسی ژ بو په‌لړ کښی .

۱:ښاغلی چن ینشن یه‌یی لیان تون،چن‌بان‌وان ،چوچان فون کوانای.

ب: هغه محصلین‌چه په‌دغه‌پوهنځی کښی نوی شامل شویدی :

له‌چین څخه .

۱: دپښتو پەژبه اوادبیاتو کښی ښاغلی چین‌مین، یونی کن، چه‌چون چای .

۲: دپارسی « « « « یه فن‌لی‌نان .یوی،

له‌جاپان څخه دپښتو پەژبه اوادبیاتو کښی ښاغلی تا کشی کنستو فوجی .

له‌المان څخه « « « « « ډا کتر فیشر.

دخبرونو برخه: دغی‌ځانګی په۳۸- او۳۹ کال کښی داسی اجرا ات او فعالیتونه کړی دی لومړی د آثاروچا پول:

الف کتابونه .

۱: دنورجهان اوجهانګیر رساله‌دبریتانوی نامتو شرق‌پېژندونکی لین پول تألیف،ددو کتور علمی تر جمه .

۲: دپښتو ګرامر دامریکی دژب پوهنمونکی دوکتور پنزل تالیف دپوهنیار محمد رحیم الهام ترجمه.

۳: اجتماعی اوفلسفی مقالی دپوهندوی علی محمد زهما تألیف اوترجمه.

٤: پخوانی انسان دپوهندوی علی محمد زهما تألیف او ترجمه.

٥: دعلم تاریخ دمحمد حسن صافی تألیف.

ب: مجلی: دادب مجله په پارسی ژبه اودوزمی مجله په پښتو ژبه منبه منظمه شوی ده اوعلمی معتبری مقالی اومضمونونه یی خپاره کړی دی.

لومړی ددرسی موادو ګستتنر:

۱: دپارسی ادبیاتود تاریخ دریمه اوځلورمه برخه په (دوو توکو کښی)

۲: معاصر افغانستان

۳: دلویدیځ تاریخ

٤: فرهنګ جاوید

٥: روحیات او فلسفه

٦: د پارسی ادبیاتو دلومړی، دوهمی او دریمی برخی تجدید

۷: دپارسی املاء اوانشاء تجدید.

دشرعیاتو پوهنځی

دشرعیاتو په پوهنځی کښی دخارجی اود اخلی ښوونکو په واسطه تدریس کیږی چه سربیره پرشرعی مضمونودحقوقو اوخارجی ژبی دمضمونوهم درس ورکول کیږی.

د کالنۍ ازمویني نتیجه:

څلورم ټولګی	دریم ټولګی	دوهم ټولګی	لومړی ټولګی
شاملین ٢٤ تنه	شاملین ۲۰ تنه	شاملین ۱۹ تنه	شاملین ۲۱ تنه
کامیاب ۲۳ «	کامیاب ۱۷ «	کامیاب ۱۸ «	کامیاب ۱۳ «
			مشروط ۲ «
مشروط ۱ تن	مشروط ۳ «	مشروط ۱ تن	ناکام ٦ «

د ښځو پوهنځی :

له‌دی‌امله‌چه دښځودپوهنځی‌دپاره کومه جلاودانۍ‌نیوه‌او سربیره‌پرهغه‌دنجونوپه ښوونځیو کښی‌معلماتو ته‌دارتیاپه اثرددغه پوهنځی‌دمحصلاتو تدریس‌پخوا له‌غرمی‌امکان نه‌درلود نو دهغو محصلاتو دتدریس‌او تعلیم‌مر کزدملالی‌پاره‌لیسه کښی‌او دتدریس‌وخت یې‌له غرمی‌نه و ر و سته وتاکل شو .

خو داحتیاج له‌مخی‌دپوهنی و ز ا رت دملالۍ دلیسی په‌الحاقیه کښی یوه‌ودانۍ‌بنا کړه‌چه سبز کال دوری‌په میاشت کښی بشپړ‌شوه اواوس‌دهغه پوهنځی‌محصلاتی پدغه‌نوی ودانۍ کښی خپل‌درسونه لولی.

دغه‌راز دلابراتوارد‌تطبیقاتو په پاچه تراوسه‌پخپله‌دپوهنځی‌په ودانۍ کښی لابراتوار نه و جوړشوی نودعلومو دپوهنځی په‌همکاری زمونږدغه ارتیاپوره لیری‌شوی‌ده.

ACKU

د کابل ولایت

تشکیل :

د کابل والی	و ، ج ښاغلی میرعبدالعزیز	
اداری مدیر	یو	تن
مدعی العموم	»	»
دپوهنی لوی مدیر	»	»
داستخباراتو مدیر	»	»
دپلټنی مدیر	»	»
داحصائیی مدیر	»	»
دفوایدعامی لوی مدیر	»	»
دمرافعی قاضی	»	»
دوثیقودمحکمی قاضی	»	»

دابتدائی دمحکمی قاضی	»	» و ، ج میرعبدالعزیز
مستوفی	ښاغلی نور احمد	
دوارداتو لوی مدیر	یو	تن
دوارداتومدیران	دوه	تنه
دمحاسبی مدیر	یو	تن
داملاکو مدیر	»	»
دتحصیلی مدیر	»	»
دانسپکټور مدیر	»	»
د امنیی قوماندان	»	»
د پولیس سرمامور	»	»
د امنیی مدیر	»	»
د حقوقومدیر	»	»
دلوازمو مدیر	»	»

ACKU

د کابل دولایت چاری

د کابل دولایت دفوائدعامی مدیریت دمعابرو په شق کښی د کابل ولایت په مربوطوسړو کونو کښی دغه چاری سرته ر سولی دی :

خا مکاری ، کیند نه اوپر کاری	٤٨٢٢٠	متر مکعب
سر نگ الوزول	٨٦٠/٥٠	» »
جبل کا ری	١٧٠٠	» »
د سړك پرمخ صفائی	٨٠٠٨٠٠	» مربع
د بنسټ کیدنه ، پوبر کاری پخته خښتکاری	٧٦٨٦	» مکعب

کا نکریټ ، پوبر کاری ، انگاف ، پلستر کاری اوجغله اچول ۲۷۱٦۲ متر مکعب

ا ستنادی دیوال	٤٨٩	مترسورور
پل او آبرو	٣٣	دانی
کا نکریټی تختی	٥٠٠	»
دار چی دلر گیو قالبونه	٤٠٠	مترمربع
کاه گل کاری	٤٠٣	» »
غو ره گل	٦٦٩	» مکعب
گو ل وسپنه (په مصرف رسیدلی ده)	٦٠٠	سیره
د پلونو د پوښښ لرگی	٩٣	مترمکعب
د کما نو دقالبونو پول	٤٧٩	» »

ودانیو :

په هغو ودانیو کښی چه دیلو بیلو وزارتونو دشانگو اوموسسو لپاره د کابل ولایت دفوائدعامی د مدیریت په واسطه جوړیږی دغه چاری سرته رسیدلی دی :

د بنسټ کیندنه ، پخه خښتکاری	۱۸۳٦۲	متر مکعب
د کر نیز دپبرو نصبول ، دپخو خښتو خرند	۱۱۹۷	متر
پخه خښتکا ری او کانکریټ	٦٩٣٥	متر مکعب
پلستر کاری ، ریگ اواهك	۱۳۷۲۲	» مربع
د چت اگچ مالی اودپلستر تراشل	۱۰۱۲۹	» »
د سمنټی خښتو فرش	۳۸۸۷	» »

ACKU

دگچو دپاره سیمکاری	۳٤۲۸ متر مربع
دسمنتو پلستر کاری اودیخو خښتوفرش	۲۳٦۷ « «
دغوره گل‌پوښښ	۸۳۰٦ « «
دریګ اوسمنتو انګاف	۳۷٦٦ « «
د کوتو دغولو پر کاری	٤۰۷٤ « مکعب
دډرودخښتی	۸۷۹ دانی
دډبرو دتوتو فرش	۳۵۱٤ متر مکعب
هوار کاری	۲۲۵۷۷ متر مربع
دډبرینوخښتو فرش اوخامه خښتکاری	۱۱۳۳ « «
ویرانکاری	۵۹٤۰ « مکعب
دتخته سنګ پوښښ	۵۰٤۵ « مربع
د کاشی خښتو فرش	٤٤ « «
آوی اوروغنی رنګمالي	۵۸۹۷۹ « «
ددروازو جوړول	۱۸۵٤ « «
دارچي فرش ، اودارچي په‌قالب دچت‌سنګ بندی	۲۱۷۸۷متر مربع
سرطاق او کنده	۱۷۲٤ متر
مسطح کاری	۹۹۲۸ « مربع
قیچی کاری	۸۸۰۷ « (سور)

په هغو ودانیو کښی چه بشپړی شوي دودانیو سامان اولوازم هم نصب شوی دی تقدیر لیکونه :

دغو کسانو دوهمه درجه تقدیر لیکونه اخستی‌دی :

شباغلی اورنګ زیب دچارده حاکم

« فیض‌محمد د کلنګار «

« عطاءالله عظیمی د کابل دامنیې قوماندان

« بختیار ګل د کابل دپولیسو دسرما موریت کفیل

« رمضان خان دژاندام د لوا کفیل

« بختیا ر ګل د کابل دپولیسو د سرماموریت کفیل

« رمضان خان د ژاندارم د لوا کفیل

دهرات ولایت

تشکیل :

نائب الحکومه	شباغلی عبدالرحیم واحد (د کفیل په حیث)
مستوفی	« محمدنبی (د کفیل په حیث)
دمرافعی قاضی	یو تن
دابتدائی قاضی	« «
دامنیه قوماندان	« «
دژاندارم قوماندان	« «
د گمرك رئیس	شباغلی محمد نبی
دپوهنی لوی مدیر	یو تن
دمطبوعاتو لوی مدیر	« «
دمخابراتو لوی مدیر	« «
دمکلفیت مدیر	« «
دفوائدعامی لوی مدیر	« «
د کرهنی لوی مدیر	« «
دمنازعاتو دفیصلی رئیس	« «
دروغتیالوی مدیر	« «
دافغانستان بانك مدیر	« «
اداری مدیر	« «
د پلټنی مدیر	« «
داحصائیی مدیر	« «
دقلم مخصوص مدیر	« «
دتجارت داطاق رئیس	« «
دترانسپورت لوی مدیر	« «
د کرهنی بانك مدیر	« «
دنباتاتو دساتنی مدیر	« «

ACKU

دهرات ولایت چاری

عرفاني تاسيسات :

دبادغيساتو په مرکز قلعه نواودهرات په نبار کی دوه بابه دنجوئو اساسی ښوونځی اودده کهسان په حکومت کښی د هلکانو یو اساسی ښوونځی پرانستل شوی،دغه رنګه دهرات په بیلو بیلو سیمو کښی پنځه کلیوالی ښوونځی اودنارینو اوښځو اوه☆

دهرات دابتدائی ښوونځی په یوه ټولګی کښی

☆بابه دلویانو کورسونه پرانستل شوی دی دفوشنج په ښوونځی کښی دتباشیر جوړولو حرفه او دساو شان په ښوونځی کښی دتر کانې حرفه دایره شوی ده .

دهرات دهلکانو او نجونو له لیسو اوښوونځیو څخه ۱۶ تنه دبکلوریا په درجه ،(۸) تنه د منځنی ښوونځی اوه ٤٥ تنه دابتدائی ښوونځیواو(۲۱)تنه ددارالعلوم څخه فارغ التحصیل شوی دی.

د کرهنې چاری:

دملخ پرضدمجادله جاری وه د ونو دنارو غیواود تاك د آتشك پرضد مجادله وشوه اوپه (٥۱۱۹۰) تاکانو باندی



دهرات دمسجدجامع نوی ودانی

دواوشیندل شوه . دغنمو دسرخۍ دناروغۍ په باب مطالعه او تجربه و شوه ۱۳۲۲، تنه غنم دهرات دولایت په بیلو بیلو ځایو کښی دتجربی په ډول و کرل شوه چه دډاډوړ نتیجه لاس ته ځنی راغله .

دپښی او گنیو د کرولو په برخه کښی هم کوښښ وشو او (۵۰) زره نهالکی او قلمان کیښول شوه دفوائد عامی مدیریت ته (۱۳) زره دناجو نهالگی پوهنی مدیریت ته (۲) زره نهالگی په مربوط وحوزو کښی دایښوو لو دپاره ور کړه شوه، دغه رنگه په یوه جریب مځکه کښی دناجو تخم و کرل شو .

دوریښمو دچنجیو په شق کښی هم موفقیت لاس ته راغی او دجاپانی توت (٤) زره نهالگی ایښوول شوی چه په راتلونکی وخت کښی به دډیر ښت لپاره په وطنی توتو سره پیوندشی .

مامورین په بیلو بیلو رتبو	(۸) تنه
د پانو مامورین په بیلو بیلو رتبو	(۸) «
مستخدمین په بیلو بیلودرجو	(۷) «
د ریاست د مرکز مستخدمین	(۲۳) «
د عامو خدمتونو مدیرپه	(٤) رتبه یو تن
مامورین په بیلو بیلو رتبو	(۱۰) تنه
د ترانسپورت مامورین په بیلوبیلورتبو	(۳) «
مستخدمین	(۳) «
د نشریاتو مدیر	په (٤) رتبه یو تن
مامورین په بیلو بیلو رتبو	(٤) تنه
مستخدمین	(۵) «
د قلم مخصوص مدیر	په (۵) رتبه یو تن
مامور	په (۹) رتبه یوتن
د تعمیراتومدیر	په (٤) رتبه یو تن
مامورین په بیلو بیلو رتبو	(٤) تنه
مستخدمین	(۵) «

د بودجی مدیر په (٤) رتبه یوتن او دری تنه مامورین اویوتن مستخدم

د محاسبی او کنترول مدیر په (٤) رتبه یوتن مامورین (٦) تنه
مستخدمین (٣) تنه
د شیو کیو د بلاك آمر په(٣) رتبه یو تن
فنی مرستیال په (٥) « « «
داداری څانګی مامورین د کار کوونکو سره(١٨)تنه
د لوازمو مامور ین (٥) «
د محاسبی « (٦) «
د روغتیا مدیر په (٤) رتبه یو تن
فنی پرسونل (٩) تنه اوسینترین (٢) تنه
د پوهنی آمر په (٤) رتبه یو تن
ښوونکی او نور (١٧) تنه
د نجونو ښوونکی (٢٧) «
د صنایع آمر په (٥) رتبه یو تن
مامورین (٤) تنه
د کرهنی د پراختیا مامورین (٤) «
د چهار آسیاب د نجونو ښوونکی (٦) «
مستخدمین (٦) «
فنی کسان (٢٧) «
نور مستخدمین (٧٥) «
شاګردان (٥٠) «
د لوګرد دلومړی برخی د بلاك آمر په (٣) رتبه یو تن
اداری مامورین (٥) تنه
دمحاسبی « (٤) «
د کلی کار کوونکی (١٥) «
د روغتیا فنی کسان (٦) « سنیترین (٢) تنه
د پوهنی په شق کښی (١٤) «
د میرمنو په برخه کښی (١٠) «

د لیك پلټونکی (۲) «
د کلیوالی صنایع فنی مامورین (۷) «
د کرهنی دشق فنی مامورین (٤) تنه
دمیرمنو دبهبود دشق مامورین او شبوونکی (٦) تنه
د حفظ الصحی مستخدمین (۸) تنه
د کرهنی په شق کښی (٦) «
دروغتیا په شق کښی (٦) تنه
دقابلی دمرستیالی شاگردانی (۱۵) تنی
دبلاك دمرکز مستخدمین (۱۵) تنه
دپوهنی په شق کښی (٤) تنه شبوونکی (٤) تنه پیادگان
دصنایع په شق کښی باشی او د کارمند شاگردان (۳۲) تنه
دلوگرد ددوهمی برخی د آمریت مامورین (۱۰) تنه
د کلی کار کوونکی (۱۵) تنه
دروغتیا دبلاك فنی کسان (۷) «
دپوهنی دبلاك « « (۲۰) «
دوه تنه دلیك پلټونکی
د لاسی چاروپه شق کښی (۵) تنه
د کرهنی په شق کښی (٤) تنه
دپروان دبلاك مامورین د کلی د کار کورنکو سره (۲۵) تنه
دروغتیا په شق کښی (۷) تنه
دپوهنی په شق کښی (۲٤) «
د کلیوالی صنایعو په شق کښی (۸) تنه
د کرهنی په شق کښی (۵) «
دمیرمنو دبهبود په شق کښی (٦) «
مستخدمین (۸) «
دروغتیا په شق کښی دقابلگی دشاگرانو سره (۱۵) تنه
دپوهنی په شق کښی مستخدمین (۱۵) تنه

د کـلیوالی صنایع مستخدمین اوشاگردان (٦٠) تنه
د کرهنی پهشق کښی (٤) تنه
دنورستان دبلاك آمر اود کلی کار کوونکی (١٦) تنه
اداری اودمحاسبی مامورین (٨) تنه
دروغتیا پهشق کښی (٨) »
دپوهنی پهشق کښی (١٦) »
د کلیوالی صنایع پهشق کښی (٧) »
دلیك پلټونکی (٢) »
د کرهنی پهشق کښی (١٥) »
دروغتیا » » » (٦) »
دمرکز » » » (٩) »
د کـلیوالی صنایع پهشق کښی (٤) »

معظم همایونی اعلیحضرت دشیوکیو پروژه ملاحظه فرمائی والا حضرت سردار محمدداود صدراعظم
دکلیودانکشاف دعالی شورا رئیس او دتجارت بناغلی وزیر د عالی شورا مرستیال هم دملوکا نه ذات په
حضور کښی د ملګرتیا په حال لیدل کېږی

دکلیو دانکشاف پنا غلی رئیس دنورستان دپروژی په شاوخوا کښې دهغه ځای دخلکو سره خبری اتری کوی

دکلیو دانکشاف چاری

دغه ریاست دخپل تأسیس له‌سرڅخه تراوسه پوری د کلیو دخلکو دذهنیت په‌روښانولو کښی دپوهنی اوحفظ الصحی له‌لیاری خدمت کړی اوپدغه باب ئی دخلکو سره دروغتیا ، کرهڼی ، باغداری اودڅارویو د روزنی دټاکلی پروگرام سره‌سم مرسته جاری ساتلی ده .

د کلیو دانکشاف عالی شورا :

۱- والاحضرت سردار محمد داؤد صدراعظم دعالی شورا د رئیس په حیث

۲- جلالتماب دتجارت وزیر « « دمرستیال «

۳- « د کرهڼی « « « غړی «

٤- « دپوهنی « « « « «

٥- « دروغتیا « « « « «

٦- « د کانو اوصنایعو « « « « «

۷- ښاغلی عبدالوهاب ملکیار د کلیو دانکشاف رئیس دعالی شورا منشی .

په‌افغانستان کښی د کلیو دانکشاف پلان ځکه‌ډیر مهم دی چه‌تقریباً په‌سلو کښی (۹۰)تنه په کلیو کښی اوسی ، دغه خلك اکثراً ځینی مشکلات لری چه هغه ددوی داوسنی ژوند په‌پرمختگ کښی خنډونه پیدا کړی ، د کلیو خلك روغتیا اودبدن وقایی ته‌اړتیالری ، په‌لیك اولوست نه‌پوهیږی ، د کرهڼی په‌مؤثرو لیارو اودتولید په‌زیاتولو خبرنه‌دی ، دژوندانه دحالاتودښه کیدو دپاره دځان سره دمرستی په‌فعالیتو کښی لږه برخه اخلی .

د کلیو انکشاف داسی وسایل پکاراچوی چه‌دهغو له کبله‌حکومت اوخلك په‌گډه کولای شی چه‌دهغو وسایلو څخه چه‌په لاس کښی‌ئی لری دټولو دژوندانه دښه کیدو لپاره دځانو سره دمرستی اوفعالیتو له لیاری زیاته استفاده وکړی .

ددغه ریاست یومهم پروگرام دادی چه خلك متحد کیدو ، دغو خدمتو او فعالیتوته تشویق اورابولی اودپروگرام هدف دادی چه‌په کلیو کښی د خلکو د پاره غذا ، جامی ، کورونه ، تفریحی اوسپورټی شیان په‌زیاته اندازه برابر ، دروغتیا اوپوهنی‌مسئلی ته‌ئی جدی پاملرنه کوی.

ددغه منظور له‌مخی د کلیو دانکشاف ریاست‌تیر کال دیوی‌خوا دخپلو انکشافی پروگرامو په زیاتولو کښی فعالیت کړی اودبلی خوائی په دغو لاندی بیلو بیلو پروژو کښی لارښوونه کړی ده :

۱- تربیوی او تجربوی پروژی : ددغوپروژو مرکز په شیو کیو کښی دی چه دبگر امیو

حکومت او د کابل دولایت د چهاردهی دحکومت یوه برخه پکښی شامله ده ، په‌دغی پروژی کښی ۲۸ زره تنه شامل دی .

د کلیو دانکشاف ښاغلی رئیس دنورستان د هکدې د بنټ تپټه‌زدی

۲- دلوگر دلومړی پروژه: ددغی پروژی‌مرکز په شیخك قلعه کښی دی د کلنګار حکومت او دمحمد آغی علاقداری پکښی شامله ده او تو له نفوس‌ئی (۵۷۳۷۰) تنوته رسیږی.

٤- دپروان‌دسیدخیلو پروژه:مرکز ئی دپروان په سیدخیلو کښی‌دی په دغه نامه‌یادیږی‌دجبل‌السراج محلی‌حکومت اودسالنګ علاقداری او د پروان داعلی‌حکومت‌یوه‌برخه هم‌پکښی‌شامله ده‌چه ددغی پروژی د کلیو نفوس (۷۵٤۵۰) تنوته رسیږی .

دپلان په‌څلورم کال کښی‌یوه‌پروژه اودپلان په‌وروستی کال به‌نوری دری پروژی تأسیس‌شی چه‌تولی اته پروژی کیږی ، پنځمه پروژه د نورستان د لنډی سین په‌سیمه کښی او نوری‌پروژی به‌په غزنی ، پکتیااوننګرهار کښی پرانستلی شی.

تربیوی پروګرامونه : هغه پروګرامونه چه د۳۹ کال دوری تر‌پایه‌عملی شوی دادی :

۱- د کلی کار کوونکی : د۳۸ کال د‌چنګاش په(۷) نیټه د کلیو د کار کوونکو دریم کورس د ګلزار د روزنی په مرکز کښی جوړ شو چه (۳۰) تنه زده کوونکی لری . ددغی پروژی خلك دپروان ، نورستان اودهغو شاوخوا تر‌پروژو لاندی ساحو لـه‌سیمی څخه تاکل شوی دی . یوبل کورس هم دځلورو هفتو دپاره د کلیود (٤۵)تنو کار کوونکو دمملو ماتو زیاتولو په‌غرض د۳۸ کال دمرغومی په(۱۸) نیټه پرانستل شو .

۲- د اساسی تعلیماتو منتظمین : د پلان په تیر کال کښی ۲۵۰ تنه د ابتدائی ښوونځیو ښوونکی دټولنی دلارښوونکو په کورس کښی وروزل شول .

۳ـ دفنی کسانو دروزنی‌دپاره یو کلن کورس پرانستل‌شو ددولسم ټولګی دفارغ‌التحصیلانو څخه یوولس تنو شاګردانو ګډون پکښی و کړ د۳۸ کال دوری په‌میاشت کښی دغه کورس شروع او په حوت کښی خلاص شو چه‌ددغه کورس (۷) تنه فارغ التحصیلان د جوړ شویو کوپراتیفو دصنایع دفنی مامورینو په‌حیث مقرر شول .

٤ـ متخصص یافنی کسان : د ۳۸ کال دلیندی په ۲۰ نیټه ددووهفتو یو کورس پرانستل شو ، چه‌٤٥ تنه فنی کار کوونکی پکښی شامل شوه .

٥ - دپروژی آمرین، دمراقبت هیئت اودفنی‌چارو پلټنه: دپروژو دآمرینو اوددغه ریاست‌دځینو مرکزی مامورینو دپاره‌د۳۸ کال دحوت د(٥)څخه‌تر(۲۷) پوری‌یو کورس دایرشوپه‌دغه کورس کښی دپروژودعمو می سروی،دپلان طرح او جوړولو ، دخلکوتشکیلاتو اود کلیوپه انکشافی پروګرامو کښی دهغو ګډون ته زیات اهمیت ورکړی شو .

٦ - دروغتیادفنی کسانو روزنه‌دشیو کیو دروغتیاپه یونټ کښی د روغتیاد فنی کسانوروزل دوام درلودچه پەدغه موده کښی (۱۳)تنه‌ډاکتران،ډاکترانو مرستیالان، کمپوډران او جراحان اویوه قابله د کلیو دانکشاف دپروګرام دکار په خصوصیاتو کښی دمعرفت او آشنائی لپاره شامله شوه، اوهم دشهرآرا دروغتون(۱٥) تنه قابلې دیوی میاشتی لپاره په دغه مرکز کښی وروزل شوی ، دغه رنګه یوبل کورس چه دوره‌یی یونیم کال‌ده دقابلو دشپږو تنو مرستیالو دپاره جوړشو چه‌د۳۸ کال‌دجدی‌په(۲۳)دغومرستیالوته‌دفراغت تصدیق ورکړشو .

دسنیټر ین دمؤسسی شاګردانو په تیرو دوو کلو کښی د غه صحی یونټ ته مراجعه کړی ، دوقایوی طب په شق کښی ئی دعملی مهارتو پیدا کولو دپاره کار کړی‌دی .

د کلیو دانکشاف دتاسیس څخه ترتیر کال پوری دغه چاری سرته رسیدلی‌دی :

۱ - کرهنه په‌زراعتی فعالیتو کښی دعملی نمایشاتو تر تیبول ،د کر هنی دښو لیارو ترو بج اوپراختیا، دونو اینبودل،دنباتی ناروغیو پرضد مجادله، دوریښودچنجیو رواجول اونور شامل‌دی چه ۹۹۲٥ سیره غنم دتخم لپاره پدغه موده کښی پاک شوی ، او۲۸۰۰ سیره غنم د سیر یسان ددواسره ګډشوی‌دی، دغه‌رنګه سل‌عملی نندارې په بیلوبیلو موادو کښی خلکوته ښودل‌شوی‌دی هم (٤٥۰۰) دمیوه لرونکو ونونهالګی اینبودل شوی او۱۲۸٦ ونی پیوند شوی‌دی، دغه‌رنګه‌په ٦۱٦٤۳ تا کسانو او(۲۲۸۱۹) بیلوبیلو ونوباندی‌د(سلفر)او(ډی، ډی‌تی) دواشیندل شوی‌ده دسابو دوه‌سوه پاکټه تخم خلکوته وویشل‌شو ، ددر یښمو د چنجیو درواجولو دپاره ۳٦ کځوړی تخم بزګرانوته ورکړشو، یوه قوریه چه ٦۰ زره نهالګی پکښی اینبودل شوی دی په ګلزار کښی پرانستل شوه .

دبیطارۍ چاری هم په زړه پوری روانی وې، او پدغه موده کښی (٤٨٦٠١) څاروی تداوی شوی اودبیلو بیلو ناروغیو پرضد(٧٧٩٥٥) څارویو ته ستنی ووهل شوی، ١٦٦٦٥ څاروی خسی او پر١٩٣ څارویو مصنوعی القاح عملی شوه .

١ - د کورنی چرگانی روزنه : ٧٧٩٥٥ چرگان دچرگ مرگو دناروغۍ پرضد پیچکاری شول ، او دبیلو بیلو جنسو نو ٣٨٨ چرگان او ٥٨٠ د انې هگۍ اصلاح او بزگرو ته وویشل شوی .

٢ - عامه روغتیا (وقایوی اومعالجوی طب) :

پدغو درونیمو کلونو کښی د (٤١٥٢٦٥) تنو بیلو بیلو ناروغانو تداوی او علاج شوی دی او(١٣١٨٣١) تنه د کوی ، اولوئی تبی پرضدخالکوبی اوپیچکاری شوی دب ، سی، جی آزموینه پروشوه، ٦٠٠امیندواره میرمنی راجسترشوی اودزیږیدنی (١٠٦٩)پیښی دقابلو اودقابلو دمرستیالو په واسطه اجراشوی دی، دغه رنگه (٣٠٠٠) وړو کی دوړو کو په کلینیك کښی ترصحی پاملرنی لاندی راغلی دی ، ٤٨ صحی څاگانی کیندلی شوی اودابو بمبی پکښی درول شوی دی، اویوه چینه چه په کلی کښی وه داوبو مخزن ځنی جوړشو، ددغی چینی او به په نلونو کښی کلیوته رسول کیږی ، پدغه موده کښی (١٤٩٢) بیت الخلاوی اصلاح شوی اوپه ٢٤٥ کورو کښی چه بیت الخلاوی ئی نه درلودی دروغتیا دشرایطو سره سم بیت الخلاوی جوړی شوې، او(٩) عمومی بیت الخلاوی جوړی شوی .

دحمای لکه دار دناروغۍ پرضد دپوډر شیندلو کلنی پروگرام په منظم ډول عملی شو ، په ٥٩٥٦ کورونو ، ٢٢٧ مسجدونو ، ٢٢٤ دکانو او (٢٠) ښو و نځیو کښی پوډرو شیندل شول .

٣ - کوچنی صنایع : د کوچنیو صنایعو په برخه کښی دترکاڼۍ اوچرمگرۍ دانکشاف په لیاره کښی اقدامات شوی دی .

٤-پوهنه اواساسی تعلیمات :

په دغه موده کښی دهلکانو(٣٤) بابه کلیوالی ښوونځی اودنجونو (١٣)بابه کیلوالی ښوونځی پرانستل شوی دی، دنجونودوه ښونځی په شیو کیو او چار اسیاب کښی ترشپږم ټولگی پوری رسیدلی دی .

ددې لپاره چه دخلکو په منځ کښی بیل بیل تربیوی ، کلتور او تفرجی فعالیتونه پراختیا

ومومی او ددوی دغونډیدو دپاره یوځای تهیه شی په اوسنیو پروژو کښی دټولنی(۱۳) مرکزونه پرانستل شوی دی اوهم دلویانو (۱٦) ټولگی جوړ شوی دی .

۵ - دټولنی بهبود :

په بینی حصار کښی دمیرمنو دبهبود د مرکز او د کمری او چهار آسیاب دفرعی مرکزو په مینځ ته راتلو کښی د شیو کیو په تربیوی او تجربوی پروژی کښی د (۱۳۳۷) کال په پای کښی دټولنی دبهبود اساس کیښودل شو .

تر اوسه پوری (٤۳) نجونو ددغه یو کلن کورس څخه استفاده کړی ده او تدریسی هیئت ئی یوه مدیره داوبدلو ، گنډلو ، گلدوزی ، سوزن کاری لیك او لوست ، کورنی چار و دوړو کودروزنی اووړ کتون ښوونکی دی د۱۳۳۸ کال په غبرگولی کښی یوبل داډول مرکزدلوگرپه لومړی پروژه کښی پرانستل شو. د روغتیا دمرکزونو په څنگ کښی وړ کتونونه هم جوړ شول اوس په دغه مرکز کښی شپږ وړ کتونونه شته چه (۵۰۰) وړو کی پکښی شامل دی .

٦ - د کلیو ودانی :

د کلیو دودانی دنقشی سره سم دوه کورونه ودان شوی او نورلس کورونه بشپړیدوته نژدی دی او دنورو دوو کورونو په ودانولو به هم شروع وشی دغه کورونه دخلکو په مرسته دحکومت په لگښت دپور په ډول ودانیږی .

شاغلی فدامحمد فدائی

بریښنا په افغانستان کښی

له څلویښتو کالو راپه دی خوا برق په افغانستان کښی جاری شوی دی د جبل السراج دبرق دتولید دستګاه په افغانستان کښی د برق څخه داستفادی اساسی مرحله ده اوپه مملکت کښی داوبو دبرق له طاقت څخه د استفادی کولو دوهمه مرحله په ۱۳۱۳ کال کښی د قندهار دبرق دتولید ددستګاه اوپه ۱۳۱۵ کال کښی په هرات کښی د برق دتولید ددستګاه اوپه ۱۳۱۹ کال کښی په کابل کښی دوردګو دچلک د برق د تولید ددستګاه اوپه ۱۳۲۰ کال کښی



دسروبی دبرښنا لومړی توربین

دقطغن په ولایت کښی د پلخمری دبرق دتولید د کارخانی او نورو غټو اووړو آبی او ډیزلی دستګاؤ په کار اچول دی .

په افغانستان کښی تر ۱۳۳۰ کال پوری هغه عمومی طاقت چه له برق څخه حاصلیده (۱۱) نیم زره

کیلواته ؤ ددغو دستګاؤد کال تولیدات په یو ساعت کښی د کیلوات له مخی په کال کښی ۳۵ تر ٤۰ ملیونو کیلوات ساعته اټکل شوی دی .

دسرویی د بریښنا دستری دستګاه د بند یوه منظره

په افغانستان کښی د کیلوات ساعت په حساب د برق د طاقت د کال اوسنی تولیدات .

له آبی دستګاؤ څخه تقریباً ۱۳۰ ملیون کیلوات ساعته په یوه کال کښی

له ډیزلی دستګاؤ څخه « ۹ « « « « «

د بخار له دستګاؤ څخه « ۸ « « « « «

یقین دی چه د ۱۳٤۱ کال په پای کښی به په ټول افغانستان کښی له همدغو اوسنیو دستګاؤ څخه دا نرژی تولیدات په کال کښی دوه سوه ملیونه کیلوات ساعتوته ورسیږی دغه په کال کښی دوه سوه ملیونه کیلوات ساعته انرژی په لاندی ډول مصرفیږی :

۱- تقریباً له اوسنی انرژی له دریو برخو څخه د وه برخی د مملکت د صناعتی څرخونو د ګرزولو د پاره مصرفیږی .

۲- د برق د اوسنی انرژی دریمه برخه په مملکت کښی د تنویراورنیا کولو د پاره مصرفیږی.

۳- اوس اوس تقریباً ٦ تر ۸ په سلو کښی تولید شوی انرژی په مملکت کښی د تسخین

اودتودوخی دپیدا کولو پەغرض مصرفیبزی.

پەافغانستان کښی دبرق هغه پروژه چه تر کار لاندی ده :

دنغلو دبرښنا پروژه چەتر کار لاندی ده: نغلو دپایتخت پەختیزه ۷۳ کیلومتری سیمه کښی پروت دی . اودپنجشیر ، کابل اولوگر درودخانو د یوځای کیدو نقطه ده دنغلو دبرق دتولید پەپروژه کښی یوستر بندشامل دی چەدنغلو پەتنگی کښی جوړ یبزی دغه بند به تقریباً له اتیا تر نوی مترو پوری لوړوالی ولری او د غه بند دبرق دتولید په استفاده سربیره د اوبودذخیره یوستره کاسه هم تشکیلوی چەیوه څو کیلومتری سیمەاحتوا کوی او کوم وختچەاوبه لبزی شی ذخیره شوی اوبه پەپوره اندازه دلاندنیو سیمو داستفادی دپاره جاری کوی .او ضمناً ددغی ذخیری موجودیت ددغی برخی د خواوشا سیمو هوا نبه کوی . او دهغه څو کیلو متری سیمی نسبتی لندبل لامساعد کوی اودگ.ټورو بارونو د پارەئی آماده کوی . هغەجنریترونه چه پە دغه بند کښی دبرق دتولید پەغرض نصباو پە کار اچول کیبزی . دځلوینبتوترشپیتو کیلواټو پوری ظرفیت لری اود کال پەټوله موده کښی پەیوه تاکلی اندازەچه دماشین لەآخرنی ظرفیت څخه عبارت دی قوه تولیدولی شی .ددغه بند اهمیت اوپیر مساعدت پە دی کښی دی . چه دهغه پەپشپر کیدو سره ددوهم سروبی او دریم سروبی دبرق دپروژی امکانات هم پیدا کیبزی ځکه پەورینەمین تنگی کښی دنغلو داوسنی بندځخه پنځلس کیلومترەښکته دبرق ددؤوسترودستگاؤ دتاسیس امکاناتموجود دی . چەددوهم سروبی اودریم سروبی دپروژی پەنامه تر دستنی لاندی



د سروبی دبرښنا دو دانیو یوه برخه

نیول شوی دی، په هرحال د نغلو د برق کارخانه به چه همدا اوس د شروع کیدو په مرحله کښی ده . د شپږو کلونو په موده کښی تولیدته آماده شی او په انتهائی پول سره به د شپیتو زرو کلیواتو د تولید ظرفیت ولری چه په یوه شوارو ز کښی د ۱۲ ساعتو په حساب چه د ماشینو د گرزولو د پاره به چالا نی و ی د یو کال تولیدات به ئی چه که په پوره ظرفیت مصرف شی ۲۵۰ تر ۲۶۰ ملیونو کلیوات ساعته انرژی ـ ته و ر سیږی . د نغلو



د کندهار د بریښنا د تولید دستگاه

د برق د انتقلو لو د پاره د سروې د برق له اوسنیو پایو څخه کار ا خستل کیږی .

د دوهم پلخمری د بریښنا پروژه چه کارورباندی کیږی :

د دغی دستگاه کار په ۱۳۳۸ کال کښی شروع شوی دی اوهیله ده چه په ۱۳۴۱ کال کښی سرته ورسیږی او په تولید پیل و کړی .

کوم و خت چه دولت په ۱۳۳۷ کال کښی له دغو د وو پر و ژ و څخه د یو ی د تطبیق یعنی د د و هم پلخمر ی د کا ر خا نی د جوړو لو لـز و م د ۴۵۰۰ کیلو ا ټـو په ظر فیت حس کړ ا و د هغی د سر و ی کا ر ئی د بر یښنا لو ی شرکت د شو ر و ی متخصصینو په وسیله شروع کړ . د بریښنالوی شر کت د تخنیکی تجربو په سیوری کښی څر گنده کړه چه په دغه ځای کښی چه پخوا ځلور زرو کیلواتو په ظرفیت د دو و پروژو پیشبینی شوی وه د ۹ زرو کـلیواتو په ظرفیت دیوی کـارخانی د جوړولو امکانات موجوددی اودغه چانس هم له اقتصادی پلوه گـټوردی چه د دؤو کـارخانو په ځای یوه کـارخانه جوړه شی . اوهم د احتیاج لـه مخی د پره انرژی لا س ته رائی او په دغه سیمه کښی د صناعتی انکشاف پلان د تطبیق امکان پیدا کوی په دې وجه د دؤو پروژو د پخوانیو مفـکو ری په ځای د پیری پرو ژی ودانول چـه پـه یوا زی

سربه۹ کیلواته یعنی ترنورو دۀوپروژو زیات برق تولید کړی شی قطعی شو . اوپه دی ترتیب تقریباً دوه سوه ملیونه افغانی له ساختمانی مصرف څخه مملکت ته صرفه جوئی شوی . دنوی کارخانی دنصبیدو ځای ته زمان خپل وائی چه دپلخمری دښار په شمالی برخو کښی جوړشوی دی دغه دستگاه سمنټو دنوی جوړی شوی ستری کارخانی، دپلخمری دسیلو اودموټرانو دترمیم خانی او همدارنگه دبغلان دنساجی ددستگاه اودهغه ځای دشاوخوا نورو تاسیساتو برقی اړتیاوی پوره کوی .

دننگرهار دولایت دبرق دپروژی ددرونتی تر کار لاندی بند :

په نظر کښی د ی چه دغه پروژه په ۱۳۴۴ کال کښی سرته ورسیږی اوپه فعالیت پیل و کړی ددغی پروژی مربوط دبرق دستگاه پخپله په بند کښی جوړیږی اوځه نه څه دشپږو زرو کیلواټو دتولید ظرفیت لری او دننگرهار دمرکز اودننگرهار دسیمی دصناعتی انکشافاتو دپاره برق ور کوی . که ممکنه شی ددغی دستگاه عمومی تولیدات چه په پوره ظرفیت اوپه شواروز کښی ۱۵ ساعته په فعالیت کښی وی په کال کښی به ۲۵ تر ۳۰ ملیونو کیلواټ ساعته انرژی ور کړی .

دقندهار دولایت تر کار لاندی برقی پروژی :



دهرات د ډیزلی بریښنا دستگاه

۱ - ددغې بندچه له اوو کالو راپه دې خوا داضافې اوبو دذخیرې کولو اودارغنداو دسیند داوبو د منظم کولو د پاره سرته رسید لی دی د هغه په مخرج د هلمند کښې د۹ زرو کلیواتو په طاقت دبرق دیوی کار خانې جوړول په نظر کښې نیول شوی دی اود کار خانې دآینده جوړولې امکانات داوبو دمخرج په نلونو کښې اینبودل شوی دی دارغنداب ددهلی دبرق دتاسیس مقدماتی چارو خپل لمړنی مراحل طی کړی دی اوژر به دهغې دجوړولو کار شروع شی .

۲ - وروسته ترهغه چه اوبه منظمې شی اوددهلی بند بیاپه سینه کښې جریان وکړ دهغې فرعی پروژې چه دظاهرشاهی ستر کانال څخه عبارت دی دسیندپه جنوبی اړخ کښې شروع شوې اوداوبو کرښولو دیوه اساسی بندپه وسیله ددغه کانال دپاره اوبه راوګرځولی شوی ظاهرشاهی کانال دقندهار دفیل کوه پەبرخه کښې پەدوو برخو ویشل شوی یوه برخه کښې دویالی په پخوانیو مجرا پاتاب اوبله برخه ئې دترنک په سمت کښې (دقندهار هوائی بین المللی ډګر) خواته تللی دی . پەلمړۍ برخه کښې چه پاتاب دی آن په هغه ځای کښې دباباولی پەنامه دقندهار دآبی برق وړه کارخانه جوړه شوی ده یوسل متریز سر کوب ترپخوا له زیاتو اوبو سره پیداشو اود هغې لمړنۍ سروی پەاترچه دموسسې لەخوا شوی دی پەدغه ځای کښې د ۱۸۰۰ کلیواتو پەظرفیت دآبی برق دیوی کارخانې د جوړولو امکان پیداشوی اودغه کارخانه پخپل ذات کښې ډېره ښه او ارزانه کارخانه ده . ځکه جوړونه ئې نیمائی تمامه ده او یوازی د پاپلین نصبول غواړی . دقندهار پەځلور کیلو متری کښې په هغه برخه کښې چه کانال دفیل کوه له کوتل څخه دقندهار دښار خواته راشیوه شوی دی یوه متریز آبشار پیدا شوی دی دبرښنالوی شرکت دسرو بی تعمیراتی توربو جنراتو دوه دستګاوی چه هره یوه ئې ۳۵۰ کلیواته ظرفیت لری دقندهار له برق سره دآنی مرستی دپاره په دغه ابشار باندی دنصبولو دپاره تخصیص کړی دی اودهغو تولې پرزې ئې نه وی کړی دی . اوتقریباً دپنځه ملیونو افغانیو لګښت ئې منلی دی .

دبرقی تولید شوی طاقتونو اقتصادی نتیجی اومقایسه .

په لنډ ډول ددغو تاسیساتو دیوه کال تولیدات دکلیواتو ساعتو په حساب دغه لاندی ارقام افاده کوی .

الف : - له نصب شوو دستګاؤ څخه دبرق دانرژی تولیدات په کال کښې ۲۰۰ میلونو کلیواتو ساعته:

ب :- پنځه کاله وروسته ترساختمان لاندی دستګاؤ څخه دبرق دانرژی تولیدات په کال کښې ۳۶۷ میلو کلیواتو ساعته

پەدی حساب بەزمونږ گران ملک د ۱۳۴۶ کال ترشروع کیدو پوری دبرق دتولید پەستړو

دستګاؤ مجهزشی اوپه عمومی ډول به په کال کښی ۵۶۷ کیلواټ ساعتو انرژی امکانات برابر کړی .



دهرات د ډیزلی برېښناوډانۍ

دتنویر،تدویر اوتسخین لهمخی تقسیمات :

۱ ـ دصناعتی دستګاؤ دخرخولو دپاره تقریباً په سلو کښی ۶۰ ـ له ۳۴۰ ملیونو او ۲ لکه کیلواټ ساعتو څخه

۲ ـ دتنویر او رڼا کولو د پاره تقریباً په سلو کښی ۳۰ له ۱۷۰ ملیونو او یو لک کیلواټ ساعتو څخه

۳ ـ د تسخین او حرارت دپاره تقریباً په سلو کښی ۱۰ له ۵۶ ملیونو او ۷ لکه کیلواټ ساعتو څخه

الف ـ کهچیری ۳۴۰ ملیونه کیلواټ ساعت تو لیدشوی طاعت په منظم ډول دمملکت دصناعتی خرخونو په ګرزولو کښی په کار واچولشی صناعتی تولیدات بهلهاوس نه څلورچنده لوړشی . اوهمدا رنګه بهتر اوسنۍ اندازی څلور چنده زیات کارګر پهصناعتی شقونو کښی زیات شی پهدې سربیره زما په عقیده ممکنهده پهسلو کښی اویا دخارجي استهلاکی مالونو

وار دول کم کړی شی اوپه مقابل کښې بهئی دماشینواوتولیدی آلاتو واردول چه پخپله د کار اندازه پراخوی اودملی اقتصاد دښست لهتینګولو سره مرسته کوی زیات شی .

ب : ـ هغهاغیزی چهله ۱۷۰ ملیون کیلوات ساعته طاقت څخه د کورونو پهرو شبانه کولو کښې ظاهر یږی .

۱ ـ تقریبه پنځه چنده تراوسنی اندازی د کورونو د رنا کولو او څو تنویرا تو پیمانه پراخیږی اوپه دی وسیله دخاوری دتیلو اونورو تنویری موادو دوا ردولو اندازه کمیږی .

۲ ـ په کورونو کښې لهراډیو څخه استفاده زیاتیږی اودعامو خلکو دمعلوماتو پهزیاتولو کښې ښه خدمت کوی .

ج : ـ هغهاغیزی چهد تسخین او حرارت په پیدا کولو کښې د ۷۶ ملیون کیلوات ساعته طاقت له په کار اچولو څخه پیدا کیږی .

۱ ـ یو کیلوات ساعت برق له ۸۰۰ تر ۱۰۰۰ کالوریو پوری تودو خه تولید وی .

۲ ـ کهچیری دغه کالوریدلر یواوسکرو لهسون څخه لاس تهرا و ړو دبرق دیوه ساعت مصرف پهمقابل کښې باید دری کیلو لرګیوسو ځول شی چهمطلوبه کالوری لاس ته راشی .

۱۳ ـ دتسخین دپاره د ۵۷ ملیون کیلوات ساعته طاقت په کار اچولو سره دتودو خی دتولید او پخلی دپاره په هر کال کښې په مملکت کښې ۳۰۰ لکه خروارولرګیود سو ځولو څخه نیوله کیږی .

٤ ـ ددومره لرګیو دسو ځوولو پهمخنیوی سره بهپه مملکت کښې تقریباً پهسلو کښې ٦۰ دلرګیو دسو ځولو میزان راښکتهشی اوپه دی ترتیب بهدونو له قطع کولو چه دمملکت دسرسبزی اوباران اونسبتی لندبل دساتلو باعث دی مخه ونیو له شی .

ماهی پر ډکابل دښار په ٤۰ کیلومتری ختیزه سیمه کښې :

دماهی پر پروژه کولی شی چهپه ابتدائی طرفیت سره تقریباً ۱۲ زره کیلواته اوپه انتها یی ظرفیت سره چهد کال پهاوو میاشتو کښې چهداوبو دزیا توالی پهنسبت ئی لری د ۳۵ کیلواتو طاقت ظرفیت ولری دماهی پرپه پروژه کښې داوبو دفشاردیو داسی تونل سامان دی چه دماهی پر لهابشار څخه دری سوه متر بر شروع کیږی اود غره په نس کښې ددری نیم سوه کیلومترو په سوری کولو سره تقریباً دری نیم سوه متره سر کوب ښئیی پهدغه ځای کښې ۳۵۰ متری سر کوب پهپیدا کیږو سره چهحتی درودخانی داوبو لهاقلامه څخه پورهقوه لاس ته راوړی شی . د د غه تونل په آخره برخه کښې داوبو دقصر پهنامه دیوی ستری مخروطی شاه په وسیله له ۳۵۰ متر

لوړ والی څخه‌ډیوه داسی پاپ‌لین په وسیله چه‌قطر ئی له‌یومتر څخه‌لږ زیات وی . دتوربینونو دپاسه اوبه جاری کیږی اود کال په‌اوو میاشتو کښی حتی کیدی‌شی چه‌د توربینو دا کښر حد له ظرفیت څخه چه‌له ۳۵ زره کیلوا تونه عبارت دی استفاده‌وشی، دفشار تونل‌ته داوبو دراگر زولو دپاره د کوم بند ضرورت نه‌لیدل کیږی اود یوه ساده آب گردان په وسیله‌چه‌د تیزولر ویر په‌نامه یادیږی اوبه تونل‌ته ور ځی . ددغی پرو ژی تخنیکی لو یه شیگړه پـه دی کښی ده څرنگه چه‌د سروبی په‌خلاف داوبو گرز ولو د پاره د کوم بند جوړ ولو ته ضرو رت نه‌پاتی کیږی نودبند په کا سه کښی دشگی درسوب پرو بلم اصلا دبحث موضوع نشی کیدی ددغی پروژی اقتصا دی لو یه شیگړه دا ده چه‌دهغی کار تر دریو کالو زیات وخت نه نیسی او ددغی پروژی دیوه کیلواټ برق تمامیږه ۱۱ تر۱۳زرو افغانیو ته رسیږی . چه‌په مملکت کښی هیڅ کومه‌برقی پروژه په‌دومره ار زانی سره ترتطبیق لاندی نشی‌نیول کیدی .

ددوهم او دریم سروبی دبرق پروژه :

دلمړی سروبی په پروژه کښی یوستر بند شامل‌دی چه‌د وریښمین تنگی‌په‌لمړی تنگنا کښی واقع دی‌اویو ستر تونل هم‌پکښی شامل‌دی چه۳۷۰۰ متره اوزددی. همدا رنگه داوبودموازنی یوه کوټه لری . چه‌دتونل په‌اخره‌برخه کښی‌واقع دی‌چه‌دتوربینوپه صورت داوبو دجاری کولو موازنه‌برابروی‌له‌هغه‌علاوه دلمړی‌سروبی‌پروژه‌په سروبی کښی‌دمتصاعدولت‌دترانسفارماتورو نور یـو ه ستر ه د ستگـا او د ۱۱۰ ولتو عمومی لین یودوی دستگا وی لری چه تولید شوی برق د گلبهار او کـابل خواته نقلوی . د دغو دوۀ لینو په‌انتها کښی یعنی برښنا کوټ او د گـلبهار دفابریکی په‌احاطه کښی دسب ستیشن دوه دستگا وی مو جو دی دی . چه تو لید شوی طاقت بیرته‌په ۱۵ زره اوشپږزره ولته بدلوی اودتنویر اوتدویر داستفادی د پاره ئی برابر وی .اوس په سروبی کښی دبندله‌ښی‌اړخ څخه‌داوبو دتونل خوله جلا کیږی.او کوم‌وخت‌چه دبند دروازی شکته کیږی . داوبو سطح‌تقریباً ۱۸ متره جگیږی . او په تونل کښی ننو زی .اوددغه تونل په‌وسیله داوسنیو دوۀ توربینو دپاره اوبه جاری کیږی. خو اساساً د لومړی سرو بـی پر و ژ ه ٤٤ زرو کیلواټو په‌ظرفیت‌څلورتور بینونه لری‌چه دما لی مساعدت‌نشته‌والی په‌نسبت‌په‌هغه‌وخت کښی د ۲۲ زرو کیلواټو په ظرفیت د همدغودو ۀ توربینواو همدایوه اوسنی تونل په سوری کو لو قنا عت شو ی او د پروژی نیمائی برخه مساعد وخت ته پاتـه شوه .

بایدوویل شی چه ددوهم‌سروبی پروژه کولی شی‌چه ٤٤زره کیلو اټه برق تو لید کړی‌او په همدی پول دریم سرو بی هم منځ ته راتلی شی .

په مزار شریف کښی د چشمه شفا پروژه :

تر کومه ځایه پوری چه امپنیو کښنو ثابته کړی ده په مزار شریف کښی دابی برق دتدارک وپر ښه ځای چشمه شفا ده په دغه پروژه کښی دری توربینونه په نظر کښی ئیول شوی دی چه په ترتیب سره دضرورت له مخی یو یو توربین نصب او په کار اچول کیدی شی په مزار شریف کښی اوس له ډیزلی ماشینو څخه کار اخستل کیږی او د چشمه شفا نه پرته په نورو ځایو کښی د آبی برق دانکشافاتو امکانات تر کتنی لاندی نه دی نیول شوی .

د قندهار د کجکی په بند کښی :

د کجکی په بند کښی یوه داسی دستگاه په کار اچولی شوچه تریولك کیلواتو پوری ظرفیت ولری خو ترڅو پوری چه ستر صناعتی انکشافات چه وکولی شی چه ددغی دستگاه ټول تولید شوی برق استهلاك کړی په قندهار کښی ونشی . ددغی دستگاه جوړول اقتصادی نه ده او میزی خو بیا هم دغه پروژه په آینده کښی د ډاډ گیرنی وړه او داسی ورځ به راورسیږی چه له دغه ځی څخه پوره انرژی حاصله شی او په صنعت کښی په کارو اچوله شی .

هغه پروژی چه په آینده کښی د هغو د تکمیلیدو هیله شته په لاندی ډول تولیدی ظرفیت به ولری .

۱ ماهی پر ددغی پروژی د کال ټول تولیدات به د کیلواتاوو په حساب په منځنی استفاده په شواروز کښی پنځلس ساعته شل زره کیلواته، په یوه کال کښی تقریباً ۱۰۰ میلون کیلو اتساعته وی.

دوهم اودریم سروبی: زمونږ ددغی پروژی ټول تولیدات چه په مجموعی ډول داتیا زرو کیلو اتو په ظرفیت پیش بینی شوی ده په یوه شواروز کی د پنځلسو ساعتو په استفاده کولو سره تقریباً ۳۷۰ ملیون کیلواتساعته کیږی .

دچشمه شفا پروژه : ددغی پروژی د یوه کال ټول تولیدات څلور زره کیلوا ته دی او که په یوه شواروز کښی ۱۵ ساعته کار وکړی تقریباً ۲۰ ملیون کیلواتساعته د کیږی کجکی د بند د برق پروژه چه تریولك کیلواتو پوری هم د توربینود څرخو لو ظرفیت لری خو که په لږ په صورت د ۶۰ زور کیلو اتو په ظرفیت په نظر کښی و نیول شی او په شواروز کښی ۱۵ ساعته جاری وی تقریباً ۳۰۰ ملیوو کیلوات ساعته کیږی .

د غزنی دسنائی دبریښنا لیمتد

دغه موسسه د ۳۹ کال په سر کښی د غزنی بریښنا لمیتد په نامه جوړه شوه چه دهغی ابتدائی پانګه یوملیون او انتهائی پانګه ئی یو نیم ملیون افغانی دراو دیو شمیر اشخاصو اودغزنی دښاروالی دریاست له خوا به تمرکز ومومی، کوم اجراآت چه په دی باره کښی شوی دی دسرمایی له تولولو او دډیزلی ماشینو د آردرله ورکولو څخه عبارت دي چه په دی باره کښی له خارجی کمپنیو سره ددغو ماشینو راوړلو او د ښاری شبکی دلوازمو د تهیه کولو تړونود کولو دپاره تماس شروع شوی دی .

د مزار شریف بریښنا :

د مزارشریف د برق شرکت د بریښنا لوی شرکت او دمزارشریف د ښاروالی په سر مایه د ۱۳۳۵ کال دثور په میاشت کښی تاسیس شو او ددغه کال د اسد په ۱۹ رسماً پرانستل شو په هغه وخت کښی له یوه ډیزلی ۲۵۰ کیلواټه ماشین نه برته چه پخوا د بریښنا لوی شرکت له خوا نصب شوی ؤ نور اقدامات نه ؤ شوی خو د مزارشریف د برق د نمایندګۍ د اقدام په اثردنویر سامان او لوازم تهیه شول او دستګاه د ۱۳۳۶ کال د اسدپه ۳ تاریخ په کار پیل وکړ اود مزارشریف د ښار خواوشا ځایونه تنویر شول په دغه اقدام پسی دتخنیکی سامان او لوازمود تهیه کولودپاره اقدام وشو او د زیمنس له کمپنۍ سره قرار دادوشو همدار نګه دبرق د برجونواو دسب د عمومی ستیشن اوددفتر او ورکشاپ ودانۍ بشپړی شوی چه که د مزارشریف آبی برق په کارواچول شی له دغوساسیاتو څخه به هم استفاده وشی اوس په مزار شریف کښی زیات کورونه دولتی د ائری ، موسسی، واټونه اود کانونه تنویر شوی دی .

افغان ملی بانک

افغان ملی بانک دلومړی بانک په حیث د ۱۳۱۲ کال په غوښی کښی پرانستل شو،

تشکیل:

د عالی شورا رئیس	ښاغلی عبد المجید
د « « « کفیل	« محمد عمر
دعامل هیئت رئیس	« حکم چند
تجارتی اوصناعتی مرستیال	« عبدالرحیم مجید
دنظار هیئت رئیس	« محمد موسی کاظم
« « مرستیال	« عبدالاحمد
دلیک آمر	یو تن
دنظار دریاست غړی	دوه تنه
دپلټنی لوی مدیر	یو تن
دمحاسبی دداخله اوخارجه نمایندګی دخانګی آمر	« «
دمحاسبی دطلباتو دخانګی آمر	« «
دجاری حساب دخانګی آمر	« «
خزانه دار	« «
دمامورینو مدیر	« «
تجارتی «	« «
دپانهو «	« «
دتنظیماتو دخانګی آمر	« «
دمیو ند جادی دښاری خانګی آمر	« «
د کلوب مدیر	« «
دتعمیراتو رئیس	ښاغلی خان محمد
دخیریه خانګی آمر	یوتن

ددغی مؤسسی چاری: په خارج کښی دملی بانک دنمایندګیو له فعالیتو څخه یو دمالو نو دبیمی په باب اقدام دی، دافغانستان صادراتی مالو نه دبیمی د کمپنیو په واسطه په هامبورګ کښی دملی بانک دخانګی او دافغانستان ددی تر بدنګ کمپنیو له خوا په لندن او نیویارک کښی بیمه کیږی.

د کراچی افغان ملی بانک ددی دپاره چه پدغه باب دمعامله لرونکو گټه په نظر کښی ونیسی او آسانتیاوی برابری کړی دیمود کمپنیو سره ئی خبری کړی اودهغو دنرخونو شرطونه ئی مطالعه کړل اوپه هغو کښی دسوت برتش انشورنس کمپنی شرایط اودنرخونه وړاو مناسب وو .

اوس د کراچی افغان ملی بانک دسوت برتش انسورنس کمپنی دنماینده په حیث دمالونو د صادر کوونکود خبرتیاپه وخت کښی دهغومالونه پههغه مناسبه بیه او شرایطو بیمه کوی.

دجاری اوامانتو حسابونو حالات

الف جاری حسابات :

د ۳۸ کال تله	۹۲۰۷۸۸۴۰	افغانی	وری	۱۱۰۴۰۹۷۳۸	افغانی
« « « لړم	۱۰۲۶۵۶۸۰۶	«	غوئی	۸۰۹۳۱۸۲۱	«
« « « لیندی	۱۰۷۹۶۲۱۷۱	«	غبرګولی	۸۳۹۳۱۸۲۱	«
« « « مرغومی	۱۱۸۲۰۰۲۸۳	«	چنګاښ	۸۴۱۱۲۹۵۲	«
« « « سلواغه	۱۲۲۰۴۳۱۲۴	«	زمری	۸۳۸۴۵۳۱۲	«
« « « کب	۱۳۲۷۴۹۱۵۹	«	وزی	۸۵۳۲۷۶۹۵	«

د(۱۳۳۹) کال جاری حسابات

ب- په ۳۸ کال کښی امانت حسابونه: په ۱۳۳۹ کال کښی امانت حسابونه:

تله	۱۳۳۶۰۹۱۱	افغانی	وری	۱۲۸۳۶۶۰۶	افغانی
لړم	۱۲۲۳۱۷۴۷	«	غوئی	۱۱۵۰۲۸۴۸	«
لیندی	۱۲۵۵۲۷۹۱	«	غبرګولی	۱۱۵۰۲۸۴۸	«
مرغومی	۱۱۵۹۳۰۷۴	«	چنګاښ	۱۱۹۰۶۴۲۰	«
سلواغه	۱۰۹۶۷۶۹۸	«	زمری	۱۲۳۲۷۴۸۵	«
کب	۱۳۰۶۸۶۷۲	«	وزی	۱۲۸۲۹۳۰۵	«

دملی بانک پورونه په لاندی ډول دی :

په ۳۸ کال کښی :	داعتبار پور	دمال التجاری پور	دسهم اوزیور پور	کریدت لیتر آف
تله	۸۴۲۴۹۲۱۵/۹۳	۳۵۳۶۰۴۵/۹۸	۱۸۶۲۵۴۹۸/۸۴	۲۸۳۷۱۶۹/۷۷
لړم	۸۵۱۲۰۴۸۰/۱۷	۶۰۶۷۳۵۹/۸۲	۱۹۰۰۴۹۰۰/۶۰	۲۴۴۷۷۵۳/۶۹
لیندی	۸۲۳۸۹۷۴۹/۱۷	۵۶۴۴۳۶۶/۷۲	۱۷۷۳۵۹۹۲/۰۴	۱۷۷۰۰۰۳/۵۷
مرغومی	۸۱۹۴۲۴۵۰/۳۹	۶۷۹۳۷۲۵/۴۳	۱۶۹۸۵۵۳۴/۳۵	۶۴۱۶۸۱/۲۱
سلواغه	۸۴۶۶۸۰۵۵/۲۸	۷۵۹۸۷۷۲/۰۱	۱۶۸۵۳۳۲۷/۵۸	۸۶۹۵۸۱/۲۵
کب	۸۹۴۰۴۹۴۲/۱۸	۴۵۸۴۱۸۵/۷۸	۱۷۶۴۶۰۳۸/۱۷	۹۷۳۸۴۱/۱۳

په ۳۹ کال کښی : داعتبار پور دماالتجاری‌پود دسهم‌اوزیورپور کریدت‌لیتر آف

وری ۱۳۳۲۲۶۲/۹۸ — ۱۷۶۹۶۳۶۶/۵۸ — ۴۹۲۷۷۰۰/۹۹ — ۹۸۳۱۴۱۲۲/۱۸

غوئی ۷۹۸۰۶۰/۷۳ — ۱۷۸۶۴۷۵۵/۷۶ — ۴۳۵۳۶۹۹/۹۱ — ۸۳۰۰۷۴۵۵/۵۰

د ترانزیتی مالونو احصائیه چه د کراچی، پیښور او چمن د افغان‌ملی بانک په واسطه راغلی دملی بانک دهامبورګ دخانګی په واسطه دمالونو دپیرودلو او پلورلو د احصائی سره: د هغوصادراتی مالونو احصائیه‌چه‌په ۳۸ کال کښی دافغانستان څخه د کراچی افغان‌ملی بانک ته رسیدلی او هغه ئی دخرڅولو مراجعوته لیږلی‌دی :

دقره قل پوستکی	۹۰۵۶ عدله
دوزی او پسونو پوستکی	۱۸۸۳ »
دپسونو کولمی	۵۲۵ بیرله
غالۍ	۵۲۵۵ عدله
وړی	۱۰۶۴۹ »
پنبه	۳۰۷ »
کشمش	۶۰۰۰ »
دوزی ویښته	۲۴۰ »

هغه‌صادراتی مالونه چه‌په ۳۸ کال کښی‌دملی بانک‌دهامبورګ‌دخانګی‌په‌واسطه پلورل شوی دی (۴۶۵۳۶۶۸) ډالروته رسیږی .

هغه‌مالونه اوسامانونه‌چه‌په۳۸ کال کښی‌دملی بانک دهامبورګ‌دخانګی‌په‌واسطه‌پیرودل‌شوی او فرمایښت والاؤ ته رالیږل شوی دی ۴۵۰۸۱۳/۳۰ ډالرو او ۹۲۰۴۶۳/۸۱ مارکو ته رسیږی .

پښتنی تجارتی بانک

تشکیل :

عامل هیئت :

رئیس	یو تن
بانکی مرستیال	« «
تجارتی «	« «
دعامل هیئت مستخدمین	(٦) تنه
دلیك مدیر	یو تن
د لیك غړی	(٤) تنه
دمامورینو مدیر	یو تن
« «مدیریت غړی	(١٤) تنه
تجارتی لوی مدیر	یو تن
داطلاعاتو «	« «
« « غړی	(٧) تنه
داحصایی مدیر	یو تن
« « غړی	(٦) تنه
د کنترول مدیر	یو تن
« « غړی	(٢٧) تنه
دپلټنی اوبررسی لوی مدیر	یو تن
« « غړی	(١٠) تنه
تجارتی مدیر	یوتن
د « مدیریت غړی	(١٥) تنه
دمالونو دیپمی مدیر	یوتن
« « غړی	(٤)تنه
دخارجی اسعارو مدیر	یوتن
« « « غړی	(٣٩) تنه

دمراسلاتو مدیر	یوتن
« غړی	(٦) تنه
دارشیف مدیر	یو تن
« غړی	(۱۵) تنه
دبانك لوی مدیر	یوتن
داعتباراتو مدیر	« «
« غړی	(۱۳) تنه
دخزانی مدیر	یوتن
« غړی	(۱۷) تنه
دمحاسبی مدیر	یوتن
« غړی	(٦۹) تنه

د کابل دښاری څانګی دنمایندګۍ غړی (۵) «
د کندهار دولایت دنمایندګۍ غړی (۱۵) تنه

نوټ : دهرات ، قندوز اوبغلان نمایندګۍ هره یوه د کندهار دنمایندګۍ په څیر (۱۵) غړی لري اوپه دغه تشکیل کښې دبانك مستخدمین نه دی راوړل شوی .

دمزار شریف دولایت دنمایندګۍ مدیر یوتن او غړی (۱۹) تنه
د کابل دترانزیت دمرکز دادارې مامور یوتن اوغړی(۹) تنه
دمزارشریف دترانزیت دنمایندګۍ ماموران دوه تنه اوغړی(۵) «
دقطغن « « « مامور یوتن او غړی یوتن
هرات « « « « یوتن « «(۳) تنه
دتاشګنر « « « ماموران دوه تنه اوغړی(۳)تنه
د کلفت دبندر « « « مامور یوتن او غړی یوتن
دقزل کلا « « « مامور یوتن او غړی (۳) تنه
دتوری غوندی دبندر « « « ماموران دوه تنه اوغړی یوتن

دامرتسر نمایندګی :
افغان دمحاسبی سرکاتب یوتن
« داجرائیې « « «
هندیان دمحاسبی اوبار چالانۍ کاتبان دوه تنه

په پښتنی تجارتی بانک کښی

دتجارتی چارو دانکشاف،دسوداګرودمالی پانګی دتقویی اودډکتانه نرخ درا کښته کیدولپاره دنورو پانکونو او اقتصادی موسسو په ډله کښی دغه بانک پرانستل شو اود۱۳۳۳ کال په لړم کښی ئی پکار پیل و کړ .

پښتنی تجارتی بانک دسوداګری دپراختیااودهیوادد سوداګرو سره دمرستی په غرض دسودخورونکو اومحتکرینو لاس دتجارت څخه لنډ کړ اوسوداګرو اوتجارتی موسسوته دلازمو کریدتوپوور کولو سره ئی و کولای شو چه دسوداګری په پرمختګ اودمالونو دبیی درا کښته کولو اودسوداګری په بازار کښی دډکتانه حجم په باب خدمت و کړیدی مرام له مخی ئی دتجارتی چارو په پراختیا په تیره واردا تو اوصادراتو اودهیواد دبیلو بیلو اړو په اقلامو لکه غالۍ، پنبه، وړی، دقره قلی پوستکی او نورو کښی زیاته اغیزه و کړه. اوهم ئی دتجارتی معاملاتو دپرمختګ او په تجارتی چارو کښی د آسانتیاؤ دراغونډو لو دپاره په امرتسر کښی دبانک نمایندګی پرانسته چه دافغانی ما لونو د پلو ر لو له مهمو مارکیټو په تیره دهیواد دصادراتی میوو پلورلو مرجع ده دغی نمایندګۍ پکار پیل و کړ . دغه رنګه ئی په کندهار اومزار شریف کښی هم دسوداګرو اوتجارتی موسسود سهولت اودسوداګری دپرمختګ لپاره نمایندګۍ پرانستلی دی. ددی لپاره چه دهغو مالونو په ور کړه اورا کړه کښی دچټکتیا او سهولت څخه کار واخستل شی چه دشوروی اتحاد له لیاری دارو پا او امریکی بیلو بیلو هیواد و ته صادریږی د کلفت،قزل قلعه،تاشګذر او اوتوره غونډی په بندرونو کښی ئی دبار چالانی نمایندګۍ پرانستی دی.

هغه مالونه چه د۳۸ کال له وزی څخه د۳۹ کال دوری تر پایه پوری ددغه بانک په تضمین او نخښه دنړی مارکیټو ته صادرشوی دادی :

دقره قلی پوستکی	۵۳۳۹ عدله چه	(۱۰۲۲۳۱۵) پوستکی کیږی
غالۍ	۳۲۱۰ « «	(۱۰۸۲۲۸/۹۸) مترغالۍ کیږی

هغه کریدتونه چه د۳۸ کال دوږی څخه د۳۹ کال دوری تر پایه پوری د ډغه بانک له خوا سوداګرو اوتجارتی موسسوته ور کړ شوی دادی :

دقره قلی پوستکی دپپرودلو پور	۶۹۸۹۴۹۳۱/۷۰	افغانۍ
دقره قلی پوستکی دتضمین په مقابل کښی پور	۷۳۹۱۵۸۸۶/۳۰	«
دغالۍ دتضمین په مقابل کښی پور	۳۵۷۱۵۴۱۶/۸۰	«

دپسونو دپوستکی دتضمین په مقابل کښی پور	۱۲۲٤۵۹/۷۷	افغانی
دواردانی مالونو « « « « «	۱۲۵۵۵۰۵۸/۵۹	«
د وړی « « « « «	۱۲۳۱۸۰۱ /۲۵	«
داسهامو « « « « «	۳۱۲۵۹۳۳ /۵۰	«
دزیوراتو « « « « «	۵٤٦۲۰۹ /۰۰	«
د پت « « « « «	۹۱٦۹۳۳/۳٤	«
دتعمیراتی « « « « «	۱۷٤۹۰۰/۰۰	«
دزغراو کنجدو دتضمین په مقابل کښی پور	۷۱۰۰۰۰/۰۰	«
دغیرمنقول جایداد دتضمین په مقابل کښی پور	۹۱۹۱۹۷۰/۷۰	«
داعتباریه سفید پور	۱٤۰۷۷٤۹٤/۸۸	«
دبادام او کشمشو دتضمین په مقابل کښی پور	۱۲۰۰۰۰۰ /۰۰	«

ددی لپاره چه په بانکونو کښی دملی پانګی غونډول یو ګټور او اقتصادی کاردی او دجاری او امانتو حسابا تو خلاصول دپیسو غونډولو او په دوران اچولو یوائښی وسیله ده نو له دی کبله دغه بانک د معامله لرونکو دزیات تشویق په غرض د ګټې امانتی حسابات چه په کال کښی په سلو کښی شپږ ګټه لری پرانستی او هم ئی یوځه پیسی دجایزی په ډول وټاکلی. دهغو حسابونو فیصدی چه ورځ په ورځ زیاتیږی :

په ۱۳۳۵ کال کښی نسبت ۱۳۳٤ کال ته (٤۳۰) په سلو کښی
« ۱۳۳٦ « « « ۱۳۳۵ « « (۲۰۷) « «
« ۱۳۳۷ « « « ۱۳۳٦ « « (۱۷۲) « «
« ۱۳۳۸ « « « ۱۳۳۷ « « (٦۵) « «چه ورورو ولو پرشوی دی

دبانک دجاری او امانتو حسابونو، اوسنیو اسعارو اوخزانی سرجمع او د افغانستان او نړی په بانکونو کښی دبانک اسعاری پانګی د ۱۳۳۹ کال دوری ترپایه پوری په لاندی ډول دی :

الف - دجاری او امانتو حسابونو سرجمع :

جاری حسابات مساوی دی د (۱۵۸۹) حساب سره چه (٤۸۷٤۹۳۵۲/۰۳) افغانی کیږی
امانتی « « « د (۲۹۲۹) « « « (۱۱٤۰۷۷۳۳٦/۷۹) « «

ب - دبانک اسعاری پانګی :

ډالر	۹٦۲۵۸۵/۱۵ ډالره
پونډ	٦۷٦٦۰-۷-۱۱ پونډه

هندی کلداری	۵۷۰۰۳۸/۲۷ کلداری
پاکستانۍ «	۱۷۵۲۷۹۱-۱۱-۸ «
جرمنی مارک	۲۰۱۸۰۰ /۱۵ مارک
سعودی ریال	۲۴۴۵۹ /۷۵ ریال

• دغه بانک دهغو مشتریانو او معامله لرونکو دپاره چه دوارداتو او صادراتو شغل لری او دخارجی کمپنیو سره معامله کوی ددی لپاره چه هغوته په معامله کښی اسانتیاوی پیښی شی دنړۍ دهغو معتبرو او مهمو بانکو له لیاری څخه چه بانکی معامله ورسره لری دمال التجاری دواردولو په غرض ئی دتولید کوونکو کمپنیو په وجه کښی دلیتر آف کریدت پرانستی او دهغه یوه برخه اسعاری منابع ئی د بانک درانیولو خرڅولو د آزادی کیسی څخه د کابل په هوټل کښی دهغی دځانګی په واسطه سوداګروته عرضه کړی ده چه دسیاحینو دمشکلاتو دلیری کیدو دپاره تاسیس شوی دی .

داسعارو رانیول اوخرڅول اودلیتر آف کریدتونه چه دپښتنی تجارتی بانک له خوا دنړۍ دیلو بیلو کمپنیو په وجه کښی تأسیس شوی دی:

الف داسعارو	رانیول	خرڅول
ډالر	۳۰۸۱۵۰۸/۰۰ ډالر	۱۹۴۴۸۹۶/۰۰ ډالر
پونډ	۲۹۱۸۴۴/۰۰ پونډه	۲۰۶۹۳۰/۰۰ پونډه
هندی کلداری	۶۸۴۵۸۳/۰۰ کلداری	۱۳۰۳۵۹/۰۰ کلداری
پاکستانۍ «	۳۶۵۶۵۸۲/۰۰ «	۱۵۷۱۵۰۰/۰۰ «
جرمنی مارک	۳۹۷۳۰۴/۰۰ مارک	۲۵۳۱۸۲/۰۰ مارک
ریال	۲۴۳۴۵/۰۰ ریال	۲۷/۰۰ ریال

ب ـ دلیتر آف کریدت حسابونو پرانستل:

دلندن بانک دسمنتر	له لیاری	(۱۸۴)	لیتر آف کریدت چه	(۵۵۷۲) پونډه کیږی
دبانک آف امریکا «	«	(۱۳۵)	« «	(۴۷۸۲۷۸) ډالره «
دچیز منهاتن بانک «	«	(۷۴)	« «	(۲۹۳۹۲۱) « «
دویچه بانک همبورګ «	«	(۴۸)	« «	(۸۲۲۷۰) « «
دسویس بانک جینو «	«	(۱۲)	« «	(۱۶۷۳۷) « «
دبانکودی روما «	«	(۱۰)	« «	(۱۲۱۳۱) « «

دپوهنی دتجارتی صنائعو موسسه

دشوراهیئت ،عامل هیئت او نظار هیئت:

رئیس، فنی مدیر داجرائیی او محاسبی مدیران دعامل هیئت څخه عبارت دی،دپوهنی وزارت د کانو اوصنایعو ،مالیی،فوائد عامی اود تجارت دوزارتونو نمایند گان او ددغی مؤسسی رئیس دشورادهیئت څخه عبارت دی،دمالیی ،پوهنی، کانو اوصنایعو اوفوائدعامی دوزارتونو نمایند گان دنظار هیئت څخه عبارت دی.

تشبثات :

یوه مناسبه الحاقیه داړتیا له مخی په پخوانۍ ودانۍ کښی زیاته شوه،دپخوانۍ ودانۍ نیمگړی برخی بشپړی اودترمیمولو چاری ئی سرته ورسیدی،دتر کانۍ دپاره داری،رندی،اوزار او خرادۍ نوی ماشینونه پېرودل شوی اوپکار اچول شوی دی اوهم ئی زاړه ماشینونه ترمیم شوه.

د گنډلو کار کوونکی په اوسنی کال کښی (۱۰۰)تنه ووچه(۴۰) تنه ئی میرمنی او نورئی نارینه دی ،دتر کانۍ د کار کوونکو شمېرهم (۱۰۰) تنوته رسیږی، د کاشی جوړولو،رنگولو دسیټو نواو څو کیود پر کارۍ کار کوونکی (۲۸) تنه دی. چه اوس د کار کو ونکو معاش

دپوهنی دتجارتی صنائعو دمؤسسی ښاغلی رئیس او اداری مامورین

د(٥٠٠) څخه‌د (١٣٠٠) افغانیو په منځ کښې ډی‌اودضرورت په‌وخت کښې دغه‌مؤسسه کولای‌شی چه کار کوونکوته (٢٠٠٠) افغانۍ معاش‌هم ور کړی.

ددغی مؤسسی اوسنۍ نقدی اوجنسی پانګه څلورملیونواونهو سووزرو افغانیوته رسیږی. دغه‌ر نګه دزیات پرمختګ اوانکشاف دپاره‌نوی پلانونه‌جوړ شوی‌او دعملی کولو په‌حال کښې دی‌په ٣٨ کال کښې دتر کانۍ او ګنډ لو دخانګو تولیدات په‌لاندی‌ډول دی :

(١٤٤٠٠) دانی‌ددفتر اوډوډۍ خوړاومیزونه ،دشاګردانومیز او چوکۍ ،چوکۍ، سیټونه، الماری، چیرکټونه ،ډلیکلوتختی، ورونه، کړکۍ، کوټ‌بندونه ، کاغذدانۍ دمطبعی دحروف چینۍ‌میزونه اونوردتر کانۍ په‌خانګه کښې‌جوړشوی‌دی.

(٢٠٠) زره‌دانی کاشی‌مشوانۍ ددغی‌مؤسسی له‌خواجوړی شوی.

اود ګنډولو خانګی (١٢٥٠٠) کمیسونه، دپوهنی دزده کوونکو دریشۍ،دعملی اوپیادګانو دریشۍ اود څارندوی د شاګردانو دریشۍ‌جوړی کړی دی.

دپوهنی دتجارتی صنائعو د تر کانۍ د څانګی دبرمۍ دستګاوی د فعالیت په حال کښې


گران مفاد سالانهٔ دپوهنی د صنائعو تجارتی مؤسسه
از سال ۱۳۱۹ الی سال مالی ۱۳۳۸ و ۳۹
بعد از وضع معاشات و مصارفات اداری و مشغولیات
شش لک افغانی
پنج لک افغانی
چهار لک
سه لک
دو لک
یک لک
سنوات

د مالداری د انکشاف ریاست

د کابل مرکزی ریاست :

رئیس	ع،ص دوکتور محمد ناصر کشاورز
اداری مدیر	یو تن
د محاسبی «	« «
فنی «	« «
د پلټنی «	« «
د پانیو مامور	« «
د بغلان د پوزایشان د روزنځی آمر	« «
د محاسبی مدیر	« «

نمایندګی :

د مزارشریف نماینده	« «
د شبر غان «	« «
د اندخوی-میمنې «	« «
د قلعه نو «	« «
د قندوز «	« «

فرعی څانګی :

د قا لقا نو	څانګه
د بغلان	«
د حضرت امام صا حب	«
د سمنګا ن	«
د خلم	«
د شولګری	«
د بلخ	«
د درې صوف	«
د آقچې	«
د سر پل	«
د مر غاب	«
د کشك	«

دمالداری-دانکشاف چاری

د۳۹ کال په‌وری کښی (۲۰۰)وریان دپسونو دجنس داصلاح اوروزنی دپاره وپیرودل شوه دقره‌قلی دنسل اصلاح ته‌پاملر نه شوی دپوستکوبیل بیل رنگونه ترمطالعی لاندی را غله دمالدارانو دلارښوونی‌په‌غرض درموفنی روزنه‌و شوه‌د کورس شاگردانو ته عملی تدریس و شوا او مالدارانوته اصیل قچان و و یشل شوه، ا و س دد غی مو سسی په‌اختیار کښی (۸۵۰)پسونه اووریان شته چه‌ټوله فنی مکمل سجل لری اوفوټو گان ئی هم اخستل شوی دی.

مصنوعی القاح :

دنسل داصلاح یوه‌شبه لیاره مصنوعی القاح ده‌یعنی بیله نره څخه د مادی باردا ر کول، په عادی شرا یطوسره‌یوقچ‌د(۵۰)میږودپاره‌بس‌دی‌په‌داسی‌حال کښی‌چه‌دمصنوعی القاح په وخت کښی یوقچ د(۳۰۰۰) میږو دپاره کفایت کوی.

دپسونو دمصنوعی القاح لومړی ستاسیون د۳۸ کال په‌تله کښی د پوزه ایشان په روزنځی کښی والاحضرت صدراعظم پرانیست تراوسه‌پوری (۱٤۸) وریان‌دمصنوعی ا لقاح له لیا ر ی څخه‌لاس ته‌راغلی دی .

تغذیه اوځړځی:دخارجی وشو تخمونه چه‌دامریکی ،مراکش‌اوفرانسی‌څخه‌راغوښتل‌شوی‌وو د کاریز میر ،بغلان او شبرغان په‌فارمونو کښی تر تجزئی لاندی ونیول شوه.

داخلی واښه:

دسکسول (۲۸۰) کیلو تخم چه بهترین و اښه دی او هم سیار ر یګزار و نه ثابت سا تی دتاش گندر کلفت دسړك‌په‌ځینو برخو،قزل، کلاد ا ندخوی‌اوشبرغان په‌شاوخوا کښی‌و کر ل شو، دستیپا واښه دمیمنی پرغونډیو و کړل شوه .

دځړځیو قورغ :

په پوزه ایشان کښی(۱۲۰۰۰۰) جریبه مځکه دشمالی سیمو لهښوو اښو څخه دتربیه ځی‌په څنګ کښی تر قورغ لاندی ونیول شوه چه‌په‌راتلونکی وخت کښی به‌هغه (٤۰۰۰۰) جر یبو مځکو ته‌ورسیږی‌داوبو ور کولو دپاره مطالعه اوس هم جاری ده د تر بیه ځی پر څټیځو غونډیو سبز کال دبادام ، پستی اوارغوان تخمونه و کرل شوه.

دمیمنی (ده تپه)چه یوښه څړځی دی او بهترین وانبه لر ی دتخم اخستلو دپاره قورغ کړه شوه نهالګی او تخمونه پکښی وکرل شوه .

دفنی پرسونل روزنه: تیر کال (۲۰) تنه شاګردان دپوزه ایشان دتربیه ځی د مـا لدار ی ـ په کورس کښی تر عملی او نظری زده کړی لاندی ونیول شول .

دروغتیا چاری :

۱ ـ دموسسی د فنی مامورینو اود کر هنی وزارت د داخلی او خارجی دوو تنو بیطارا نو په واسطه در مود ناروغیوسروی وشوه .

ب ـ دشبك ، ګرك او کنهی دناروغیو دتداوی دپاره هر کال دخلکو رمی وړ یا پر یـوله کیږی .

ج ـ په میمنه اواندخوی کښ(۶۰۰۰)پسونه دانتر کس دناروغی پرضد واکسیناسیون شول.

د ـ د ګرك او کنهی دنارغیو ضددو اد(۶۲۴۰۰) پسونو دپاره وپلورل شوه ،

ر ـ د(۴۰۰۰۰۰) پسونودپاره دځیګر دچنجیو کپسول وپلـورل شو .

س ـ په سلو کښی لس (پی،پی قی)پوډر د(۵۰۰۰۰) پسونودپاره خلکو ته وویشـل شو.

دپسونو دنارغیو ضد دواوی چه د انکلستان څخه راغوښتل شوی وی مالدارانوته و ر کـړ ه شوی دانګلستان څخه (۲۰۰۰۰۰۰)دځیګر دچنجیو کپسول رارسیدلی دی .

دلابراتواردسامانونه پرته دشوروی اتحاد څخه د کلمو، سینی اودتخر ګ چنجیودوراغلی ده.

دپوزه ایشان تربیه ځی چه دروزلودپاره ښه اومناسب ځای دی دغه مقصد دپا ره و تا کل شو اوپه فنی ډول اقـدامات پکښی کیږی .

دغه تربیه ځی پرو ګـرام :

۱ ـ په عصری سیستم سره دقره قلی رمو روزنه .

۲ ـ دقره قلی نژاد سلکسیون.

۳ ـ دمصنوعی القاح له لیاری دمالدارودرمو دنژاد اصلاح.

۴ ـ دسویس په خارجی نسل سره دمصنوعی القاح له لیاری دخلکودغواپانو دنسل اصلاح.

۵ـ په روسی اسانو سره دمصنوعی القاح له لیاری داسانو دنژاد اصلاح

۶ ـ دغاطرو روزنه

۷ - دځمکې ځیو فنی اصلاحات

۸ -دمصنوعی ځمکې ځیو دمنځ ته راتلو دپاره د خارجی وښو کرل

۹ - دبځارویو دوښو کرل اوذخیره کول

۱۰ دمزروعی مځکواوار کاری او اصلاحات

۱۱ په ځمکې ځیو کښی دنهالګیو اینبوول

۱۲ دودانیو جوړول

۱۳ دمالداری په کورس کښی دفنی کسانو روزنه .

دسمنتو دفابریکی ریاست

دجبل السراج دسمنتجوړولوفابریکه په۱۳۳۱ کال کښی پرانسته شوی ، اوپه جبل السراج کښیدفابریکی دمتخصصینواوماهورینو داستو ګډنی دیوولسو کورودموادوا وجوړونی دسروی اوتهیی نه وروسته په۱۳۳٤ کال کښیدفابریکیپه تعمیراتی چارو پیل وشواود۳٦ کال په پای کښی ددغی فابریکی تعمیراتی چاری اودماشینونودرول پای ته ورسیدل، دغه فابریکه د۳۷ کال دغوئی په(۱۵)نېټه معظم ټولواك پر انسته .



دسمنټو دفابریکی د ودانیړیوه منظره

ددغی فابریکی ورځنیړتولیدی قوه سل ټنه سمنټ دی په لومړی کال کښی له دی کبله چه ماشینونه نو ی او کاروونکوپوره بلدیت نه درلود،ورځنی تولیدات تر دغی اندازی لږوه ، خو کرار کرار د دغو تولیداتو اندازه لوړه شوه حتی د۳۸ کال د غو ئی په میاشت کښی ورځنی تولیدات (۱۱۰) ټنوته و رسیده .

له دی کبله چه فابریکه د کا ل څخه یوه نیمه میاشت تېره وه چه پرانسته شوه په ۳۷ کال کښی ئی تولیدات(۲۱)زروټنوته ورسیدل او په۳۸ کال کښیددغی فابریکی دسمنټو تولید(۳٤) زره ټنه ؤ .

په۳۷ او۳۸ کلو نو کښیدغی فابر یکی و کولای شوچه دهیواد زیاتې تعمیراتې اړتیاوی دسمنټو په برخه کښی لیری کړی .

دفابریکی دفنی پر سونل روزلو ته هم پاملرنه شوی ، څلور تنه افغانی شاگردان دسمنټو په شق کښی دزیاتو معلوماتو داخستلو دپاره چکوسلوا کیی ته لیږل شوی چه څه موده وروسته بیرته هیواد ته راغلی اوپکار ئی پیل کړی دی . دغه رنګه په جبل السراج کښی هم فنی کسان روزل کیږی ، لکه چه په لو مړی سر کښی د فابریکی دچلولو دپاره (۱٤) تنوخارجی متخصصینو ته اړتیا لیدل کیده چه (۱٤) تنه هم استخدام شوی وه خو وروسته تر یوه کال ددغی فابریکی ریاست پدی بریالی شوچه د (٦) تنو وظیفه ئی دافغانی کار کوونکو په واسطه اجرا کړی اوس (۸) تنه چکوسلوا کی انجینیران او (۲۰۰) تنه عمله او کارکوونکی هره ورځ پدغه فابریکه کښی کار کوی .

د سمنټو دفابریکی د باربندی دستګاه

دفابریکی مامورین اوس (۵۵) تنه دی ، د کار کوونکو معاش ددوی دلیاقت اوزحمت کښلو له مخی ورکول کیږی ، سر بیره پر معاش د غرمی او ماښام د ماکولاتو څخه هم استفاده کوی ، د کار کوونکو لپاره د ناروغی بیمه هم پرانستله شوې ده .

دانډیمارسهامی شرکت

دغه شرکت په ۱۳۳۷ کال کښې پرا نستل شو .

اومړۍ پانګه ئې لس ملیونه افغانۍ دی، خو په پنځو راتلونکو کلونو کښې به دغه شرکت پانګه پنځه اویاملیونو افغانیو ته ورسپږي .

او سنۍ پانګه د «انډیمارافغان انډ سټریز» د مرکزی شرکت په واسطه چه په امریکا کښې دی ور کړه شوې او افغانی اتباعو ته دغه شرکت اسهام دخر څو لو د پاره چمتو دی .

د کار کوونکو شمېر : داخلی کار کوونکی ۲۰ تنه او خارجی کار کوونکی (۱۰) تنه دی .

نوټ: داخلی کار کوو نکی تر روزنی لاندې ټیول شوی دی چه په پای کښې ټول کار کوونکی داخلی کسان وی .

د کار کوونکو کلنی معاش تېر کا ل تقریباً دوه ملیونه اواوه لکه افغانۍ ؤ .

په او له کښې دغې موسسی چاری په لا ندې فعالیتو پورې محدودې وی :

۱ ـ د ترا کتورو ، د کرهنې د ماشینونو ، د حمل و نقل د وسائلیو او نورو ماشین آ لا تو ترمیم.

۲ ـ د کرهنې د ما شین آلا تو ، صنعتی ماشینونو او د تر انسپورت دو سا یلو وارد ول .

۳ ـ د هرډول تعمیراتی موادو را وړل .

٤ ـ د موټر د پرزو ، ماشینو او د ترمیم د سا مانو را وړل .

سبز کال ئې سر ببره پردغو فعالیتو لاندې چاری هم سرته رسولی دی :

۱ـ د کرهنې د فارمو پرانستل د نویو ماشینو او آلا تو په واسطه .

۲ ـ د یمی نما یندګۍ ئې پرانستلی ده ، او د هغې په واسطه ئې د تعمیراتو مواد ، دا لو تکی سامانونه ، تجارتی مالونه ، او نور لوازم بیمه کړی دی چه دغه شرکت پدغه کا ل کښې د ری لکه او پنځوس زره افغانۍ د یمی له در که ګټه کړی ده .

د دغه شرکت راتلونکی پلا نونه :

۱ ـ د کرهنې ، صنعتی او حمل و نقل د موټر و نو او ماشین آ لا تو د تر میو لو د یو سترعصری ور کشاپ پرانستل. دغه د ستګاه به په شپږو راتلونکو میاشتو کښې بشپړه شی .

۲ ـ د میوی د پا کولو او سورتولو د فابریکی راوړل .

۳ـد سنډی‌تو کرانو داودلو دفابریکې پرانستل.
٤ـد کیمیاوی اودواجوړولو دفابریکی تاسیس.
٥ـدجوړونی اوتعمیراتی موادو دفابریکی راوړل.
٦ـد کرهنی دپروژوانکشاف اودشیدوور کونکو څارویودپاره‌دفارمونوپرانستل‌دغی‌موسسی دغه‌چاری اجرا کړی‌دی:
۱ـد(۱۷۰۰)موټرو ترمیم.
۲ـد کرهنی د(۸۰) تراکتورو راوړل.
۳ـ(۲۵۰)دسورلۍ‌موټرونه‌ئی راوړی‌دی.

.....

دمیوی صادراتی شرکت

۱-دمیوی صادراتی سهامی شرکت د۱۳۳٤ کال دوزی په لومړی نېټه پرانستل شوه مرام او هدف ئې په لاندې ډول دی :

۱-د تازه او وچې میوی صادرات .

۲-د صادراتو له مخې دمیوی د بازار انتظام او د صادراتی بازارونو ایجابول.

۳-په خارج کښې د خرڅولو د مارکیټو پیدا کول.

٤-د وچې میوی د پاکولو، دلندې میوې ساتلو، شکو لواو غونډولو د ماشینونو واردول. د دغه شرکت ابتدائی پانګه اوه ملیونه اوپنځه لکه افغانۍ دی.

۲-د دغه شرکت د مامورینو او کارکوونکو شمېر:

مامورین ۲۳ تنه.

مستخدمین ۱۲ «

موقتی کارکوونکی میرمنې دورځې د(۱۰۰) څخه تر(۱۲۰) تنو پورې.

دائمی کارکوونکی یو تن او موقتی نارینه کارکوونکی د(۱۰۰) څخه تر(۱۵۰) تنو پورې .

۳- کارکوونکو ته د(۳) مادی د توضیحاتو له مخې (په آزاد ډول) ورځنی مزدوری ورکوله کېږی د غې موسسې د کشمش پاکولو او بادام ماتولو یو ماشین دمربوطو سامانو سره له لویدیځ المان څخه پیرودلی او پکار اچولی دی، چه یوزیات شمېر د ډېر ښه کشمش ئې په عصری ډول دارو پائی بازار ونود تقاضا له مخې د دغو ماشینو په واسطه پاک، سورت او غونډه کړی او خارج ته لېږلی دی ، په دې وخت کښې ئې دوه نور ماشینونه دلویدیځ المان څخه پیرودلی او راوړی دی.

دمیوې د صادراتی شرکت یوه دستګاه

ملی مطبعه

دغه موسسه د ۱۳۳۳ کال په غوڼی کښی پرانستل شوه، په اوله کښی ئی د گستنر د ماشینونو په واسطه په فعالیت پیل وکړ او د مؤسسو او انفرادی مراجعو طباعتی چاری ئی تهیه کولې په ۱۳۳۸ کال کښی ملی مطبعه نوی ودانی ته ولاړه .

اوس ملی مطبعه په نویو طباعتی لوازمو سره مجهزه او هدا په ډول رنگه او عادی خپرونو ته چمتوده. ځکه چه دغه طباعتی څانگه اوس لاهم په ابتدائی مرحله کښی ده نو کار کوونکی ئی محدود دی دتایپستی کورس :

د ملی مطبعې کارکوونکی دفعالیت په وخت کښی

دغی مؤسسی د میرمنو د روزلو د پاره دتایپستۍ یو کورس پرانستی چه یوشمیر میرمنی ئی پدغه شپ کښی روزلی او خدمت ته چمتو کړې.

ملی مطبعه په اوسنی حالت کښی په ورځ کښی د دولکو داپوخپرو لو قدرت لری ، په ۱۳۳۹ کال کښی چه دغه مطبعه د کتابو خپرولو ته چمتو شوه، د پوهنی د وزارت د یوشمیر درسی کتابو خپرول ئی پرذمه واخستله .

د کیمیاوی مصنوعاتو مؤسسه

دامؤسسه په ۱۳۳۵ کال کښې پرانستله شوه ، او کوښښ کوی چه کیمیاوی مصنوعات په دننه هیواد کښې تهیه او دخارجی مصنوعاتو په نسبت ئی په کښته بیه خرڅ کړی . د هغو خد متونو په مقابل کښې چه هیواد والوته ئی د کیمیا وی مصنوعاتو په تهیه کولو کښې کړی د ی د کانو اوصنائعوتووزارت دتقدیروړو گرزیده .

دغه مؤسسه دانکشاف په حال کښې ده ، هیله ده چه پرڑر به دیوې وړو کی صنعتی فابریکې په حیث تحول اوپر مختگ و کړی .

پدغه مؤسسه کښې داخلی میرمنی کار کوی تراوسه ئی دخپلو مصنوعاتو پلورلودپاره په مرکز کښې دري د کانونه خلاص کړی هیله ده چه ژر به ئی په ولایتونو کښې هم نمایند گی پرانستلی شی .

د کیمیاوی مصنوعاتو دموسسې کارکوونکی د فعالیت په حال کښې

ددغی مؤسسی مصنوعات :دوینښتانو جلا ،د و ینښتا نوروغن ، بریانتین ، د و ینښتانوتقویه دوینښتانو ساتلوروغنیات ، دوینښتانوهرډول رنگونه، شامپو، د زیری خریلو کریم اوصابون، دمخ هر ډول کریمونه ، وچ ، روغنی او کولډ کریم ، دبادا مو کریم ، سپینوونکی کریم ، دمخ دټپلو ضد کریم، دزو کړی دټپلوضد کریم، د گونجوضد کریم ،دمخ سرخی، مایع پوډر، دښکلا ماسک دلاس مخصوص کریم ، د آرایش او ښکلیتوب محلولونه ،دصدف اوبه،دچربی ضد محلو لونه د بخار ضد محلول ، د مخ سپینوونکی محلول ، کلو نیا ، عطرونه ، د لمرسوزلوضد کریم دسپورتمینانو اولامبو وهونکو مخصوص کریم ، دخولې ضد کریم ، د پوست مخصوص سلو شن دپښودستړیاایسته کولو محلول ، مایع صابون ، دوړو کو پوډر، دوړو کو د شوړ یدلو ضد پوډر دمخ پوډر، دغا ښو پوډرد خولی دبوی ایسته کولو محلول ، دنو کانوهر ډول رنگونه ، بې رنگه لب سیرین ، دقلم او بوټ هر ډول رنگونه ، سر یښ او نور .

حجاری او نجاری

داسهامی شرکت په ۱۳۲۰ کال کښې په ٤ ملیونو او (۹) سووزرو ابتدائی پانګی او وروسته ئې په ۱۳۳۰ کال کښې په ۳۹ /۹۷٤٤٥۸۳ افغانیو پکارپیل و کړ، پدغه فابریکه کښې ټولې تخنیکی چاری داخلی کار کوونکی او متخصصین اجرا کوی .



دډوډی خوړلو یونفیس سیټ چه د حجارۍ او نجارۍ په فابریکه کښې جوړ شوی دی.

د ۱۳۳۰ کال د اهیسی دغې فابریکی زیات انکشاف کړی او اوس په ښو او عصری شامینو مجهزه ده .

پنځه ماشینونه ،څلور لوئی اري، ډبرینه اره ، دبرش دوه ماشینونه ، د حجاری په شق کښې

په ډبرو کې د ښکلو نقش کاریو نمونې

دخرادی ـ یوماشین، دغه رنګه دتر کانۍ په شق کښی اتومات او نور ماشینونه پکار اچول شوی دی

د انکشافی پلان له مخی په نظر کښی دی چه دغه فابریکه په تیره د حجاری ـ په برخه کښی زیات پرمختګ وکړی او تقویه شی. په ۳۸ کال کښی ددغی فابریکې تولیدات :

الف ـ دحجاری ـ په شق کښی :

دحجاری ـ او نجاری ـ دفابریکې دتخنیکی خرادی ـ ماشین	
۱ ـ دفرش په برخه	۴۳۸۳۰۷۴۹۹ مربع متر
۲ ـ دمیز پرمخ پر کاری شوی په برخه	۱۷۶۰۱۹۴۶ « «
۳ ـ دهدیری په برخه	٤ ـ دانې
٤ ـ دپړی لوحه	۱ دانه

۵ ـ د نفیسه کار یو پړو سامان لکه خا کستر دانی ـ ، دسګریټو صندوقچه ، میو ه دانی ـ غوری او نور ۵۹۰ توکره

ب ـ دحکاکی ـ څانګه :

۱ ـ دوامیتس لاجورد غمیان	۱ / ۱۸۰۰ ګرامه
۲ ـ دپړو غمی	۲۷ دانې

ج ـ دتر کانۍ ـ څانګه :

۱ ـ هرډول مکملی چوکی ـ	۲۳۵٤ دانې	
۲ ـ هرډول سیتونه	۱۳۳ «	
۳ ـ هر ډول الماری ـ	۲٦٤	دانی
٤ ـ صندوقچه	۱۷۷	«
۵ ـ بیل بیل ورونه	۱۷۷	«

٦ - بیلی بیلی کړکۍ	۱۷٦	دانې
۷ - بیل بیل متفرقه سامانونه	۱٦۲۰	ټوټې
۸ - وډایرو او خلکو ترمیمشوی سامانونه	۵۰٤	»
د - د ترمیم او تخنیکی څانګه :		
۱ - دموټرو پری مینځلا و ګریس ور کول	٤۱۸	موټرونه
۲ - دموټرو داغ ګیری ، ولډنګ کاری او نور	٤٦	»

ډبرینی مشوانۍ چه در خام له ډبروخخه جوړی شوی دی

۳ - دهر ډول سامانونو رنګول	۱٦۹	ټوټې
٤ - دروسی بخار یو ترمیم اوجوړول	٤۱	پایی
۵ - د چودنی وزنی ډبرو جوړول	۲۹	سیټونه
٦ - دچرۍ او چودنی دیګدانو جوړول	۳٦	پایی
۷ - دمیزاو څراغ لپاره دوسپنو اونل دپایو جوړول	۱۸۷	»
